دواتساپ نمبر0708768250 مآخذ اسلام جار

رَبَّنَا آتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا (الکہف)

# بیان الصرف

پښتو تقریر

# ارشاد الصرف

(ازافادات)


مولانا اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن)، چمن

ترتیب، تزئین وحاشیہ

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب

فاضل جامعہ دارالعلوم کراچی

استاد جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن)، چمن



مکتبہ سلطانیہ الہاشمیہ

کانسی روڈ۔ کوئٹہ


واٹس ایپ گروپ
کفایت دینی کتب خانہ
کفایت اللہ ابن صدیق
ٹیلی گرام واٹس نمبر
+923247442395
+923052488551
کفایت pdf واٹس ایپ ٹیلی
گرام چینل دینی کتب خانہ

رَبَّنَا آتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا

# بیان الصرف

پښتو تقریر

# ارشاد الصرف

(از افادات)


مولانا اطیع اللہ صاحب

استاذ الحدیث جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن

(ترتیب، تزیین وحاشیہ)

مفتی حافظ کلیم اللہ صاحب فاضل دار العلوم کراچی

استاذ جامعہ اسلامیہ (علامہ ٹاؤن) چمن



مکتبہ سلطانیہ

کاسی روڈ کوئٹہ

## د طباعت او کتابت حقوق محفوظ دي:

- د کتاب نوم:.........................بیان الصرف
- افادات:.........................مولانا اطیع الله صاحب
- ترتیب وتزئین و حاشیه:.........حافظ کلیم الله صاحب
- نظر ثاني:.....................ملا عبدالشکور آخند
- فن:..............................علم الصرف
- کمپوز:..........................عبدالوهاب (متعلم)
- تعداد:..............................۱۱۰۰
- ضخامت:.............................۳۴۵
- سنه طباعت:.............۱۴۳۶هـ
- ناشر:...................مکتبه سلطانیه

---

د ملاوېدو ځایونه:

۱. مکتبه محمدیه:...............اباسین روډ چمن
۲. مکتبه سلطانیه:.................کاسي روډ کوئټه
۳. اسلامي کتب خانه:.........تاج میر خان روډ چمن
۴. مکتبه محمودیه:..............سرخاب روډ پشین
۵. مکتبه غفاریه:..............ارګ بازار قندهار
۶. جامع مسجد حاجي عبدالودود:...........چمن

# د مضامینو تفصیلي فهرست:


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۱. | سریزه: | ۱ |
| ۲. | عرض مرتب: | ۳ |
| ۳. | د تقریر پر خصوصیاتو باندې اجمالا یو څو لیکلي: | ۴ |
| ۴. | اول سبق د اوو شیانو پیژندل: | ٦ |
| ۵. | دوهم سبق یو څو اصطلاحات پیژندل: | ۱۱ |
| ٦. | دریم سبق سوالونه او جوابونه: | ۱۴ |
| ۷. | څلورم سبق د اسم جامد متمکن تقسیم: | ۲۳ |
| ۸. | پنځم سبق د حروفو تقسیم: | ۲۸ |
| ۹. | شپږم سبق د حروف زوائدو پیژندل: | ۳۳ |
| ۱۰. | اووم سبق د وزن معلومولو طریقه: | ۳٦ |
| ۱۱. | اتم سبق د هفت اقسامو بیان: | ۴۸ |
| ۱۲. | نهم سبق د مثال، اجوف او ناقص بیان: | ۵٦ |
| ۱۳. | لسم سبق اسم جامد، اسم مشتقي او اسم مصدر: | ٦۲ |
| ۱۴. | باب اول صرف صغیر ثلاثي مجرد صحیح از باب فَعَلَ يَفْعِلُ چون اَلْضَرْبُ (زدن): | ٦۸ |
| ۱۵. | یوولسم سبق یو څو ضروري فوائد: | ۷۱ |
| ۱٦. | (۱)قانون او د قانون جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۷۴ |
| ۱۷. | (۲)قانون او د قانون جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۷٦ |
| ۱۸. | (۳)قانون او د قانون جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۷۹ |
| ۱۹. | (۴)قانون او د قانون جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۸۰ |
| ۲۰. | (۵)قانون او د قانون جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۸۱ |
| ۲۱. | (٦)قانون او د قانون جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۸۲ |
| ۲۲. | (۷)قانون او د قانون جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۸۵ |
| ۲۳. | (۸)قانون او د قانون جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۸۹ |
| ۲۴. | (۹)قانون او د قانون جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۹۰ |
| ۲۵. | (۱۰)قانون او د قانون جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۹۲ |
| ۲٦. | (۱۱)قانون او د قانون جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۹۴ |
| ۲۷. | (۱۲)قانون او د قانون جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۹۴ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست:


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۲۸. | (۱۳)قانون او د قانون جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۹۶ |
| ۲۹. | (۱۴)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۹۹ |
| ۳۰. | (۱۵)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۰۰ |
| ۳۱. | (۱٦)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۰۲ |
| ۳۲. | (۱۷)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۰۳ |
| ۳۳. | (۱۸)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۰٦ |
| ۳۴. | (۱۹)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۰۹ |
| ۳۵. | باب دوهم صرف صغير ثلاثي مجرد صحيح از باب فَعَلَ يَفْعُلُ چون اَلنَّصْرُ | ۱۱۳ |
| ۳٦. | باب سوم صرف صغير ثلاثي مجرد صحيح از باب فَعِلَ يَفْعَلُ چون اَلْعِلْمُ | ۱۱۳ |
| ۳۷. | (۲۰)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۱۴ |
| ۳۸. | (۲۱)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۱۷ |
| ۳۹. | باب چهارم ثلاثي مجرد صحيح از باب فَعَلَ يَفْعَلُ، چون: اَلْمَنْعُ | ۱۱۸ |
| ۴۰. | باب پنجم ثلاثي مجرد صحيح از باب فَعِلَ يَفْعِلُ چون: اَلْحَسَبُ | ۱۱۹ |
| ۴۱. | باب ششم ثلاثي مجرد صحيح از باب فَعُلَ يَفْعُلُ چون اَلشَّرَفُ: | ۱۱۹ |
| ۴۲. | (۲۲)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۲۰ |
| ۴۳. | باب اول صرف صغير ثلاثي مزيد فيه صحيح از باب اِفْعَال چون: اَلْاِکْرَامُ | ۱۲۴ |
| ۴۴. | (۲۳)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۲۸ |
| ۴۵. | (۲۴)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۳۰ |
| ۴٦. | (۲۵)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۳۲ |
| ۴۷. | (۲٦)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۳۳ |
| ۴۸. | (۲۷)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۳۵ |
| ۴۹. | (۲۸)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۳۷ |
| ۵۰. | (۲۹)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۳۹ |
| ۵۱. | (۳۰)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۴۰ |
| ۵۲. | (۳۱)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۴۳ |
| ۵۳. | (۳۲)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۴۴ |
| ۵۴. | (۳۳)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: | ۱۵۱ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست:


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۵۵. | ➢ (۳۴)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۱۵۲ |
| ۵۶. | ➢ د بابو علامې: | ۱۶۳ |
| ۵۷. | ➢ (۳۵)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۱٦٦ |
| ۵۸. | ➢ (۳٦)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۱٦۷ |
| ۵۹. | ➢ (۳۷)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۱٦۹ |
| ٦۰. | ➢ (۳۸)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۱۷۱ |
| ٦۱. | ➢ (۳۹)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۱۷۳ |
| ٦۲. | ➢ (۴۰)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۱۷۵ |
| ٦۳. | ➢ (۴۱)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۱۷۷ |
| ٦۴. | ➢ (۴۲)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۱۷۸ |
| ٦۵. | ➢ (۴۳)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۱۸۰ |
| ٦٦. | ➢ باب اول صرف صغیر ثلاثي مجرد مثال واوي بر وزن فَعَلَ يَفعِلُ چون: اَلْوَعْدُ | ۱۸۵ |
| ٦۷. | ➢ باب اول صرف صغیر ثلاثي مجرد اجوف واوي بر وزن فَعَلَ يَفعُلُ چون اَلْقَوْلُ | ۱۹۸ |
| ٦۸. | ➢ (۴۴)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۰۱ |
| ٦۹. | ➢ (۴۵)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۰٦ |
| ۷۰. | ➢ (۴٦)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۱۲ |
| ۷۱. | ➢ (۴۷)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۱۳ |
| ۷۲. | ➢ (۴۸)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۱٦ |
| ۷۳. | ➢ (۴۹)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۲۱ |
| ۷۴. | ➢ (۵۰)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۲۳ |
| ۷۵. | ➢ (۵۱)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۲٦ |
| ۷٦. | ➢ (۵۲)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۲۹ |
| ۷۷. | ➢ (۵۳)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۳۲ |
| ۷۸. | ➢ باب اول صرف صغیر ثلاثي مجرد ناقص واوي بر وزن فَعَلَ يَفعُلُ چون اَلدُّعَاءُ | ۲۴۳ |
| ۷۹. | ➢ (۵۴)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۵۱ |
| ۸۰. | ➢ (۵۵)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۵۳ |
| ۸۱. | ➢ (۵٦)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۵۴ |

## د مضامینو تفصیلي فهرست:


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| ۸۲. | (۵۷)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۵۵ |
| ۸۳. | (۵۸)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۵۸ |
| ۸۴. | (۵۹)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۶۰ |
| ۸۵. | (۶۰)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۶۵ |
| ۸۶. | (۶۱)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۶۸ |
| ۸۷. | (۶۲)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۶۹ |
| ۸۸. | (۶۳)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۷۱ |
| ۸۹. | (۶۴)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۷۵ |
| ۹۰. | (۶۵)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۷۷ |
| ۹۱. | (۶۶)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۷۸ |
| ۹۲. | (۶۷)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۸۳ |
| ۹۳. | ابواب لفیف مفروق: | ۲۸۹ |
| ۹۴. | ابواب لفیف مقرون | ۲۹۳ |
| ۹۵. | (۶۸)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۹۶ |
| ۹۶. | (۶۹)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۲۹۹ |
| ۹۷. | (۷۰)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۳۰۱ |
| ۹۸. | (۷۱)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۳۰۳ |
| ۹۹. | (۷۲)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۳۰۶ |
| ۱۰۰. | (۷۳)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۳۰۸ |
| ۱۰۱. | (۷۴)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۳۰۹ |
| ۱۰۲. | (۷۵)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۳۱۰ |
| ۱۰۳. | (۷۶)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۳۱۱ |
| ۱۰۴. | (۷۷)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۳۱۲ |
| ۱۰۵. | (۷۸)قانون او د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه: | ۳۱۳ |
| ۱۰۶. | د مهموزو څو مشترکه ضروري فوائد: | ۳۱۴ |
| ۱۰۷. | ابواب مهموز الفاء ثلاثي مجرد: | ۳۱۵ |
| ۱۰۸. | ابواب مهموز العین ثلاثي مجرد: | ۳۲۰ |

## د مضامينو تفصيلي فهرست:


| شماره | | صفحه |
|---|---|---|
| .۱۰۹ | ➢ ابواب مهموزاللام ثلاثي مجرد: ........ | ۳۲۳ |
| .۱۱۰ | ➢ (۷۹)قانون او د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه: ........ | ۳۲۵ |
| .۱۱۱ | ➢ ابواب مضاعف: ........ | ۳۲۹ |
| .۱۱۲ | ➢ ابواب مختلطات: ........ | ۳۳۳ |
| .۱۱۳ | ➢ علامات ابواب: ........ | ۳۴۰ |

بسم الله الرحمن الرحيم

# سریزه:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ حَمْدًا كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ وَمُبَارَكًا عَلَيْهِ كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ خَيْرِ الْهُدٰى وَعَلٰى آلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ نُجُوْمِ الْاِهْتِدٰى.

اما بعد:

یو طرف ته د علم الصرف او علم النحو اهمیت په علومو کي ډېر واضح وو، لکه: مشهوره مقوله ده: اَلصَّرْفُ اُمُّ الْعُلُوْمِ وَالنَّحْوُ اَبُوْهَا، يَقْوِيْ فِي الدِّرَايَاتِ دَارُوْهَا وَيَطْغٰى فِي الرِّوَايَاتِ عَارُوْهَا.

**ترجمه**: علم الصرف د ټولو علومو مور ده او علم النحو د ټولو علومو پلار دئ، چي کم څوک د صرفو او نحوي د علم سره واقف وي، هغه ته په علومو عقلیه وو کي ښه قوت او استعداد حاصل وي، او چي کم څوک د صرفو او د نحوي د علم څخه عاري یعني ناواقف وي. هغه په علومو نقلیه وو کي ګمراه کیږي او منزلِ مقصود ته ځان نه سي رسولای.

او بل طرف ته زموږ د علاقې طالب علمان یقینًا هم د دغه علومو د اهمیت په اندازه یې د حاصلولو کوشش کوي، لیکن د کوشش په طریقه کي یو څه کوتاهي وه، هغه دا چي طالب علمانو به خپل ټول سعی او کوشش د نحوي او صرفو د کتابو د عبارت، حاشیې او نقطې په حل کولو صرف کاوئ.

لیکن په عربي عباراتو کي د اجراء کولو به یې څه خاص اهتمام نه کاوئ، نو د هغه نتیجه به دا وه چي طالب العلم خو به په عبارت، حاشیه او نقطه ښه پوهیدئ. لیکن په عربي عباراتو کي به د اجراء نه کولو په وجه د عربي ترکیب او د صیغو د اجراء سره نابلده وو.

بنده په خپل درسي دوران کي په عامو طالبانو کي دا کوتاهي ډېر زیاته محسوسوله.

د دې کوتاهۍ د لیري کولو دپاره بنده د خپل کمزوري وسع او طاقت او کمزوري استعداد په موافقت باندې به هر کال د رخصتۍ په دوران کي د خپل استاد امام الصرف و النحو حضرت مولانا نصرالله خان صاحب (زاد مجده) په طرز او طریقه باندي یو کال ارشاد الصرف او بل کال نحومیر د دورې په شکل و طالب علمانو ته درساوئ.

او په هغه کي به یې د نحوي تراکیب او د علم الصرف د صیغو اجراء په عربي عباراتو کي د کولو خاص اهتمام کاوئ، او په څلوېښت یا پنځه څلوېښت سبقه به پای ته رسېدئ.

په هغه کي به د مختلفو علاقو مبتدي او منتهي طلبانو په کثرت سره شرکت کوئ. چي کله په طالب علمانو کي د هغه فائده ډېر زیاته محسوسه سوه، نو بنده و هغه ته تسلسل ورکړئ.

د دورې په دوران کي به بعضو طالبانو په مختلفو شکلو د هغه تقريرونه ليکل او نورو طالب علمانو به د هغه فوټو استيټونه لاس ته رسول.
په آخر کي طالبانو دا تمنی ډېر ښکاره کوله او ما ته به يې ويل چي کاشکي پر دې تقريرو باندي تا نظر کړې واى!
د طالبانو دغه تمنی بنده د خپلي بيمارۍ په خاطر نه سوه پوره کولاى، په آخر کي په حيث د مجبورۍ دې کار ته تيار سوم.
او د معاونت ذمه داري د بنده کشر ورور ذکي، فاضل او مدرس حافظ مولوي مفتي کليم الله پر غاړه واخيسته، نو ده د بنده د يو شاګرد (چي د ملا احسان الله په نامه باندي وو) د ارشاد الصرف ليکلي تقرير و مخته کښېښوئ او پر هغه يې کار شروع کړئ.
د ارشاد الصرف د ټولو قوانينو مختصري خلاصې او د ټولو بابو صرف ضغير او حسب ضرورت د بعض بابو صرف کبير او د هر سبق سره يو څه حل سوي صيغې يې کښېښولې.
او يقيناً يې هم د هغه سره بهترينه او د فوائدو ډکه حاشيه اضافه کړه او بنده به يې نګراني کوله.
په آخر کي دا وايم چي څه مستقل تصنيف خو نه دئ، صرف د استاذانو د ارشاد الصرف د وينا يو طريقه ليکل سوې ده، ليکن انشاء الله فائده به يې د ارشاد الصرف و معلمينو او متعلمينو ته چي د پښتو ژبي سره تعلق لري ډېره زياته وي.
الله تعالی دي دا کوشش د ټولو معاونت کوونکو چي هر قسم يې د دې کتاب په برابرولو کي معاونت کړی وي د نجات ذريعه وګرځوي! آمين يا رب العالمين

**اطيع الله** عفي عنه بن حاجي ملا عبد العزيز (رحمه)

كَتَبْتُ هٰذِهٖ عِدَّةَ السَّطْرِ فِيْ حَرَمِ الْمَسْجِدِ النَّبَوِيِّ عَلٰى صَاحِبِهَا أَلْفُ أَلْفِ صَلَوَاتٍ وَسَلَامٍ عَقِيْبَ صَلٰوةِ الْجُمُعَةِ.

تاريخ: يوم الجمعه (۷) محرم الحرام ۱۴۳۶هـ

مطابق: ۲۰۱۴/۱۰/۳۱

# عرض مرتب:

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى.

احقر العباد بنده ناچيز د هر څه څخه مخکي د الله تعالى شکر ادا کوي. چي الله تعالى محض په خپل فضل او کرم سره بغيرد د څه استحقاقه او د خپل محبوب شيخ حضرت صوفي شاه فيروز عبدالله ميمن صاحب دامت برکاتهم د خصوصي دعاګانو په برکت سره د "بيان الصرف" چي تقرير د ارشادالصرف دئ په کتابي شکل کي يې تکميل و کړئ.

چونکه د بنده د مشر ورور استاد محترم حضرت مولانا اطيع الله صاحب دامت برکاتهم تقريبًا د تيرو شلو کلو څخه د صرف او نحو د دورې يو ترتيب روان دئ، چي په هغه کي هر کال د مختلفو علاقو څخه راغلي تشنګان علم په ډېر کثير تعداد سره شموليت کوي او خپله نحوي او صرفي تشنګي پوره کوي. او بنده هم بطور معاون په دغه دورو کي شموليت کوي، او دغه مسوده د حضرت موصوف دامت برکاتهم د شل کاله تجربې د إفاداتو څخه تيار سوی يو تقرير دئ، چي اوس ستاسو په مخکي په يو کتابي شکل کي موجود دئ.

د دغه تقرير په کتابي شکل کي د تيارولو څو وجهي دي، چي په هغو کي يوه داده چي حضرت موصوف دامت برکاتهم د ارشادالصرف د طويل تدريس او تجربې وروسته دا محسوس کړه چي په پښتو ژبه کي يو داسي جامع او مختصر تقرير وليکل سي چي د هغه څخه عام طالبان فائده واخلي او خصوصا ابتدائي مدرسين په خپل درس کي د ارشادالصرف.

او بل دا چي د عامو طالبانو بالخصوص د دورې د شرکاؤ پر ډېر اصرار باندي چي د حضرت موصوف دامت برکاتهم څخه به يې کاوئ، چي دغه تقرير دي د فوټو کاپي څخه په يو کتابي شکل کي نقل سي او ترتيب دي ورکول سي.

نو د حضرت موصوف دامت برکاتهم په امر او حکم باندي بنده د خپل کم علمی او تهي دستی د اعتراف او د تدريسي او نورو مصروفياتو باوجود صرف د الله ﷻ د نوم مبارک په ويلو سره د حضرت موصوف دامت برکاتهم په نګرانی او سرپرستی کي و دغه تقرير ته په ترتيب ورکولو کي شروع وکړه چي الله ﷻ محض په خپل فضل او کرم سره پايه تکميل ته ورسوئ.

وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ

کليم الله ولد حاجي ملا عبدالعزيز (مدرس)

## د تقریر پر خصوصیاتو باندي اجمالا یو ځو لیکي:

الحمد لله په دې تقرير کي د هري درجې ذهن لرونکي طالب العلم يعني که مبتدي وي، که متوسط وي او که منتهي وي د استعداد پوره خيال ساتل سوی دئ، هغه لکه:

۱. د قوانينو تشريح د حکمو، شرطو، اتفاقي او احترازي مثالو په شکل کي په ډېر آسانه او ساده انداز باندي.
۲. او د ټولو بابو د صرف صغيرو خاص بيا د مشکلو بابو د صرف کبير وضاحت په اعراب يعني په زور، زېر او پېښ سره په واضحه توګه چي د بابو په يادولو کي د يو ښه معاون او مددګار حيثيت لري.
۳. دا غه رنګه د باب د مشکلو صيغو اعلال په پښتو ژبه کي په اسانه ډول باندي.
۴. د صرفو د مختلفو کتابو څخه پر دې تقرير باندي بطور استفاده يو مختصره حاشيه ليکل سوې ده، چي په بعضو ځايو کي يې د متن د مخفي الفاظو تشريح کړې ده او په بعضو ځايو کي يې مزيده صرفي تشنګي پوره کړې ده، چي هر طالب العلم د خپل صرفي استعداد مطابق بطور تفريح فائده ځني اخيستلای سي.
۵. بقول حضرت موصوف رحمه الله و دې کتاب ته مو د صرف بهائي تر حده پوري د سبقانو او د اولي او دوهمي خبري په شکل ترتيب ور کړی دئ. دا زموږ د استاد حضرت مولانا نصر الله خان رحمه الله د سبق ويلو طريقه وه چي تر يو حده د هغه د ويني خصوصيت پکښي پاته سي.
۶. د سبقانو د ويلو ترتيب کچيري په دوره کي وي، نو شمار يې د څلوېښتو څخه بيا تر پنځه څلوېښتو پوري دئ، او که چيري دوره نه وي، نو بيا د طالب العلم د استعداد مطابق بايد وويل سي.
۷. او يو خصوصيت چي هغه د دې تقرير د امتيازاتو څخه هم دئ پنسبت د نورو بعضو شرحو هغه دا چي د حل شده صيغو اجراء د قوانينو په رڼا کي چي ابتدائي مدرسين بطور خاص فائده ځني کولای سي.

۸. په نوي ایډیشن کي د تمرین اضافه هم سوې ده چي هغه د طالب العلم د ذهن د تېزی د پاره لیکل سوي صیغې دي چي طالب العلم یې په خپله د هغه اصل را وباسي او قانون پکښي جاري کړي او دا د طالب العلم د استعداد زیاتولو دپاره یو ښه معاون بلل کیږي. او د هر قانون سره د یوې فائدې چي هغه د حضرت مولانا عبید الله خضداري د افاداتو څخه دي اضافه سوې ده چي د قانون په جاري کولو کي و طالب العلم ته یو واضحه لاره روښانه کوي.

بنده ناچیز هم چونکه د نیکۍ په کار کي د شمولیت او د قاعده "الامر فوق الادب" په تقاضا سره د دې تقریر په ترتیب او تزئین کي حصه اخیستې ده.

حتی الوسع په دې تقریر کي د غلطیو د تصحیح کوشش سوی دئ. بیا هم که چیري د بشري کمزوري د تقاضا پر بنیاد باندي د بنده څخه د دې کتاب په ترتیب او تزئین کي یو غلطي سوې وي.

نو بنده اولاً د الله تعالی څخه او ثانیاً د ټولو مسلمانو څخه د معافی طلبګار دئ.

او د محترمو ناظرینو پر اطلاع باندي به انشاء الله تعالی په آئنده چاپ کي د هغه غلطی اصلاح کیږي.

او په آخر کي د بنده د ټولو مسلمانو خصوصاً د ناظرینو حضراتو څخه غوښتنه او خواست دا دئ چي بنده او د بنده محبوب شیخ رحمه الله او د بنده والدین، استاذان، شاګردان او تر قیامت پوري راتلونکي ذریات په خپلو خصوصي دعاګانو کي یاد وساتي.

او الله تعالی دي و دې تقریر ته په هر اعتبار سره د قبولیت شرف ور نصیب کړي چي د الله جل جلاله د رضا سبب وګرځي. آمین.

بنده ناچیز:

کلیم الله بن ملا عبد العزیز (مرحوم)

مدرس جامعه اسلامیه (علامه ټاؤن) بائی پاس روډ چمن ۱۲/۱/۲۰۱۵

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُ(١) لِلّٰهِ رَبِّ(٢) الْعٰلَمِيْنَ وَالْعَاقِبَةُ(٣) لِلْمُتَّقِيْنَ(٤) وَالصَّلٰوةُ(٥) وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ(٦) وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

# اول سبق

## په دې سبق کې څلور خبرې دي:

### اوله خبره:

چې هر طالب العلم په يو علم د علومو کښې شروع کوي د هغه د پاره د اوو (٧) شيانو پېژندل ضروري دي.

١. مقام او مرتبه د هغه علم.
٢. تعريف د هغه علم.

---

(١) الحمد: د "حمد يحمد حمدا" مصدر دی. د باب څخه د علم يعلم. د الحمدلله معنى (كل حمد من الازل الى الابد من اي حامد من الخالق او من المخلوق مختص لله تعالى). (تنوير)

(٢) رب: مصدر دی يا د باب څخه د نصر ينصر يعنى ﴿ربّ يربّ ربّا﴾ او يا د تفعيل د باب څخه يعني ﴿ربّب يربّب تربيبا﴾ يا ناقص يايي دی د ضرب يضرب د باب څخه يعني ﴿ربى يربى﴾. علامه جامي په مختار الصحاح کې ليکلي دي چې دا درې سره بابونه مترادف دي. (نوادر الاصول)

يا د اسم فاعل صيغه ده، "رابّ" الف د تخفيف په وجه حذف سوی دی. يا د صفت مشبه صيغه ده، "ربّ" بر وزن "فعل" او "فعل" بر وزن "صعب" په اصل کې "ربب" وه، بيا د ادغام په وجه باندي ﴿ربّ﴾ جوړ سوي دی. (تنوير)

(٣) العاقبة: د مصدر صيغه ده، د باب څخه د نصر ينصر د ضرب يضرب. او مصدر کله کله د فاعل فعيل مفعول پر وزن باندي هم راځي، لکه: كاذبة، حريق او مفتون. (تنوير)

(٤) متقين: د اسم فاعل د جمع صيغه ده د متقي، د باب افتعال څخه ده. (تنوير)

(٥) الصلوة: مصدر دی د باب تفعيل څخه يا اسم مصدر دی د تصليه. د دواړو په منځ کې فرق دا دی چې مصدر پر معنى حدثي دلالت کوي او اشتقاق ځني کيږي. لکه تسبيحا چې سبّح ځني مشتق سوی دی. او اسم مصدر پر معنى حدثي دلالت کوي، خو اشتقاق نه ځني کيږي. لکه: سبحان اسم مصدر دی او په معنى د مصدر سره دی، ځکه سبحان په معنى د تسبيح دی.

"صلوة" په اصل کې "صلوة" وو، واو متحرک ما قبل يې مفتوح ؤ. د "قال باع" والا په قانون سره "واو" په "الف" بدل سو. او صاحب فصول اکبري يو قاعده ليکلې ده چې "صلوة، زكوة، مشكوة" او "ربو" ددې څلورو په آخر کې "واو" ليکل کيږي. او "الف" د "واو" پر سر ليکل کيږي، او دغه کلمات په تفخيم سره ويل کيږي. او د اضافت په وخت کې "واو" حذف کيږي، لکه په ﴿انّ صلاتي﴾ کې. (تنوير)

(٦) آله: د "آل" اصل يا خو "اول" ؤ "واو" متحرک ما قبل يې مفتوح د "قال باع" په قانون سره "واو" په "الف" سره بدل سو او "آل" ځني جوړ سو. او يا د "آل" اصل "اهل" ؤ. "هاء" د قرب المخرج په وجه باندي په همزه بدل سوه. بيا د "امن يمن" په قانون سره همزه په "الف" سره بدل سو "آل" سو. (تنوير)

۳. غرض د هغه علم. ۴. موضوع د هغه علم.
۵. واضع د هغه علم. ٦. مصنف د كتاب.
۷. وجه د تسميه د كتاب.

**دوهمه خبره:**

**سوال:** كه څوک سوال وكړي چي د طالب العلم دپاره د دې اوو (۷) شيانو پيژندل ولي ضروري دي؟

**جواب:** د مقام او مرتبې پيژندل ځكه ضروري دي چي دد، علم مقام او مرتبه و طالب ته معلومه سي، بيا به پر دې علم حاصلولو دده شوق راسي.(۱)

د تعريف پيژندل ځكه ضروري دي چي طلب د مجهول مطلق را نه سي. او طلب د مجهول مطلق باطل او عبث دئ.

د غرض پيژندل ځكه ضروري دي چي د طالب سعي او كوشش عبث نه سي.

د موضوع پيژندل ځكه ضروري دي چي تميز د علومو په تميز د موضوعاتو سره راځي.(۲)

د واضع پيژندل ځكه ضروري دي چي د واضع د پيژندلو څخه د واضع مرتبه معلوميږي بيا پر دې علم باندي د طالب شوق راځي.(۳)

د مصنف پيژندل ځكه ضروري دي چي د مصنف د پيژندلو څخه د مصنف مرتبه معلوميږي، چي كله د مصنف مرتبه معلومه سي، نو بيا هم پر كتاب باندي د طالب العلم شوق پيدا كيږي.

---

(۱) لكه څنگه چي يو طالب و يو مدرسې ته د ورتلو څخه مخكي د هغي مدرسې ادرس او پته و ځان ته معلوموي، د دې دپاره چي دَى طالب او تلاښ كونكى د يو نا معلومي او مجهولي مدرسې نه سي. (الصرف العزيز)

(۲) او بل دا چي طالب خپل مقصود يعني سبق ويل، علم دين حاصلول او الله تعالى راضي كول د غير مقصود څخه جلا كړي. (الصرف العزيز)

(۳) او داغه رنگه چي د واضع د مرتبې د پيژندلو په وجه باندي د طالب زړه مطمئن سي. و د علم صرفو په زده كولو كي خپل كوشش او طاقت صرف كړي. (الصرف العزيز)

وجه د تسميه پيژندل ځکه ضروري دي چي علم پر دوه قسمه دئ يو علم اجمالي او بل علم تفصيلي. علم اجمالي اکثره وخت د کتاب په نامه کي پټ وي او علم تفصيلي د کتاب د ويلو څخه وروسته حاصليږي. او تفصيل بعد الاجمال اوقع في الذهن وي.

## دريمه خبره:

(مقام) د علم صرفو په منزله د مور د مقام دئ. لکه څنګه چي بغير د مور د بچيان پيدا کېداى نه سي؛ داغه رنګه د علم صرفو د ويلو څخه بغير نور علوم د طالب العلم په دماغ کي نه سي راتلاى. او ددې خبري تائيد د عربو دا مقوله کوي چي ﴿الصَّرْفُ أُمُّ الْعُلُومِ وَالنَّحْوُ أَبُوهَا﴾.(۱)

تعريف د علم صرف، داغه رنګه موضوع د علم صرف او داغه رنګه غرض د علم الصرف داخاص دئ په علم الصرف پوري. او قانون دا دئ چي تعريف د خاص او مقيد موقوف دئ پر تعريف د عام او مطلق باندي. اول به عام او مطلق تعريف او مطلق موضوع او مطلق غرض پيژنو، بيا به تعريف د علم صرفو. موضوع د علم صرفو او غرض د علم صرفو پيژندل کيږي.

اوس مطلق تعريف په لغت کي ﴿مَا يُعَرَّفُ بِهِ الشَّيْءُ﴾ ته وايي چي په ده سره شی پيژندل کيږي او په اصطلاح کښي ﴿مَا يَتَمَيَّزُ بِهِ الشَّيْءُ عَنْ جَمِيعِ مَا عَدَاهُ﴾ چي په ده سره شی د جميع ماعدا څخه جلا کيږي.

(موضوع) په لغت کي (نهاده شده) ته وايي او په اصطلاح کي ﴿مَا يُبْحَثُ فِي الْعِلْمِ عَنْ عَوَارِضِهِ الذَّاتِيَّةِ﴾ چي په يو علم کي د هغه شي د عوارض ذاتيه څخه بحث کيږي.

(غرض) په لغت کي مطلوب او نښاني ته وايي او په اصطلاح کي ﴿مَا يَكُونُ بَاعِثًا عَلَى الْفِعْلِ﴾ چي پر يو فعل باندي باعث کونکی وي.

## څلورمه خبره:

د مطلق تعريف. غرض او موضوع پيژندلو وروسته اوس د علم الصرف خاص تعريف دادئ:

---

(۱) د مقدمه د علم صرفو متعلق د شعارهم په بعضو کتابو کي ليکلي دي:

﴿[illegible]﴾

﴿[illegible]﴾

﴿[illegible]﴾

﴿الصرف علم باصول يعرف بها احوال الكلم الثلث من حيث اصل وبناء ورد وبدل﴾ (۱). علم الصرف يو علم دئ پر يو څو قاعدو باندي چي د هغه په ذريعه سره د درو کلمو (اسم، فعل، حرف) د آخر احوال پېژندل کيږي په اعتبار د اصل وبناء د رد او بدل.

(موضوع) د علم صرف دا دد: ﴿كلمات لغة العرب من حيث بناء واشتقاق واعلال وتعليل ورد وبدل﴾. (۲)

(غرض) د علم الصرف دا دئ: ﴿صيانة الذهن عن الخطاء في الصيغة﴾ (۳). ذهن (ژبه) د خطاء لفظي څخه ساتل.

(واضع) د علم صرفو: د محقق قول مطابق حضرت معاذ بن مسلم هروي (۴) رحمة الله عليه دئ،

---

(۱) صرف په لغت کي په معناګانو سره راځي:

۱. ګرځول او اړول.
۲. ويلي کول.
۳. په شا کېدل.
۴. [illegible]
۵. د سرو او سپينو بدلول (ترخه).
۶. ګردش زمانه.
۷. واقعه او حادثه.

او د علم صرفو مختلف نومونه دي:

۱. علم الصرف.
۲. علم التصريف.
۳. علم الميزان.
۴. علم الصيغه.
۵. علم الاشتقاق. (املاء الصرف)

په بعض کتابو کي د علم صرفو تعريف په دي الفاظو باندي هم ذکر سوی دئ:

۱. ﴿الصرف علم يبحث عن احوال المفردات من حيث هيئتها﴾ (فصول عشري)
۲. ﴿تحويل الاصل الواحد الى امثلة مختلفة لمعان مقصودة﴾ (رحماني)
۳. ﴿الصرف علم باصول يعرف بها احوال ابنية الكلم التي ليست باعراب وبناء﴾. (الصرف العزيز)

(۲) په بعضو کتابو کي موضوع په دي الفاظو باندي هم ذکر سوی دد:
﴿مفردات كلام العرب من حيث الاصالة والفرعية والحوادث﴾.

(۳) غرض د علم الصرف په بعض کتابو کي په دا الفاظو سره هم ذکر سوی دئ:
﴿تحصيل ملكة يعرف بها الاختصاص عن [illegible]﴾.

(۴) [illegible] لکه څنګه چي يو شاعر ويلي دي: [illegible] (الصرف العزيز)

که څه هم د بعض حضراتو په نزد باندي حضرت علي ﷺ دئ(۱).
(مصنف) ددې کتاب د محقق قول مطابق حضرت مولانا خدای بخش رحمة الله عليه دئ.
(وجه د تسميې) ددې کتاب داده چي ارشاد مصدر دئ د باب څخه د افعال، مصدر کله مبنی للفاعل وي او کله مبنی للمفعول وي، دلته مبنی للفاعل دئ. نو ارشادالصرف معنٰی مُرشدُالصَرف يعني لاربنونکی د صرفو.
**سوال**: دا نور کتابونه د علم صرفو لکه صرف مير، زرادي، زنجاني، مراح الارواح او شافيه دا خو هم لاربنونکي دي و صرفو ته و دې هر يوه ته بايد د ارشاد نوم ورکول سي؟
**جواب**: علم صرف عبارت د درو شيانو څخه دئ: اعلالات، ابواب او قوانين، په دې کتاب کښي دا درې سره موجود دي، نو دا کتاب جامع سو؛ ځکه يې د ارشادالصرف نوم ورکړئ.
او هغه نور کتابونه په بعضو کي خالص اعلالات وي، لکه صرف بهائي او صرف مير. په بعضو کي خالص ابواب وي، لکه ميزان الصرف. او په بعضو کي خاص قوانين وي، لکه: په زرادي، زنجاني، مراح او شافيه کي. نو دا کتابونه نه سوه جامع؛ ځکه دوی ته د ارشاد نوم ورنه کړل سو.
يا دوهمه وجه داده چي ارشادالصرف و انسان ته د علم الصرف لاربنوونه کوي، لکه څنګه چي مرشد انسان ته د الله تعالی د قرب لاربنوونه کوي د هغه په لاربنوونه انسان په خپل مرام او مقصد کښي کامياب ګرځي. داغه رنګه د ارشادالصرف په ښوونه انسان په صرفو کښي کامياب ګرځي.

---

(۱) د حضرت هروي [illegible] څخه مخکي د نحوي او صرفو مسائل په مخلوط شکل باندي وو [illegible] علامه هروي په جينه [illegible] کي د صرفو مسائل [illegible] جلا کړل [illegible] مستقل فن په شکل يې ترتيب ورکړ [illegible] وفات ۱۹۰ هجري [illegible]
حضرت مفتي [illegible] صاحب ليکي دي چي [illegible] مسئله [illegible] ليکي دي چي [illegible] دغو [illegible] ته [illegible] دغو [illegible] علي دي.
۱ حضرت [illegible]
۲ [illegible] تصنيف دی.
۳ [illegible] تصنيف دی [illegible]

## دوهم سبق:

په نن سبق کي چند اصطلاحات پیژندل ضروري دي:

۱. لغت:(۱) لغت په لغت کي ﴿اَلنُّطْقُ وَالتَّعْبِيْرُ﴾ نطق او تعبير ته وايي يعني خبري کول. او په اصطلاح کي ﴿مَايُعَبِّرُبِهٖ كُلُّ قَوْمٍ عَنْ اَغْرَاضِهِمْ﴾ چي هر قوم د خپلو اغراضو تعبير په کوي.

۲. اصطلاح: اصطلاح په لغت کي جمع کولو ته وايي لکه عرب چي وايي: ﴿اِصْطَلَحَ النِّسَاءُ﴾ يعني ﴿جَمَعَ النِّسَاءُ﴾ او اصطلاح په اصطلاح کي ﴿اِتِّفَاقُ قَوْمٍ مَخْصُوْصٍ عَلٰى اَمْرٍ مَخْصُوْصٍ﴾ د يو خاص قوم اتفاق پر يو خاص شي باندي.

۳. صيغه:(۲) صيغه په لغت کي زر ويلول او په خپل غالب کي اچولو ته وايي او په اصطلاح کي ﴿هَيْئَةٌ حَاصِلَةٌ مِنْ تَرْتِيْبِ حُرُوْفٍ وَحَرَكَاتٍ وَسَكَنَاتٍ﴾ صيغه يو شکل دئ چي د حروفو، حرکاتو، او سکناتو، د يو ځای کولو څخه حاصليږي.

---

(۱) لغت په اصل کي "لَغَوٌ" وو، بيا "واو" په "الف" سره بدل سو، "الف" د التقاء ساکنين په وجه و غورځېدئ، او په عوض کي کي يې په آخر کي "تا" را وړه نو "لُغَةٌ" سو.

بعضو علماء کرامو يې تعريف داسي کړی دئ: هِيَ اَلْفَاظٌ غَيْرُ مَعْرُوْفَةِ الْمَعَانِيْ.

واضع د لغت اولاً الله رب العزت دئ، لکه څنګه چي الله ﷻ فرمايي: ﴿وَعَلَّمَ آدَمَ الْأَسْمَاءَ كُلَّهَا﴾، او بيا په دې کي زياتوب او کمبوت تغير او تبديل په هره زمانه کي او په هر ملک کي د انسان د طرفه وسو.

او په ټولو لغتو کي احسن او اشرف لغت عربي لغت دئ؛ ځکه حديث مبارک دئ:

اَحِبُّوا الْعَرَبَ لِثَلَاثٍ: لِاَنِّيْ عَرَبِيٌّ، وَالْقُرْآنَ عَرَبِيٌّ، وَلِسَانَ اَهْلِ الْجَنَّةِ عَرَبِيٌّ.

او الله ﷻ فرمايي: بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِيْنٍ

او د انسان اول لغت هم عربي دئ؛ ځکه د آدم ﷺ لغت په جنت کي عربي وو. (املاء الصرف)

(۲) صيغه په اصل کي "صِوْغَةٌ" وو، بيا "واو" ماقبل يې مکسور په "يا" سره بدل سو، "صِيْغَةٌ" سو.

او بعضي علماء کرامو د صيغې تعريف په دې الفاظو باندي کړی دئ: ﴿هَيْئَةٌ عَارِضَةٌ لِمَادَّةِ الْكَلِمَةِ﴾ يعني دا يو شکل دئ، چي د کلمې و مادې يعني و اصل حروف ته عارض کيږي.

بعضي علماء وايي: ﴿هِيَ هَيْئَةٌ حَاصِلَةٌ لِلْكَلِمَةِ بِاِعْتِبَارِ تَقْدِيْمِ الْحُرُوْفِ وَتَاْخِيْرِهَا وَحَرَكَاتِهَا وَسَكَنَاتِهَا﴾. (الصرف العزيز)

۴. منصرف او غير منصرف:(۱) منصرف هغه ته وايي:
چي حركات ثلثه(۲) مع التنوين پر ده راتلاى سي، لكه: "زَيْدٌ" او غير منصرف و هغه ته وايي چي پر ده كسره او تنوين نه سي راتلاى، لكه: "عُمَرُ".

۵. معرب او مبني:(۳) معرب هغه ته وايي چي آخر يې په اختلاف د عواملو مختلف كيږي، لكه: جَاءَنِيْ زَيْدٌ او مبني هغه دئ چي آخر يې په اختلاف د عواملو نه مختلف كيږي، لكه: "هٰؤُلَاءِ".

۶. تنوين: تنوين په لغت كي نون دادن ته ويل كيږي او په اصطلاح كي ﴿نُوْنٌ سَاكِنَةٌ تَتْبَعُ حَرَكَةَ آخِرِ الْكَلِمَةِ لَا لِتَاكِيْدِ الْفِعْلِ﴾ يعني تنوين هغه نون ساكن دئ چي په آخر د كلمې كي راځي او د

---

(۱) د منصرف تعريف: منصرف هغه اسم دئ، چي په ده كي يو سبب د اسبابو د منع صرفي څخه نه وي، لكه "جَاءَنِيْ زَيْدٌ، رَاَيْتُ زَيْدًا، مَرَرْتُ بِزَيْدٍ". او حكم يې په متن كي ذكر سوى دئ.
د غير منصرف تعريف: غير منصرف هغه اسم دئ، چي دوه سببه يا يو سبب قائم مقام د دوو سببو د اسبابو څخه د منع صرفي په كې موجود وي. لكه "جَاءَنِيْ عُمَرُ، وَرَاَيْتُ عُمَرَ، وَمَرَرْتُ بِعُمَرَ"، او حكم يې په متن كي ذكر سوى دئ. (تنوير)
اسباب د منع صرفي نه (۹) دي: ﴿عَدْلٌ وَ وَصْفٌ وَتَانِيْثٌ وَ مَعْرِفَةٌ وَ عُجْمَةٌ ثُمَّ جَمْعٌ ثُمَّ تَرْكِيْبٌ وَ نُوْنٌ زَائِدَةٌ مِنْ قَبْلِهَا اَلِفٌ وَ وَزْنُ فِعْلٍ وَ هٰذَا الْقَوْلُ تَقْرِيْبٌ﴾. (كافيه)
(۲) زور، زېر او پېښ ته حركت ويل كيږي. حركت پر دوه قسمه دئ:
۱. حركت لازمي.
۲. حركت عارضي.
حركت لازمي هغه دئ چي په اصل وضع كي موجود وي. او حركت عارضي هغه دئ چي د يو عارض په وجه ور كول سوى وي.
سكون هم پر دوه قسمه دئ:
۱. لازمي.
۲. عارضي.

**د حركت دوهم تقسيم**

په دوهم تقسيم حركت پر دوه قسمه دئ:
۱. حركت اعرابي.
۲. حركت بنايي.
حركت اعرابي هغه دئ چي پر معرب باندي راځي و دې ته رفع، نصب، جر او جزم ويل كيږي. او حركت بنايي هغه دئ چي د مبني په آخر كي راځي و ده ته ضم، فتح او كسر ويل كيږي. او د دوى مشترک نوم ضمه، فتحه او كسره ده.
او صرفي حضراتو حركت عارضي سكون شمار كړى دئ او سكون عارضي يې حركت شمار كړى دئ.
(۳) د معرب تعريف: ﴿هُوَ اِسْمٌ رُكِّبَ مَعَ عَامِلِهٖ وَلَا يُشْبِهُ مَبْنِيَّ الْاَصْلِ﴾. حكم يې په متن كي موجود دئ.
د مبني تعريف: ﴿مَا نَاسَبَ مَبْنِيَّ الْاَصْلِ اَوْ وَقَعَ غَيْرَ مُرَكَّبٍ﴾. حكم يې په متن كي موجود دئ. (كافيه)

تاكيد د فعل دپاره نه وي. او په تلفظ كي نون ويل كيږي لېكن په كتابت كي نون نه ليكل كيږي(۱).

## څلورډوله حروف پيژندل ضروري دي:

۱. حروف جاره:(۲) حروف جاره اوولس (۱۷) دي:

بَا، وتَا، وكَاف، ولَامْ، ووَاوْ، ومُنْذُ، ومُذْ، خَلَا ... رُبَّ، حَاشَا، مِنْ، عَدَا، فِيْ، عَنْ، عَلٰى، حَتّٰى، اِلٰى

---

(۱) نون پر دوه قسمه دئ:

۱. نون اصلي.
۲. نون زائده.

نون اصلي هغه دئ چي د فا، عين او لام په مقابله كي راسي، لكه نَصَرَ او مَنَعَ. او نون زائده هغه دئ چي د فا، عين او لام په مقابله كي نه وي لكه اِنْصَرَفَ او اِحْرَنْجَمَ.

يا نون زائده پر پنځه قسمه دئ:

۱. نون علامة: دا هغه نون دئ چي د يو باب علامه وي، لكه اِنْفِعَال او اِفْعِنْلَال.
۲. نون اعرابي: دا هغه نون دئ چي په معرب كي وي او د ضمه اعرابي عوض وي، لكه يَضْرِبَانِ او يَضْرِبُوْنَ.
۳. نون بنايي: دا هغه نون دئ چي د چا په عوض كي نه وي او د جمع مؤنث په آخر كي راسي، لكه يَضْرِبْنَ.
۴. نون تنوين: دا نون په تلفظ كي ويل كيږي او په كتابت كي نه ليكل كيږي، بلكي دوه زوره، دوه زېره او دوه پېښه ليكل كيږي، لكه: ضَارِبًا، ضَارِبٍ، ضَارِبٌ چي په اصل كي ضَارِبَنْ، ضَارِبِنْ، ضَارِبُنْ وه.
۵. نون تاكيد: دا هغه نون دئ چي د فعل د تاكيد دپاره را وړل كيږي، كله ثقيله وي، لكه: اِضْرِبَنَّ او كله خفيفه وي، لكه: اِضْرِبَنْ.

(۲) د حروف جاره تعريف: مَاوُضِعَ لِاِفْضَاءِ الْفِعْلِ اَوْ شِبْهِهِ اِلٰى مَدْخُوْلِهٖ.

**حروف جاره غير مشهوره:**

۱. كَيْ. كَيْ يو ناصبه او بل جاره دئ، جاره پر درو شيانو باندي داخليږي:
   اول: پر "مَا" استفهاميه.
   دوهم: پر "مَا" مصدريه.
   دريم: پر "اَنْ" مصدريه.
۲. "لَاتَ" په لفظ "حِيْنَ" او په "كم" زمانيه كي عمل كوي.
۳. "لَوْلَا" جاره په ضمير كي عمل كوي.
۴. "لَعَلَّ" په لغت د بني عقيل كي.
۵. "مَتٰى" بمعنى "مِنْ" په لغت د هزيل كي. (شرير)

۲. حروف نداء:(۱) حروف ندا پنځه (۵) دي: يا، وأيا، وهيا، وأي، وهمزهٔ مفتوحه

۳. حروف جوازم:(۲) حروف جوازم پنځه (۵) دي: إن، ولم، ولمّا، ولام امر، ولاء نهي

۴. حروف نواصب:(۳) حروف نواصب څلور (۴) دي: أن، ولن، وكي، وإذن.

## دريم سبق:

بدان (۴) اسعدك الله تعالی فی الدارین که کلمات لغت عرب بر سه قسم است: اسم است و فعل است و حرف است، اسم چون رَجُلٌ و فَرَسٌ و فعل چون ضَرَبَ، دَحْرَجَ و حرف چون مِنْ وإلی.

---

(۱) ندا په يو مخصوص حرف سره څوک را بلل. پر کم شي چي دا حرف داخل وي، هغه ته منادیٰ ويل کيږي. او منادیٰ تقريبًا پر شپږ (٦) قسمه باندي راځي:

۱. منادیٰ مضاف.
۲. منادیٰ شبه مضاف.
۳. نکره غير معين.
۴. مفرد معرفه.
۵. مستغاث باللام.
٦. مستغاث بالالف. (تنوير)

(۲) "إنْ" د شرط دپاره راځي او دوو فعلو ته جزم ورکوي، لکه: إنْ تَضرِبْ أضرِبْ.
"لَمْ" او "لمّا" پر فعل مضارع داخليږي او په معنی د ماضي منفي سره يې ګرځوي. او د "لمّا" په مدخول کي توقع وي په خلاف د "لَمْ". "لام" امر مبني بر کسره وي، لکه: لِيَضرِبْ. "لاء" نهي لکه: لَا تُشرِكْ بِاللهِ.
(۳) "أنْ" ناصبه مصدريه حرف استقبال ماضي، مضارع او امر دري سره په تاويل د مصدر ګرځوي.
"لَنْ" حرف ناصب استقبال د تاکيد د نفي دپاره راځي، لکه: لَنْ يَضرِبَ.
"كَيْ" دپاره د سببيت راځي، لکه: أسلمتُ كَيْ أدخُلَ الجَنّةَ.
"إذَنْ" حرف جواب د جواب په وخت کي پر فعل مضارع داخليږي. لکه: يو څوک وايي: أنا آتِيكَ غدًا، ته په جواب کي ورته وايې: إذَنْ أُكرِمَكَ. (تنوير)
(۴) بدان د امر صيغه ده. مصدر يې دانستن په معنی د پيژندلو سره راځي، ماضي يې دانست او مضارع يې داند راځي. او دا ده په شروع کي باء د تحسين کلام دپاره راوړل کيږي.

**يو څو نور ضروري فوائد:**

**د جمع، اسم جمع او جنس تر منځ فرق:**

جمع: جمع هغه ده چي پر ما فوق الاثنين يې اطلاق کيږي او د دې دپاره واحد هم وي او و دې ته ضمير د واحد نه سي راجع کيدلای، لکه: مُسلِمُونَ او رِجَالٌ.
اسم جمع: اسم جمع هغه ده چي پر ما فوق الاثنين يې اطلاق کيږي لیکن د دې دپاره واحد نه وي. او د ضمير واحد مرجع جوړېدلای سي، لکه: قَومٌ او رَهطٌ.
جنس: جنس هغه دئ چي پر قليل او کثير دواړو يې اطلاق کيږي او د ضمير واحد دپاره مرجع جوړېدلای سي، لکه: دَارٌ او كِتَابٌ.

**ترجمه:** پوه سه الله تعالی دي تا نیک بخته کړي، په دواړو جهانو کي، چي کلمات د ژبي د عربو پر درې قسمه دي: اسم، فعل، حرف. اسم لکه: رَجُلٌ (سړی) او فَرَسٌ (آس) او فعل لکه: ضَرَبَ او دَحْرَجَ او حرف لکه: مِنْ او اِلیٰ.

## په نن سبقه کي پنځه خبري دي:

### اوله خبره:

پر مصنف رحمة الله علیه باندي سوال واردېږي چي په دې کتاب کي خوستا غرض او مقصد بیان د قواعد صرفیه ؤ دئ او تا شروع په "بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ" سره وکړه. او شروع ستا په "بِسْمِ اللهِ" سره اشتغال بما لایعني دئ. او اشتغال بما لایعني دا عبث کار دئ وَكُلُّ عَبَثٍ حَرَامٌ!

**جواب:** د یو شي د راوړلو دپاره چي یوه نکته او علت وي هغه عبث نه بلل کېږي، نو د "بِسْمِ اللهِ" د راوړلو د پاره د یوې نکتې پر ځای درې نکات او علل سته:

۱. متابعت د قران کریم دئ.

---

**د اسم فاعل او فاعل تر منځ فرق:**

د اسم فاعل او فاعل تر منځ څو فرقونه دي:

۱. اسم فاعل همېشه مشتق وي لکه "ضَارِبٌ" او فاعل همېشه مشتق نه وي، کله مشتق وي، لکه: سَأَلَ سَائِلٌ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ، کله مصدر وي، لکه: اِذَاجَاءَ نَصْرُاللهِ او کله جامد وي، لکه: جَاءَ زَيْدٌ.

۲. اسم فاعل پر ذات مبهم او فاعل پر ذات معین باندي دلالت کوي.

۳. اسم فاعل همېشه ذات مع الوصف وي لکه "ضَارِبٌ" او فاعل همېشه مشتق نه وي، کله مشتق وي، لکه: سَأَلَ سَائِلٌ بِعَذَابٍ وَّاقِعٍ، کله مصدر وي، لکه: اِذَاجَاءَ نَصْرُاللهِ او کله جامد وي، لکه: جَاءَ زَيْدٌ. نو د فاعل او اسم فاعل تر منځ عموم او خصوص من وجه دئ: هم به فاعل وي او هم به اسم فاعل وي، لکه: سَأَلَ سَائِلٌ. فاعل به وي او اسم فاعل به نه وي، لکه: جَاءَ زَيْدٌ، اسم فاعل به وي او فاعل به نه وي، لکه: زَيْدٌ ضَارِبٌ.

**د اسم فاعل او صفت مشبه تر منځ فرق:**

اسم فاعل پر معنايي حدوثي دلالت کوي او صفت مشبه پر معنايي ثبوتي او دوامي دلالت کوي.

**د اسم مبالغي او اسم تفضيل تر منځ فرق:**

په اسم مبالغه کي د زیاتوب معنٰی بذاته او بنفسه وي، لکه غَفَّارٌ او په اسم تفضیل کي د زیاتوب معنٰی نسبت و غیر ته وي، لکه زَيْدٌ اَفْضَلُ مِنْ عَمْرٍو.

۲. امتثال په حديث مشهور سره دئ چي پيغمبر ﷺ فرمايي: ﴿كُلُّ أَمْرٍ ذِيْ بَالٍ لَمْ يُبْدَأْ فِيْهِ بِبِسْمِ اللهِ فَهُوَ أَبْتَرُ﴾ (مرقاة المفاتيح).

يعني هر هغه د نېکۍ کار چي د الله جل جلاله په نامه سره نه سي شروع هغه بې برکته وي.

۳. متابعت د سلفو صالحينو دئ.(۱)

**سوال:** دغه درې وجهې لکه څنګه چي د "بسم الله" د راوړلو دپاره دي داغه رنګه د "حمد" دپاره هم دي، نو "حمد" دي ولې نه راوړئ؟

**جواب:** د "حمد" ويلو څخه غرض او مقصد زموږ اظهار د صفات کماليه ؤ د الله جل جلاله دئ او اظهار د صفات کماليه ؤ د الله تعالی جل جلاله په "بسم الله الرحمن الرحيم" کښي راغلی دئ، لهذا "حمد" د "بسم الله" په ضمن کي وويل سو.(۲)

## دوهمه خبره:

**سوال:** معترض اعتراض کوي چي مصنف "بدان" د څه غرض دپاره راوړی دئ؟

**جواب:** مصنف رحمة الله عليه "بدان" د طالب د اګاهی او بيدارۍ دپاره راوړی دئ.(۳)

**سوال:** "بدان" يې وويلئ ولي يې "اِعْلَمْ" نه ويلئ؟

**جواب:** کتاب چونکه فارسي دئ، نو مناسب "بدان" ؤ. ځکه مصنف رحمة الله عليه "بدان" راوړئ او "اِعْلَمْ" يې نه راوړئ.(۴)

---

(۱) او بل دا چي مشرکينو به کله يو کار شروع کاوئ، نو د خپلو معبودانو باطله څخه به يې د امداد طلب کوئ، ويل به يې: ﴿بِسْمِ اللَّاتِ وَالْعُزَّى﴾. نو مؤمنانو ته حکم وسو، چي تاسي کله يو کار شروع کاوئ، نو د خدای معبود حقيقي څخه د امداد طلب کوئ او د ده په نامه سره شروع کاوئ. (الفوائد الصرفيه)

(۲) او داغه رنګه د دواړو څخه مقصود ذکر خداوندي دئ. چونکه هغه د "بسم الله" په ويلو سره حاصل سو، ليکن د "بسم الله" په باره کي په بل حديث کي زيات تاکيد راغلی دئ. لکه نبي کريم ﷺ فرمايي: ﴿أَلَا مَنْ كَتَبَ مِنْكُمْ كِتَابًا فَلْيَكْتُبْ فِيْ أَوَّلِهِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ﴾ (ملاء نصرف)

(۳) د مصنفينو رحمهم الله دا عادت حسنه دئ. چي د طالبانو د متوجه کولو دپاره په عربي کتابو کي "اِعْلَمْ" او په فارسي کتابو کي "بدان" راوړي. (ملاء نصرف)

(۴) او بل دا چي طالب في الحال فارسيات ويلې وي. نو د "اعلم" په راوړلو سره پرېشانه نه سي، نو ځکه د ده د خوشحاله کولو دپاره يې "بدان" راوړئ. (الفوائد الصرفيه)

**سوال:** چي کله کتاب فارسي دئ، نو ولي يې د "بدان" پر ځای "ببين" او "بشنو" نه راوړئ؟

**جواب:** "ببين" تعلق تر سترګو پورې لري او "بشنو" تعلق د غوږو پورې لري او "بدان" تعلق د زړه او ذهن پورې لري، نو مناسب "بدان" وُ؛ ځکه بحث د علم دئ او علم په ذهن او زړه کښې حاصلېږي.(۱)

## درېمه خبره:

**سوال:** معترض اعتراض کوي چي کتاب فارسي دئ، نو "دعا" دي ولي په عربي ژبه راوړې ده، هغه به دي هم په فارسي سره راوړله؟

**جواب:** عربي دعا ژر قبلېږي(۲)، په دليل سره دد ې قول د پيغمبر ﷺ: ﴿اَلدُّعَاءُ بِاللِّسَانِ الْعَرَبِيَّةِ اَسْرَعُ لِلْاِجَابَةِ﴾.

ترجمه: دعا په عربي ژبه سره ژر قبلېدونکې ده.

**سوال:** دعا د حال او يا د استقبال دپاره کېږي او پر حال او استقبال چي دلالت کوي هغه صيغه د مضارع ده او "اَسْعَدَ" صيغه د ماضي ده پر تېره سوې زمانه دلالت کوي؟

**جواب:** په اتو (۸) ځايو کي ماضی په معنٰی د مضارع سره راځي د هغو ځايو څخه يو ځای د دعاء دئ(۳).

---

(۱) مصنف طالبانو ته دا تنبيه ور کړه، چي علم الصرف تر ويلو او اورېدلو پورې مه محدوده کوئ! بلکي په زړه کي ځای ور کړئ! او ياد يې کړئ! که څه هم د "بشناس" او "باورکن" تعلق هم د زړه سره دئ، ليکن بدان مختصر دئ، ﴿خَيْرُ الْكَلَامِ مَا قَلَّ وَ دَلَّ﴾.(الانوار الاشرفيه)

(۲) د الله تعالی کلام هم عربي دئ، او د نبي کريم ﷺ ژبه هم عربي ده او د جنتيانو ژبه هم عربي وي، لکه په يو حديث شريف کي راځي، ﴿اَحِبُّوا الْعَرَبَ لِثَلَاثٍ لِاَنِّيْ عَرَبِيٌّ وَالْقُرْآنَ عَرَبِيٌّ وَلِسَانَ اَهْلِ الْجَنَّةِ عَرَبِيٌّ﴾ (ـــ رک: د حاکم علی الصحيحين. صفحه ۹۷، جلد ۴)

(۳) هغه اته ځايونه په لاندې ډول دي:

۱. ماضي چي کله د اسم موصول څخه وروسته راسي، نو په معنٰی د مضارع سره کېږي.
۲. ماضي چي کله د شرط څخه وروسته راسي.
۳. ماضي چي کله جزاء واقع سي.
۴. ماضي چي کله د لفظ "حَيْثُ" څخه وروسته راسي.
۵. ماضي چي کله د لفظ "كُلَّمَا" څخه وروسته راسي.

## څلورمه خبره:

**سوال:** معترض اعتراض کوي چې د کلمات سره دې د لغت "عرب" قید ولې ولګاوۀ او حال دا چې د هرې ژبې کلمات پر درې قسمه دي: اسم، فعل او حرف؟

**جواب:** یو قید احترازي دۀ او یو قید بنا بر مقصود دۀ، دا قید احترازي نه دۀ، بلکې دا قید بناء بر مقصود دۀ یعني زموږ مقصود په دې ځای کې معرفت د عربي کلماتو دۀ.(¹)

**سوال:** دا کلمات دې ولې حصر کړي دي په دغو درو کښې چې اسم، فعل او حرف دۀ؟

**جواب:** وجه د حصر یې داده چې دا کلمه به خالي نه وي یا به دلالت پر خپله معنٰی بلا ضم د کلمې اخرٰی کوي او یا به یې نه کوي، که یې نه کاوۀ هغه حرف دۀ، که یې کاوۀ بیا به خالي نه وي یا به اقتران د احد ازمنهٔ ثلاثهٔ پورې لري او یا به یې نه لري، که یې نه درلودۀ هغه اسم دۀ او که یې درلودۀ هغه فعل دۀ.(²)

**سوال:** پر مصنف رحمة الله علیه دا اعتراض واردیږي چې د نحوېینو تعلق د مسند او مسندالیه سره وي، اسم مسند او مسندالیه دواړه راتلای سي، نو دوی اسم مخکې کوي. او د صرفیینو تعلق د اعلالاتو او اشتقاقاتو سره دۀ، اعلالات او اشتقاقات په فعل کې ډېر راځي، نو هغه بیا فعل مخکې کوي، مصنف رحمة الله علیه خو د صرفو کتاب شروع کاوۀ، نو ده ولې اسم مخکې کړی دۀ؟

---

٦. ماضي چې کله د ندا او منادٰی څخه وروسته د جواب ندا په شروع کې راسي.

٧. کله چې د ماضي عطف پر مضارع راسي.

٨. ماضي چې کله د دعاء په مقام کې راسي.

(¹) **اعتراض:** د کلماتو پر ځای یې د کلمې لفظ ولې و نه وایه؟

**جواب:** کچیرې د کلمې لفظ ویلي وای، نو بیا دا شک پیدا کېدۀ چې د عربي یو خاص کلمه ده چې پر درې قسمه ده حالانکې یو خاص کلمه نه ده مراد، بلکې عامه کلمه مراد ده. (الفوائد الصرفیه)

**اعتراض:** د کلمات پر ځای یې الفاظ ولې نه دي ویلي؟

**جواب:** الفاظ جمع د لفظ ده. لفظ پر دوه قسمه دۀ: اول: مستعمل. دوهم: مهمل. کچیرې د کلماتو پر ځای الفاظ ویلي وای، نو بیا دا شبه پیدا کېده چې د لفظ مستعمل غوندې لفظ مهمل هم پر درې قسمه دۀ. حالانکه داسې نه ده. (الانوار الاثرنیه)

(²) بله وجه د حصر یې داده: چې دا کلمه به خالي نه وي یا به دلالت پر ذات کوي هغه اسم دۀ، یا به دلالت پر وصف کوي هغه فعل دۀ، یا به رابطه بین الذات والوصف وي هغه حرف دۀ.

**جواب:** په دې ځای کې د مصنف رحمة الله عليه څخه مسامحه(۱) سوې ده.

**پنځمه خبره:**

اسم(۲) په لغت کې علو او بلندی ته وايي او په اصطلاح کې دا هغه کلمه ده چې دلالت کوي پر خپله معنٰی بلا ضم د کلمې اخرٰی او اقتران نه لري په احد ازمنة ثلاثة پوري.

علامات د اسم دوويشت (۲۲) دي:

۱. الف لام دئ، لکه: اَلْحَمْدُ(۳).

۲. حروف جاره دي، لکه: بِرَبِّ النَّاسِ.

۳. ميم غالباً دئ، لکه: مَضْرُوْبٌ.

۴. د يو شخص يا يو ځای نوم يعني علميت، لکه: بَصْرَة او عُمَر.

۵. تنوين(۴) دئ، لکه: غُلَامٌ.

۶. حروف ندا دي، لکه: يَاعَبْدَالله.

---

(۱) مسامحه معنٰی چشم پوشي يعني پر يو کار سترګې پټول.

(۲) "اِسْمٌ" مشتق دئ د "سِمُوٌّ" يا "وِسْمٌ" څخه على اختلاف المذهبين.

(۳) په لام تعريف کې درې مذهبونه دي:

۱. د امام خليل په نزد باندي د الف او لام دواړو مجموعه د تعريف دپاره راځي.

۲. د سبويه په نزد باندي صرف "لام" د تعريف دپاره راځي او "همزه" د ابتداء بالسکون څخه د ځان ساتني دپاره راځي. د جمهورو په نزد دغه مذهب راجح دئ.

۳. د مبرد په نزد باندي حرف تعريف صرف "همزه" دئ. او د همزه تعريف او همزه استفهام په منځ کې د فرق اکولو دپاره لام را وړل سوی دئ.

(۴) د تنوين څلور قسمه د اسم خاصه ده، او تنوين ترنم عام دئ.

ځکه تنوين تمکن د منصرف او غير منصرف د فرق دپاره راځي، انصراف او عدم انصراف د اسم خاصه ده.

تنوين تنکير د نکره او معرفه د فرق دپاره راځي، او تعريف او تنکير په اسم پوري خاص دي.

تنوين عوض د مضاف اليه عوض دئ او اضافت د اسم علامه ده.

تنوين تقابل د جمع مذکر سالم د نون په مقابله کې راځي، هغه نون په اسم پوري خاص وي، نو دی هم په اسم پوري خاص سو. (کاشفه)

۷. تصغير[1] دئ، لکه: رُجَيْلٌ.

۸. ياءِ نسبتي[2] ده. لکه: جُرْجَانِيٌّ.

۹. الف مقصوره[3] دئ، لکه: حُبْلٰى.

۱۰. الف ممدوده[4] دئ، لکه: حَمْرَآءُ.

۱۱. تاء متحرکه مدورة ده، لکه: ضَارِبَةٌ.

۱۲. جمع اقصی[5] ده، لکه: مَصَابِيْحُ.

۱۳. مضاف[6] دئ، لکه: غُلَامُ رَجُلٍ.

---

(۱) تصغير د څلورو شيانو دپاره راځي:

۱. د عظمت دپاره، لکه: د "قُرَيْشٌ" څخه "قُرَيْشٌ" ويل.

۲. د حقارت دپاره، لکه: د "رَجُلٌ" څخه "رُجَيْلٌ" ويل.

۳. د شفقت دپاره، لکه: د "اِبْنٌ" څخه "بُنَيَّ" ويل.

۴. د قلت دپاره، لکه: د "ضَارِبٌ" څخه "ضُوَيْرِبٌ" ويل.

د تصغير پنځه وزنونه دي:

۱. "فُعَيْلٌ" لکه: "رُجَيْلٌ".

۲. "فُعَيْعِلٌ" لکه: "مُضَيْرِبٌ".

۳. "فُعَيْعِيْلٌ" لکه: "قُرَيْطِيْسٌ".

۴. "فُعَيْلَانٌ" لکه: "مُكَيْرَانٌ".

۵. "فُعَيْلِلٌ" لکه: "سُفَيْرِجِلٌ". په خماسي اسماوو کي تصغير په حذف د حرف خامس هم ويل کيږي، لکه د سَفَرْجَلٌ تصغير سُفَيْرِجٌ هم ويل کيږي، په حذف د حرف خامس.

(۲) "يا" نسبت د مصدر او جامد په آخر کي په زا ورلو سره مصدر او جامد د مشتق په معنی سره اوړي. مصدر لکه: "قِيَامِيٌّ"، جامد لکه "تِبْنِيٌّ". (تنوير)

(۳) چي د ده وروسته همزه نه وي، لکه: "حُبْلٰى".

(۴) چي د ده وروسته همزه وي، لکه: "حَمْرَآءُ".

(۵) د جمعي اقصی علامه دا ده، چي اول دوه حروف يې مفتوح، دريم ځاي الف وي، تر الف وروسته کچيري يو حرف وي، هغه به مُشَدَّد وي، لکه: "دَوَابٌّ". او که دوه حرفه وي، اول به مکسور او دوهم به په طبق د عامل وي، لکه: "مَسَاجِدُ". او که دري حرفه وي، اول به مکسور، دوهم به ساکن او دريم به په طبق د عامل وي، لکه: "مَصَابِيْحُ".

(۶) بعضي علماء وايي: مطلق اضافت يعني مضاف او مضاف اليه د اسم علامه ده. او بعضي علماء وايي: صرف مضاف د اسم علامه ده. او د نحومير مصنف رحمة الله عليه د غه قول ته ترجيح ور کړې ده. (تنوير)

۱۴. موصوف([1]) دئ، لکه: جَاءَ رَجُلٌ عَالِمٌ.

۱۵. مسند الیه دئ، لکه: زَيْدٌ قَائِمٌ.

۱۶. تثنیه([2]) ده، لکه: رَجُلَانِ.

۱۷. جمع ده، لکه: رِجَالٌ.

۱۸. تنوین مقدره([3]) دئ، لکه: اَضْرَبُ.

۱۹. حروف مشبهة بالفعل دي، لکه: إِنَّ زَيْدًا قَائِمٌ.

۲۰. کسره ده، لکه: غُلَامٍ.

۲۱. "مَا" و "لَا" المشبهتین بلیس، لکه: مَا زَيْدٌ قَائِماً.

۲۲. "لَا" التي لنفي الجنس دئ، لکه: لَا رَجُلَ فِي الدَّارِ.

فعل په لغت کي حدث او کار ته وايي او په اصطلاح کي دا يو کلمه ده چي دلالت کوي پر خپله معنٰی بلاضم د کلمې اخرٰی او اقتران لري په احد ازمنة ثلاثة پوري.

او د فعل شل (۲۰) علامې دي:

۱: حروف اتین دي، لکه: يَضْرِبُ تَضْرِبُ اَضْرِبُ نَضْرِبُ. ۲: قَدْ([4]) دئ، لکه: قَدْ اَفْلَحَ.

---

([1]) صفت په موصوف کي تخصیص یا تعریف فائده کوي. صفت پر پنځه قسمه دئ:

۱. صفت کاشفه، لکه: هُدًى لِلْمُتَّقِينَ الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِالْغَيْبِ.

۲. صفت مخصصه، لکه: وَلَعَبْدٌ مُؤْمِنٌ.

۳. صفت مادحه، لکه: بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ.

۴. صفت ذامه، لکه: اَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيْمِ.

۵. صفت مؤکدة، لکه: نَفْخَةٌ وَّاحِدَةٌ.

([2]) په تثنیه او جمع کي فاعل تثنیه کیږي، نه فعل؛ ځکه "الف" د تثنیې او "واو" د جمعې ضمائر دي او ضمیر اسم دئ.

([3]) پر "اَضْرَبُ" باندي تنوین نه سي راتلای ځکه چي "اَضْرَبُ" غیر منصرف دئ، د وزن فعل او وصفیت په وجه. او پر غیر منصرف باندي تنوین نه سي راتلای، نو ځکه تنوین مقدر دئ. (از مرتب عفي عنه)

([4]) "قَدْ" د څو معناوو دپاره راځي:

۱. "قَدْ" ماضي و حال ته را نږدې کوي، کله چي د ده مدخول ماضي وي، لکه: "قَدْ كَانَ".

۲. د تقلیل دپاره راځي کله چي د ده مدخول مضارع وي، لکه: قَدْ تَمْتَمُوْنَ.

۳. د تحقیق دپاره راځي. خواه که یې مدخول ماضي وي او که مضارع وي، لکه: "قَدْ نَرٰى تَقَلُّبَ".

۳: سين(۱) دئ(۲)، لکه: سَيَعْلَمُوْنَ. ۴: سَوْفَ دئ(۳)، لکه: سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ.

۵: حروف نواصب دي، لکه: لَنْ تَضْرِبَ. ٦: امر دئ، لکه: اِضْرِبْ.

۷: نهي دي، لکه: لَاتَضْرِبْ. ۸: حروف جوازم دي، لکه: لَمْ تَضْرِبْ.

۹: نون ثقيله دئ، لکه: اِضْرِبَنَّ. ۱۰: نون خفيفه دئ، لکه: اِضْرِبَنْ.

۱۱: مبني پر فتحه دئ، لکه: ضَرَبَ او دَحْرَجَ. ۱۲: الف ضميري دئ، لکه: ضَرَبَا.

۱۳: واو ضميري دئ، لکه: ضَرَبُوْا. ۱۴: نون ضميري دئ، لکه: ضَرَبْنَ.

۱۵: تاء ساکنه مطوله ده، لکه: ضَرَبَتْ. ۱٦: تاء متحرکه مطوله ده، لکه: ضَرَبْتَ.

۱۷: تُمَا ضمير دئ، لکه: ضَرَبْتُمَا. ۱۸: تُمْ ضمير دئ، لکه: ضَرَبْتُمْ.

۱۹: تُنَّ ضمير دئ، لکه: ضَرَبْتُنَّ. ۲۰: نَا ضمير دئ، لکه: ضَرَبْنَا.

حرف په لغت کي طرف ته وايي او په اصطلاح کي هغه کلمه ده چي دلالت نه کوي پر خپله معنٰی بلاضم د کلمي اخرٰی،

او د حرف علامه(۴) دا ده چي په ده کي د اسم او فعل علامه نه وي.

(۱) "سِيْن" پر شپږ (٦) قسمه دئ:

۱. "سِيْن" طلب، لکه: "أَسْتَغْفِرُ اللهَ".
۲. "سِيْن" تحقيق، لکه: "سَأَطْلُبُ".
۳. "سِيْن" تحويل، لکه: "إِسْتَحْجَرَ الطِّيْنُ خَزَفًا".
۴. "سِيْن" استقبال، لکه: "سَأَتْرُكُ مَنْزِلِيْ".
۵. هغه "سِيْن" چي د يو شي په يو صفت سره په متصف کېدو باندي دلالت کوي، لکه "إِسْتَعْظَمْتُ". دا پنځه قسمه "سِيْن" په فعل پوري خاص دئ.
٦. "سِيْن" سکته، لکه "مَرَرْتُ بِكِسْ" دا د اسم خاصه ده. (تنوير)

(۲) "سِيْن" د استقبال قريب دپاره راځي.

(۳) "سَوْفَ" د استقبال بعيد دپاره راځي. (حاشيه جامع الدروس العربيه ج۱، صفحه ۱۰)

(۴) در حرف بر گز نه باشد ای عزيز... از علامات اسم و فعل هيچ چيز. (الصرف العزيز)

## څلورم سبق:

واسم بر سه قسم است ثلاثی و رباعی و خماسی، ثلاثی سه حرفی را گویند چون زید و رباعی چهار حرفی را گویند چون جعفر و خماسی پنج حرفی را گویند چون سفرجل.

**ترجمه**: اسم پر درې قسمه دئ: ثلاثي، رباعي او خماسي. ثلاثي درې حرفي ته ويل کيږي، لکه: زَيْدٌ. رباعي څلور حرفي ته ويل کيږي، لکه: جَعْفَرٌ. خماسي پنځه حرفي ته ويل کيږي، لکه: سَفَرْجَلٌ.

### په نن سبقه کي درې خبري دي:

### اوله خبره:

اسم[1] جامد متمکن په اِعتبار د تعداد د حروفو اصليهؤ پر درې قسمه دئ:

۱. ثلاثي.[2]

۲. رباعي.

۳. خماسي.

ثلاثي منسوب بسوی ثَلَاثَةٌ يعني د رو حروفو والا، لکه: زَيْدٌ.

رباعی منسوب بسوی اَرْبَعَةٌ يعني څلورو حروفو والا، لکه: جَعْفَرٌ[3].

---

(1) اسم پر دوه قسمه دئ: اسم متمکن او اسم غير متمکن يعني معرب او مبني.

فعل هم پر دوه قسمه دئ: فعل متصرف او فعل غير متصرف.

صرفي حضرات صرف د اسم جامد متمکن او د فعل متصرف څخه بحث کوي. نو ځکه دا تقسيم د اسم جامد متمکن دئ، نه د مطلق اسم.

(2) د ثلاثي، رباعي او خماسي په آخر کي "يا" د نسبت ده. او دا د (والا) معنی ور کوي.

او کم عدد چي د "مَفْعَلٌ" يا "فُعَالٌ" پر وزن راسي په هغه کي د تکرار معنی موجوده وي. يعني د "ثُلَاثٌ" معنی درې درې، د "رُبَاعٌ" معنی څلور څلور او د "خُمَاسٌ" معنی پنځه پنځه. ليکن دلته مراد معنی لغوي نه ده، بلکي معنی اصطلاحي مراد ده. (الفوائد الصرفيه)

(3) جعفر په څلورو (۴) معناوو راځي:

۱. د سړي نوم دئ.

۲. خټکي.

۳. خر.

۴. نهر يا حوض.

خماسي منسوب بسوى خمسة يعني پنځو حروفو والا، لکه: سَفَرجَلٌ(۱).

**فائده:**

دا تقسيم د اسم جامد(۲) دئ، اسم مصدر او اسم مشتق په دې تقسيم کي د فعل تابع دي.

**سوال:** اسم جامد لکه څنګه چي ثلاثي، رباعي او خماسي راځي داغه رنګه احادي هم راځي لکه کاف خطابي، ثنائي هم راځي لکه "مَنْ" و "مَا" هغه دي ولي نه کړه ذکر؟

**جواب:** دا تقسيم د اسم جامد متمکن (يعني معرب) دئ، کاف خطابي او "مَنْ" و "مَا" دا اسماء غير متمکن دي، فَلَايَرِدُ مَا وَرَدَ.

**سوال:** اسم جامد دي تقسيم کړی دئ و ثلاثي، رباعي او خماسي ته و سداسي (يعني شپږو حرفو والا) ته دي ولي تقسيم نه کړئ؟

**جواب:** دا د دوو وجهو څخه:

۱. سُداسي کلمه ثقالت على اللسان (پر ژبه درندوالی) راولي...

---

دغه څلور معناوي يو شاعر په عربي شعر کي داسي را جمع کړي دي:

رَأَيْتُ جَعْفَراً عَلَى جَعْفَرٍ فِي جَعْفَرٍ يَأْكُلُ جَعْفَراً

**ترجمه:** ما يو سړی پر خره سپور په نهر (حوض) کي وليدئ خټکی يې خوړئ. (الفوائد الصرفيه)

جعفر امد بمعناى چهار... جوى (نهر) خربوزه نام مرد و حمار

بعضي حضراتو د جعفر شپږ معناوي بيان کړي دي، لکه په دې شعر کي چي شاعر را جمع کړي دي:

شش معانى جعفر آمد تا توانى ياد دار... مرد كارد (چاقو) كشتى و خربوزه جوى (نهر) هم حمار. (الصرف العزيز)

(۱) سفرجل د يوې ميوې نوم دئ چي په اردو کي "بهي" ورته وايي او د ژړ کډو په شان دئ.

(۲) اسم متمکن و معرب ته او اسم غير متمکن و مبني ته وايي.

اسم مشتق صرف متمکن راځي؛ ځکه هغه صرف معرب استعماليږي.

اسم جامد کله متمکن وي او کله غير متمکن وي؛ ځکه اسم جامد بعض معرب او بعض مبني دئ.

اسم جامد غير متمکن مبني دئ، ﴿لَاشَانَ لِلتَّصْرِيْفِ فِيْهِ﴾.

او اسم جامد غير متمکن کله کله پر يوه حرف وي، لکه: تاء د ضمير. کله کله پر دوه حرفه وي، لکه: "مَنْ" او "مِنْ"، کله کله پر درې حرفه وي، لکه: "كَيْفَ" او "إِذَا" او کله کله تر دې زيات وي، لکه: "مَهْمَا" او "كَيْفَ"... (جامع الدروس العربية)

۲. التباس راځي چې دا يوه کلمه سُداسيه ده يعني شپږو حرفو والا، که دوې کلمې ثلاثي ثلاثي يعني د درو درو حروفو والا دي.

و فعل بر دو قسم است: ثلاثی و رباعی، ثلاثی چون ضرب و رباعی چون دحرج.

**ترجمه:** او فعل پر دوه قسمه دئ: ثلاثي او رباعي. ثلاثي لکه: ضَرَبَ او رباعي لکه: دَحْرَجَ.

## دوهمه خبره:

افعال متصرفه(۱) په اعتبار د تعداد د حروفو اصليهٔ پر دوه قسمه دي: ثلاثي او رباعي.

اسم مشتق او اسم مصدر هم پر دوه قسمه دي: ثلاثي او رباعي:

فعل ثلاثي(۲) لکه: ضَرَبَ او فعل رباعي لکه: دَحْرَجَ.

او اسم مصدر ثلاثي لکه: ضَرْباً او اسم مصدر رباعي لکه: دَحْرَجَةً.

او اسم مشتق ثلاثي لکه: ضَارِبٌ او اسم مشتق رباعي لکه: مُدَحْرِجٌ

**سوال:** اسم دي و خماسي ته تقسيم کړئ فعل دي ولې و خماسي ته تقسيم نه کړئ؟

**جواب:** په فعل پورې کله کله ضمير بارز د فاعل متصل کيږي هغه د شدت اتصال د وجهې د داغه کلمې يو جزء بلل کيږي بيا کلمه سُداسيه ګرځي او په هغه کې دوه نقصانونه راځي: يو ثقالت على اللسان(۳) دئ. دوهم التباس راځي چې دا يوه کلمه سُداسيه ده که دوې کلمې ثلاثي ثلاثي دي، نو ځکه مو فعل و خماسي ته نه کړی تقسيم.

**سوال:** اسم دي و درو اقسامو ته تقسيم کړئ، فعل دي و دوو اقسامو ته تقسيم کړئ او حرف دي ولې نه کړئ تقسيم؟

---

(۱) د فعل متصرف تعريف: ﴿مَايَجْرِيْ فِيْهِ التَّصْرِيْفُ وَالنَّقْلُ اِلَى الْمُضَارِعِ وَاِسْمِ الْفَاعِلِ وَالْمَفْعُوْلِ وَغَيْرِ ذٰلِكَ﴾ لکه "ضَرَبَ يَضْرِبُ" و غيره. (هداية الصرف)

(۲) کمه کلمه چې تر درې حرفه کمه وي، په هغې کې تصريف او ګردان نه راځي، مګر په هغه صورت کې چې په اصل کې ثلاثي وي، بيا وروسته په هغې کې تغير په حذف سره راغلى وي، لکه: "عِ کَلَامِيْ" "قِ نَفْسَکَ" "قُلْ" او "بِعْ" دا ټوله په اصل کې ثلاثي دي، او صيغې د امر دي د وَعٰى يَعِيْ، وَقٰى يَقِيْ، قَالَ يَقُوْلُ، بَاعَ يَبِيْعُ څخه. او داغه رنګه يَدٌ او دَمٌ په اصل يَدَيٌ او دَمَوٌ وو. (جامع الدروس العربيه، ج ۱ صفحه ۱۵۵)

(۳) په فعل کې ثقل در ثقل لازميږي يعني ثقل لفظي او معنوي دواړه لازميږي. ځکه خماسي د لفظ په اعتبار سره ثقيل دئ او فعل د معنى په لحاظ سره؛ ځکه په فعل کې حدث يعني معنى مصدري، نسبت الى الفاعل او نسبت الى الزمان موجود وي. (الصرف العزيز)

**جواب:** حرف غير متصرف([1]) دئ زموږ بحث په متصرفاتو کي دئ.

*بدانکه میزان در کلام عرب فا و عین و لام است.*

**ترجمه:** پوه شه چي ميزان په كلام د عربو كي فا، عين او لام دئ.

## دريمه خبره:

ميزان([2]) په لغت كي ترازو ته وايي او په اصطلاح كي و هغو حروفو ته وايي چي په هغو سره حروف اصليه او حروف زوائد جلا كيږي.

**اول سوال:** غرض او مقصد د مصنف رحمه الله د ميزان راوړلو څخه څه دئ؟

**جواب:** دپاره د امتياز كولو د حروف اصليه ؤ د حروف زوائدو څخه، نه پيژندل ځكه پيژندل ددوى وروسته په خپلو تعريفو سره راځي.

**دوهم سوال:** د ميزان سره د كلام عرب قيد ولي ذكر سو؟

**جواب:** دا قيد احترازي نه دئ، بلكه دا قيد مقصودي دئ يعني بناء بر مقصود دئ چي زموږ دلته د عربي ميزان مقصود دئ.

**دريم سوال:** د ميزان دپاره دي دغه دري حروف فا، عين او لام ولي خاص كړه؟

**جواب:** حروف هجاء په اعتبار د غتو مخارجو سره پر دري قسمه دي:

۱. حروف شفوي.

۲. حروف وسطي.

---

([1]) حروف دري قسمه دي:

۱. هغه دي چي په اسم پوري خاص وي، لكه: حروف جاره او حروف مشبه بالفعل.

۲. هغه حروف دي چي په فعل پوري خاص وي. لكه: حروف ناصبه او حروف جوازم.

۳. هغه حروف دي چي مشترک وي په منځ د اسماء او افعالو كي، لكه: حروف عطف، حروف الاستفهام، "مَنْ" او "مُنْذُ". (جامع الدروس العربيه، جلد ۱ صفحه ۱۰)

([2]) لكه څنګه چي د دنيا هر شی تلل كيږي د هغه دپاره خپل ترازو وي. داغه رنګه صرفيانو هم د عربي كلماتو دپاره يو ميزان مقرر كړی دئ. چي هغه فا، عين او لام دئ. او كله چي د دنيا يو شی تلل كيږي، نو ميزان لاندي او موزون لوړ وي، داغه رنګه چي كمه كلمه وزن كيږي. هغه به لوړه وي او چيري كمه كلمه باندي وزن كيږي هغه به لاندي وي، اولي ته موزون او دوهم ته ميزان وايي. او ميزان به د موزون په مقدار وي، موزون كچيري غټ وي. نو ميزان به هم غټ وي او كه موزون درميانه وي. نو ميزان به هم درميانه وي او كه موزون كوچنی وي، نو ميزان به هم كوچنی وي. يعني مراد ثلاثي، رباعي او خماسي دي. (الفوائد الصرفيه)

۳. حروف حلقي.

نو د شفوي حروفو څخه مو "فا"، د حلقي حروفو څخه مو "عين" او د وسطي حروفو څخه مو "لام" را واخيستئ.

**څلورم سوال:** شفوي حروف خو ډير وه د شفوي(۱) ؤ څخه دي ولي خاص "فا" را واخيستل، د حلقي ؤ څخه دي ولي خاص "عين" را واخيستئ او د وسطي ؤ څخه دي ولي خاص "لام" را واخيستئ. او بيا دي دا خاص ترتيب(۲) ولي ورکړئ چي اول فا، دوهم عين او دريم لام دئ، د دې عکس دي ولي نه کاوئ؟

**جواب:** زموږ د ميزان څخه غرض او مقصد داسي ميزان ؤ چي هغه به اعم الافعال وي چي د دنيا هر فعل ته به شامل وي او داسي ميزان په نورو حروفو سره او په بل ترتيب سره نه راتلی، چي ما کله دا حروف را واخيستل او دا ترتيب مي ورکړئ، نو د دې څخه فعل جوړ سو او فعل کار ته وايي، نو هر کار ته شامل سو، په دې وجه په ميزان کي عموم راغلی.

**پنځم سوال:** مصنف رحمة الله عليه ميزان ولي په ثلاثي کي راوړئ په رباعي يا خماسي کي يې ولي نه راوړئ؟

**جواب:** که يې په رباعي کي راوړی وای، نو چي ثلاثي يې جوړولای يو حرف به يې کمه ولای، که يې په خماسي کي راوړی وای، نو چي ثلاثي يې جوړولای دوه حرفه به يې کمه

---

(۱) **اعتراض:** که يې چيري د شفوي حروفو څخه "م" را اخيستی وای، نو کلمه د "عَمَلٌ" به جوړه سوې وای او د "عَمَلٌ" معنی هم کار کول دي، نو دا کلمه خو هم پر هر شي باندي صادقيږي؟

**جواب:** "عَمَلٌ" چونکه د مخلوق و کار ته ويل کيږي، نه د خالق و کار ته لکه څنګه چي په قرآن کريم کي راځي: "فَعَّالٌ لِمَا يُرِيدُ" لېکن: عَمَّالٌ لِمَا يُرِيدُ نه دئ استعمال سوی چونکه د "عَمَلٌ" معنی په هم دې اعتبار سره خاصه سوه، نو ځکه يې "فَعَلٌ" ميزان مقرر کړئ چي د خالق او مخلوق دواړو و افعالو ته شامل سي. (الفوائد الصرفيه)

(۲) د فا عين او لام په ترتيب ورکولو کي ټول شپږ صورتونه جوړيږي. په دې کي د دې څلورو معنی خاص ده: اول: فَلَعَ (پټاوېدل)، دوهم: عَلَفَ (ويو حيوان ته دانه ورکول)، دريم: لَعَفَ (سره ټول کېښتل)، څلورم: لَفَعَ (د يو شي سرپټول).

او د يوه معنی نه راځي، بلکه هغه مهمل دئ يعني عَفَلٌ.

نو صرف د يوه صورت معنی عامه راځي يعني فَعَلٌ (کار کول). او ميزان هم عام په کار دئ، چي هر شی پکښې وتلل سي، نو ځکه دا خاص ترتيب ور کول سو. (الانوار الاشرفيه)

ولاى، اوس چي يې په ثلاثي کي راوړی دئ، نو رباعي ته چي ورځي يو حرف به زياتوي او خماسي ته چي ورځي، نو دوه حرفه به زياتوي او زيادت اولى دئ تر نقصان كَمَا هُوَ بَيِّنٌ عَلَى الْمُتَأَمِّلِ.

## پنځم سبق:

حروف بر دو قسم است حروف اصلی و حروف زائده، حروف اصلی آنست که در مقابله فا و عین و لام بود چون ضرب بر وزن فعل، حروف زائده آنست که در مقابله این حروف نبود چون اکرم بر وزن افعل.

**ترجمه:** حروف پر دوه قسمه دي: حروف اصلي او حروف زائده. حروف اصلي هغه دي چي په مقابله کي د فا، عين او لام وي، لکه: ضَرَبَ پر وزن د فَعَلَ. او حروف زائده هغه دي چي په مقابله کي د فا، عين او لام نه وي، لکه: اَکْرَمَ پر وزن د اَفْعَلَ.

### په نن سبقه کي درې خبري دي:

### اوله خبره:

حروف(۱) پر دوه قسمه دي:

۱. حروف اصلي.

۲. حروف زوائد.

د حروف اصلي ۇ دپاره يو تعريف دئ او يو يې حکم دي. د حروف زوائدو دپاره هم يو تعريف دئ او يو يې حکم دئ، خو مصنف رحمه الله مسامحةً د تعريف پر ځاى حکمونه ذکر کړي دي.

---

(۱) **اعتراض:** د تېر سوي بحث څخه دا ثابته سوه چي حروف مبني دي، د هغو څخه بحث نه کيږي او اوس يې د حروفو په بحث شروع وکړه؟

**جواب:** حروف په اعتبار د وضع پر دوه قسمه دي: حروف مباني او حروف معاني.

وجه د حصر يې دا ده چي دا حروف به خالي نه وي: يا به وضع سوي وي د معنى دپاره او يا به وضع سوي وي د غرض ترکيبي دپاره، که چيري د معنى دپاره وضع سوي وي هغو ته حروف معاني وايي او که چيري د غرض ترکيبي دپاره وضع سوي وي هغه ته حروف مباني وايي، لکه حروف هجا چي په نزد د خليل نحوي نه ويشت (۲۹) او په نزد د سبويه (۲۸) دي، ځکه ده د الف او همزه مخرج يو شمار کړی دئ. په تېر سوي بحث کي مراد حروف معاني وه، لېکن دغه تقسيم د حروف مباني دئ "فلامنافاة". (هداية الصرف).

## د حروف اصليه(۱) ؤ تعريف:

د حروف اصليه ؤ تعريف دا دئ چي د باب په ټولو گردانو كي وجود لري، مثال يې لكه: "ض، ر، ب" دا حروف اصليه دئ، د "ضَرَبَ، يَضْرِبُ" د باب د ماضي څخه بيا تر فعل تعجب پوري په ټولو صيغو كي وجود لري.(۲)

## د حروف اصليه ؤ حكم:

د حروف اصليه ؤ حكم دا دئ چي د وزن را ايستلو په وخت كي به په مقابله كي د فا، عين او لام كلمه وي، مثال يې لكه: "ضَرَبَ" پر وزن د "فَعَلَ".

---

(۱) حروف مباني پر دوه قسمه دي:

۱. حروف اصلي.
۲. حروف زوائد.

حروف اصلی كه در جميع متصرفات كلمه يافته شود. په ثلاثي كي يې تعبير په فا، عين او يوه لام سره، په رباعي كي يې تعبير په فا، عين او دوه لامه سره او په خماسي كي يې تعبير په فا، عين او دري لامه سره دئ. (خلاصة الصرف)

(۲) **اول اعتراض**: دغه د حروف اصليه ؤ تعريف د دخول غير څخه مانع نه دئ؛ ځكه دغه تعريف د صَرَفَ پر راء د اِجْتَنَبَ پر تاء او د اِسْتَخْرَجَ پر سين او تاء صادقيږي؛ ځكه دغه حروف هم د باب په ټولو گردانو كي وجود لري، حالانكه دا حروف زائد دي، اصلي نه دي؟

**جواب**: د گردان په ټولو صيغو كي د حروف اصليه ؤ د وجود څخه مراد د يو خاص باب صيغې نه دي، بلكي د ټولو بابو صيغې مراد دي، خواه هغه بابونه مجرد وي او كه مزيد، او دغه مذكوره حروف زوائد د مجردو د بابو د گردانو په صيغو كي وجود نه لري؛ ځكه د "صَرَفَ" مجرد "صَرَفَ" د "اِجْتَنَبَ" مجرد "جَنَبَ" او د "اِسْتَخْرَجَ" مجرد "خَرَجَ" دئ. (نوادر الاصول)

**دوهم اعتراض**: دغه تعريف اوس هم مانع نه دئ؛ ځكه په دې كي د باب افتعال او استفعال هغه تاء او سين داخليږي چي په هغه كي خاصيت د ابتداء دئ. او د ابتداء يو صورت دا دئ چي د هغه مجرد بالكل مستعمل نه وي، نو په دې صورت كي تاء او سين په حروف اصليه ؤ كي داخليږي؟

**جواب**: د حروف اصليه ؤ په تعريف كي چي دا ويل سوي وه، چي ټول بابونه مراد دئ، خواه كه مجرد وي، او كه مزيد نو په دې كي دا تعميم دئ چي مجرد يې مستعمل وي او كه نه وي مستعمل، ليكن كچيري يې موږ استعمال كړو نو په هغه كي به دا حروف وجود نه لري. (درس ارشاد الصرف)

**دريم اعتراض**: دغه تعريف د حروف اصليه ؤ جامع هم نه دئ خپلو ټولو افرادو ته؛ ځكه د دې تعريف څخه د وَعَدَ يَعِدُ واو چي حرف اصلي دئ خارجيږي؛ ځكه د گردان په ټولو صيغو كي وجود نه لري يعني په "يَعِدُ" و غيره كي؟

**جواب**: دا تعريف جامع دئ؛ ځكه په تعريف كي په ټولو صيغو كي د وجود څخه مراد خواه قبل الاعلال وي او كه بعد الاعلال وي، دلته كه بعد الاعلال نسته قبل الاعلال موجود دئ. يعني په اصل كي يَوْعِدُ وو. (نوادر الاصول)

## د حروف زوائدو تعريف:

د حروف زوائدو تعريف(۱) دادئ چي د باب په بعضو صيغو کي به وجود لري او په بعضو کي به يې نه لري، لکه "يا" د "يَضْرِبُ" په مضارع کي وجود لري او په نورو گردانو لکه په ماضي، او اسم فاعل و غيره کي وجود نه لري.

## د حروف زوائدو حکم:

د حروف زوائدو حکم دادئ چي د وزن را ايستلو په وخت کي به په مقابله د فا، عين او لام کلمه کي نه وي، بلکه لکه څنگه او پر کم محل چي په موزون کي پروت دئ په وزن کي به هم هغه رنگه او پر هغه محل وي، لکه: "ضَارِبٌ" بر وزن "فَاعِلٌ".

## دوهمه خبره:

په حروف زوائدو کي دوه تقسيمه دي:

د اول تقسيم په اعتبار سره بيا حروف زوائد پر دوه قسمه دي:

۱. هغه حرف زائد چي په ماقبل کي حرفِ اصلي د دهٔ د جنسه څخه وي.

---

(۱) حروف زوائد كه در جميع متصرفات كلمه يافته نه شود.

**قاعده**: دا حرف زائد به د درو حالو څخه خالي نه وي: يا به مکرر راغلی وي، يا به مکرر نه وي راغلی، کچيري مکرر نه وو راغلی يا به خالي نه وي، يا به مبدل وي د تاء د باب افتعال څخه يا به مبدل نه وي، کچيري مبدل وو د تاء څخه د باب افتعال، نو بيا د هغه زائد څخه تعبير په وزن کي په تاء سره کيږي، لکه: اِضْطَرَبَ بر وزن د اِفْتَعَلَ. او کچيري دا حرف زائد مکرر وو، بيا به خالي نه وي، يا به مکرر وي قصداً او يا به مکرر وي اتفاقاً، کچيري مکرر وو اتفاقاً بيا به په وزن کي خاص په هغه حرف زائد سره تعبير کيږي، لکه: سَعْنَانٌ بر وزن فَعْلَانٌ چي نون ثاني دئ؛ ځکه کچيري دا زائد اتفاقاً نه سي بلکي زائد قصداً سي، نو بيا به په وزن کي د ده تعبير د دهٔ د ماقبل د هم جنس غوندي حرف سره کيږي يعني په لام سره، لکه: سَعْنَانٌ بر وزن فَعْلَالٌ حالانکه پر دې وزن باندي په کلام د عربو کي اسم جامد مستعمل نه دئ. او کچيري دا حرف زائد مکرر راغلی وو قصداً بيا په وزن کي د ده تعبير د دهٔ د هم جنس حرف غوندي حرف سره کيږي، لکه: جَلْبَبَ بروزن فَعْلَلَ يعني په لام ثاني سره نه پر وزن د فَعْلَبَ؛ ځکه دا ملحق دئ په فَعْلَلَ پوري.

**لطيفه**: سيد هزاروي چي کله د باچا مجلس ته راغلی نو عبد الحکيم سيالکوټي هم هلته په مجلس کي موجود وو، نو عبد الحکيم سيالکوټي د باچا په اشاره باندي پر سيد هزاروي باندي اعتراض و کړئ او و يې ويل: "وَمِنْ ثَمَّ كَانَ جَلْبَبَ فَعْلَلًا لَا فَعْلَبًا" د دې عبارت مطلب څه دئ؟ سيد هزاروي لا جواب سو، بيا وروسته يې پر دې عبارت باندي يو شرح و ليکل او عبد الحکيم سيالکوټي ته يې ور وبېژل. عبد الحکيم سيالکوټي وويل: اَلْآنَ وَقَدْ سَكَتَ. (هداية الصرف و حاشية على الشافية)

۲. هغه حرف زائد دي چي په ماقبل کي حرف اصلي دده د جنسه څخه نه وي.

**اول**: هغه حرف زائد چي په ماقبل کي حرف اصلي دده د جنس څخه وي، نو د دې دپاره يو حکم دئ او يو يې د وزن را ايستلو طريقه ده.

حکم يې دادئ چي دغه حرف زائد د نه ويشت (۲۹) حروفِ هجاء څخه هر يو راتلای سي.

د وزن(۱) په را ايستلو کي دَی د ماقبل د هم جنس تابع وي. يعني دده ماقبل حرف اصلي په مقابل کي چي په وزن کي کم حرف راتلئ دده په مقابل کي به هم هغه حرف راځي، يعني که د ماقبل حرف په مقابل کي "عين" راتلئ، نو دده په مقابل کي به هم "عين" راځي، لکه: "اِخْدَوْدَبَ" بر وزن "اِفْعَوْعَلَ" او "اِعْثَوْثَلَ" بر وزن "اِفْعَوْعَلَ". او که د ماقبل حرف صحيح په مقابله کي "لام" راتلئ، نو د ده په مقابله کي به هم "لام" راځي، لکه: "شَمْلَلَ" بر وزن "فَعْلَلَ" او "جَلْبَبَ" بر وزن "فَعْلَلَ".

**دوهم**: او هغه حرف زائد چي په ماقبل کي حرف اصلي د ده د جنس څخه نه وي د دې دپاره هم يو حکم دئ او يو يې د وزن را ايستلو طريقه ده.

حکم يې دادئ چي دغه حرف زائد به خامخا د "سَئَلْتُمُوْنِيْهَا" د حروفو څخه وي، د عامو حروف هجاء څخه هر حرف نه سي راتلای.

---

(۱) هر اسمِ متمکن په اصل وضع کي يا مبني وي پر درو حروفو باندي، لکه: "حَجَرٌ" يا پر څلور حرفه باندي، لکه: "جَعْفَرٌ" يا پر پنځه حرفه باندي، لکه: "سَفَرْجَلٌ". کم چي تر دې زيات سي هغه مزيد فيه دئ، لکه: "خَنْدَرِيْسٌ". او کم چي تر دې حروفو کم سي هغه محذوف منه دئ، لکه: اَبٌ، يَدٌ او دَمٌ چي په اصل کي اَبَوٌ، يَدَوٌ او دَمَوٌ وو.

د هر اسم متکن دپاره خپل ميزان دئ چي په هغه سره دی وزن کيږي. نو کم وخت چي ته د اسم د وزن کولو اراده وکړې، نو ته به د فَعَلَ حروف راوړې چي د هغه اسم سره په حرکاتو او سکناتو کي برابر وي، نو وزن د فَرَسٌ فَعَلٌ راځي. نو که چيري د ترازو څخه تر درې حروفو اصلي يو حرف اصلي زيات سو، نو بيا به لام مکرر کيږي، لکه: دِرْهَمٌ پر وزن د فِعْلَلٌ. او که چيري تر درې حروف اصلي دوه حروف اصلي زيات سوه، نو بيا به لام دوه واره مکرر کيږي، لکه: سَفَرْجَلٌ پر وزن د فَعَلَّلٌ.

او که چيري په اسم کي زياتوب وو، نو په وزن کي به يې هم زياتوب راځي، لکه: ضَارِبٌ پر وزن د فَاعِلٌ، مَضْرُوْبٌ پر وزن د مَفْعُوْلٌ، مِفْتَاحٌ پر وزن د مِفْعَالٌ، اِنْطِلَاقٌ پر وزن د اِنْفِعَالٌ، اِسْتِغْفَارٌ پر وزن د اِسْتِفْعَالٌ.

مگر که چيري دغه حرف زائد د اسم د حروفو اصلي د جنسه څخه وو، نو بيا به په ميزان کي دغه د ده مماثل حرف مکرر راځي، لکه په مُعَظَّمٌ کي "ظ" پر وزن د مُفَعَّلٌ بتکرار العين، مُغْدَوْدِقٌ پر وزن د مُفْعَوْعِلٌ بتکرار عين، اِسْوِدَادٌ پر وزن د اِفْعِلَالٌ بتکرار اللام. په دې صورتو کي حرف زائد بنفسه نه سي زياتېدلای. يعني په مُعَظَّمٌ کي مُفَظَّلٌ ويل، په مُغْدَوْدِقٌ کي مُفْعَوْدِلٌ ويل او په اِسْوِدَادٌ کي اِفْعِدَادٌ ويل غلط دي. (جامع الدروس العربية جلد ۲ صفحه ۷)

او د وزن را ایستلو طریقه یې داده چې دغه زائد حرف په موزون کې په کم شکل او پر کم ځای پروت وي په وزن کې به هم په داغه شکل او پر داغه ځای راځي، لکه: "ضارِبٌ" بر وزن "فاعِلٌ".

**دریمه څېره:**

حروف زوائد په اعتبار د دوهم تقسیم سره پر درې قسمه دي:

١. زوائد برای اشتقاق.
٢. زوائد برای نقل باب.
٣. زوائد برای الحاق.

**اول**: زوائد برای اشتقاق و دې ته وایي چې په مشتق منه کې نه وي زائد، لکه: "ضَرَبَ" او په مشتق کې زائد وي، لکه: "يَضرِبُ" چې د اشتقاق په وخت کې "يا" پکښې زائده سوې ده.

**دوهم**: زوائد برای نقل باب و دې ته وایي چې په منقول عنه کې نه وي زائد، لکه: "كَرُمَ" په منقول کې زائد وي، لکه: "اَكرَمَ" چې د نقل په وخت کې "همزه" پکښې زائد سوی دئ.

**دریم**: زوائد برای الحاق و دې ته وایي چې د یوې صیغه د بلې صیغې سره د هم وزن کولو په وجه یو حرف پکښې زائد سي، نو په مُلحَق بِهِ کې به نه وي زائد، لکه: "دَحرَجَ" په مُلحَق کې زائد سي، لکه په "جَلبَبَ" کې چې په وخت د الحاق کې "با" زائده سوې ده.

## شپږم سبق:

### په نن سبقه کي څلور خبري دي:

### اوله خبره:

### د حروف زوائدو پېژندل:

۱. د زوائد براى اشتقاق(۱) د پېژندلو طريقه داده چي د باب صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم په د داغه باب د دا نورو صيغو سره وګورئ(۲) په دا نورو صيغوکي که کم حروف زائد وو او په واحده مذکره صيغه کي نه وو، نو و دي حروفو

(۱) اشتقاق په لغت کي ﴿اَخْذُ شِقِّ الشَّيْءِ اَیْ نِصْفِهِ﴾ يعني د يو شي نيمايي حصه راخيستل. او د دې څخه ﴿اِشْتِقَاقُ الْكَلِمَةِ مِنَ الْكَلِمَةِ اَیْ اَخْذُهَا﴾ او په اصطلاح کي اخيستل د يوې کلمې د بلي کلمې څخه په دې شرط چي د دوی په منځ کي به مناسبت وي لفظاً او معنیً په ترتيب کي د حروفو او سره د مغايرت په صيغه کي، لکه: "اُكْتُبْ" د "تَكْتُبُ" څخه او "كَتَبَ" د "كِتَابَةٌ" څخه. او دغه تعريف د اشتقاق صغير دئ چي مبحوث عنه دئ په علم صرفو کي.

اشتقاق پر درې قسمه دئ:

۱. اشتقاق صغير.
۲. اشتقاق کبير.
۳. اشتقاق اکبر.

اشتقاق صغير دې ته وايي چي د دوو کلمو په منځ کي مناسبت وي لفظاً او معنیً او په ترتيب د حروفو کي، لکه: يَضْرِبُ د ضَرَبَ څخه.

اشتقاق کبير دې ته وايي چي د دوو لفظو په منځ کي مناسبت وي لفظاً او معنیً نه په ترتيب د حرفو کي، لکه: "جَذَبَ" او "جَبَذَ".

او اشتقاق اکبر دې ته وايي چي د دوو کلمو په منځ کي مناسبت وي په مخارجو د حروفو کي، لکه: "نَهَقَ" او "نَعَقَ".

نو اصل په اشتقاق کي مصدر دئ چي د ده څخه ټول افعال او د دوی مشابه اسم زمان، اسم مکان، اسم آله و غيره ايستل سوي دي.

او مراد د مصدر څخه مصدر غير ميمي دئ؛ ځکه مصدر ميمي د فعل مضارع څخه اخيستل سوی دئ. (الجامع الدروس العربية جلد ۱ صفحه ۱۵۶)

(۲) په زائد براى اشتقاق کي په يوه باب کي دننه د يوې صيغې د بلي صيغې سره نسبت اخيستل کيږي، لکه د ماضي د اولي صيغې "ضَرَبَ" نسبت د نورو صيغو يعني د تثنيو او جمعو يعني "ضَرَبَا" او "ضَرَبُوْا" سره اخيستل کيږي. يا د يوه ګردان د اولي صيغې نسبت "ضَرَبَ" د نورو ګردانو يعني د فعل مضارع، اسم فاعل و غيره يعني "يَضْرِبُ، ضَارِبٌ" سره اخيستل کيږي او بيا د زائد براى اشتقاق حکم پر کيږي. (از مرتب عفی عنه)

ته زوائد برای اشتقاق وايي، مثال يې لکه: "ضَرَبَ" او "يَضْرِبُ" يا "ضَارِبٌ" چي په "ضَرَبَ" کي "يا" او "الف" نسته او په "ضَارِبٌ" او "يَضْرِبُ" کي سته، نو دا زوائد برای اشتقاق دي؛ ځکه د اشتقاق په وخت کي زائد سوي دي.

۲. د زوائد برای نقل باب د پېژندلو طريقه دا ده چي د منقول عنه (چي د ده ځخه را نقل سوی وي) د باب صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم به د منقول (چي دی د بل ځخه را نقل سوی وي) د باب د صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم سره وګوري(۱)، که د منقول د باب په صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي معلوم کي کم حرف زائد ؤ و دي ته زائد برای نقل باب وايي، مثال يې لکه: "كَرُمَ" او "أَكْرَمَ" چي په "كَرُمَ" کي زائد نسته او په "أَكْرَمَ" کي زائد همزه راغلی دئ، دا زائد نقل باب دئ؛ ځکه چي "همزه" د باب نقل کېدلو په وخت کي زائد سوی دئ.

۳. د زائد برای الحاق(۲) د پېژندلو دپاره څه خاصه طريقه نسته، بلکي هغه پر سماع د عربو موقوف دئ.

---

(۱) په زائد برای نقل باب کي په يوه باب کي د ته نسبت نه اخيستل کيږي، همدا رنګه د يوه باب د ماضي د اولي صيغې نسبت د بل باب د نورو صيغو او نورو ګردانو سره هم نه اخيستل کيږي، بلکه د بل باب د ماضي د اولي صيغې سره اخيستل کيږي، لکه د "كَرُمَ" نسبت د "أَكْرَمَ" سره، نه د "أَكْرَمَا، يُكْرِمُ او مُكْرِمٌ" سره (از مرتب عفی عنه)

(۲) الحاق: يوه کلمه د بلې کلمې هم وزن جوړول د يو حرف په زياتولو سره.

هغه ثلاثي مزيد فيه چي په هغه کي يو حرف زائد سوی وي د هغه اوزان ملحق دي په دَحْرَجَ پوري:

۱. شَمْلَلَ، چي په اصل کي شَمَلَ وو، بيا د دَحْرَجَ سره د ملحق کېدلو دپاره لام ثاني په کي زيات سو. د شَمْلَلَ معنی: د يو کار دپاره تياري کول.

۲. جَهْوَرَ پر وزن د فَعْوَلَ، معنی: (آواز پورته کول) دا په اصل کي جَهَرَ وو.

۳. حَوْقَلَ پر وزن د فَوْعَلَ، معنی: (ستړی کېدل) دا په اصل کي حَقَلَ وو.

۴. [illegible] پر وزن د فَعْيَلَ، معنی: (ضعف او کمزوري کول) دا په اصل کي [illegible] وو.

۵. بَيْطَرَ پر وزن د فَيْعَلَ، معنی: (نګهباني کول) دا په اصل کي بَطَرَ وو.

۶. [illegible] پر وزن د فَعْنَلَ، معنی: (خيري کول) دا په اصل کي [illegible] وو.

۷. سَلْقَى پر وزن د فَعْلَى، معنی: (پر شا راغورځول) دا په اصل کي سَلَقَ وو.

دغه ټول وزنونه ملحق دي په دَحْرَجَ پوري؛ ځکه د دوی مصدرونه په وزن کي متحد دي د دَحْرَجَ د مصدر سره. د فَعْلَلَ مصدر فَعْلَلَةً راځي، او د فَعْوَلَ مصدر فَعْوَلَةً راځي، او د فَوْعَلَ مصدر فَوْعَلَةً راځي. همدا رنګه د نورو افعالو مصدرونه.

او د الحاق دا شرط هم په افعالو کي دا دئ چي اتحاد د مصدرونو د ملحق او ملحق به وي، لکه په دغو افعالو کي.

## دوهمه خبره:

صرفيان زوائد براى اشتقاق او زوائد براى نقل باب د غرضِ معنوي دپاره زياتوي؛ ځکه د "ضَرَبَ" څخه چي "يَضرِبُ" جوړ سي، نو معنٰى يې بدليږي او د "كَرُمَ" څخه چي "أكرَمَ" جوړ سي، نو معنٰى يې بدليږي. او زوائد براى الحاق د غرضِ لفظي دپاره زياتوي، لکه کله چي يوه صيغه د بلي صيغې سره په لفظ کي ملحقه کړځوي، نو يو حرف په کي زيات وي، مثال يې لکه: "جَلبَ" چي ملحق د "دَحرَجَ" کرځوي، نو "باء" ثانيه پکښي زياته وي.

## دريمه خبره:

صرفيان و زائدِ براى نقل باب او زائد براى الحاق ته اعتبار ورکوي او په دوى سره صيغه مزيده بولي او زائد براى اشتقاق ته اعتبار نه ورکوي، نو ځکه په دوى سره صيغه مزيده نه بولي.

## څلورمه خبره:

بعضې صرفيان د حروف زوائدو يو بل تقسيم هم کوي، هغه وايي چي حروف زوائد پر درې قسمه دي:

۱. زوائد براى اشتقاق دي، چي تعريف يې مخکي تير سو "فَلَاتُعِيْدُه".

---

او الحاق د کلمه په شروع کي نه راځي، بلکي الحاق همېشه په منځ کي راځي، لکه نون په تَنَتَرَ کي. او يا په آخر کي راځي، لکه هغه الف چي بدل د يا څخه راغلى دئ په سَلقىٰ کي. نو دغه وجه ده چي تَمَنطَقَ، تَمَسکَنَ، تَمَندَلَ، تَمَذهَبَ، تَمَشيَخَ و غيره په تَدَحرَجَ پوري ملحق نه دي؛ ځکه ميم په دوى کي زائد نه دئ په منځ د کلمې کي؛ ځکه دغه افعال مبني دي پر دغه وزن باندي، نو دوى د تَدَحرَجَ پر وزن باندي دي اصالةً نه الحاقاً.

او زيادت براى الحاق کله کله فعل د يوې معنى څخه و بلي معنى ته اړوي، لېکن بيا هم د اولي معنى څه نا څه رائحه او بوى پکښي وي، لکه حَوقَلَ په معنى د عجز، ضعف، خوب، عيب، ستړيا او لاس پر ددو نيول، دا ټولي معناوي و ضعف ته راجع دي. او دا د حَقلُ الفَرَس څخه اخيستل سوى دئ، کله چي د آس په نس کي د خاورو د خوړلو په وجه درد پيدا سي، نو دى هم کمزورى ضعيف او عيبناک سي.

او بل د الحاق د علاماتو څخه يوه دا ده چي کمه کلمه ملحق وي د بلي کلمې سره په وزن کي، نو په هغه کي ادغام او اعلال نه جاري کيږي، که څه هم مستحق يې وي؛ ځکه بيا وزن فوت کيږي، لکه: "شَملَلَ" او "اِقعَنسَسَ" دا مستحق دي د ادغام؛ ځکه په دوى کي حرفين متجانسين متجاورين راغلي دي. او داغه رنګه جَهوَرَ مستحق دئ د اعلال، يعني واو په الف سره اوړل. لېکن بيا وزن خرابيږي. (جامع الدروس العربية اج١٦٦ص)

۲. زوائد غلبه دي، چي په غالبه او اکثره اوقاتو کي زائد وي، لکه په "عقبة" کي "تاء" په "سقلن" کی "الف" او "نون" مزيدتان.

۳. زوائد عدم نظير دي، زوائد عدم نظير و دې ته وايي چي که چيري د يوې کلمې ټوله حروف اصلي و بولو بيا دا وزن په کلام د عربو کي نه موجوديږي، لکه: "قرنفل" او س که دد ې کلمې ټوله حروف اصلي و بولو، نو بيا پر وزن د "فعلل" راځي او "فعلل" وزن په خماسي مستعملو اوزانو کي وجود نه لري، نو موږ مجبور يو چي يو حرف به زائد بولو، چي هغه نون دئ، نو بيا يې وزن "فعنلل" راځي او "فعنلل" وزن په رباعي اوزانو کي وجود لري.

## اووم سبق:

و حرف اصلی در ثلاثی سه است: فا و عین و یک لام چون ضرب بر وزن فعل، و حرف اصلی در رباعی چهار است: فا و عین و دو لام چون دحرج بر وزن فعلل، و حرف اصلی در خماسی پنج است: فا و عین و سه لام چون جحمرش بر وزن فعللل.

**ترجمه**: حروف اصلي په ثلاثي کي درې دي: فا، عين او يو لام، لکه: ضَرَبَ پر وزن د فَعَلَ. او حروف اصلي په رباعي کي څلور دي: فا، عين او دوه لامه، لکه: دَحْرَجَ پر وزن د فَعْلَلَ. او حروف اصلي په خماسي کي پنځه دي: فا، عين او درې لامه، لکه: جَحْمَرِشٌ پر وزن د فَعْلَلِلٌ.

## په دې سبق کي شپږ خبري دي:

### اوله خبره:

حروف اصلي په ثلاثي کي درې دي: فا، عين او يو لام، يعني د وزن د جوړيدو په وخت کي به تر فا، عين او لام بل حرف زائد نه وي لکه: "ضَرَبَ" بروزن "فَعَلَ".

حروف اصلي په رباعي کي څلور دي: فا، عين او دوه لامه، يعني چي د وزن د جوړيدو په وخت کي به تر فا، عين او دوه لامه بل حرف زائد نه وي لکه: "دَحْرَجَ" بروزن "فَعْلَلَ".

حروف اصلي په خماسي کي پنځه دي: فا، عين او درې لامه، يعني چي د وزن د جوړيدلو په وخت کي به تر فا، عين او درې لامه بل حرف زائد نه وي لکه: "جَحْمَرِشٌ" بروزن "فَعْلَلِلٌ".

## فائده:

د دې څخه ماسوا يعني د فاء، عين او يو لام يا دوه لامه يا درې لامه څخه ماسوا نور حروف زوائد بلل کيږي او چې زائد په کلمه کې راتلای سي هغه حروف يوولس (۱۱) دي.

## لطيفه:

شاگرد از استاد پرسيد که کدام حروف زائده آيند؟ استاد در جواب گفت "سَئَلْتُمُونِيهَا". شاگرد خاموش شد که شايد استاد ناراض شده است. پس دوم بار گفت: يا استاد! حروف زائد کدام کدام آيند؟ استاد در جواب گفت "اَلْيَوْمَ تَنْسَاهَا". شاگرد خاموش شد. بعد سوم روز گفت: کدام کدام آيند؟ استاد در جواب گفت "هَوِيْتُ السَّمَانَا".

پس شاگرد معلوم کرد که حروف زائده يازده اند که در جمله "اَلْيَوْمَ تَنْسَاهَا" بودند.

## د وزن معلومولو طريقه:

عرب وزن په خپل طبيعت او سليقه سره معلوموي او اعاجمو ته وزن په مزاوله او تجربه سره معلوميږي(۱).

---

(۱) **اعتراض**: په موزون کې چې تغير راسي په قلب يا په ابدال يا په حذف يا په ادغام سره، نو بيا په وزن کې هم تغير راځي او که نه؟

**جواب**: دا کلمه به خالي نه وي: يا به تغير پکښې راغلی وي يا به نه وي پکښې راغلی. که چيرې نه وو پکښې راغلی، نو په وزن کې به هم تغير نه راځي، لکه: "ضَرَبَ" پر وزن د "فَعَلَ". او که چيرې تغير پکښې راغلی وو. بيا به خالي نه وي: يا به په ابدال، يا به په ادغام، يا به په حذف او يا به په قلب سره راغلی وي،

که چيرې تغير په ابدال سره راغلی وو په هغه کې دوه مذهبه دي: اول: عند الجمهور نه بدليږي، لکه: قَالَ پر وزن د فَعَلَ. دوهم: عند البعض بدليږي، لکه: قَالَ پر وزن د فَالَ.

او که چيرې تغير په ادغام سره راغلی وو بيا به خالي نه وي: يا به په يوه کلمه کې راغلی وي او يا به په دوو کې راغلی وي. که چيرې په دوو کلمو کې راغلی وو، نو "لَايُدْغَمُ فِي الْوَزْنِ" لکه: اِضْرِبْ بَكْرًا پر وزن د اِفْعِلْ فَعْلًا. او که چيرې په يوه کلمه کې راغلی وو بيا به خالي نه وي: يا به اصليين وي، يا به زائدتين وي او يا به يو اصلي او بل زائد وي. که چيرې دواړه اصليين وه، "لَايُدْغَمُ فِي الْوَزْنِ" لکه: مَدَّ پر وزن د فَعَلَ. او که زائدتين وه، "يُدْغَمُ فِي الْوَزْنِ" لکه: اِجْلَوَّذَ پر وزن د اِفْعَوَّلَ. او که چيرې يو اصلي او بل زائد وو، بيا به دا زائد خالي نه وي: يا به علامه وي او يا به علامه نه وي، که علامه وه، "يُدْغَمُ فِي الْوَزْنِ" لکه: اِحْمَرَّ پر وزن د اِفْعَلَّ او که علامه نه وه "لَايُدْغَمُ".

او که چيرې تغير بالحذف يا بالقلب راغلی وو، بيا به خالي نه وي: يا به يې قصد د بيان د وزن اصلي کړی وي يا به يې نه وي کړی، که يې چيرې نه وو کړی، نو بيا په وزن کې هم حذف او هم قلب کولای سي. مثال يې لکه: قَاضٍ پر وزن د فَاعٍ. او که يې چيرې قصد د بيان د وزن اصلي کړی وو، نو بيا "لَايُحْذَفُ وَلَايُقْلَبُ فِي الْوَزْنِ" لکه: قَاضٍ پر وزن د فَاعِلٌ. (خلاصة الصرف)

## فائده:

د دې څخه ماسوا يعني د فاء، عين او يو لام يا دوه لامه يا درې لامه څخه ماسوا نور حروف زوائد بلل کيږي او چې زائد په کلمه کې راتلای سي هغه حروف يوولس (۱۱) دي.

## لطيفه:

شاگرد از استاد پرسيد که کدام حروف زائده آيند؟ استاد در جواب گفت "سَئَل۔تُمُونِيهَا". شاگرد خاموش شد که شايد استاد ناراض شده است. پس دوم بار گفت: يا استاد! حروف زائد کدام کدام آيند؟ استاد در جواب گفت "اَلْيَومَ تَنْسَاهَا". شاگرد خاموش شد. بعد سوم روز گفت: کدام کدام آيند؟ استاد در جواب گفت "هَوِيْتُ السِّمَانَا".

پس شاگرد معلوم کرد که حروف زائده يازده اند که در جمله "اَلْيَومَ تَنْسَاهَا" بوند.

## د وزن معلوملو طريقه:

عرب وزن په خپل طبيعت او سليقه سره معلوموي او اعاجمو ته وزن په مزاوله او تجربه سره معلوميږي(۱).

---

(۱) **اعتراض:** په موزون کې چې تغير راسي په قلب يا په ابدال يا په حذف يا په ادغام سره، نو بيا په وزن کې هم تغير راځي او که نه؟

**جواب:** دا کلمه به خالي نه وي: يا به تغير پکښې راغلی وي يا به نه وي پکښې راغلی، که چيرې نه وو پکښې راغلی، نو په وزن کې به هم تغير نه راځي، لکه: "ضَرَبَ" پر وزن د "فَعَلَ". او که چيرې تغير پکښې راغلی وو، بيا به خالي نه وي: يا به په ابدال، يا به په ادغام، يا به په حذف او يا به په قلب سره راغلی وي.

که چيرې تغير په ابدال سره راغلی وو په هغه کې دوه مذهبه دي: اول: عندالجمهور نه بدليږي، لکه: قَالَ پر وزن د فَعَلَ. دوهم: عندالبعض بدليږي، لکه: قَالَ پر وزن د فَالَ.

او که چيرې تغير په ادغام سره راغلی وو بيا به خالي نه وي: يا به په يوه کلمه کې راغلی وي او يا به په دوو کې راغلی وي. که چيرې په دوو کلمو کې راغلی وو، نو "لَايُدْغَمُ فِي الْوَزْنِ" لکه: اِضْرِبْ بَكْرًا پر وزن د اِفْعِلْ فَعْلًا. او که چيرې په يوه کلمه کې راغلی وو بيا به خالي نه وي: يا به اصليين وي، يا به زائدتين وي او يا به يو اصلي او بل زائد وي. که چيرې دواړه اصليين وو، "لَايُدْغَمُ فِي الْوَزْنِ" لکه: مَدَّ پر وزن د فَعَلَ. او که زائدتين وو، "يُدْغَمُ فِي الْوَزْنِ" لکه: اِخْنَوَّزَ پر وزن د اِفْعَوَّلَ. او که چيرې يو اصلي او بل زائد وو، بيا به دا زائد خالي نه وي: يا به علامه وي او يا به علامه نه وي، که علامه وه، "يُدْغَمُ فِي الْوَزْنِ" لکه: اِحْمَرَّ پر وزن د اِفْعَلَّ او که علامه نه وه "لَايُدْغَمُ".

او که چيرې تغير بالحذف يا بالقلب راغلی وو، بيا به خالي نه وي: يا به يې قصد د بيان د وزن اصلي کړی وي يا به يې نه وي کړی، که يې چيرې نه وو کړی، نو بيا په وزن کې هم حذف او هم قلب کولای سي. مثال يې لکه: قَاضٍ پر وزن د فَاعٍ. او که يې چيرې قصد د بيان د وزن اصلي کړی وو، نو بيا "لَايُحْذَفُ وَلَايُقْلَبُ فِي الْوَزْنِ" لکه: قَاضٍ پر وزن د فَاعِلٌ. (خلاصة الصرف)

**سوال:** دا تکرار ولې په لام کلمه کې راغلی؟

**جواب:** لام د کلمې په آخر کې دئ او آخر د کلمې محل د تغير او زيادت دئ، نو ځکه مو تکرار په لام کې راوستی.

## دوهمه خبره:

وثلاثي بر دو قسم است: ثلاثي مجرد وثلاثي مزيد فيه، ثلاثي مجرد آنست كه بر سه حرف اصلي او چيز زياده نبود چون ضرب بر وزن فعل، و ثلاثي مزيد فيه آنست كه بر سه حرف اصلي او چيز زياده بود چون اكرم بر وزن افعل.

**ترجمه:** ثلاثي پر دوه قسمه دئ:

۱. ثلاثي مجرد.(۱)

۲. ثلاثي مزيد فيه.

ثلاثي مجرد هغه دئ چې پر فا، عين او يوه لام يې بل حرف زائد نه وي، لکه: "ضَرَبَ" پر وزن د "فَعَلَ".

او ثلاثي مزيد فيه وهغه ته وايي چې پر فا، عين او يوه لام يې بل حرف زائد وي، لکه: "اَكْرَمَ" پر وزن د "اَفْعَلَ".

رباعي هم پر دوه قسمه دئ:

---

(۱) اوزان د هغو اسمو چې هغه ثلاثي مجرد دي کله کله اسم استعماليږي او کله کله صفت استعماليږي د دواړو دپاره يې مستعمل اوزان لس (۱۰) دي:

۱. فَعْلٌ چې اسم وي، لکه: شَمْسٌ او چې صفت وي لکه: سَهْلٌ.
۲. فَعَلٌ اسم يې لکه: فَرَسٌ او صفت يې لکه: بَطَلٌ.
۳. فَعِلٌ اسم يې لکه: كَبِدٌ او صفت يې لکه: حَذِرٌ.
۴. فَعُلٌ اسم يې لکه: رَجُلٌ او صفت يې لکه: يَقُظٌ.
۵. فِعْلٌ اسم يې لکه: عِدْلٌ او صفت يې لکه: نِكْسٌ (كمزوری سری).
۶. فِعَلٌ اسم يې لکه: عِنَبٌ او صفت يې لکه: مِأَيه اصل کې مِائَةٌ.
۷. فِعِلٌ اسم يې لکه: إِبِلٌ او صفت يې لکه: إِبِدٌ اَيْ اَتَانٌ إِبِدٌ (زيږيدونکې اوښه).
۸. فُعْلٌ اسم يې لکه: قُفْلٌ او صفت يې لکه: حُلْوٌ.
۹. فُعَلٌ اسم يې لکه: صُرَدٌ او صفت يې لکه: حُطَمٌ (ظالم چوپان).
۱۰. فُعُلٌ اسم يې لکه: عُنُقٌ او صفت يې لکه: جُنُبٌ. (جامع الدروس العربية جلد ۲ صفحه ۷)

۱. رباعي مجرد.(۱)

۲. رباعي مزيد فيه.

رباعي مجرد و هغه ته وايي چې پر فا، عين او دوه لامه باندي يې بل حرف زائد نه وي، لکه: "دَحْرَجَ" پر وزن د "فَعْلَلَ".

او رباعي مزيد فيه و هغه ته وايي چې پر فا، عين او دوه لامه باندي يې يو بل حرف زائد وي، لکه: "تَدَحْرَجَ" پر وزن د "تَفَعْلَلَ".

خماسي هم پر دوه قسمه دئ:

۱. خماسي مجرد.(۲)

۲. خماسي مزيد فيه.

خماسي مجرد هغه ته وايي چې پر فا، عين او درې لامه باندي يې بل حرف زائد نه وي، لکه: "جَحْمَرِشٌ" پر وزن د "فَعْلَلِلٌ".

او خماسي مزيد فيه و هغه ته وايي چې پر فا، عين او درې لامه باندي يې يو حرف زائد وي، لکه: "خَنْدَرِيْسٌ" پر وزن د "فَعْلَلِيْلٌ".

---

(۱) اوزان د هغه اسم چې هغه رباعي مجرد وي کله اسم استعماليږي او کله صفت استعماليږي د دوا رو مستعمل اوزان شپږ دي:

۱. فَعْلَلٌ اسم يې لکه: جَعْفَرٌ او صفت يې لکه: شَهْرَبٌ (شيخ كبير).

۲. فِعْلِلٌ اسم يې لکه: زِبْرِجٌ او صفت يې لکه: خِرْمِلٌ (توره شپه).

۳. فِعْلَلٌ اسم يې لکه: دِرْهَمٌ او صفت يې لکه: هِبْلَعٌ (غټې گولې والا).

۴. فُعْلُلٌ اسم يې لکه: بُرْثُنٌ او صفت يې لکه: جُرْشُعٌ (غټ اوښان).

۵. فِعَلٌّ اسم يې لکه: فِطَحْلٌ (د خلکو څخه مخکي زمانه) او صفت يې لکه: سِبَطْرٌ (تېره غشى).

۶. فُعْلَلٌ اسم يې لکه: جُخْدَبٌ (نر ملخ) او صفت يې لکه: جُرْشَعٌ.

(۲) اوزان د خماسي مجرد څلور دي کله کله اسم استعماليږي او کله کله صفت استعماليږي:

۱. فَعَلَّلٌ اسم يې لکه: سَفَرْجَلٌ او صفت يې لکه: شَمَرْدَلٌ (مضبوطه اوښ).

۲. فَعْلَلِلٌ دا وزن صرف صفت استعماليږي اسم نه سي استعمالېداى. لکه: جَحْمَرِشٌ (بوډۍ ښځه).

۳. فُعَلِّلٌ اسم يې لکه: خُزَعْبِلٌ (باطل) او صفت يې لکه: قُذَعْمِلٌ (پنډ اوښ).

۴. فِعْلَلٌّ اسم يې لکه: زِنْجَفْرٌ (هغه معدن چې د هغه څخه سره سياهي جوړېږي) او صفت يې لکه: جِرْدَحْلٌ (پنډ اوښ). (جامع الدروس العربية جلد ۲ صفحه ۸)

**فائده:**

د "خَنْدَرِيْسٌ" وزن د اکثرو صرفيانو په نزد باندي په خماسي مزيد بحرفٍ کي داخل دئ؛ ځکه داغه حضرات د "خَنْدَرِيْسٌ" "نون" اصلي بولي، صرف "يا" زائده بولي. دوی پر خپل موقف باندي دا دليل پېشوي چي کم وخت يو حرف مُتَرَدِّد سي په مابين د اصل او زائد کي، نو اصل دا دئ چي هغه حرف به اصلي وي.

او بعض حضرات وايي چي د "خَنْدَرِيْسٌ" وزن په رباعي مزيد بحرفين کي داخل دئ، او په ذي وزن کي "نون" او "ياء" دواړه زائد دي، هغه دليل دا وايي چي کم وخت يو لفظ په مابين د دوو وزنو کي مُتَرَدِّد سي يو وزن د حرف د اصالت تقاضا کوي او بل وزن د حرف د زيادت تقاضا کوي او د دوی په بناگانو کي يو شی هم د دي دواړو شيانو څخه موجود نه وي، نو بيا د هغه وزن حمل پر زيادت د حرف باندي اولیٰ دئ، ليکن صحيح او معتمد اول مذهب دئ.

ان شئت التفصيل فارجع الى حاشيه ابن جماعه ومناهج الكافيه وجاربردى على الشافيه.

**دريمه خبره:**

**فائدة جليلة:**

د مطلق فعل ثلاثي (که مجرد[1] وي او که مزيد وي) دار او مدار پر صيغه واحد مذکر غائب غائب فعل ماضي دئ، که په دغه صيغه کي تر درو حروف اصليه وُ يو حرف زائد نه وُ، نو دا

---

(۱) حروف زوائد لس دي، د هر يو د پېژندلو خپله طريقه ده.

۱. "الف" که چيري د درو حروف اصليه سره راغلی، نو بيا دَی زائد دئ، لکه په كَاتِبٌ شَاعِرٌ کي. او کچيري تر دوو حروف اصليه څخه وروسته راغلی، نو بيا دَی اصلي دئ زائد نه دئ، دا په مفرد کي، ورنه په جمع کي تر دوو حروف اصليه وروسته هم زائد کېدلای سي، لکه په مَسَاجِدَ کي.

۲. "واو" او "يا" که چيري د دوی سره دري حروف اصليه راغله بيا دوی زائد دي، لکه: په صَيْرَفٌ، بَيْطَرٌ، جَوْهَرٌ، عَجُوْزٌ کي. او که چيري دوی ثنائي او مکرر راغلي وه بيا دوی اصلي دي لکه په يَؤْيُؤٌ او وَعْوَعَةٌ کي. او داغه رنګه که چيري دوی د دوو حروف اصليه سره راغلل، لکه: بَيْتٌ، لَوْنٌ او سَيْفٌ کي، بيا اصلي دي.

۳. "همزه" او "ميم" که چيري تر درو حروف اصليه وو څخه مخکي راغلل، نو بيا دوی زائد دي، لکه: په أَخْرَجَ، أَكْرَمَ، مُحْسِنٌ او مُكْرِمٌ کي. او که چيري دوی تر دوه حروف اصليه څخه مخکي يا تر درو څخه د زياتو حروف اصليه څخه مخکي راغلل، نو بيا دوی اصلي دي، لکه: په إِبِلٌ، مَهْدٌ او إِصْطَبْلٌ کي.

داغه رنګه که چيري همزه د کلام په آخر کي راغلئ او د ده څخه مخکي الف وو او تر الف مخکي دري يا تر درو زيات حروف اصليه وه، نو بيا دا زائد دئ، لکه: خَضْرَاءُ، زَرْقَاءُ او عَاشُوْرَاءُ کي.

ټوله باب ثلاثي مجرد بلل کيږي، لکه: "ضَرَبَ" که په دا غه کلمه کي تر درو حروف اصليه ؤ يو حرف زائد ؤ، بيا دا ټوله باب ثلاثي مزيد فيه بلل کيږي لکه: "اَکْرَمَ".

د فعل رباعي دار او مدار هم پر صيغه واحد مذکر غائب فعل ماضي دئ، که په دغه صيغه کي تر څلورو حروف اصليه ؤ يعني تر فا، عين او دوه لامه زائد حرف نه ؤ، نو دا ټوله باب د رباعي مجرد بلل کيږي لکه: "دَحْرَجَ" پر وزن د "فَعْلَلَ" او که په دا غه صيغه کي تر څلورو حروفو اصليه ؤ يو حرف زائد ؤ، نو بيا دا ټوله باب رباعي مزيد فيه بلل کيږي، لکه: "تَدَحْرَجَ" پر وزن د "تَفَعْلَلَ".

په اسم جامد کي مجرد او مزيد د وزن څخه معلوميږي، يعني په ثلاثي کي که تر فا، عين او يوه لام حرف نه ؤ زائد، نو مجرد دئ او که زائد ؤ، نو مزيد دئ. وقس عليه الرباعي والخماسي.

---

او که تر الف مخکي يو حرف اصلي يا دوه حروف اصليه وه، نو بيا همزه اصلي ذئ، لکه: په مَاءٌ، دَاءٌ او مَرَاءٌ کي.

۴. "نون" که چيري دی د کلمې په آخر کي راغلئ او د ده څخه مخکي الف وو او تر الف مخکي درې يا تر درې زيات حروف اصليه وه، نو بيا دَی زائد دئ لکه: په عُثْمَان، عِمْرَان کښي، ليکن د دې څخه هغه الف مستثنی دئ چي د هغه څخه مخکي حرف مشدد راغلي وي، لکه: حَسَّانٌ، رَمَّانٌ، غَسَّانٌ و غيره کي، نو "نون" په دې کي اصلي دئ.

او که چيري تر الف مخکي دوه حروف اصليه وه بيا نون اصلي دئ، لکه: په زَمَانٌ او مَكَانٌ کي.

او که چيري نون ساکن په منځ د څلورو حروف اصلي وو کي واقع سو، نو بيا دَی زائد دئ، لکه په غَضَنْفَرٌ او عَقَنْقَلٌ کي.

۵. "تاء" تاء په پنځو ځايو کي زائده راځي:

اول: چي د تانيث دپاره وي، لکه: فَاضِلَةٌ.

دوهم: چي د مضارعت دپاره وي، لکه: تَحْفَظُ.

دريم: چي د سين سره ملګرې وي، لکه: اِسْتَغْفَرَ.

څلورم: چي د مطاوعت دپاره وي او فعل مطاوع پر وزن د "فَعَّلَ" وي، لکه: عَلَّمْتُهٗ فَتَعَلَّمَ.

پنځم: چي د مطاوعت دپاره وي او فعل مطاوع پر وزن د "فَعْلَلَ" وي، لکه: دَحْرَجْتُهٗ فَتَدَحْرَجَ.

۶. "سين" سين په استفعال او د هغه په فروعاتو کي زياتيږي، لکه: اِسْتَغْفَرَ، مُسْتَغْفِرٌ وغيره.

۷. "هاء" هاء په حالت د وقف کي زائده بلل کيږي او تفصيل يې په لاندي دول دئ:

اول: کله چي وقف پر "مَا" استفهاميه مجروره باندي وي، لکه: لِمَهْ.

دوهم: کله چي وقف پر فعل امر باندي وي او هغه داسي امر وي چي آخر يې محذوف وي، لکه: رَهْ بمعنی اُنْظُرْ فعل ماضي يې "رَئٰى" ده.

دريم: کله چي وقف پر مضارع وي او آخر يې د جزم په وجه محذوف وي، لکه: لَمْ تَرَهْ.

۸. "لام" لام په اسماء اشارات کي زائد بلل کيږي، لکه: ذٰلِكَ، هُنَالِكَ وغيره. (الصرف الکافي صفحه ۳۴)

## څلورمه خبره:

د فعل ټوله حروف چي سره جمع کړې که اصلي وي که زوائد، نو کلمه تر شپږو (٦) پوري رسيږي، تر شپږو حروفو نه سي بالا کېداى. و تاء تانيث او علامې ته د تثنيې او جمع اعتبار نسته، نو ځکه سوال په "إِسْتَخْرَجَتْ، إِسْتَخْرَجَا او إِسْتَخْرَجُوْا" سره نه واردېږي، چي ددې حروف خو تر شپږو زيات دي سره ددې چي دا کلمه فعل ده؛ ځکه دا زوائد يا علامه د تانيث او يا علامه د تثنيې او جمع ده.

د اسم ټوله حروف چي سره جمع کړې (که اصلي وي که زوائد)، نو کلمه تر اوو (٧) پوري رسيږي، تر اووه حرفه نه سي بالا کېداى. تاء تانيث، الف تانيث، ياء نسبت، ياء تصغير، علامې د تثنيې او علامې د جمع ته اعتبار نسته.
نو اعتراض په "مُسْتَخْرِجَانِ" او "مُسْتَخْرِجَاتٌ" سره نه واردېږي؛ ځکه چي دلته حروف زوائد علامې د تثنيې او جمع دي.

## پنځمه خبره:

په فعل ثلاثي کي کله يو حرف(١) زائد وي لکه: "أَكْرَمَ" پر وزن د "أَفْعَلَ"، کله دوه حرفه(٢) زائد وي لکه: "تَضَارَبَ" پر وزن د "تَفَاعَلَ" او کله درې حرفه(٣) زائد وي لکه: "إِسْتَخْرَجَ" پر وزن د "إِسْتَفْعَلَ".

---

(١) په فعل ثلاثي کي چي کله يو حرف زائد وي د هغه دپاره درې وزنونه دي:
١. أَفْعَلَ، لکه: أَكْرَمَ، أَحْسَنَ، أَشْرَفَ، أَتْقَنَ.
٢. فَاعَلَ، لکه: ضَارَبَ، قَاتَلَ، شَارَكَ، صَالَحَ.
٣. فَعَّلَ، لکه: صَرَّفَ، عَظَّمَ، قَدَّمَ، هَذَّبَ.
(٢) کله چي دوه حروف زائد وي د هغه دپاره پنځه وزنونه دي:
١. إِنْفَعَلَ، لکه: إِنْصَرَفَ، إِنْطَلَقَ.
٢. إِفْتَعَلَ، لکه: إِكْتَسَبَ، إِجْتَمَعَ.
٣. إِفْعَلَّ، لکه: إِحْمَرَّ، إِبْيَضَّ.
٤. تَفَعَّلَ، لکه: تَصَرَّفَ، تَكَبَّرَ.
٥. تَفَاعَلَ، لکه: تَضَارَبَ، تَبَارَكَ.
(٣) کله چي درې حروف زائد وي د هغه دپاره څلور اوزان دي:

او په فعل رباعي کي کله يو حرف زائد(۱) وي لکه: "تَدَحْرَجَ" پر وزن د "تَفَعْلَلَ" او کله دوه حرفه(۲) زائد وي لکه: "اِحْرَنْجَمَ" پر وزن د "اِفْعَنْلَلَ".

په اسم جامد ثلاثي کي کله يو حرف زائد وي، لکه: "حِمَارٌ"(خر) پر وزن د "فِعَالٌ"، کله دوه حرفه زائد وي، لکه: "سُلْطَانٌ" (بادشاه يا علامه) پر وزن د "فُعْلَانٌ" او کله درې حرفه زائد وي، لکه: "قَلَنْسُوَةٌ" (خولی) پر وزن د "فَعَنْلُوَةٌ".

په اسم جامد رباعي کي کله يو حرف زائد وي، لکه: "صَنْدُوْقٌ" پر وزن د "فَعْلُوْلٌ"، کله دوه حرفه زائد وي، لکه: "عَنْكَبُوْتٌ" پر وزن د "فَعْلَلُوْتٌ" او کله درې حرفه زائد وي، لکه: "عَبُوْثَرَانٌ" پر وزن د "فَعُوْلَلَانٌ".

په اسم جامد خماسي کي کله يو حرف زائد وي، لکه: "خَنْدَرِيْسٌ" پر وزن د "فَعْلَلِيْلٌ" او کله دوه حرفه زائد وي، لکه: "اِصْطَفْلِيْنَةٌ" پر وزن د "فِعْلَلِيْلَةٌ" معنٰی گازره (زردکه).

## شپږمه خبره:

## فائده مفيده:

د اسم جامد ثلاثي مجرد په اوزانو کې عقلي احتمالات دوولس (۱۲) ته رسيږي، هغه دارنگه چي د "فاء" دپاره درې حالته دي: ضمه، فتحه او کسره، سکون د "فاء" ناجائز دئ؛ ځکه چي په "فاء" سره ابتداء کيږي او ابتداء په ساکن سره محاله ده، د "عين" دپاره څلور حالته دي: ضمه، فتحه، کسره او سکون، ليکن د لام کلمې حالات غير معتبر دي؛ ځکه چي هغه په طبق د عامل چليږي، نو د "فاء" کلمې درې حالته چي د "عين" کلمې په څلورو

---

۱. اِسْتَفْعَلَ، لکه: اِسْتَخْرَجَ، اِسْتَغْفَرَ.
۲. اِفْعَوْعَلَ، لکه: اِحْدَوْدَبَ، اِغْدَوْدَنَ.
۳. اِفْعَوَّلَ، لکه: اِجْلَوَّذَ، اِعْلَوَّطَ.
۴. اِفْعَالَّ، لکه: اِحْمَارَّ، اِشْهَابَّ.

(۱) او په فعل رباعي کي چي کله يو حرف زيات وي د هغه دپاره صرف دغه يو وزن دئ يعني "تَدَحْرَجَ".

(۲) کله چي دوه حرفه زائد وي د هغه دپاره دوه وزنونه دي:
۱. اِفْعَلَلَّ، لکه: اِقْشَعَرَّ.
۲. اِفْعَنْلَلَ، لکه: اِحْرَنْجَمَ. (الصرف الکافي)

حالتو کي ضرب کړل سي دوولس (۱۲) کيږي.(۱) او مستعمل اوزان د اسم جامد ثلاثيَ مجرد لس (۱۰) دي.
ليکن چي کله پر "فاء" ضمه راسي او پر "عين" کسره وي لکه: فُعِلٌ(۲) او داغه رنګه چي پر "فاء" کسره او پر عين ضمه وي لکه: "فِعُلٌ"(۳) دغه دوه اوزان د ثقل د وجهي متروک دي.
مستعمل اوزان يې دا دي:-

۱. فَعْلٌ لکه: فَلْسٌ، معنٰی: (پيسه).

۲. فَعَلٌ لکه: فَرَسٌ، معنٰی: (آس).

---

(۱) تفصيل يې په دې دول دئ: که چيري اول حرف مفتوح وو، نو د ده سره دوهم حرف مفتوح، مضموم، مکسور او ساکن څلور سره راتلای سي، نو په دې کي څلور وزنونه راځي:
۱. فَعَلٌ لکه: فَرَسٌ، نَهَرٌ.
۲. فَعُلٌ لکه: عَضُدٌ.
۳. فَعِلٌ لکه: کَبِدٌ.
۴. فَعْلٌ لکه: صَخْرٌ.
که چيري اول حرف مضموم وو، نو ده سره دوهم حرف مفتوح، مضموم، مکسور او ساکن څلور سره راتلای سي، نو په دې کي هم څلور وزنونه راځي:
۱. فُعَلٌ لکه: صُرَدٌ.
۲. فُعُلٌ لکه: عُنُقٌ.
۳. فُعِلٌ لکه: دُئِلٌ.
۴. فُعْلٌ لکه: قُفْلٌ.
که چيري اول حرف مکسور وي، نو د ده سره دوهم حرف مفتوح، مضموم، مکسور او ساکن څلور سره راتلای سي، نو په دې کي هم څلور وزنونه راځي:
۱. فِعَلٌ لکه: عِنَبٌ.
۲. فِعُلٌ لکه: حِبُکٌ.
۳. فِعِلٌ لکه: اِبِلٌ.
۴. فِعْلٌ لکه: عِلْمٌ. (الصرف الکافي).

(۲) چي پر "فا" ضمه راسي او پر عين کسره راسي لکه: دُئِلٌ بر وزن فُعِلٌ دا نوم د قبيلې دئ د بني کنانه. او دا وزن په اسم کي قلت استعماله دئ؛ ځکه عربو دا قصد کړی دئ چي دا وزن به خاص وي په فعل مبني للمجهول پوري يعني په عُلِمَ ضُرِبَ پوري. (الصرف الکافي)

(۳) چي پر "فا" کسره وي او پر عين ضمه وي لکه: حِبُکٌ بر وزن فِعُلٌ او دا وزن مهمل دئ، ليکن په حقيقت کي دا مثال ثابت نه دئ؛ ځکه په قرآن کريم کي وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْحُبُکِ په ضمه د "حا" او د "با" سره راځي. (الصرف الکافي)

۳. فَعِلٌ، لكه: كَتِفٌ، معنٰى : (اوږه).

۴. فَعُلٌ، لكه: عَضُدٌ، معنٰى : (بازو).

۵. فِعْلٌ، لكه: حِبْرٌ، معنٰى : (عالم).

٦. فِعَلٌ، لكه: عِنَبٌ، معنٰى : (انګور).

۷. فِعِلٌ، لكه: اِبِلٌ، معنٰى : (اوښ).

۸. فُعْلٌ، لكه: قُفْلٌ، معنٰى : (قلف).

۹. فُعَلٌ، لكه: صُرَدٌ، معنٰى : (چوغكه).

۱۰. فُعُلٌ، لكه: عُنُقٌ، معنٰى : "غاړه" (گردن).

د اسم جامد ثلاثي مزيد فيه اوزان تر ضبط نه لاندي كيږي، يوازي امام سبويه رحمه الله دري سوه (۳۰۰) شمار كړي دي.

د اسم جامد رباعي مجرد اوزان عقلاً اته څلوېښت (۴۸) ته رسيږي؛ ځكه د "فاء" دري حالته چي ضرب كړل سي د "عين" په څلورو حالتو كي، نو دوولس ځني جوړيږي او دوولس چي د اول "لام" په څلورو حالتو كي ضرب سي، نو اته څلوېښت به سي، د آخر "لام" حالت غير معتبر دئ؛ ځكه چي هغه په طبق د عامل چليږي.

او مستعمل اوزان يې شپږ(۱) دي:

۱. فَعْلَلٌ، لكه: جَعْفَرٌ، (د سړي نوم دئ).

۲. فِعْلِلٌ، لكه: زِبْرِجٌ، (د ښائسته سامان نوم دئ).

۳. فُعْلُلٌ، لكه: بُرْثُنٌ، "مِنَ السِّبَاعِ والطَّيْرِ بِمَنزلة الاصَابِع مِنَ الانسَان" معنٰى : (چمبه).

(۱) د اسم جامد رباعي مجرد مستعمل اوزان بعض مؤلفين لكه ايمن امين عبد الغني مؤلف الصرف الكافي او الشيخ مصطفٰى الغلايني مؤلف جامع الدروس العربية شپږ بيان كړي دي. او د شپږم مثال يې د اسم دا جُخْدَبٌ (مذكر ملخ) او د صفت دا جُرْشَعٌ (غټ اوښ يا آس) وركړى دئ، ليكن جامع الدروس العربية والا دا تبصره پر كړې ده چي هر هغه اسم يا صفت چي پر دغه شپږم وزن يعني د فُعْلَلٌ پر وزن راسي، نو دا جائز ده چي پر وزن ثالث يعني د فُعْلُلٌ پر وزن باندي راسي. نو ځكه جمهورو علماوو دغه شپږم وزن د دريم وزن فرع شمار كړى دئ. (جامع الدروس العربية ج۲ صفحه۸)

۴. فِعَلَلٌ، لکه: دِرَهَمٌ، (د سپينو زرو سيکه ده).

۵. فِعَلَلٌ، لکه: قِمَطرٌ، (صندوق).

٦. فُعَلَلٌ، لکه: جُخَدَبٌ، (ملخ).

د اسم جامد(¹) رباعي مزيد فيه اوزان د کثرت په وجه صرفيانو په ضبط کي نه دي را وستلي.
د اسم جامد خماسي مجرد اوزان عقلا يو سل او دو نوي (۱۹۲) ته رسيږي، هغه دا رنګه چي د رباعي مجردو اته څلويښت (۴۸) احتمالات ضرب سي د لام ثاني په څلورو حالتو کي نو يو سل او دو نوي (۱۹۲) کيږي.
او مستعمل اوزان يې څلور دي:

۱. فَعَلَّلٌ لکه: سَفَرجَلٌ، معنٰی بويي (بيهي).

۲. فَعَلِّلٌ لکه: قَنَعِّلٌ، معنٰی: (قوي اوښ).

۳. فَعلَلِلٌ لکه: جَحمَرِشٌ، معنٰی: (بده ښځه).

۴. فِعلَلٌّ لکه: قِرطَعبٌ، معنٰی: (لږ شی).

د اسم جامد خماسي مزيد فيه مستعمل اوزان پنځه دي:

۱. فَعَلَّولٌ لکه: عَضرَفُوطٌ، معنٰی: (شرمښکی).

۲. فَعَلِّيلٌ لکه: خَنَدَغِيلٌ، معنٰی: (باطل شی).

۳. فِعَلَّولٌ لکه: قِرطَبُوسٌ، معنٰی: (غټ اوښ).

۴. فَعَلَّلَی لکه: قَبَعثَری، معنٰی: (د دنګر اوښ بچی).

۵. فَعَلِّيلٌ لکه: خَنَدَرِيسٌ، معنٰی: (زاړه شراب).(²)

---

(¹) په اسم جامد رباعي مزيد فيه کي کله يو حرف زيات وي او کله دوه حروف زيات وي او کلمه دري حروف زيات وي. او اوزان يې لاتعد ولاتحصی. (المنتخ الکبير في التصريف)

(²) اسم جامد خماسي مزيد فيه چي کله پر وزن د فَعَلِّيلٌ راسي، نو کله اسم وي لکه: خَنَدَرِيسٌ او کله کله صفت وي لکه: دَرَدَبِيسٌ معنی سپين زمری چي د هرم وخت ته رسيدلی وي.
او کله چي د فَعَلَّولٌ پر وزن راسي، نو په هغه وخت کي دی صرف اسم مستعمليږي لکه: يَستَعُورٌ معنی (درخته).

## صيغې:

| موزون | وزن | سه اقسام | علامه | شش اقسام | هفت اقسام | ماده | صیغه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| سَحَابٌ | فَعَالٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | س ح ب | اسم جامد |
| خِنْزِيْرٌ | فِعْلِيْلٌ | اسم | تنوین | رباعی مزید | صحیح | خ ن ز ر | اسم جامد |
| قِرْطَاسٌ | فِعْلَالٌ | اسم | تنوین | رباعی مزید | صحیح | ق ر ط س | اسم جامد |
| قَلَمٌ | فَعَلٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | صحیح | ق ل م | اسم جامد |
| حَبَّةٌ | فَعْلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | مضاعف ثلاثی | ح ب ب | اسم جامد |
| خِزَانَةٌ | فِعَالَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | خ ز ن | اسم جامد |
| خَوْفٌ | فَعْلٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | اجوف واوی | خ و ف | اسم جامد |
| نَهَارٌ | فَعَالٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | ن ہ ر | اسم جامد |
| بَطْنٌ | فَعْلٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | صحیح | ب ط ن | اسم جامد |
| لُؤْلُؤٌ | فُعْلُلٌ | اسم | تنوین | رباعی مجرد | مضاعف رباعی ومهموز | ل ء ل ء | اسم جامد |
| عَنْدَلِيْبٌ | فَعْلَلِيْلٌ | اسم | تنوین | خماسی مزید | صحیح | ع ن د ل ب | اسم جامد |
| قِرْبَاسٌ | فِعْلَالٌ | اسم | تنوین | رباعی مزید | صحیح | ق ر ب س | اسم جامد |
| اَلْجِدَارُ | اَلْفِعَالُ | اسم | الف لام | ثلاثی مزید | صحیح | ج د ر | اسم جامد |
| ضِفْدَعٌ | فِعْلَلٌ | اسم | تنوین | رباعی مجرد | صحیح | ض ف د ع | اسم جامد |
| رِشَاءٌ | فِعَالٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | مهموز اللام | ر ش ء | اسم جامد |
| مِلَّةٌ | فِعْلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | مضاعف ثلاثی | م ل ل | اسم جامد |
| رَفْرَفٌ | فَعْلَلٌ | اسم | تنوین | رباعی مجرد | مضاعف رباعی | ر ف ر ف | اسم جامد |
| بَعُوْضَةٌ | فَعُوْلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | ب ع ض | اسم جامد |
| شَبَابٌ | فَعَالٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | مضاعف ثلاثی | ش ب ب | اسم جامد |
| مَكَّةٌ | فَعْلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | مضاعف ثلاثی | م ك ك | اسم جامد |
| فِرْدَوْسٌ | فِعْلَوْلٌ | اسم | تنوین | رباعی مزید | صحیح | ف ر د س | اسم جامد |
| عَقْرَبٌ | فَعْلَلٌ | اسم | تنوین | رباعی مجرد | صحیح | ع ق ر ب | اسم جامد |

او کله چي دی د فِعْلَلُوْلٌ پر وزن راسي، نو بیا دی صرف صفت استعمالیږي، مګر ډیر کم لکه: قِرْطَبُوْسٌ.
او کله چي دی د فَعْلَلَی پر وزن باندي راسي، نو بیا دی صرف صفت استعمالیږي، مګر ډیر کم لکه: قَبَعْثَرَی.
او کله چي د فَعَلْبَلٌ پر وزن راسي، نو کله اسم استعمالیږي لکه: خَزَعْبِلٌ او کله کله صفت استعمالیږي لکه: قَذَعْمِلٌ معنی شیخ کبیر. (الممتع الکبیر في التصریف صفحه ۱۱۳)

## التمرين:

زَوْرَقٌ، تُفَّاحَةٌ، شُمُوْسٌ، زِنْكٌ، أَقْلَامٌ، صَرْصَرٌ، إِنْكِلْتَرَا، إِسْكَنْدَرِيَّةٌ، مَنَادِيْلُ، الْأُسْكُوْفَةُ، سَلَاطِيْنُ، كِبْرِيْتٌ، جُنَّةٌ، سَلَاسِلُ، زَنَابِيْلُ، مِهَارٌ، جَوَاهِرُ، مَمْلَكَةٌ، كَلَالِيْبُ، صَنَوْبَرٌ.

## اتم سبق:

بدانکه جمله اقسام اسم و فعل و حرف از هفت قسم بیرون نیست:

## بیت:

صحیح است ومثال است و مضاعف ... لفیف و ناقص و مهموز و اجوف

صحیح آنست که در مقابله "فا، عین، لام" کلمه اسم یا فعل حرف علت و همزه و تضعیف نبود، چون ضَرْبٌ و ضَرَبَ بر وزن فَعْلٌ و فَعَلَ، و حروف علت سه است. واو، الف، یا، چون جمع کنند "وای" شود، مهموز آنست که در وی همزه مقابله فا یا عین یا لام بود، وآن بر سه قسم است: مهموز الفاء، مهموز العین، مهموز اللام، مهموز الفاء آنست که در مقابله فا کلمه اسم یا فعل همزه بود چون اَمْرٌ و اَمَرَ بر وزن فَعْلٌ و فَعَلَ، و مهموز العین آنست که در مقابله عین کلمه او همزه بود چون سَأْلٌ و سَأَلَ بر وزن فَعْلٌ و فَعَلَ، و مهموز اللام آنست که در مقابله لام کلمه او همزه بود چون قَرْءٌ و قَرَأَ بر وزن فَعْلٌ و فَعَلَ، و مضاعف آنست که دو حرف اصلی او از یک جنس بود و مضاعف بر دو قسم است. مضاعف ثلاثی و مضاعف رباعی مضاعف ثلاثی آنست که در مقابله عین و لام اسم یا فعل دو حرف از یک جنس بود چون مَدٌّ و مَدَّ بر وزن فَعْلٌ و فَعَلَ که در اصل مَدْدٌ و مَدَدَ بود، و مضاعف رباعی آنست که در مقابله فا و لام اول و عین و لام ثانی اسم یا فعل دو حرف از یک جنس بود چون زَلْزَلَ و زِلْزَالًا بر وزن فَعْلَلَ و فِعْلَالًا

**ترجمه**: پوه سه! چې ټول اقسام د اسم، فعل او حرف د اوو (۷) قسمو څخه د باندې نه دي:
صحيح دئ، مثال دئ، مضاعف، لفيف، ناقص، مهموز او اجوف.

صحيح هغه كلمه ده چې په مقابله كې د "فا" كلمې د ده د اسم يا د فعل حرف علت، همزه او تضعيف نه وي. لكه: ضَرْبٌ او ضَرَبَ بر وزن فَعْلٌ او فَعَلَ.

حروف علت درې دي: "واو" "الف" "يا،" كله چې يې سره جمع كړې "واى" ترې جوړيږي.

مهموز هغه كلمه ده چې په ده كې همزه په مقابله كې د "فا" يا "عين" يا "لام" كلمه وي. او مهموز پر درې قسمه دئ: مهموز الفاء، مهموز العين او مهموز اللام.

مهموز الفاء هغه دئ چي په مقابله کي د "فاء" کلمې د ده د اسم يا د فعل همزه راغلې وي، لکه: اَمْرٌ او اَمَرَ بر وزن فَعْلٌ او فَعَلَ.

او مهموز العين هغه دئ چي په مقابله کي د عين کلمې د ده همزه راغلې وي، لکه: سَئْلٌ او سَئَلَ بر وزن فَعْلٌ او فَعَلَ.

او مهموز اللام هغه دئ چي په مقابله کي د لام کلمې د ده همزه راغلې وي، لکه: قَرْءٌ او قَرَءَ بر وزن فَعْلٌ او فَعَلَ.

او مضاعف هغه دئ چي دوه حرف اصلي د ده د يوه جنس څخه وي. او مضاعف پر دوه قسمه دئ: مضاعف ثلاثي او مضاعف رباعي.

مضاعف ثلاثي هغه دئ چي په مقابله کي د عين او لام د اسم يا فعل دوه حروف د يوه جنس څخه راغلي وي، لکه: مَدٌّ او مَدَّ بر وزن فَعْلٌ او فَعَلَ.

او مضاعف رباعي هغه دئ چي په مقابله کي د فا او لام اول او عين و لام ثاني د ده د اسم يا د فعل دوه جروف د يوه جنس څخه راغلي وي، لکه: زَلْزَلَ او زِلْزَالًا بر وزن فَعْلَلَ او فِعْلَالًا.

## په نن سبقه کي څلور خبري دي:

### اوله خبره:

اسماء متمکنه او افعال متصرفه په اعتبار د اقسامو د حروفو پر اووه قسمه دي(١):

(١)صحيح، (٢)مثال، (٣)مضاعف، (۴)لفيف، (۵)ناقص، (٦)مهموز، (٧)اجوف.

---

(١) حروف په اعتبار د صحت او علت سره پر درې قسمه دي:

١. حروف علت.
٢. حروف صحيح.
٣. ملحق د حرف علت (يعني همزه او تضعيف).

وجه د حصر يې په لاندي ډول ده:
دا کلمه به خالي نه وي يا به د دې حروف اصلي حرف علت او ملحق بحرف العلة راغلي وي يا به نه وي راغلي، که نه وه راغلي هغه ته صحيح وايي او که راغلي وه بيا به يا حرف علت راغلي وي يا به ملحق بحرف العلة راغلي وي، که حرف علت راغلي وه بيا به يا يو حرف علت راغلى وي يا به دوه حرف علته راغلي وي، که دوه حرف علته راغلي وه هغه ته لفيف وايي او که يو حرف علت راغلى وو بيا به خالي نه وي يا به پر "فاء" کلمه وي هغه ته مثال وايي، يا به پر "عين" کلمه وي هغه ته اجوف وايي او يا به پر

**سوال**: پر مصنف رحمة الله عليه يو سوال کيږي چي په دې تقسيم کي به تا يا د اصولو لحاظ کړی وای چي هغه څلور دي: (۱) صحيح، (۲)مهموز، (۳)مضاعف (۴)معتل، او يا به دې د فروعو لحاظ کړی وای چي هغه لس (۱۰) دي: (۱)مهموزالفاء، (۲)مهموزالعين، (۳)مهموزاللام، (۴)مضاعف ثلاثي، (۵)مضاعف رباعي، (٦)مثال، (۷)اجوف، (۸)ناقص، (۹)لفيف مقرون، (۱۰)لفيف مفروق، نو تا د اصولو لحاظ هم نه دئ کړی؛ ځکه چي هغه دي پوره نه دي ذکر کړي، معتل در څخه پاته سوی دئ. او د فروعو لحاظ دي هم نه دئ کړی؛ ځکه چي هغه دي هم مکمل نه دي ذکرکړي، مهموزالفاء، مهموزالعين، مهموزاللام، مضاعف ثلاثي، مضاعف رباعي، لفيف مقرون او لفيف مفروق دغه اوه فروع دي نه دي ذکر کړي؟

**جواب**: په دې تقسيم() کي زه نه د اصولو لحاظ کوم او نه د فروعو، بلکه د هغه چا لحاظ کوم چي هغه په کلام د عربو کي کثيرالاستعمال وي او کثيرالاستعمال دغه درې اصول او دغه څلور فروع وه، نو مي ځکه دغه درې اصول او دغه څلور فروع ذکر کړه.

---

"لام" کلمه وي هغه ته ناقص وايي. او که ملحق بحرف العلة راغلی وي يا به خالي نه وي يا به همزه راغلې وي هغه ته مهموز وايي. يا به تضعيف راغلی وي هغه ته مضاعف وايي.

**فائده**:

همزه او تضعيف ته ملحق بحرف العلة ځکه وايي چي دوی مشابه دي د حرف علت سره په تغير او تبديل کي يعني لکه څنګه چي په حرف علت سره په کلمه کي تغير او تبديل راځي دغه رنګه په دوی سره هم په کلمه کي تغير او تبديل راځي.

په دې وجه چي همزه او تضعيف کله کله په حرف علت سره بدليږي لکه، په "ايضا" او "تمنيت" کي (چي په اصل کي "ايضاء" "تمنيت" وو).

() **دوهم جواب**: دغه مصنف رحمة الله عليه د مير لامو د... لار اختيار کړې ده، هغه په دې شکل چي په هفت اقسامو کي د صرفيانو ... اقوال مختلف دي:

د علامه ابن حاجب په نزد په ... اسم و فعل د حروفو د صحت او سقم په اعتبار سره تول په دوه (۲) قسمه دي:

۱. صحيح.
۲. معتل

په صحيح کي مهموز و مضاعف او په معتل کي مثال، اجوف، ناقص او لفيف داخل دي.

و ... صيغه د مصنف ... د ... او علامه ... په نزد ... اسم و فعل د حروفو د صحت او سقم په اعتبار سره توله پر ... قسمه دي:

۱. صحيح
۲. مهموز.

## دوهمه خبره:

صحيح په لغت کي تندرست ته وايي او په اصطلاح کي و هغه کلمې ته وايي چي پر فا، عين او لام يې حرف علت نه وي.

## الفرق بين الصحيح والسالم:(۱)

د صحيح تعريف تير سو او سالم و هغه کلمې ته وايي چي پر فا، عين او لام يې حرف علت، همزه او تضعيف نه وي. اومصنف رحمة الله عليه د صحيح دپاره تعريف د سالم ذکرکړی دئ مسامحةً.

اَلصَّحِيْحُ عَلٰى قِسْمَيْنِ عِنْدَ النَّحْوِيِّيْنَ وَالصَّرْفِيِّيْنَ(۲):

عندالنحويين صحيح و هغه کلمې ته وايي چي پر لام کلمه يې حرف علت نه وي. عندالصرفين يې تعريف تېر سو "فَلَاتُعِيْدُهٗ".

---

۳. معتل.
۴. مضاعف.

او د اصولو په اعتبار سره هم پر داغه څلور قسمه دئ او د فروع په اعتبار سره لس (۱۰) قسمه جوړيږي:

| | |
|---|---|
| ۱. مهموز الفاء. | ۲. مهموز العين. |
| ۳. مهموز اللام. | ۴. مثال. |
| ۵. اجوف. | ٦. ناقص. |
| ۷. مضاعف ثلاثي. | ۸. مضاعف رباعي. |
| ۹. لفيف مقرون. | ۱۰. لفيف مفروق. |

او مصنف د کتاب الصرف صحيح هم په کي شامل کړئ دئ، نو ټوله يې يوولس قسمه جوړ کړي دي.
نو د ارشاد الصرف مصنف د مراح الارواح او د نوزو صرفيونو په شان باندې درميانه لار اختيار کړې ده؛ ځکه خير الامور اوسطها.(معارف الصرف)

(۱) د صحيح او سالم په منځ کي د بعضو صرفيانو په نزد نسبت د مساوات دئ او د بعضو په نزد نسبت د عموم او خصوص مطلق دئ: صحيح اعم مطلق دئ او سالم اخص مطلق دئ. ماده د اجتماع يې لکه په "ضَرَبَ" کي او ماده د افتراق د صحيح د جانبه لکه په "مَدَّ" او "اَمَرَ" کي.

(۲) د صحيح نحوي او صحيح صرفي په منځ کي نسبت د عموم او خصوص مطلق دئ: صحيح صرفي اعم مطلق دئ او صحيح نحوي اخص مطلق دئ. ماده د اجتماع يې لکه په "بَكَرَ" کي او ماده د افتراق د صحيح نحوي د جانبه څخه لکه په "زَيْدٌ" کي.(هداية الصرف)

د صحيح وجه د تسميې داده چې صحيح ته په دې وجه صحيح وايي چې دی خالي وي د حرف علت څخه.

حروف علت درې دي: واو، الف، یا.

## د الف او همزه تر منځ فرق:(١)

د الف او همزه فرق داد ئ چې الف هميشه ساکن وي بيله سختۍ د ژبې او بېله جټکې ويل کيږي او پر الف حرکات ثلاثه مع التنوين نه سي راتلای. او پر همزه باندې حرکات ثلاثه مع التنوين راتلای سي او په سختۍ سره د ژبې ويل کيږي.

## دريمه څپرکۍ:

مهموز(٢) په لغت کې کوزه پشت ته وايي او په اصطلاح کې هغه ته وايي چې په هغه کې همزه راغلې وي.

او مهموز پر درې قسمه دئ:

١. مهموز الفاء چې پر "فا" کلمه يې همزه راغلې وي، لکه: اَمَرَ او اَمَرَ.

---

(١) دغه د همزه او الف اصطلاح په نزد د متاخرين علماوو ده او په نزد د سيبويه او د متقدمينو علماء کرامو د همزه او الف دواړو څخه تعبير صرف په الف سره کيږي، نو ځکه امام سيبويه حروف هجاء (٢٨) اته ويشت شمار کړي دي؛ ځکه د ده په نزد باندې د همزه او الف مخرج يو دئ. (معجم النحو والصرف)

**د همزه او الف تر منځ بل فرق:** همزه په اول، آخر او وسط په دريو سرو ځايو کې واقع کيږي او الف صرف په وسط او آخر کې راځي؛ ځکه دی ساکن وي او ابتداء په ساکن سره محاله ده.

همزه چې په اول د کلمې کې واقع سي نو بيا دی پر شپږ (٦) قسمه راځي:

١. همزة الاصل.
٢. همزة التخيير غرنفي لکه: همزه د متکلم.
٣. همزة الاستفهام.
٤. همزة النداء.
٥. همزة الوصل.
٦. همزة القطع. (جامع الدروس العربية ج٢)

(٢) او مهموز په لغت کې همزه دا ده شده ته هم ويل کيږي، نو بيا د لغوي او اصطلاحي معنی په منځ کې نسبت د عموم او خصوص مطلق دئ: مهموز لغوي اعم مطلق دئ او مهموز اصطلاحي اخص مطلق دئ. ماده د اجتماع يې لکه په اَمَرَ کې او ماده د افتراق يې د مهموز لغوي د طرفه څخه لکه په اکرَمَ کې؛ ځکه دا مهموز لغوي دئ، نه اصطلاحي. (هداية الصرف)

۲. مهموز العين چې پر "عين" كلمه يې همزه راغلې وي لكه: سَئِمَ و سَئَلَ.

۳. مهموز اللام هغه دئ چې پر لام كلمه يې همزه راغلې وي، قَرَءَ و قَرَءَ.

د مهموز وجه د تسميې داده چې په ده كې همزه يو قسم كوږوالى را وستلى دئ.

**څلورمه خبره:**

مضاعف[1] په لغت كې دو چندې ته وايي او په اصطلاح كې مضاعف و هغه كلمې ته ويل كيږي چې دوه حرف اصلي دده د يوه جنسه څخه وي. او مضاعف پر دوه قسمه دئ:

۱. مضاعف ثلاثي.

۲. مضاعف رباعي.

مضاعف ثلاثي هغه كلمه ده چې پر عين او لام يې دوه حرفه د يوه جنسه راغلي وي، لكه: "مَدَّ" و "مُدَّ" په اصل كې "مَدَدَ" او "مُدِدَ" وو.

مضاعف رباعي هغه كلمه ده چې پر فا او لام اول او عين او لام ثاني يې دوه حرفه د يوه جنسه راغلي وي، لكه: "زَلْزَلَ" او "زِلْزَالًا"

**د مضاعف وجه د تسميې:**

مضاعف ته په دې وجه مضاعف وايي چې مضاعف په لغت كې دو چندې ته وايي، نو په ده كې هم دوه حرف د يوه جنس څخه راغلي دي يعني يو حرف دو چنده دئ.

**سوال:** د مضاعف ثلاثي تعريف مصنف رحمة الله عليه دا كړى دئ چې عين او لام كلمه يې د يوه جنس څخه وي لكه: "مَدَّ" او د مضاعف رباعي تعريف يې دا كړى دئ چې فاء او لام اول، عين او لام ثاني يې د يوه جنس څخه وي لكه: "زَلْزَلَ" نو "دَدَنَ" او "قَلَقَ" دا مضاعف ثلاثي دئ او دا د كتاب تعريف نه پر صادقيږي، داغه رنګه "يَنْزُرُ" مضاعف رباعي دئ او د كتاب تعريف نه پر صادقيږي؟

---

(1) د مضاعف لغوي او اصطلاحي په منځ كې هم نسبت د عموم او خصوص مطلق دئ: مضاعف لغوي اعم مطلق دئ او مضاعف اصطلاحي اخص مطلق دئ. ماده د اجتماع يې لكه په مَدَّ كې او ماده د افتراق يې لكه په خَبَبَ او دَدَنَ كې: ځكه دا مضاعف لغوي دئ، نه اصطلاحي. (خلاصة الصرف).

**جواب،** دا په کتاب کي چي کوم تعريفونه ذکر سوي دئ که د مضاعف ثلاثي دئ او که د مضاعف رباعي دئ دا اکثري تعريفونه دي، کُلي تعريف د مضاعف ثلاثي دا دئ چي مطلقا په کلمه ثلاثيه کي دوه حرف اصلي د يوه جنس څخه وي او کُلي تعريف د مضاعف رباعي دا دئ چي مطلقا په کلمه رباعيه کي دوه حرف اصلي د يوه جنس څخه وي. فَلَايَرِدُمَاوَرَدَ(۱).

---

(۱) په هفت اقسامو کي د اشياء سته يعني:

۱. تعليل.
۲. ابدال.
۳. اسکان.
۴. حذف.
۵. ادغام.
۶. تخفيف.

جاري کېدل به څنګه وي؟

**اول د اشياء سته تعريفونه:**

۱. تعليل: يعني په کلمه کي د خفت پيدا کولو دپاره په حرف علت کي تبديلي کول، لکه: د "قَوَلَ" څخه "قَالَ" ويل.

۲. ابدال: يعني د يوه حرف علت پر ځای باندي بل حرف علت راوړل، بيا ابدال پر دوه قسمه دئ:

اول: بدل د حرف اصلي څخه، لکه: د "قَوَلَ" څخه "قَالَ" ويل. (د حرف اصلي څخه مراد چي په مقابله کي د "فا" و "عين" او "لام" کلمي وي)

دوهم: بدل د حرف زائد څخه، لکه: د "ضَارَبَ" څخه "ضُوْرِبَ" ويل.

۳. اسکان: يعني د يو حرف څخه حرکت غورځول، دا هم پر دوه قسمه دئ:

اول: اسکان په حذف د حرکت سره، لکه: د "يَدْعُوُ" څخه "يَدْعُوْ" ويل.

دوهم: اسکان په نقل د حرکت سره د ساکن و طرف ته، لکه: د "يَقْوُلُ" څخه "يَقُوْلُ" يا د متحرک و طرف ته، لکه: د "قُوِلَ" څخه "قِيْلَ" ويل.

۴. حذف، يعني حرف مکرر غورځول، دا هم پر دوه قسمه دئ:

اول: حرف زائد حذف کول، لکه: د "يُأَكْرِمُ" څخه "يُكْرِمُ" ويل.

دوهم: حرف اصلي حذف کول، لکه: د "يَوْعِدُ" څخه "يَعِدُ" ويل.

او کله کله دوه حرفه حذف کېږي، لکه: د "وَلْ يَقِيْ" څخه امر "قِ" ويل.

۵. ادغام: يعني د دوو حرفو څخه يو مشدد حرف جوړول، دا هم پر دوه قسمه دئ:

اول: ادغام المتجانسين، لکه: مَدَّ، فَرَّ، غَزَّ"

دوهم: ادغام المتقاربين، لکه: د "وَعَدْتُّ" څخه "وَعَتُّ" ويل.

۶. تخفيف: يعني په کلمه کي سپک والی را وستل، د دې دري صورتونه دي:

اول: تخفيف په ابدال سره.

دوهم: تخفيف په حذف د حرف سره.

دريم: تخفيف په نقل د حرکت سره.

د دې ټولو مثالونه مخکي تېر سوه.

## صيغې:

| موزون | وزن | سه اقسام | علامه | شش اقسام | هفت اقسام | ماده | صیغه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| غِلَافٌ | فِعَالٌ | اسم | تنوین | ثلاثي مزید | صحیح | غ ل ف | اسم جامد |
| سَيْفٌ | فَعْلٌ | اسم | تنوین | ثلاثي مجرد | اجوف يائي | س ي ف | اسم جامد |
| بَابٌ | فَعَلٌ | اسم | تنوین | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | ب و ب | اسم جامد |
| بِئْرٌ | فِعْلٌ | اسم | تنوین | ثلاثي مجرد | اجوف يائي | ب ي ر | اسم جامد |
| بُؤْسٌ | فُعْلٌ | اسم | تنوین | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | ب و س | اسم جامد |
| ضُرْبٌ | فُعْلٌ | اسم | تنوین | ثلاثي مجرد | صحیح | ض ر ب | جمع مذکر مکسر اسم فرش |
| وَيْلٌ | فَعْلٌ | اسم | تنوین | ثلاثي مجرد | لفیف مقرون | و ي ل | اسم جامد |

**فائده:**

اول: په صحیح کي حقیقتاً اسکان جاري کیږي، لکه: د "ضَرَبَنَ" ځخه "ضَرَبْنَ" ویل.

او ظاهراً دري شیان پکښي جاري کیږي:

۱. ابدال، لکه: د "اِخْتَصَمَ" ځخه "اِخَصَّمَ" ویل.

۲. ادغام، لکه: د "اِخَصَّمَ" ځخه "خَصَّمَ" ویل.

۳. حذف، لکه: د "يُأَكْرِمُ" ځخه "يُكْرِمُ" ویل.

دوهم: مهموز چونکه ثقیل دئ، نو ځکه په ده کي یوازي تخفیف په مذکوره دري صورتو سره جاري کیږي:

۱. تخفیف بالابدال، لکه: د "أَأْمَنَ" ځخه "آمَنَ" ویل.

۲. تخفیف بنقل حرکت، لکه: د "يَسْئَلُ" ځخه "يَسَلُ" ویل.

۳. تخفیف بالحذف، لکه: "يُأَكْرِمُ" ځخه "يُكْرِمُ" ویل.

دریم مضاعف: په مضاعف کي دري شیان راځي:

۱. ادغام، لکه "مَدَّ".

۲. ابدال، لکه: "أَمْلَيْتُ" چي په اصل کي "أَمْلَلْتُ" وو او "دِيْنَارٌ" چي په اصل کي "دِنَّارٌ" وو.

۳. حذف، لکه: "قَرْنَ، ظَلْتُمْ" په اصل کي "اِقْرَرْنَ، ظَلَلْتُمْ" وو.

څلورم: مثال، پنځم: اجوف، شپږم: ناقص، اووم: لفیف په دې څلورو اقسامو کي صرف (یواځي) تعلیل په لاندي صورتو سره واقع کیږي:

۱. ابدال.

۲. اسکان.

۳. حذف.

مثالونه یې مخکي تېر سوه.

| موزون | وزن | سہ اقسام | علامہ | شش اقسام | ہفت اقسام | مادہ | صیغہ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اَلْغَيْبُ | اَلْفَعْلُ | اسم | الف لام | ثلاثی مجرد | اجوف یائی | غ ی ب | اسم جامد |
| وَرْمٌ | فَعْلٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | مثال واوی | ورم | اسم جامد |
| يَضْرِبُوْنَ | يَفْعِلُوْنَ | فعل | حروف اتین | ثلاثی مجرد | صحیح | ض ر ب | جمع مذکر غائبین فعل مضارع معلوم |
| مَنَعَةٌ | فَعَلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | صحیح | م ن ع | جمع مذکر مکسر اسم فاعل |
| لَنْ يَضْرِبُوْا | لَنْ يَفْعِلُوْا | فعل | حروف نواصب | ثلاثی مجرد | صحیح | ض ر ب | جمع مذکر غائبین فعل نفی معلوم |
| مُبَخْبِخٌ | مُفَعْلِلٌ | اسم | تنوین | رباعی مجرد | مضاعف رباعی | ب خ ب خ | واحد مذکر اسم فاعل |
| اَلْحَمْدُ | اَلْفَعْلُ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | صحیح | ح م د | اسم مصدر |
| مَوَانِعُ | فَوَاعِلُ | اسم | جمع | ثلاثی مجرد | صحیح | م ن ع | جمع مونث مکسر اسم فاعل |
| اِدَامٌ | فِعَالٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | مہموز الفاء | ء د م | اسم جامد |
| خُبْزٌ | فُعْلٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | صحیح | خ ب ز | اسم جامد |
| بَقَرَةٌ | فَعَلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | ب ق ر | اسم جامد |
| لِحْيَةٌ | فِعْلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | ناقص یائی | ل ح ی | اسم جامد |
| غُرَابٌ | فُعَالٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | غ ر ب | اسم جامد |
| اَسَدٌ | فَعَلٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | مہموز الفاء | ء س د | اسم جامد |

## التمرین:

ظِلٌّ، وِسَادَةٌ، نَحْلٌ، صِرَاطٌ، اِنْسٌ، زَقُّوْمٌ، سَوْدَانِيَّةٌ، مِقْنَاطِيْسٌ، طَاغُوْتٌ، قَنَادِيْلُ، مَنْجَنِيْقٌ، اَلدِّمَقْرَاطُ، سَلْسَبِيْلٌ، سَبَلَاتٌ، اَفْوَاجٌ، رُمَّانٌ، اَنْوَارٌ، بُلْبُلٌ، زَمْزَمٌ، نَعَامَةٌ، قَمْطَرِيْرٌ۔

## نهم سبق:

و مثال آنست کہ در مقابلہ فا کلمہ اسم یا فعل حرف علت بود چون "وَعْدٌ" و "وَعَدَ" بر وزن "فَعْلٌ" و "فَعَلَ"، و اجوف آنست کہ در مقابلہ عین کلمہ اسم یا فعل حرف علت بود چون "قَوْلٌ" و "قَالَ" بر وزن "فَعْلٌ" و "فَعَلَ"، و ناقص آنست کہ در مقابلہ لام کلمہ اسم یا فعل حرف علت بود چون "رَمْیٌ" و "رَمٰی" بر وزن "فَعْلٌ" و "فَعَلَ"، و لفیف آنست کہ دو حرف اصلی او حرف علت باشد، و لفیف بر دو قسم است: لفیف مقرون و لفیف مفروق، لفیف مقرون آنست کہ در مقابلہ عین و لام کلمہ اسم یا فعل حرف علت بود چون "طَیٌّ" و

"طَوىٰ" بر وزن "فَعْلٌ" و "فَعَلَ" و لفیف مفروق آنست که در مقابله فاء و لام کلمه اسم یا فعل حرف علت بود چون "وَشْيٌ" و "وَشَىٰ" بروزن "فَعْلٌ" و "فَعَلَ".

**ترجمه:** مثال هغه کلمه ده چې په مقابله د فاء کلمې کې د اسم یا فعل حرف علت راغلی وي، لکه: وَعْدٌ ووَعَدَ بروزن فَعْلٌ وفَعَلَ.

اجوف هغه کلمه ده چې په مقابله کې د عین کلمې د اسم یا فعل حرف علت راغلی وي، لکه: قَوْلٌ وقَالَ بروزن فَعْلٌ وفَعَلَ.

ناقص هغه کلمه ده چې په مقابله کې د لام کلمې د اسم یا فعل حرف علت راغلی وي، لکه: رَمْيٌ ورَمَىٰ بروزن فَعْلٌ وفَعَلَ.

لفیف هغه کلمه ده چې دوه حرف اصلي یې حرف علت وي. لفیف پر دوه قسمه دئ:

۱. لفیف مقرون.

۲. لفیف مفروق.

لفیف مقرون هغه کلمه ده چې په مقابله د عین او لام کلمه کې د اسم یا فعل حرف علت راغلی وي، لکه: طَيٌّ وطَوىٰ بروزن فَعْلٌ وفَعَلَ.

او لفیف مفروق هغه کلمه ده چې په مقابله کې د فاء او لام کلمه یې حرف علت راغلی وي، لکه: وَشْيٌ ووَشَىٰ بروزن فَعْلٌ وفَعَلَ.

## په نن سبقه کې درې خبرې دي:

### اوله خبره:

مثال په لغت کې هم مثل ته وایي او په اصطلاح کې مثال هغه کلمه ده چې پر فاء کلمه یې حرف علت راغلی وي.

او مثال پر دوه قسمه دئ:

۱. واوي، چې پر فاء کلمه یې واو راغلی وي، لکه: "وَعَدَ".

۲. یایي، چې پر فاء کلمه یې یاء راغلې وي، لکه: "يَسَرَ".

د مثال وجه د تسميې داده چي د قلت اعلالاتو(۱) په وجه مثال هم مثل د صحيح دئ.
**سوال:** مثال واوي او يايي راتلای سي، نو مثال الفي ولي نه سي راتلای؟
**جواب:** مثال الفي ځکه نه سي راتلای چي الف همېشه ساکن وي، او ابتداء په ساکن سره محاله ده.

## دوهمه خبره:

اجوف په لغت کي نس ختلي ته وايي او په اصطلاح کي اجوف هغه کلمه ده چي پر عين کلمه يې حرف علت راغلی وي.

او اجوف پر دوه قسمه دئ:

۱. اجوف واويء چي پر عين کلمه يې واو راغلی وي، لکه: "قَوَلَ" وو "قَالَ".
۲. اجوف يايي، چي پر عين کلمه يې ياء راغلې وي، لکه: "بَيَعَ" او "بَاعَ".

د اجوف(۲) وجه د تسميې داده: اجوف ته اجوف ځکه وايي چي اجوف په لغت کي نس ختلي ته وايي، نو د ده مابين هم خالي دئ د حرف صحيح څخه، نو داسي دئ لکه نس چي يې ختلی وي.

---

(۱) پر شافيه د ابن جماعة په حاشيه کي ليکلي دي، چي لِمُمَاثَلَةِ الصَّحِيحِ فِي الصُّورَةِ يعني دی هم شکل او هم مثل د صحيح دئ. يعني د ده ماضي د صحيح د ماضي هم مثل او هم شکل ده، لکه څنګه چي د صحيح پر ماضي باندي قانون نه جاري کيږي داغه رنګه د مثال پر ماضي باندي هم قانون نه جاري کيږي يعني کله چي ته وايې وَعَدَ يَعِدُ نو دلته واو او ياء په منزله د حرف صحيح سره وي په تحمل او اثبات د حرکت کي او په ترک د اعلال کي. (حاشية ابن جماعة على الشافية)
او په (مراح الارواح) کي ليکلي دي چي د مثال ماضي هم مثل د صحيح د ماضي ده يعني وَعَدَ وَعَدَا وَعَدُوا هم مثل د ضَرَبَ ضَرَبَا ضَرَبُوا دئ.
او دوهمه وجه يې دا بيان کړې ده چي أَمْرَهُ مِثْلُ أَمْرِ الأَجْوَفِ يعني د ده امر هم په مثال د اجوف د امر دئ، لکه: "عِدْ" هم مثل د "بِعْ" دئ.
او داغه رنګه د زَانَ يَزِينُ امر هم "زِنْ" دئ. (مراح الارواح)
(۲) د اجوف درې نومونه دي:

۱. معتل العين.
۲. ذو ثلاثه.
۳. اجوف.

معتل العين ځکه ورته ويل کيږي چي د ده د عين کلمې په مقابله کي حرف علت وي.
او ذو ثلاثه ځکه ورته ويل کيږي چي د ذو ثلاثه معنی ده: خاوند د درو، نو د ده د مجرد د ماضي په واحد متکلم صيغه کي هم درې حروف وي. لکه: په قُلْتُ کي. او متکلم په کلام کي اصل وي: ځکه د کلام بنا د متکلم څخه کيږي.

ناقص په لغت کي (دُم بريده) يعني لکۍ پرې سوي ته وايي او په اصطلاح کي ناقص هغه کلمه ده چي پر لام کلمه يې حرف علت راغلی وي.

ناقص پر دوه قسمه دئ:

۱. ناقص واوي، چي پر لام کلمه يې واو راغلی وي، لکه: "دَعَوَ".

۲. ناقص يايي، چي پر لام کلمه يې يا راغلې وي، لکه: "رَمَيَ".

د ناقص(۱) وجه د تسميې داده: ناقص ته ناقص ځکه وايي چي ناقص خو په لغت کي لکۍ پرې سوي ته وايي، نو دا ده آخر هم خالي دئ د حرف صحيح څخه.

**سوال:** اجوف او ناقص واوي او يايي راتلای سي، نو الفي ولي نه سي راتلای؟

**جواب:** صاحب د دستورالمبتدي دا قاعده ليکلې ده چي اجوف او ناقص الفي نه سي راتلای، که راغلي وه، نو هغه الف به بدل د "واو" او يا د "يا" څخه وي.

**دريمه خبره:**

لَفيف په لغت کي پيچلو ته وايي او په اصطلاح کي لفيف هغه کلمه ده چي دوه حرف اصلي د ده حروف علت وي.

---

او اجوف ځکه ورته وايي يا خو په هغه وجه چي په متن کي ذکر سوې ده، يا په دې وجه چي د اجوف اصطلاحي عين کلمه د حرف علت کېدو په وجه باندي په بعض ځايو کي حذف کيږي، لکه: قُلْتُ، بِعْتُ او لَمْ يَقُلْ او لَمْ يَبِعْ کي. (الصرف العزيز و حاشية ابن جماعة على الشافية)

(۱) د ناقص هم درې نومونه دي:

۱. معتل اللام.

۲. ذو اربعة.

۳. ناقص.

معتل اللام ځکه ورته وايي چي پر لام کلمه يې حرف علت دئ.

او ذو اربعة ځکه ورته وايي چي د ذو اربعة معنی ده: خاوند د څلورو، نو د ده د مجردو د ماضي په واحد متکلم کي هم څلور حروف دي، لکه: په دَعَوْتُ، رَمَيْتُ کي.

که څه هم د اجوف څخه علاوه د ثلاثي مجردو د ټولو بابو په ماضي کي د واحد متکلم په صيغه کي څلور حروف وي، ليکن په وجه تسميه کي قياس شرط نه دئ. يعني د يوه قسم نوم و بل قسم ته د قياس په ذريعه نه ور کول کيږي.

او ناقص يا خو په هغه وجه ورته وايي چي کمه په متن کي ذکر سوې ده. يا په دې وجه چي د ناقص معنی ده: نقصان والا، نو د ناقص اصطلاحي په آخر کي هم نقصان وي؛ ځکه په بعضي ځايو کي حرکت غورځي. لکه: په يَدْعُوْ، يَرْمِيْ کي او په بعضي ځايو کي حرف غورځي، لکه: په لَمْ يَدْعُ، لَمْ يَرْمِ کي. (الصرف العزيز حاشية ابن جماعة على الشافية)

**لفيف پر دوه قسمه دئ:**

**١. مقرون.**

**٢. مفروق.**

لفيف مقرون هغه كلمه ده چي پر عين او لام يې دوه حرف علت وي، لكه: "طَيٌّ"

لفيف مفروق هغه كلمه ده چي پر فا او لام يې دوه حرف علت وي، لكه: "وَقْيٌ"

د لفيف(١) وجه د تسميې(٢) دا ده چي لفيف خو په لغت كي پېچلو ته وايي، نو په ده كي هم حروف علت ډير دئ كلمه پكښي را پېچل سوې ده.

**سوال:** "يَوْمٌ" او "وَيْلٌ"(٣) بالاتفاق لفيف مقرون دي او ستا دغه تعريف نه دئ پر صادق؛ ځكه پر عين او لام نه، بلكه پر فاء او عين يې دوه حرف علته راغلي دي؟

**جواب:** دا په كتاب كي چي كم تعريف د لفيف مقرون ذكر دئ دا اكثري دئ، كلي نه دئ. كلي تعريف يې دا دئ چي مطلقا دوه حرف علت يو ځاى متصل په يوه كلمه كي راسي، بيا عام تر دې كه پر فا او عين وي او كه پر عين او لام وي، نو دا لفيف مقرون بلل كيږي.

---

(١) د لفيف معنى دا هم ذكر سوې ده چي د مختلفو قبيلو خلک سره راجمع سوى وي، يا جمع عظيم ته وايي چي مختلفو انسانانو كډون په كي كړى وي او په هغه كي شريف او رذيل، مطيع او عاصي، قوي او ضعيف ټوله موجود وي. الله تعالى په قرآن كريم كي فرمايي: (وَجِئْنَا بِكُمْ لَفِيفًا) اى: مُجْتَمِعِيْنَ مُخْتَلِطِيْنَ. (الصرف الكافي)

(٢) لفيف ته يا خو په دې وجه لفيف وايي چي لفيف په معنى د مجتمع سره وي او په لفيف اصطلاحي كي هم دوه حرف علت سره را جمع سوي دي، يا لفيف په معنى د پېچل سوي سره دئ او د لفيف اصطلاحي په لفيف مفروق كي هم حرف صحيح د دوو حرف علتو په منځ كي پېچل سوى دئ.

او لفيف مقرون يې حمل كړى دئ پر لفيف مفروق باندي. او د حمل معنى ده: (اَلْحَمْلُ تَشْرِيْكُ لَفْظٍ بِلَفْظٍ آخَرَ فِيْ حُكْمٍ مِنَ الْاَحْكَامِ بَعْدَ وِجْدَانِ الْمُنَاسَبَةِ بَيْنَهُمَا) او د دوى په منځ كي هم مناسبت موجود دئ په وجود د دوه حرف علت كي.

او لفيف مفروق ته ځكه مفروق وايي چي مفروق د فرق څخه دئ او فرق جلا والي ته وايي، نو په ده كي هم دوه حرف علته جلا جلا دي؛ ځكه د دوى په منځ حرف صحيح فارق دئ.

او لفيف مقرون ته ځكه مقرون وايي چي مقرون د قرن څخه دئ او قرن يو ځاى والي ته وايي، نو په ده كي هم دوه حرف علته يو ځاى دي. (الصرف العزيز)

(٣) دغه لفيف په فعل كي نه سي راتلاى صرف په اسم كي وجود لري؛ ځكه دوى هم ثقيل دئ او فعل هم ثقيل دئ. (الصرف الكافي) شرح الشافية

او داغه رنګه بعض لفيف مقرون داسي هم دئ چي فا، عين او لام درې سره يې حرف علت راغلي وي، لكه په وَيْتُ وَاوْ او يَيَّتُ يَاءْ كي، ليكن دا قليل او نادر دي النادر كالمعدوم، والمعدوم ليس بشيئ. (شرح الشافيه الصرف العزيز)

## صيغ:

| موزون | وزن | سہ اقسام | علامت | شش اقسام | ہفت اقسام | مادہ | صیغہ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فَوْكَزَهٗ | فَفَعَلَهٗ | فعل | مبنی بر فتح | ثلاثی مجرد | مثال واوی | و ک ز | جمع مذکر غائب فعل ماضی معلوم |
| اِبْرِيْقٌ | فِعْلِيْلٌ | اسم | تنوین | رباعی مزید | مہموز الفاء | ء ب ر ق | اسم جامد |
| خَدٌّ | فَعْلٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | مضاعف ثلاثی | خ د د | اسم جامد |
| مَخْزُوْمُوْنَ | مَفْعُوْلُوْنَ | اسم | میم فاعلیا | ثلاثی مجرد | صحیح | خ ز م | جمع مذکر اسم مفعول |
| ذُبَابٌ | فُعَالٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | مضاعف ثلاثی | ذ ب ب | اسم جامد |
| مَنْصُوْبَاتٌ | مَفْعُوْلَاتٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | صحیح | ن ص ب | جمع مونث سالم اسم مفعول |
| حِجَارَةٌ | فِعَالَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | ح ج ر | اسم جامد |
| لَاتُكَذِّبُوْا | لَاتَفْعِلُوْا | فعل | لائے ناہیہ | ثلاثی مجرد | صحیح | ک ذ ب | جمع مذکر مخاطبین فعل نہی معلوم |
| ثَلَاثَةٌ | فَعَالَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | مضاعف ثلاثی | ث ل ث | اسم جامد |
| اِضْرِبْنَ | اِفْعِلْنَ | فعل | امر | ثلاثی مجرد | صحیح | ض ر ب | جمع مونث مخاطبات فعل امر حاضر معلوم |
| عَيْنٌ | فَعْلٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | اجوف یائی | ع ی ن | اسم جامد |
| اَذُنٌ | فُعُلٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | مہموز الفاء | ء ذ ن | اسم جامد |
| اَوْرَدَانِ | اَفْعَلَانِ | اسم | تثنیہ | ثلاثی مجرد | مثال واوی | و ر د | تثنیہ مذکر اسم تفضیل |
| نَوَاهِيَ | فَوَاعِلَ | اسم | جمع | ثلاثی مجرد | ناقص یائی | ن ہ ی | جمع مونث مکسر اسم فاعل |
| جَرَادَةٌ | فَعَالَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | ج ر د | اسم جامد |
| اِقْذِفُوْا | اِفْعِلُوْا | فعل | امر | ثلاثی مجرد | صحیح | ق ذ ف | جمع مذکر مخاطبین فعل امر حاضر معلوم |
| مِرْوَحَةٌ | مِفْعَلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | اجوف واوی | ر و ح | واحد اسم آلہ وسطی |
| اَوَيْتُ | فَعَلْتُ | فعل | تاء متحرکہ مطلقہ | ثلاثی مجرد | لفیف مقرون، مہموز الفاء | ء و ی | واحد متکلم فعل ماضی معلوم |
| تَمْرَةٌ | فَعْلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | ت م ر | اسم جامد |
| كَانِكُوْنَ | فَاعِلُوْنَ | اسم | جمع | ثلاثی مجرد | مضاعف | ک ن ک | جمع مذکر سالم اسم فاعل |
| نَصَرَةٌ | فَعَلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | صحیح | ن ص ر | جمع مذکر مکسر اسم فاعل |

## التمرين:

حَلِيْبٌ، مَلْعُوْنَةٌ، اِنْ يَّسْبِقُوْنَا، بِلَالٌ، قُدُوْرٌ، ثَوْرٌ، اِقْذِفْ، فَمَنْ يَنْصُرُنِيْ، مَوْجِلٌ، تَرَائِبُ، يَآقِ، سِوَادَةٌ، قُرُوْنٌ، اَلَّا تَعْبُدُوْا، وَارْكَعُوْا، فَاطِرَ السَّمٰوٰتِ، وَارْحَمْنَا، اِنْ لَّبِثْتُمْ، رَبِّ ارْجِعُوْا، فَفَتَحْ۔

## لسم سبق:

باز اسم بر دو قسم است: اسم جامد و اسم مصدر، اسم جامد آنست که از وی چیز اشتقاق کرده نشود چون رجل و فرس. و اسم مصدر آنست که از وی چیز اشتقاق کرده شود و در آخر معنی فارسی آن دال و نون یا تا و نون باشد چون "اَلضَّرْبُ" زدن "وَالْقَتْلُ" کشتن.

**ترجمه**: بيا اسم پر دوه قسمه دئ: اسم جامد او اسم مصدر. اسم جامد هغه کلمه ده چي د دې څخه يو شی نه سي جوړېدلای، لکه: رَجُلٌ او فَرَسٌ او اسم مصدر هغه کلمه ده چي د دې څخه يو شی جوړېدلای سي او د فارسي معنی په آخر کي يې "دال" او "نون" يا "تا" او "نون" وي، لکه: اَلضَّرْبُ (وهل) وَالْقَتْلُ (وژل).

بدانکه عرب از هر مصدر دوازده چیز اشتقاق میکند: ماضی، مضارع، اسم فاعل، اسم مفعول، جحد، نفی، امر، نہی، اسم زمان، اسم مکان، اسم اله، اسم تفضیل.

**ترجمه**: پوه سه چي عرب د هر مصدر څخه دوولس (۱۲) شيان جوړوي: ماضي، مضارع، اسم فاعل، اسم مفعول، جحد، نفي، امر، نهي، اسم زمان، اسم مکان، اسم آله او اسم تفضيل.

ماضی زمانه گذشته را گویند، مضارع زمانه آئنده را گویند، اسم فاعل نام کار کننده را گویند، اسم مفعول نام کار کرده شده را گویند، جحد انکار ماضی را گویند، نفی انکار مستقبل را گویند، امر فرمودن کاری، نہی باز داشتن از کاری، اسم زمان نام وقت کردن کار، اسم مکان نام جای کردن کاری، اسم اله نام آنچه کار به وی کند، اسم تفضیل نام بهتر کار کننده را گویند.

**ترجمه**: ماضي تېري سوي زمانې ته ويل کيږي. مضارع را تلونکي زمانې ته ويل کيږي. اسم فاعل نوم د کارکونکي دئ. اسم مفعول نوم د کار کړل سوي دئ. جحد انکار د ماضي ته وايي. نفي انکار د مستقبل ته وايي. امر فرمايل د کار. نهي منع کول د يو کار څخه. اسم زمان نوم د وخت د يو کار دئ. اسم مکان نوم د کار کولو د ځای دئ. اسم آله هغه ده چي په هغه سره يو کار کيږي. اسم تفضيل نوم د يو ښه کار کونکي دئ.

## په دې سبق کې څلور خبرې دي:

### اوله خبره:

اوله خبره داده چې اسماء متمکنه په اعتبار د اشتقاق او غیر اشتقاق سره په دې کې درې مذهبه دي:

۱. اول مذهب والا وايي چې اسم پر دوه قسمه دئ: اسم جامد او اسم مصدر. او دوی اسم مشتق تابع د فعل بولي.
۲. دوهم مذهب والا وايي چې اسم پر دوه قسمه دئ: اسم جامد او اسم مشتق. او دوی بیا اسم مصدر تابع د اسم مشتق بولي.
۳. دریم مذهب والا وايي چې اسم پر درې قسمه دئ: اسم جامد، اسم مصدر او اسم مشتق.

### د دوی درو په مابین کې لفظي او معنوي فرق:

"اسم جامد" نه مشتق منه راتلای سي او نه مشتق، یعني نه دده څخه څوک مشتق کیږي او نه دی د چا څخه مشتق کیږي، لکه: "رَجُلٌ" او "فَرَسٌ".

"اسم مشتق"(۱) هم مشتق منه راتلای سي او هم مشتق، یعني هم دی د یل چا څخه مشتق کیږي او هم دده څخه بل څوک مشتق کیږي، لکه: "ضَارِبٌ".

"اسم مصدر"(۲) مشتق منه راتلای سي مګر مشتق نه سي راتلای، یعني دده څخه بل څوک مشتق کیږي لیکن دی د بل چا څخه نه مشتق کیږي، لکه: "ضَرْبًا".

---

(۱) اسم مشتق چې د فعل څخه ماخوذ وي لس قسمه دئ: اسم فاعل، اسم مفعول، صفت مشبه، مبالغة اسم الفاعل، اسم التفضيل، اسم الزمان، اسم المكان، مصدر میمي، د ثلاثي مجرد څخه علاوه د افعالو مصادر، اسم الآلة. (جامع الدروس العربية)

(۲) مصدر څو قسمه راځي:

۱. "مصدر التاكيد" چې د فعل څخه وروسته د فعل د مضمون د تاکيد دپاره راځي، لکه: ضَرَبْتُ اللِّصَّ ضَرْبًا.
۲. "مصدر النوع" او مصدر هيئت هم ور ته ویل کیږي، دی د فعل د نوع او د صفت د بیان دپاره راځي، لکه: وَقَفْتُ وَقْفَةً اَیْ: وُقُوفًا مَوْصُوفًا بِصِفَةٍ.
۳. "مصدر المرّة" او دده ته مصدر عدد هم ویل کیږي، دی د فعل د عدد د بیان دپاره راځي، لکه: وَقَفْتُ وَقْفَةً وَ وَقْفَتَيْنِ وَ وَقَفَاتٍ.

## معنوي فرق يې دا دئ:

اسم جامد(۱) صرف پر ذات دلالت كوي، لكه: "رَجُلٌ".

اسم مصدر صرف پر وصف دلالت كوي، لكه: "ضَرْبًا".

اسم مشتق پر ذات مع الوصف دلالت كوي، لكه: "ضَارِبٌ".

## دوهمه خبره:

عرب د هر مصدر څخه دوولس شيان جوړوي:

۱. ماضي.(۲)

---

۴. "مَصْدَرٌ صِنَاعِيٌّ" هغه اسم چې د هغه په آخر پورې ياء د نسبت ملحق وي او مترادف د تاء وي دپاره د دلالت كولو پر هغه صفت چې هغه په ده كې وي، جوامد، لكه: اَلْإِنْسَانِيَّةُ، اَلْحَيَوَانِيَّةُ، اَلْحَجَرِيَّةُ، مشتقات، لكه: اَلْفَاعِلِيَّةُ، اَلْقَابِلِيَّةُ، اَلْمَحْرُوبِيَّةُ.

۵. اِسْمُ الْمَصْدَرِ: د ده او د مصدر فرق د كتاب په شروع كې تېر سوى دئ. انظر هناک: ا صفحه ۵ حاشيه

۶. اَلْمَصْدَرُ الْمِيْمِيْ: چې په اول سر كې يې ميم زائده راغلى وي، لكه: مَنْصَرٌ، مَعْلَمٌ په معنى د نصرت او علم سره.
د محققين علماء كرامو په نزد باندې مصدر ميمي مصدر نه دئ، بلكه اسم په معنى د مصدر سره راغلى دئ.
او مصدر ميمي د مصادر قياسيه وو څخه د ده وزن د ثلاثي مجردو څخه مَفْعَلٌ راځي، لكه: مَقْتَلٌ مَنْصَرٌ، ليكن د مثال واوي محذوف الفاء څخه مَفْعِلٌ راځي، لكه: مَوْعِدٌ. او د لفيف مفروق څخه مَفْعَلٌ راځي، لكه: مَوْقًى.
كله كله مصدر ميمي د ثلاثي مجردو څخه د مَفْعِلٌ پر وزن باندې بناء وي شاذاً، لكه: مَكْبِرٌ مَسِيرٌ.
او كله كله د مَفْعَلَةٌ پر وزن باندې بناء وي، لكه مَفْسَدَةٌ و غيره.
او د ده بناء د مَفْعِلَةٌ او مَفْعُلَةٌ پر وزن باندې هم شاذ ده.
او د غير ثلاثي مجرد څخه د اسم مفعول پر وزن باندې غالباً راځي.(جامع الدروس العربية)

(۱) او فعل هم جامد راځي. فعل جامد هغه دئ چې د افعالو د يوه صورت سره لازم وي او بلي صيغې ته نه منتقل كيږي.
فعل جامد پر دو قسمه دئ:
۱. چې د ماضي د صورت سره لازم وي، لكه: عَسَى، لَيْسَ، تَبَارَكَ، نِعْمَ، بِئْسَ، حَبَّذَا، سَاءَ.
۲. چې د امر د صورت سره لازم وي، لكه: هَبْ په سكون د باء سره په معنى د "ظُنَّ" سره او تَعَلَّمْ په معنى د إِعْلَمْ سره. (الصرف الكافي).

(۲) فعل ماضي د دلالت معنوي په اعتبار سره پر شپږ قسمه دئ:
۱. ماضي مطلق: ماضي مطلق هغه ده چې دلالت پر معنى مصدري كوي خو د قَدْ، كَانَ، لَعَلَّمَا، لَيْتَمَا څخه خالي وي، لكه: ضَرَبَ.
۲. ماضي قريب: ماضي قريبه هغه ده چې دلالت كوي پر وجود د معنى مصدري په زمانه گذشته قريبه كې او "قَدْ" پر داخل سوى وي، لكه: قَدْ ضَرَبَ.

٢. مضارع.(١)
٣. اسم فاعل.(٢)
٤. اسم مفعول.(٣)
٥. جحد.(٤)

---

٣. ماضي بعيد: ماضي بعيده هغه ده چي دلالت كوي پر وجود د معنى مصدري په زمانه گذشته بعيده كي او "كَانَ" پر داخل سوى وي، لكه: كَانَ ضَرَبَ.
٤. ماضي استمراري: ماضي استمراري هغه ده چي دلالت كوي پر وجود د معنى مصدري په زمانه گذشته پر طريقه د دوام او استمرار او "كَانَ" پر مضارع داخل سوى وي، لكه: كَانَ يَضْرِبُ.
٥. ماضي احتمالي: ماضي احتمالي هغه ده چي دلالت كوي پر وجود د معنى مصدري په زمانه گذشته كي احتمالاً يعني په طريقه د احتمال سره او "لَعَلَّمَا" پر داخل سوى وي، لكه: لَعَلَّمَا ضَرَبَ.
٦. ماضي تمنائي: ماضي تمنائي هغه ده چي دلالت كوي پر وجود د معنى مصدري په زمانه گذشته كي په طريقه د تمنا سره او "لَيْتَمَا" پر داخل سوى وي، لكه: لَيْتَمَا ضَرَبَ.(معارف الصرف)

(١) مضارع په لغت كي مشابه ته وايي. او دا هم مشابه ده د اسم سره په مختلفو وجوهاتو سره:
١. په حركاتو، سكناتو او په تعداد د حروفو كي، لكه: يَضْرِبُ د ضَارِبٌ سره.
٢. په دخول د لام تاكيد كي عند البصريين، لكه: "لَيَخْرُجُ" د "لَزَيْدٌ" سره:
٣. په ابهام كي لكه اسم يعني "رَجُلٌ" چي قبل دخول الف لام مبهم دئ، داغه رنگه فعل مضارع د قرائنو څخه د خلا په وخت كي د حال او استقبال په معنى كي مبهمه ده. او د سين او سوف د دخول څخه وروسته يې په استقبال كي تعين راځي، لكه: سَيَضْرِبُ، سَوْفَ يَضْرِبُ. او د لام ابتداء د دخول څخه وروسته يې په حال كي تعين راځي، لكه: لَيَأْكُلُ.
٤. او فعل مضارع د اسم فاعل په شان د صفت په ځاى كي هم استعماليږي، لكه: مَرَرْتُ بِرَجُلٍ ضَارِبٍ په شان مَرَرْتُ بِرَجُلٍ يَضْرِبُ هم ويل كيږي. (زنجاني)

او د مضارع په صيغو كي كله د حال ترجمه وي او كله د استقبال، لكه: يَفْعَلُ الآنَ او يَفْعَلُ غداً عند الجمهور.
فعل مضارع په حال او استقبال دواړو كي مشتركه ده.
عند البعض په حال كي حقيقت او په استقبال كي مجاز ده؛ ځكه د قرائنو څخه د خلا په وخت كي په حال كي راجح ده.
عند البعض مضارع په استقبال كي حقيقت او په حال كي مجاز ده؛ ځكه د حال په وجود كي اختلاف دئ، حكماء د حال د وجود قائله نه دي. (معارف الصرف)

(٢) اسم فاعل او اسم مفعول پر غائب، مخاطب او متكلم باندي دلالت نه كوي؛ ځكه صيغه د صفت پر ذات مبهم دلالت كوي، او غائب و غيره پر ذات معين دلالت كوي.
نو كله چي د اسم فاعل او اسم مفعول څخه د دې معنى ادا كول مقصود وي، نو د دوى څخه مخكي په ابتداء كي يو ضمير لګول كيږي، لكه: هُوَ ضَارِبٌ، أَنْتَ ضَارِبٌ، أَنَا ضَارِبٌ. (معارف الصرف)

(٣) كله كله د أَفْعَلَ او د فَعِيْلٌ وزن هم د اسم مفعول په معنى كي استعماليږي، لكه: قَتِيْلٌ او ذَبِيْحٌ په معنى د مَقْتُوْلٌ او مَذْبُوْحٌ سره راځي او أَشْهَرَ او أَعْذَرَ په معنى د مَشْهُوْرٌ او مَعْذُوْرٌ سره راځي. (معارف الصرف)

(٤) په جحد كي حروف جوازم راځي او په جوازمو كي "لَمْ" په فعل مضارع كي دوه عمله كوي:

**٦. نفي.(١)**

**٧. امر.(٢)**

**٨. نهي.(٣)**

**٩. اسم زمان.(٤)**

**١٠. اسم مکان.(٥)**

---

١. لفظي.

٢. معنوي.

لفظي عمل په پنځو صيغو يعني په مفرداتو او جمع متکلم کي وآخر ته جزم ورکوي، او په اوو (٧) صيغو يعني په تثنيو او جمعو او په واحده مؤنثه مخاطبه کي نون اعرابي غورځوي، او په دوو صيغو يعني په جمع مؤنث مخاطب او غائبه کي هيڅ عمل نه کوي؛ ځکه هغه مبني دي.

او معنوي عمل يې دا دئ چي فعل مضارع د حال او استقبال څخه باسي د ماضي منفي په معنی يې ګرځوي. (معارف الصرف)

(١) په فعل مضارع کي نفي په "مَا" او "لَا" دواړو سره راځي، ليکن د "لا" په ذريعه سره نفي عامي وي يعني د حال او استقبال دواړو نفي راځي، او په "مَا" سره صرف د حال نفي راځي.

او د قسم په ځای کي "لَا" زائده راځي، لکه: لَا اُقْسِمُ. (معارف الصرف)

(٢) دلته دري شيان دي: امر، دعا او التماس. امر طلب د اعلی دئ د ادنی څخه لکه: "اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ"، دعا طلب د ادنی دئ د اعلی څخه لکه: "اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ" او التماس طلب د مساوي دئ د مساوي څخه لکه: زيد و عمرو ته وايي "اَعْطِنِي الْقَلَمَ". (از مرتب عفی عنه)

(٣) په نهي کي "لَا" ناهيه راځي، فرق په منځ کي د "لَا" ناهيه او "لَا" نافية کي دا دئ:

"لَا" نافيه صرف په معنی کي عمل کوي، يعني مثبت په معنی د منفي سره اړوي او په لفظ کي هيڅ عمل نه کوي.

او "لَا" ناهيه په معنی کي د عمل سره سره په لفظ کي هم عمل کوي، يعني په پنځو صيغو کي جزم کوي، او په اوو (٧) صيغو کي نون اعرابي غورځوي، او په دوو صيغو کي هيڅ عمل نه کوي.

او بل فرق يې دا دئ چي په نفي کي اخبار وي يعني خبر ورکول د حال يا استقبال څخه او په نهي کي انشاء وي، مثلاً چي زه ووايم: لَا يَضْرِبُ يعني زه دا خبر ورکوم چي فلانی سړی به اوس يا وروسته وهل نه کوي او چي داسي ووايم: لَا تَضْرِبْ يعني ته وهل مه کوه! داسي معنا يې نه ده چي زه اوس تا ته خبر درکوم چي ته اوس يا وروسته وهل نه کوې. (معارف الصرف)

(٤) اسم زمان هغه دئ چي د فعل څخه ماخوذ وي د پاره د دلالت کولو پر حدوث د زمان. لکه: "وَافِنِيْ مَطْلَعَ الشَّمْسِ اَيْ: وَقْتَ طُلُوْعِهَا.

او د اسم زمان وزن د ثلاثي مجرد و څخه مَفْعِلٌ او مَفْعَلٌ راځي. (جامع الدروس العربيه)

(٥) اسم مکان د فعل څخه ماخوذ وي؛ د پاره د دلالت کولو پر تعلق د حدوث د فعل د مکان سره، لکه: حَتّٰى اِذَا بَلَغَ مَغْرِبَ الشَّمْسِ اَيْ: مَكَانَ غُرُوْبِهَا.

کله کله پر اسم مکان تاء تانيث داخليږي، لکه: مَقْبَرَةٌ، مَشْرَقَةٌ، مَدْرَجَةٌ و غير ذلک؛

او کم چي په ضمه د عين سره راغلي دي، هغه شاذ دي.

مصدر ميمي، اسم مفعول اسم زمان او اسم مکان چي فوق الثلاثي المجرد وي، هغه په وزن کي سره شريک وي، ليکن فرق يې په قرينه سره کيږي، لکه چي ته وايې:

۱۱. اسم آله.(۱)

۱۲. اسم تفضيل.(۲)

**سوال:** عرب د هر مصدر څخه ولي دا دوولس شيان جوړوي؟

**جواب:** د دوی مختلفي معاني په کار کيږي او مصدر يواځي پر مختلفو معانيو په آن واحده کي دلالت نه سي کولای، نو د دې ضرورت پوره کولو دپاره دوی دوولس الفاظ جوړوي چي هر لفظ پر خپله معنٰی دلالت وکړي.

**سوال:** فعل تعجب يې ولي نه دي ذکر کړی؟

**جواب:** فعل تعجب غير متصرف دئ، د قلت تصرف د وجهي داسي دئ لکه معدوم "وَالْمَعْدُوْمُ لَيْسَ بِشَيْئٍ".

---

اسم زمان: جِئْتُکَ مُنْصَرَفَ الْعَصْرِ معنی وقت اِنْصِرَافِهِ.

اسم مکان: اَنْتَظِرُکَ فِيْ مُرْتَقَى الْجَبَلِ اى: فِي الْمَكَانِ الَّذِيْ يُرْتَقٰى فِيْهِ اِلَيْهِ.

اسم مفعول: هٰذَا الْاَمْرُ مُنْتَظَرٌ يعنى: اَنَّ النَّاسَ يَنْتَظِرُوْنَهُ.

مصدر ميمي: اَعْتَقِدُ مُعْتَقَدَ السَّلَفِ. معتقد مصدر ميمي دئ په معنی د اعتقاد سره. (جامع الدروس العربيه)

(۱) اسم آله هغه اسم دئ چي هغه غالباً اخيستل کيږي د فعل ثلاثي مجرد متعدي څخه چي دلالت وکړي پر هغه اداة باندي چي په هغه سره فعل اجراء کيږي، لکه: مِبْرَدٌ او مِنْشَارٌ (آره).

کله کله د غير ثلاثي مجرد څخه راسي، لکه: مِطْلَاقٌ اِسْمٌ لِمَا يُعَلَّقُ بِهِ الشَّيْئُ مِنْ عَلَّقَ كَالْمِيْضَاةِ "مَنْ تَوَضَّأَ".

او کله کله د ثلاثي مجرد لازمي څخه وي، لکه: مِصْعَدٌ او مِعْرَاجٌ (ځينه).

او کله کله د اسماء جوامدو څخه وي، لکه: مِقْلَمَةٌ (وِعَاءُ الْاَقْلَامِ) مِمْلَحَةٌ وغير ذلک.

مهشوره اوزان يې درې دي: مِفْعَلٌ، مِفْعَلَةٌ، مِفْعَالٌ.

کله کله شاذاً پر بل وزن باندي راسئ، لکه: مُكْحُلَةٌ او مُدْهُنٌ.

کله کله اسم آله اسم جامد راسي، ليکن پر دغه اوزانو باندي نه وي، لکه: قَدُوْمٌ، سِكِّيْنٌ، جَرَسٌ او جَعَالَةٌ. (جامع الدروس العربيه)

(۲) اسم تفضيل دا يو صفت دئ چي اخيستل کيږي د فعل څخه دپاره د دلالت کولو پر دوو شيانو باندي چي هغه شريک وي په يو صفت کي، د يوه زياتوب پر هغه بل باندي ښکاره کوي.

او کله کله تفضيل په منځ د دوو شيانو کي په صفتين مختلفين کي وي.

او کله کله اسم تفضيل د معنی تفضيلي څخه خالي استعماليږي، لکه: اَكْرَمْتُ الْقَوْمَ اَكْبَرَهُمْ وَاَصْغَرَهُمْ، تُرِيْدُ صَغِيْرَهُمْ وَكَبِيْرَهُمْ.

او د اسم تفضيل دپاره صرف يو وزن دئ، د مذکر دپاره اَفْعَلُ او د مؤنث دپاره فُعْلٰى، ليکن په درو کلماتو کي د کثرت الاستعمال په همزه حذف کيږي، لکه: خَيْرٌ، شَرٌّ او حُبٌّ. (جامع الدروس العربية)

## باب اول صرف صغير ثلاثی مجرد صحيح از باب فَعَلَ يَفْعِلُ چون اَلضَّرْبُ (زدن):

ضَرَبَ يَضْرِبُ ضَرْباً فَهُوَ ضَارِبٌ وضُرِبَ يُضْرَبُ ضَرْباً فَذَاکَ مَضْرُوْبٌ لَمْ يَضْرِبْ لَمْ يُضْرَبْ لَايَضْرِبُ لَايُضْرَبُ لَن يَضْرِبَ لَن يُضْرَبَ اَلْاَمْرُ مِنْهُ: اِضْرِبْ لِتُضْرَبْ لِيَضْرِبْ لِيُضْرَبْ وَالنَّهْيُ عَنْهُ: لَاتَضْرِبْ لَاتُضْرَبْ لَايَضْرِبْ لَايُضْرَبْ اَلظَّرْفُ مِنْهُ: مَضْرِبٌ وَالْآلَةُ مِنْهُ: مِضْرَبٌ مِضْرَبَةٌ مِضْرَابٌ وَاَفْعَلُ التَّفْضِيْلِ الْمُذَكَّرُ مِنْهُ: اَضْرَبُ وَالْمُؤَنَّثُ مِنْهُ: ضُرْبٰى وَفِعْلُ التَّعَجُّبِ مِنْهُ: مَااَضْرَبَهٗ وَاَضْرِبْ بِهٖ وضَرُبَ يَاضَرُبَتْ.

**دريمه خبره:**

(باب) په لغت کي دروازي ته وايي او په اصطلاح کي دا يو طائفه د الفاظو ده چي په خپل مابين کي مناسبت(١) سره لري.

په مزيدو کي بابونه خپل ترتيب لري چي اول به افعال دوهم به تفعيل وي... په مجردو کي هغه باب مخکي کيږي چي کثيرالاستعمال وي، نو ځوک(٢) د "ضَرَبَ" باب کثير الاستعمال بولي او هغه مخکي کوي او ځوک د "نَصَرَ" باب کثيرالاستعمال بولي او هغه مخکي کوي.

(صرف) په لغت کي گردان او تغير ته ويل کيږی او په اصطلاح کي ﴿تَحْوِيْلُ الْاَصْلِ الْوَاحِدِ اِلٰى اَمْثِلَةٍ مُخْتَلِفَةٍ لِمَعَانٍ مَقْصُوْدَةٍ لَاتَحْصُلُ اِلَّابِهَا﴾.

يو صرف صغير دئ او بل صرف کبير دئ: صرف صغير و هغه گردان ته وايي چي صرف د باب نمونه پکښي ذکر وي يعني يوه معلومه صيغه وي او يوه مجهوله.

صرف کبير و هغه گردان ته وايي چي ټولي معلومي صيغي پکښي ذکر سوي وي او يا ټولي مجهولي صيغي پکښي ذکر سوي وي.

(١) لکه څنگه چي په دنيا کي يوه خاصه ټولي په خپل منځ کي تعلق سره لري پر هغه باندي د خاندان او قوم اطلاق کيږي داغه رنگه په علم صرفو کي هغه کلمات چي د يو ماخذ څخه مشتق وي او په خپل منځ کي لفظي او معنوي مناسبت سره لري پر هغه باندي د باب اطلاق کول کيږي. او د نورمحمد مدقق رحمة الله عليه په نزد باندي کم مباحث چي د گردان سره تعلق لري و هغه ته باب ويل کيږي؛ ځکه دا مباحث د گردان د پاره په منزله د مدخل او دروازي دئ.

(٢) ليکن دلته يوه بله نکته دا ده چي مطلقا په مجردو کي کثير الاستعمال باب نه دئ مراد، بلکي د هفت اقسامو په اعتبار سره. يعني په صحيح کي چي کم باب کثير الاستعمال وي هغه باب مخکي کيږي، داغه رنگه په مهموز، مثال، اجوف، ناقص، لفيف وغيره کي. (معارف الصرف)

**مجهوله خبره:**

**سوال:** معترض وايي چي تا ويل چي په صرف صغير کي يوه معلومه صيغه ذکر کيږي او يوه مجهوله، نو مصدر دي ولي دوه واره ذکر کړی دئ؟

**جواب:** مصدر هم پر دوه قسمه دئ:

١. مصدر معلوم، معنٰی: (وهل کول).

٢. مصدر مجهول، معنٰی: (وهل کېدل).

**سوال:** په صرف صغير کي د دغه الفاظ فَهُوَ،(١) فَذَاکَ،مِنْهُ، د څه غرض دپاره ذکر کيږي؟

**جواب:** د ربطِ معنوي دپاره.(٢)

**سوال:** د اسم فاعل سره دي "فَهُوَ" د اسم مفعول سره دي "فَذَاکَ" ولي ذکر کړي دي عکس به دي کوئ؟

**جواب:** د هُوَ(٣) ضمير قريب ته راجع کيږي، نو فاعل هم و فعل ته قريب دئ تر مفعول؛ ځکه فعل اول د فاعل څخه صادريږي بيا پر مفعول واقع کيږي او په "فَذَاکَ" سره اشاره و لرِ بعيد(٤) ته کيږي، نو مفعول هم ليري او بعيد دئ د فعل څخه تر فاعل.

**سوال:** د اسم ظرف او اسم آله سره دي مذکر او مونث ولي نه کړه ذکر؟

**جواب:** ظرف او اسم آله منزه دي د تذکير او تانيث څخه.

---

(١) په "فَهُوَ" کي فاء د تعقيب دپاره ده يا د جزاء دپاره ده، تقدير يې داسي راوځي: اِذَاکَانَ کَذٰلِکَ فَهُوَضَارِبٌ.

(٢) په فيوض عثماني شرح د فصول اکبري کي يې ربط معنوي په دې شکل قائم کړی دئ: چي ګويا يو خبر وز کونکی دا خبر ور کوي چي په پخوا زمانه کي يې يو سړی وهلی وو او اوس يا پس د دې څخه به يې ووهي او دا سړی ضَارِبٌ يعني وهونکی دئ. داغه رنګه د آخر ګرادن پوري ربط ور کولای سې. (معارف الصرف)

(٣) مطلقا "هُوَ" ذ اسم فاعل سره او د فَذَاکَ د اسم مفعول سره د ذکر کولو وجه دا ده چي اسم فاعل او اسم مفعول د اسم اقسام دي او اسم مستحق د اعراب دي، نو د دوی څخه مخکي مبتداء راوړل سوه او و دوی ته د خبر مرفوع والا اعراب ور کول سو. (معارف الصرف)

(٤) **اعتراض:** ذَاکَ اسم اشاره د متوسط دپاره راځي او ته وايي د بعيد دپاره راځي؟
**جواب:** "ذَاکَ" نسبتو "ذَا" ته د اشاره بعيد دپاره دئ، ور نه "ذَا" د قريب دپاره "ذَاکَ" د متوسط دپاره او "ذٰلِکَ" د بعيد دپاره راځي. (معارف الصرف)

## صیغ:

| موزون | وزن | سہ اقسام | علامت | شش اقسام | ہفت اقسام | مادہ | صیغہ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مَجَالِسُ | مَفَاعِلُ | اسم | جمع | ثلاثی مجرد | صحیح | ج ل س | جمع مکسر اسم ظرف |
| بَعِيْرٌ | فَعِيْلٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | ب ع ر | اسم جامد |
| مَخَارِجُ | مَفَاعِلُ | اسم | جمع | ثلاثی مجرد | صحیح | خ ر ج | جمع مکسر اسم ظرف |
| وُشِيْتُنَّ | فُعِلْتُنَّ | فعل | تُنَّ | ثلاثی مجرد | لفیف مفروق | و ش ی | جمع مؤنث مخاطبات فعل ماضی مجہول |
| سِلْسِلَةٌ | فِعْلِلَةٌ | اسم | تنوین | رباعی مزید | مضاعف رباعی | س ل س ل | اسم جامد |
| مَوَانِعُ | فَوَاعِلُ | اسم | جمع | ثلاثی مجرد | صحیح | م ن ع | جمع مؤنث مکسر اسم فاعل |
| سُنْبُلَةٌ | فُعْلُلَةٌ | اسم | تنوین | رباعی مزید | صحیح | س ن ب ل | اسم جامد |
| وَاهِيَةٌ | فَاعِلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | لفیف مفروق | و ہ ی | واحد مؤنث اسم فاعل |
| حَنْظَلٌ | فَعْلَلٌ | اسم | تنوین | رباعی مجرد | صحیح | ح ن ظ ل | اسم جامد |
| مَخَارِيْجُ | مَفَاعِيْلُ | اسم | جمع | ثلاثی مجرد | صحیح | خ ر ج | جمع مکسر اسم آلہ وسطی |
| قَنْطَرَةٌ | فَعْلَلَةٌ | اسم | تنوین | رباعی مزید | صحیح | ق ن ط ر | اسم جامد |
| قَسَسْتُمْ | فَعَلْتُمْ | فعل | تم | ثلاثی مجرد | مضاعف ثلاثی | ق س س | جمع مذکر مخاطبین فعل ماضی معلوم |
| كِيْسَةٌ | فِعْلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | اجوف یائی | ک ی س | اسم جامد |
| اَلْمَغْرِبُ | اَلْمَفْعِلُ | اسم | الف لام | ثلاثی مجرد | صحیح | غ ر ب | واحد اسم ظرف |
| خُفَّاشٌ | فُعَّالٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | خ ف ش | اسم جامد |
| مَشْرِقٌ | مَفْعِلٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مجرد | صحیح | ش ر ق | واحد اسم ظرف |
| جِبْهَةٌ | فِعْلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | ج ب ہ | اسم جامد |
| تَحْسَبَانِ | تَفْعَلَانِ | فعل | حرف اثنین | ثلاثی مجرد | صحیح | ح س ب | تثنیہ مؤنث غائبتین فعل مضارع معلوم |
| تَحْسَبَانِ | تَفْعَلَانِ | فعل | حرف اثنین | ثلاثی مجرد | صحیح | ح س ب | تثنیہ مذکر مخاطبین فعل مضارع معلوم |
| تَحْسَبَانِ | تَفْعَلَانِ | فعل | حرف اثنین | ثلاثی مجرد | صحیح | ح س ب | تثنیہ مؤنث مخاطبتین فعل مضارع معلوم |
| لِسَانٌ | فِعَالٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | ل س ن | اسم جامد |
| نَخْلَةٌ | فَعْلَةٌ | اسم | تنوین | ثلاثی مزید | صحیح | ن خ ل | اسم جامد |

## التمرين:

لَا يَشْكُرُوْنَ، فَجَعَلْتُمْ، لَا اَسْئَلُكُمْ، فَعَقَرُوْهَا، عَلَّمَنِيْ، وَجَدُوْا، فَبَدَءَ، حَافِظِيْنَ، اَشُدُّ، لِيَجْزِيَ، اِنْ تَكْفُرُوْا، فَاجْعَلْ، لَايَسْمَعُوْا، شَدِيْدٌ، لَايَسْتَرُ، يَذْرَئُكُمْ، يَجْئَرُوْنَ، اِدْفَعْ، وَلَاتَاْخُذْكُمْ، يَعِظُكُمْ.

## يوولسم سبق:

### په نن سبقه کي څلور خبري دي:

### اوله خبره:

د قانون څخه مخکي د پنځو فوائدو پېژندل ضروري دي:

### اوله فائده:

قانون غير عربي(١) لفظ دئ په لغت کي مِسطرالکتاب(٢) ته يعني هغه آلې ته وايي چي د کتاب ليکي په سېده کيږي، لکه خط کش او (پوته). او په اصطلاح کي ﴿قَاعِدَةٌ كُلِّيَّةٌ مُنْطَبِقَةٌ عَلٰى جَمِيْعِ جُزْئِيَّاتِ مَوْضُوْعِهَا﴾ يعني دا يو قاعده کليه ده چي مشتمله وي پر ټولو جزئياتو د خپلي موضوع، لکه: ﴿كُلُّ فَاعِلٍ مَرْفُوْعٌ﴾.

مناسبت په مابين کي د معنی لغوي او اصطلاحي دادئ: لکه څنګه چي په خط کش (پوته) سره د کتاب ليکي د کوږوالي څخه محفوظي کيږي داغه رنګه د قانون او قاعدې په وجه طالب د جزئياتو او الفاظو د غلطۍ څخه محفوظ کيږي.

### دوهمه فائده:

د قانون اتفاقي مثال د قانون نوم وي.

(١) بعض حضرات وايي: قانون د عبراني ژبي لفظ دئ، بعض وايي: د سرياني ژبي لفظ دئ، بعض وايي: ديوناني ژبي لفظ دئ او بعض وايي: د عربي ژبي لفظ دئ، ليکن صحيح دا ده چي د يوناني ژبي لفظ دئ. (الفوائد الصرفيه)

(٢) يو څو الفاظ داسي دي چي د قانون د لغوي معنی په اعتبار سره مختلف دي. ليکن د اصطلاحي معنی په اعتبار سره ديو رنګه دي. هغه لکه: لفظ د ضابطه، قاعده، اصل، ميزان، کليه او عقد. (تسهيل الارشاد حواله معارف الصرف)

**دريمه فائده:**

د قانون دپاره دوه قسمه حکمونه[1] راځي:

اول: وجوبي.

دوهم: جوازي.

وجوبي هغه حکم دئ چي په يوه طريقه سره عمل په کيږي.

او جوازي هغه حکم دئ چي په مختلفو طريقو سره عمل په کيږي.

**څلورمه فائده:**

د قانون دپاره دوه قسمه شرطونه راځي:

اول: وجودي.

دوهم: عدمي.

وجودي هغه شرط ته ويل کيږي چي په وجود ددئ شرط سره قانون جاري کيږي.

او عدمي هغه شرط دئ چي په عدم ددئ شرط سره قانون جاري کيږي.

وجودي پر دوه قسمه دئ:

اول: وجودي کامل.

دوهم: وجودي ناقص.

وجودي کامل هغه شرط دئ چي په وجود د دا يوه شرط سره قانون جاري کيږي.

وجودي ناقص هغه شرط دئ چي په وجود د دا يوه شرط سره قانون نه جاري کيږي، بلکي وجود د نورو شرطو هم غواړي.

عدمي هم پر دوه قسمه دئ:

اول. عدمي کامل.

دوهم: عدمي ناقص.

---

(1) حکم په معنی د فيصلې سره راځي؛ ځکه د ده په ذريعه سره د قانون د وجوب او د جواز فيصله کيږي، يعني بعض قوانين جوازي دي چي د هغه جاري کول جائز دي ضروري نه دي او بعض وجوبي دي چي د هغه جاري کول ضروري دي. (معارف الصرف)

عدمي كامل هغه شرط دئ چي په عدم د دا يوه شرط سره قانون جاري كيږي.
عدمي ناقص هغه شرط دئ چي په عدم د دا يوه شرط سره قانون نه جاري كيږي، بلكي عدم د نورو شرطو هم غواړي.

## پنځمه فائده:

(۱) د قانون دپاره دوه مثالونه راځي:
اول: اتفاقي.
دوهم: احترازي.
اتفاقي هغه مثال دئ چي د قانون شرطونه پكښي موجود وي، نو ځكه قانون پكښي جاري كيږي.
احترازي هغه مثال دئ چي د قانون شرطونه نه وي پكښې موجود، نو ځكه قانون نه پكښي جاري كيږي.

---

(۱) موږ په دې كتاب كي په قانون باندي د سر خلاصېدو دپاره او په آسانه طريقه د يادولو دپاره اولاً د قانون نوم اېږدو چي د نورو توانينو ځخه را جلا سي، بيا دا قانون په اوو (۷) درجو كي بيانوو:

۱. **اوله درجه**: په اوله درجه كي قانون د فارسي عبارت، معنى او مطلب سره په مختصرو الفاظو كي بيانوو او هغه عنوان ته د "قانون خلاصه" نوم وركوو.
۲. **دوهمه درجه**: په دوهمه درجه كي په قانون كي بعضي خبري داسي وي چي هغه ډيري ضروري وي بغير د هغه ځخه د قانون حكم نه جاري كيږي، نو هغه په تفصيل سره بيانوو، وهغه عنوان ته د "قانون تفصيل" نوم وركوو.
۳. **دريمه درجه**: او پر دريمه درجه كي بعضي مثالونه د وضاحت دپاره ور كوو چي په هغه كي د قانون يو يا دوه يا ټول شرطونه موجود نه وي، نو د قانون حكم نه سي جاري كېدلای، و هغه عنوان ته د "قانون د احترازي مثال" نوم ور كوو.
۴. **څلورمه درجه**: پر څلورم نمبر باندي داسي مثالونه ور كوو چي په هغه كي د قانون ټول شرطونه موجود وي او قانون په كي جاري كيږي، نو و هغه عنوان ته د قانون د "اتفاقي مثال" نوم ور كوو.
۵. **پنځمه درجه**: پر پنځم نمبر باندي د قانون د جاري كېدلو دپاره يو فائده ور كوو چي و هغه ته د "قانون جاري كولو طريقه او مقامونه" نوم وركوو.
۶. **شپږمه درجه**: پر شپږم نمبر باندي د حل شده اجراء دپاره يو څو صيغې ور كوو چي و هغه ته د "جملې" نوم ور كوو.
۷. **اوومه درجه**: پر اووم نمبر باندي د زيات تمرين دپاره يو څو غير حل شده صيغې ور كوو چي و هغه ته د "التمرين" نوم وركوو. (از مرتب عفي عنه)

## (۱) قانون:

اجتماع دو علامت تانيث در فعل مطلقا ممنوع است و در اسم وقتی که از يک جنس باشد.(۱)

### دقانون خلاصه:

اجتماع د دوو علامو د تانيث په فعل کي مطلقامنع ده، د مطلقا مطلب دادئ چي دغه دوې علامې د تانيث خواه د يوه جنس ښخه وي او که د جلا جلا جنسو ښخه وي.
دوې علامې د تانيث د يوه جنس ښخه چي په فعل کي جمع سوي وي د هغه مثال په کلام د عربو کي نسته او چي د جلا جلا جنسو ښخه په فعل کي جمع سوي وي د هغه مثال لکه: "ضَرَبْتَنَ" خو دا هم بيرته "ضَرَبْنَ" کيږي، تاء غورځي.
او په اسم کي که چيري د يوه جنس ښخه وي، نو بيا يې اجتماع منع ده، لکه: "ضَارِبَتٌ" دا په اصل کي "ضَارِبَتَتٌ" وو. دلته دوې علامې د تانيث يعني دوې "تاګاني" د يوه جنس ښخه جمع سوي دي، نو يوه "تا" يې حذف کړه. ليکن که چيري د جلا جلا جنسو ښخه وي بيا يې اجتماع نه ده منع، لکه: "ضُرْبَىٰ" دا صيغه واحده موئثه اسم تفضيل ده. کله چي يې د جمع صيغه ور ښخه جوړول، نو الف مقصوره يې په "يا" سره بدل کړئ، نو "ضُرْبَيَاتٌ" سو او بيا يې

---

(۱) د صرفيانو په نزد باندي علامې د تانيث اته (۸) دي. څلور په فعل او څلور په اسم کي دي.
په فعل کي د تانيث علامې په لاندي ډول دي:
۱. تاء ساکنه، لکه: ضَرَبَتْ.
۲. نون مفتوحه، لکه: ضَرَبْنَ.
۳. تاء متحرکه مکسوره، لکه: ضَرَبْتِ.
۴. ياء ساکنه، لکه: تَضْرِبِيْنَ.
او په اسم کي د تانيث علامې په لاندي ډول دي:
۱. الف مقصوره، لکه: حُبْلیٰ (حامله ښځه)
۲. الف ممدوده زائده، لکه: حَمْرَاءُ (سره ښځه)
۳. تاء متحرکه، لکه: ضَارِبَةٌ.
۴. تاء مقدره، لکه: أَرْض د په اصل کي أَرْضَة وه)

**فائده:**
د الف مقصوره او الف ممدوده فرق دا دئ چي د الف ممدوده نه وروسته همزه راځي او د الف مقصوره نه وروسته همزه نه راځي.

په آخر کي "الف" او "تا" را وړل. نو "ضَرَبَتْ" سو. نو په دې مثال کي "تا" او هغه "يا" چي د الف مقصوره ځخه تبديل شده ده د جلا جلا جنس ځخه دي او اجتماع يې جائز ده.

## د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم د "ضَرَبَنَ" والا قانون دئ.

ددې قانون دپاره يو حکم دئ. چي په فعل کي يې جاري کوې يو شرط يې دئ او چي په اسم کي يې جاري کوې بيا يې دوه شرطونه دي.

حکم يې دادئ چي د دوو علامو د تانيث ځخه يوه حذف کول واجب دي.

په فعل کي يې شرط دا دئ:

۱. اول شرط يې دادئ چي دوې علامې د تانيث به پکښي موجودي وي. احترازي مثال يې لکه: "ضَرَبَتْ".

**اتفاقي مثال:** د "ضَرَبَتْنَ" ځخه "ضَرَبَنَ" ويل واجب دي.

او په اسم کي يې شرطونه دا دي:

۱. اول شرط يې دا دئ چي دوې علامې د تانيث به پکښي موجودي وي. احترازي مثال يې لکه: "ضَارِبَةٌ".

۲. دوهم شرط يې دادئ چي دواړې به د يوه جنس ځخه وي. احترازی مثال يې لکه: "ضَرَبَاتٌ" دلته "يا" بدل د الف مقصوره تانيثي ځخه ده او د تاء د جنس ځخه نه ده.

**اتفاقي مثال:** د "ضَارِبَتَاتٌ" ځخه "ضَارِبَاتٌ" ويل واجب دي.(۱)

---

(۱) **اعتراض:** په "اِثْنَتَاعَشَرَة" کي دوې علامې د تانيث دي، جنس يې هم يو دئ او حکماً هم يوه کلمه ده، نو قانون ولي نه دئ پکښي پکښي جاري سوی؟

**جواب:** "اِثْنَتَا" په اصل کي "اِثْنَيَا" وو، "تاء" په حقيقت کي "ياء" ده، ليکن په عارضي طور باندي "تاء" جوړه سوې ده او د عارضي شي ځه اعتبار نسته.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون په افعالو کي صرف د فعل ماضي معلوم او مجهولي د جمع مؤنث غائبات پر صيغو باندي جاري کيږي لکه: د "ضَرَبْتُنَّ" او "ضُرِبْتُنَّ" ځنځه "ضَرَبْنَ" او "ضُرِبْنَ" ذيل.
او په اسماء کي د اسم فاعل او اسم مفعول او صفت مشبه د جمع مؤنث سالم پر صيغو باندي جاري کيږي هغه خواه که ثلاثي مجرد وي او که مزيد وي رباعي مجرد وي او که مزيد وي لکه: "ضَارِبَاتٌ، مَضْرُوبَاتٌ، مُكْرِمَاتٌ، مُدَحْرِجَاتٌ، مُتَدَحْرِجَاتٌ" او په اسماء جوامد کي په دي شرط جاري کيږي چي په هغه کي "الف" او "تا" زائد وي او په مفرد کي يې "تا" هم موجوده وي لکه: "شَجَرَاتٌ" د "شَجَرَةٌ" ځنځه په اصل کي "شَجَرَتَاتٌ" وه.
او د ثلاثي مزيد فيه د اسم ظرف د جمع صيغه که څه هم په "الف" او "تا" سره راځي لکه: "مُكْرَمَاتٌ" لېکن هلته دا قانون نه جاري کيږي او داغه رنګه د ثلاثي مجردو کمه صيغه چي د "فُعَيْلَةٌ" پر وزن راځي لکه: "ضُرَيْبَاتٌ" په هغه کي هم داغه قانون هيڅ کله نه جاري کيږي.

## (۲) قانون:

اجتماع اربع حرکات متواليات در يک کلمه و حکم وی ممنوع است (۱)

## د قانون خلاصه:

د څلورو حرکتو پرله پسې په يوه کلمه کي جمع کېدل منع دي، خواه حقيقةً يوه کلمه وي يا حکماً، په دواړو کي منع دي.

(۱) حقيقتًا يوه کلمه هغه ده چي واضع خاص د يوې معنى دپاره وضع کړې وي، لکه: "دَحْرَجَ".
او حکماً يوه کلمه هغه ده چي په حقيقت کي دوې کلمې وي او واضع دواړي د جلا جلا معناګانو دپاره وضع کړي وي، لېکن د دوی دواړو په منځ کي دومره شديد اتصال وي چي يو د هغې بلي ځنځه هيڅکله هم نه سي جلا کېدای، لکه: "ضَرَبْنَ". دا په اصل کي د "ضَرَبَ" فعل او "نونِ" فاعل ځنځه مرکب دئ. نو دلته د فعل او فاعل په منځ کي دومره شديد اتصال دئ چي يو د هغه بل ځنځه نه سي جلا کېدلای.

## د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم د "ضَرَبْنَ" دوهم قانون دئ. ددې قانون دپاره يو حکم دئ او درې يې شرطونه دئ.

حکم يې دا دئ چي د يوه حرکت حذف کول واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چي څلور حرکات به وي، احترازي مثال يې لکه: "ضَرَبَ" دلته درې حرکات دي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ چي دا څلور حرکات به پر له پسې وي يعني په منځ کي به يې حرف ساکن نه وي، احترازي مثال يې لکه: "تَدَحْرَجَ" دلته "حَا" ساکنه ده.

۳. دريم شرط يې دا دئ چي دا څلور حرکات به په يوه کلمه کي وي هغه بيا عام تر دې که حقيقتاً يوه کلمه وي که حکماً. احترازي مثال يې لکه: "ضَرَبَكَ"، دا نه حقيقتاً يوه کلمه ده او نه حکماً يوه کلمه ده(۱).

اتفاقي مثال چي حقيقتاً يوه کلمه وي د "دَحْرَجَ" څخه "دَحْرَجَ" ويل واجب دئ.
چي حکماً يوه کلمه وي د "ضَرَبَنَ" څخه "ضَرَبْنَ" ويل واجب دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون د فعل ماضي معلومي او مجهولي د اولو پنځو صيغو څخه علاوه په باقي نه (۹) صيغو کي جاري کيږي يعني د "ضَرَبْنَ" څخه بيا تر "ضَرِبْنَا" پوري او په ثلاثي مجردو کي د اسماء مشتقاتو څخه علاوه د فعل مضارع څخه بيا تر آخري پوري په ټولو صيغو کي جاري کيږي لېکن د اسم ظرف او اسم آله صُغرٰی او وُسطٰی صرف په دوو (۲) صيغو کي او د اسم تفضيل صرف په درو (۳) صيغو کي دا قانون جاري کيږي او په مزيداتو کي صرف د باب تفعلل او افعال، او فعلله پر ټوله باب باندي جاري کيږي خواه اسم وي او که فعل وي او د فعل څخه وروسته چي کله هم ضمير متصل راسي نو د هغه ماقبل ساکن کول د دغه قانون نوم دئ لکه: د "ضَرَبْنَ" او "دَحْرَجَ" څخه "ضَرَبْنَ"

(۱) دا ځکه يوه کلمه نه ده چي دا "کَ" مفعول دئ د "ضَرَبَ" دپاره، نو د مفعول او د فعل په منځ کي شدت اتصال نسته؛ ځکه کله کله مفعول مخکي کېداى هم سي، لکه: "اِيَّاكَ نَعْبُدُ".

"دَحْرَجَ" ويل او په جوا هدو كي چي كله څلور حركات راسي نو هلته هم دغه قانون جاري كيږي لكه: د "جَعْفَرٌ" څخه "جَعْفَرْ" ويل.

## صيغې:

| موزون | وزن | سه اقسام | علامه | شش اقسام | هفت اقسام | قانون | اصل | صيغه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| وَضَمْنَ | فَعَلْنَ | فعل | مبني بر فتح | ثلاثي مجرد | مثال واوي | ضربين ١، ٢ | وَضَمْتَنْ | جمع مؤنث غائبات فعل ماضي معلوم |
| سَائِلَاتٌ | فَاعِلَاتٌ | اسم | تنوين | ثلاثي مجرد | مهموز اللام | ضربين ١ | سَائِلَتٌ | جمع مؤنث سالم اسم فاعل |
| زَلْزَلَ | فَعْلَلَ | فعل | مبني بر فتح | رباعي مجرد | مضاعف رباعي | ضربين ٩ | زَلْزَلَ | واحد مذكر فعل ماضي معلوم |
| دَحْرَجْنَ | فَعْلَلْنَ | فعل | مبني بر فتح | رباعي مجرد | صحيح | ضربين ١، ٢ | دَحْرَجْتَنْ | جمع مؤنث غائبات فعل ماضي معلوم |
| عَالِمَاتٌ | فَاعِلَاتٌ | اسم | تنوين | ثلاثي مجرد | صحيح | ضربين (١) | عَالِمَتٌ | جمع مؤنث سالم اسم فاعل |
| مَمْنُونَاتٌ | مَفْعُولَاتٌ | اسم | تنوين | ثلاثي مجرد | مضاعف ثلاثي | ضربين ١ | مَمْنُونَتَاتٌ | جمع مؤنث سالم اسم مفعول |
| وَزَنَّ | فَعَلْنَ | فعل | مبني بر فتح | ثلاثي مجرد | لفيف مفروق | ضربين ١، ٢ | وَزَيْتَنْ | جمع مؤنث غائبات فعل ماضي معلوم |
| لَاتَحْسِبْ | لَاتَفْعِلْ | فعل | حروف اتين | ثلاثي مجرد | صحيح | ضربين (٢) | لَاتَحْسِبُ | واحده مؤنثه غائبه فعل نهي معلوم |
| مَنَعْنَ | فَعَلْنَ | فعل | نون مفتوحه | ثلاثي مجرد | صحيح | ضربين ١، ٢ | مَنَعْتَنْ | جمع مؤنث غائبات فعل ماضي معلوم |
| اِنْصَدْنَ | اِنْفَعَلْنَ | فعل | مبني بر فتح | ثلاثي مزيد | صحيح | ضربين ١، ٢ | اِنْصَدَتْنَ | جمع مؤنث غائبات فعل ماضي معلوم |
| جَلَلْنَ | فَعَلْنَ | فعل | مبني بر فتح | ثلاثي مجرد | مضاعف ثلاثي | ضربين ١، ٢ | جَلَلْتَنْ | جمع مؤنث غائبات فعل ماضي معلوم |
| نَاصِرَاتٌ | فَاعِلَاتٌ | اسم | تنوين | ثلاثي مجرد | صحيح | ضربين (١) | نَاصِرَتٌ | جمع مؤنث سالم اسم فاعل |
| جَعَلْتُمْ | فَعَلْتُمْ | فعل | تم | ثلاثي مجرد | صحيح | ضربهم وانتم | جَعَلْتُمُوا | جمع مذكر مخاطبين فعل ماضي معلوم |
| كَوْكَبٌ | فَوْعَلٌ | اسم | تنوين | ثلاثي مزيد | مضاعف ثلاثي | ضربين (٢) | كَوْكَبٌ | اسم جامد |
| سَمِعْنَ | فَعِلْنَ | فعل | مبني بر فتح | ثلاثي مجرد | صحيح | ضربين ١، ٢ | سَمِعْتَنْ | جمع مؤنث غائبات فعل ماضي معلوم |
| دَعَوْنَ | فَعَلْنَ | فعل | مبني بر فتح | ثلاثي مجرد | ناقص واوي | ضربين ١، ٢ | دَعَوْتَنْ | جمع مؤنث غائبات فعل ماضي معلوم |
| وُجِيْنَ | فُعِلْنَ | فعل | مبني بر فتح | ثلاثي مجرد | لفيف مفروق | ضربين ١، ٢ | وُجِيْتَنْ | جمع مؤنث غائبات فعل ماضي معلوم |
| عُلَمَاءُ | فُعَلَاءُ | اسم | جمع | ثلاثي مجرد | صحيح | + | + | جمع مذكر مكسر اسم فاعل |
| كُفْرَانٌ | فُعْلَانٌ | اسم | تنوين | ثلاثي مجرد | صحيح | + | + | اسم مصدر |
| يَفْرِقُوْنَ | يَفْعِلُوْنَ | فعل | حروف اتين | ثلاثي مجرد | صحيح | ضربين (٣) | يَفْرِقُوْنَ | جمع مذكر غائبين فعل مضارع معلوم |
| مَسْجِدٌ | مَفْعِلٌ | اسم | تنوين | ثلاثي مجرد | صحيح | اسم ظرف | مَسْجِدٌ | اسم ظرف |

## التمرين:

وَقَصَنَ، رَاضِيَاتٌ، يَضْرِبُ، مَقْبَرَةٌ، صَرْصَرٌ، جَمِيْلَاتٌ، سَلْسَلْنَ، يَجْلُوْنَ، صَفْصَفٌ، نَلْزِمُ، مُقَرْطَقَاتٌ، اَوْجَبْنَ، يَوْسِرْنَ، يُخْلِقُوْنَ، تَبْعَثُ، اَيْسَرْنَ، جَالِسَاتٌ، جَرَيْنَ، يَجْلِسُ، اِسْتَكْبَرْنَا.

# (۳) قانون:

هر واوی که واقع شود در آخر اسم غیر متمکن ما قبلش مضموم آن واو را حذف کنند وجوبا، مگر واو هُوَ.(¹)

## د قانون خلاصه:

هر واو چي د اسم غير متمكن په آخر كي واقع سي او د ده ما قبل مضموم وي، نو هغه "واو" حذف كول واجب دي، مگر نه "واو" د "هُوَ".

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم د "ضَرَبْتُمُو لَنْتُمُ" وَالا قانون دئ.
د دې قانون د پاره يو حكم دئ او شپږ يې شرطونه دي.
حكم يې دا دئ چي "واو" حذف كول او ماقبل د "واو" ساكن كول واجب دي.

١. اول شرط يې دا دئ چي "واو" به وي، احترازي مثال: "حَيٌّ، مئٌ" دلته "واو" نسته.
٢. دوهم شرط يې دا دئ چي په آخر كي به وي، احترازي مثال: "اَنْزَلْتُمُوهُ".
٣. دريم شرط يې دا دئ چي په آخر د اسم كي به وي، احترازي مثال: "يَدْعُوَا".
۴. څلورم شرط يې دا دئ چي په آخر د اسم غير متمكن كي به وي، احترازي مثال: "دَلْوٌ".
۵. پنځم شرط يې دا دئ چي د "واو" ماقبل به مضموم وي، احترازي مثال: "ضَرَبَتُو، رَمَوْ".
٦. شپږم شرط يې دا دئ چي كلمه به تر قدرِ صالح نه وي كمه، احترازي مثال: "هُوَ".
اتفاقي مثال: د "ضَرَبْتُمُوا" او "اَنْتُمُوا" څخه "ضَرَبْتُمْ" او "اَنْتُمْ" ويل واجب دي.

---

(¹) دغه قانون په ضمائرو او د ماضي معلوم او مجهول په جمع مذكر مخاطب صيغو كي جاري كيږي.
اسم متمكن (يعني معرب) هغه دئ چي د عامل عمل قبول كړي. لكه: "جَاءَنِيْ زَيْدٌ، وَرَأَيْتُ زَيْدًا وَمَرَرْتُ بِزَيْدٍ".
اسم غير متمكن (يعني مبنى) هغه دئ چي د عامل عمل نه قبلوي. لكه: "جَاءَنِيْ هٰؤُلَاءِ، رَأَيْتُ هٰؤُلَاءِ، وَمَرَرْتُ بِهٰؤُلَاءِ".
په "فَكَرِهْتُمُوهُ" او "اَنْزَلْتُمُوهُ" كي د قانون د شرطو د موجود والي په صورت كي هم قانون نه دئ جاري سوى هغه ځكه چي په دغو كلمو كي "واو" حقيقة په آخر كي نه دئ. بلكه د ده څخه وروسته د "ه" ضمير دئ.

**فائده:**

بعض حضرات وايي: چي د ماضي مجهولي اوله صيغه د فعل ماضي معلومي څخه جوړ ده او هغه نوري صيغې ټولې د دا غه صيغې څخه جوړيږي.

او بعض حضرات وايي: چي د فعل ماضي مجهولي مفردي صيغې د فعل ماضي معلومي څخه جوړيږي او هغه نوري صيغې بيا د دا غه خپلو مفرداتو څخه جوړيږي.

او بعض حضرات وايي: چي د فعل ماضي مجهولي ټولي صيغې د فعل ماضي معلومي څخه جوړيږي. والمضارع المجهول على هذا القياس فتأمل.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په اسم غير متمكن كي جاري كيږي او همېشه په هغه ضمير كي جاري كيږي چي پر جمع مذكر باندي دلالت كوي خواه كه هغه ضمير مرفوع متصل وي او كه غير متصل وي لكه: "اَنْتُمْ" خواه كه منصوب متصل وي لكه: "ضَرَبْتُكُمْ" او كه منفصل وي لكه: "اِيَّاكُمْ" خواه كه مجرور بالجاروي لكه: "عَلَيْكُمْ" او كه مجرور بالاضافت وي لكه: "غُلَامُكُمْ" او دا قانون د اسم معرب په صيغو كي هيڅكله نه جاري كيږي.

## (۴) قانون:

*در هر ماضي مجهول حروف متحرکه را حرکت ضمه و ماقبل آخر را حرکت کسره میدهند و باقی بر حال خود میدارند وجوبا.*[۱]

---

(۱) په كلام د عربو كي ټول دوه ويشت (۲۲) بابونه استعماليږي:
شپږ (۶) د ثلاثي مجردو.
دوولس (۱۲) د ثلاثي مزيد فيه دي.
يو (۱) د رباعي مجرد دئ.
دري (۳) د رباعي مزيد فيه دي.
او دا قانون صرف د لسو بابو پر ماضي مجهول باندي جاري كيږي په هغه كي شپږ د ثلاثي مجرد او يو د رباعي مجرد او باب انفعال، تفعيل، او مفاعله شامل وي.
او د ماضي مجهولي د باقي بابو دپاره مصنف رحمه الله د ثلاثي مزيد فيه په قوانينو كي دوه قانونه بيان كړي دي: د درو بابو دپاره يو قانون او د نهو بابو دپاره بل قانون. (تسهيل الارشاد)

### د قانون خلاصه:

په هره ماضي مجهوله کي حروف متحرکهٔ ته حرکت د ضمې ورکول او ماقبل آخر ته حرکت د کسرې ورکول او باقي پر خپل حال پرېښول واجب دي.

### د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم د "ماضي مجهول" والا قانون دئ.

ددې قانون د پاره يو حکم دئ او يو يې شرط دئ.

حکم يې دادئ چي حروف متحرکهٔ ته حرکت د ضمې ورکول او ماقبل آخر ته حرکت د کسرې ورکول واجب دي.

۱. اول شرط يې دادئ چي د ماضي مجهولي د جوړېدو اراده به دي کړې وي. احترازي مثال: "ضَرَبَ" چي کله دَی نه وي کړې.
اتفاقي مثال: د "ضَرَبَ" څخه "ضُرِبَ" ويل واجب دي.

### د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون د ماضي مجهولي پر ټولو صيغو باندي جاري کيږي خواه که خودي پر فا کلمه باندي ضمه وي لکه: "ذُكِرَ" او که د "فا" کلمې څخه پر مخکني حرف باندي ضمه وي لکه: "اُكْرِمَ" او که د "فا" کلمې څخه پر وروسته والا حرف باندي ضمه وي لکه: "وُلْكُتِبَ" په دې ټولو صورتو کي د ماضي مجهولي والا قانون جاري کيږي خواه مجرد وي او که مزيد وي ثلاثي وي او که رباعي وي.

## (۵) قانون:

در هر مضارع مجهول حرف اول را ضمه وما قبل آخر را فتحه ميدهند وجوبا، بشرطيکه در مضارع معلوم ضمه و فتحه نباشد، و باقي صيغها را بر معلوم قياس بايد کرد.

## د قانون خلاصه:

د هري مضارع مجهولي د جوړولو په وخت کي حرف اول ته حرکت د ضمې او ماقبل آخر ته حرکت د فتحې ورکول واجب دئ، په دې شرط چي په مضارع معلوم کي به د دې ځخه مخکي ضمه او فتحه نه وي راغلې. او باقي صيغې پر مضارع معلوم باندي قياسول په کار دي.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم دئ "مضارع مجهولي" والا قانون.

د دې قانون د پاره يو حکم دئ او يو يې شرط دئ.

حکم يې دا دئ چي حرف اول ته ضمه او ماقبل آخر ته فتحه ورکول واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چي د مضارع مجهولي د جوړېدو اراده به دي کړې وي، احترازي مثال: "يَضْرِبُ" چي کله دي اراده نه وي کړې.

اتفاقي مثال: د يَضْرِبُ ځخه يُضْرَبُ ويل واجب دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

د ماضي مجهولي ځخه علاوه باقي په ټولو افعالو مجهولو کي دغه قانون جاري کيږي خواه که مجرد وي او که مزيد وي خواه که جحد وي او که نفي، امر وي او که نهي وي پر ټولو باندي جاري کيږي.

## (٦)قانون:

هر اسم فاعل ثلاثی مجرد غالباً بر وزن فاعل می آید و از غیر ثلاثی مجرد بر وزن فعل مضارع معلوم آن باب می آید، میم مضمومه بجای حرف اتین کسره دادن ما قبل آخر اگر نه باشد و تنوین تمکن در آخرش در آورند وجوباً.(۱)

(۱) په قانون کي يې د غالب لفظ ځکه ذکر کړی دئ چي د ثلاثي مجرد د بعضو بابو اسم فاعل د "فاعِلٌ" پر وزن نه راځي، بلکه د صفت مشبه پر وزن راځي، لکه د شَرُفَ يَشْرُفُ او د خَبُثَ يَخْبُثُ د بابو ځخه اسم فاعل نه راځي. بلکه صفت مشبه راځي يعني "شَرِيفٌ" او "خَبِيثٌ" راځي.

## د قانون خلاصه:

د ثلاثي مجردو د هر باب اسم فاعل غالبا پر وزن د "فَاعِلٌ" راځي او د ثلاثي مجردو څخه ماسوا هر اسم فاعل د هغه باب د مضارع معلومي پر وزن راځي ليکن د لږ تغير سره، هغه تغير دادئ چي پر ځای د حروف اتين ميم مضمومه او ماقبل آخر ته حرکت د کسرې ورکول که چيري ددې څخه مخکي کسره موجوده نه وه او تنوين تمکن علامه د اسم په آخر کي راوړل واجب دي.

## د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم دئ د "اسم فاعل" والا قانون:

ددې قانون دپاره دوه حکمه دئ او د هر حکم دپاره يو يو شرط دئ.

۱. اول حکم يې دادئ چي اسم فاعل پر وزن د "فَاعِلٌ" ويل واجب دي.
شرط يې دادئ چي باب به د ثلاثي مجردو وي، احترازي مثال: يُكْرِمُ.
اتفاقي مثال: د يَضْرِبُ څخه ضَارِبٌ ويل واجب دي.

۲. دوهم حکم يې دادئ چي اسم فاعل د داغه باب د فعل مضارع معلومي پر وزن ويل واجب دي، خو ميم مضمومه به پر ځای د حرف اتين راوړل کيږي او ماقبل آخر ته به کسره ورکول کيږي که د مضارع ماقبل آخر کسره نه درلودل(۱) او په آخر کي به تنوين تمکن راوړل کيږي.
شرط يې دادئ چي باب به د ثلاثي مجردو څخه نه وي، احترازي مثال يې لکه: يَضْرِبُ
اتفاقي مثال: د يُكْرِمُ څخه مُكْرِمٌ ويل واجب دي.

---

ار کله کله اسم فاعل د غير "فَاعِلٌ" پر وزن باندي څکه راځي چي هلته د مبالغې معنی مقصود وي. لکه: د [illegible] د باب څخه صفت مشبه نه راځي، بلکه اسم فاعل د مبالغې دپاره راځي. يعني "عَلِيْمٌ" ځکه دا باب متعدي دئ او صفت مشبه د لازمي د باب څخه راځي.

(۱)چي د مضارع ماقبل آخر کسره نه لري هغه درې بابونه دي:

اول: تَفَعُّل.

دوهم: تَفَاعُل.

دريم: تَفَعْلُل.

## د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه:

دغه قانون صرف د اسم فاعل پر شپږو قیاسي صیغو باندې جاري کیږي پر سماعي صیغو باندې نه جاري کیږي.

### صیغې:

| موزون | وزن | سه اقسام | شش اقسام | هفت اقسام | صیغه | تعلیل | اصل | نظیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| خاجِیٌ | فَاعِلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | ناقص یائي | واحد مذکر اسم فاعل | اسم فاعل | خَاجِيٌ | ضَارِبٌ |
| یَمُدُّونَ | یَفْعَلُونَ | فعل | ثلاثي مجرد | صحیح | جمع مذکر غائبین فعل مضارع | مضارع مجهول | یَمْدُدُونَ | یُضْرَبُونَ |
| وُقِیتَا | فُعِلْتَا | فعل | ثلاثي مجرد | لفیف مفروق | تثنیه مذکر مخاطبین فعل ماضي | ماضي مجهول | وُقِیتُمَا | ضُرِبْتُمَا |
| مَنْصُونَاتٌ | مَفْعُولَاتٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحیح | جمع مؤنث سالم اسم مفعول | ضرورت شعري | مَنْصُونَاتٌ | مَضْرُوبَاتٌ |
| آتَنْتُمْ | فَعَلْتُمْ | فعل | ثلاثي مجرد | مهموز فاء | جمع مذکر مخاطبین ماضي معلوم | ضربتم اتم | آتَنْتُمُو | ضَرَبْتُمْ |
| کُنْتُمْ | فَعَلْتُمْ | فعل | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | جمع مذکر مخاطبین ماضي معلوم | ضربتم اتم | کَوَنْتُمُو | ضَرَبْتُمْ |
| یُوْنَنُ | یُفْعَلُ | فعل | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | واحد مذکر فعل مضارع مجهول | مضارع مجهول | یُوْنَنُ | یُضْرَبُ |
| هَزَمْتُمْ | فَعَلْتُمْ | فعل | ثلاثي مجرد | صحیح | جمع مذکر مخاطبین فعل ماضي | ضربتم اتم ضربتموهم | هَزَمْتُمُوا | ضَرَبْتُمْ |
| مَخْفُوظٌ | مَفْعُولٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحیح | واحد مذکر اسم مفعول | اسم مفعول | مَخْفُوظٌ | مَضْرُوبٌ |
| شَامِتَاتٌ | فَاعِلَاتٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحیح | جمع مؤنث سالم اسم فاعل | ضرورت شعري | شَامِتَاتٌ | ضَارِبَاتٌ |
| سَاکِنُونَ | فَاعِلُونَ | اسم | ثلاثي مجرد | صحیح | جمع مذکر سالم اسم فاعل | اسم فاعل | × | ضَارِبُونَ |
| صَارِمٌ | فَاعِلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحیح | واحد مذکر اسم فاعل | اسم فاعل | صَارِمٌ | ضَارِبٌ |
| مَظْلُومٌ | مَفْعُولٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحیح | واحد مذکر اسم مفعول | اسم مفعول | یُظْلَمُ | مَضْرُوبٌ |
| عَالِمُوا مِصْرَ | فَاعِلُونَ | اسم | ثلاثي مجرد | صحیح | جمع مذکر سالم اسم فاعل | نون تثنیه جمع | عَالِمُونَ | ضَارِبُونَ |
| یُحْسَبُ | یُفْعَلُ | فعل | ثلاثي مجرد | صحیح | واحد مذکر غائب فعل مضارع | مضارع مجهول، ضربن وهم | یَحْسِبُ | یُضْرَبُ |
| یُفْرَحُونَ | یُفْعَلُونَ | فعل | ثلاثي مجرد | صحیح | جمع مذکر غائبین فعل مضارع | مضارع مجهول ضربن وهم | یَفْرَحُونَ | یُضْرَبُونَ |
| وَالِمَةٌ | فَاعِلَةٌ | اسم | ثلاثي مجرد | مثال واوي | واحد مؤنث اسم فاعل | اسم فاعل | وَالِمَةٌ | ضَارِبَةٌ |
| مِنْ مَارِجٍ | مِنْ فَاعِلٍ | اسم | ثلاثي مجرد | صحیح | واحد مذکر اسم فاعل | اسم فاعل بے علون | یَمْرِجُ | ضَارِبٌ |
| مَلْعُونٌ | مَفْعُولٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحیح | واحد مذکر اسم مفعول | اسم مفعول | یُلْعَنُ | مَضْرُوبٌ |
| آتٍ | فَاعِلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | کلاه | واحد مذکر اسم فاعل | اسم فاعل | آتِيٌ | ضَارِبٌ |
| لُوِمْتُمْ | فُعِلْتُمْ | فعل | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | جمع مذکر مخاطبین ماضي مجهول | ضربتم اتم | لُوِمْتُمُو | ضُرِبْتُمْ |

## التمرين:

لِنْ لِّئِنْتُمْ، يَكِيْتُمَا، فَيْئَنْكُمْ، صَيْدَنَ، جَاهِلٌ، مُنْقَلِبٌ، مُجْرِمَاتٌ، اِلَيْكُمْ، جُبِلَ، مُلْحِدُوْنَ، مُيْمِنَ، جُبِلْتَ، مُذْبَلِيْنَ، قُلُوْبُهُمْ، اُعْلِنْتُمْ، يَمْنُتُمْ، مُمْلِيَّانِ، خُذِيْ، لَتُوَفَّنَّتُمْ، صُوْحِبْنَ، تُحَاسَبْنَ، لَاُوْتَيَنَّ، يَتَزَنْدَقُ، يُبْصِرُوْنَهُمْ، يُشْرَبُ.

## (۷)قانون:

هر مده زائده که واقع شود در مفرد مکبّر بدوم جای وقت بنا کردن جمع اقصی و تصغیر آن را بواو مفتوحه بدل کنند وجوباً.

### د قانون خلاصه:

هر مده زائده چي په مفرد مکبر کي پر دوهم ځای واقع سي، نو د جمع اقصی او تصغیر جوړولو په وخت کي هغه مده زائده په "واو" مفتوحه سره بدلول واجب دي.

### د قانون تفصیل:

ددې قانون نوم دئ "مده زائده" والا قانون.
ددې قانون د ویلو څخه مخکي د څو فائدو پېژندل ضروري دي:

### اوله فائده:

حروف علت ته صرفیان درې نومان ورکوي:

۱. علت تام ورته وايي، چي مطلق حرف علت راسي په هره طریقه چي وي.
۲. مده ورته وايي، په هغه وخت کي چي دوی ساکن وي د ماقبل حرف حرکت د دوی د جنس څخه وي، لکه: اُوْتِيَا.
۳. لین ورته وايي، په هغه وخت کي چي دوی ساکن وي د ماقبل حرف حرکت د دوی د جنس څخه نه وي، لکه: خَوْفٌ او صَيْفٌ.

## دوهمه فائده:

جمع منتهی الجموع و هغې جمع ته وايي چې په جمعيت کې انتها ته رسېدلې وي (په يوه وار وي لکه: مَسَاجِدُ او که په دوه واره وي لکه: "أَكَالِبُ" چې جمع د "أَكْلُبُ" ده، "أَكْلُبُ" جمع د "كَلْبٌ" ده، بل وار نه جمع کېږي.

او د جمع منتهی الجموع پنځه نومان دي:

۱. جمع اقصی.
۲. جمع منتهی الجموع.
۳. جمع الجموع.
۴. جمع غير منصرف.
۵. جمع مؤنثه مکسره د فاعل.

## د جمع منتهی الجموع د جوړولو طريقه:

د جمع منتهی الجموع جوړولو طريقه داده چې اول او ثاني حرف به يې مفتوح وي، دريم ځای به الف د جمع وي او د الف د جمع وروسته کله يو حرف وي، کله دوه حرفه وي او کله درې حرفه وي، کچيرې يو حرف وُ هغه به مشدد وي په طبق د عامل سره به چليږي، لکه: "دَوَابُّ"، که دوه حرفه وه، نو اول به مکسور وي او دوهم به په طبق د عامل سره چليږي لکه: "مَسَاجِدُ" او که درې حرفه وه، نو اول به مکسور وي، دوهم به ساکن وي او دريم به په طبق د عامل سره چليږي لکه: "مَفَاتِيحُ".

د جمع اقصی د پاره په کلام عربي کې زيات مستعملېدونکي اوزان پنځه دي:([1])

---

([1]) د جمع اقصی اوزان نه (۹) دي:

۱. ضَرَائِبُ بر وزن فَعَائِلُ. ۲. أَوَامِرُ بر وزن فَوَاعِلُ. ۳. أَرَاهِطُ بر وزن أَفَاعِلُ.
۴. أَنَاعِيمُ بر وزن أَفَاعِيلُ. ۵. مَخَابِسُ بر وزن مَفَاعِلُ. ٦. مَطَالِيبُ بر وزن مَفَاعِيلُ.
۷. تَبَعُ بر وزن فَعَالُ. ۸. دَوَالِيبُ بر وزن فَوَاعِيلُ. ۹. أَقَاوِيلُ بر وزن فَعَالِيلُ.

او کله کله د جمع اقصی په آخر کې "تا" راځي. لکه: مَلَائِكَة. (شرح) او کله کله د الف څخه وروسته د تخفيف د کولو په وجه "يا" په "الف" سره بدليږي. لکه: د "دَعَاوِي" څخه "دَعَاوَى" ويل. (رضی)

۱. مَفَاعِلُ، لکه: مَحَاسِنُ.

۲. مَفَاعِيْلُ، لکه: مَيَادِيْنُ.

۳. أَفَاعِلُ، لکه: أَرَاهِطُ.

۴. أَفَاعِيْلُ، لکه: أَبَاطِيْلُ.

۵. فَوَاعِلُ، لکه: أَوَامِرُ.

## دریمه فائده:

تصغير و دې ته وايي چي کله په يو اسمِ مکبر کي څه تغير راولې د يو غرض دپاره، هغه غرض کله کله قلت وي، لکه: د "ضَارِبٌ" څخه "ضُوَيْرِبٌ" ويل، کله کله حقارت وي، لکه: د "رَجُلٌ" څخه "رُجَيْلٌ" ويل، کله کله شفقت وي، لکه: د "إِبْنٌ" څخه "بُنَيٌّ" ويل او کله کله عظمت وي، لکه: د "قُرَيْشٌ" څخه "قُرَيْشٌ" ويل.

## د تصغير جوړولو طريقه:

د تصغير جوړولو طريقه داده چي اول حرف به يې مضموم وي، دوهم حرف به يې مفتوح وي، دريم ځای به "يا" د تصغير وي او د "يا" د تصغير وروسته کله يو حرف وي، کله دوه حرفه وي او کله درې حرفه وي، نو کچيري يو حرف وُ هغه به په طبق د عامل سره چليږي، لکه: "رُجَيْلٌ"، که دوه حرفه وه، نو اول به مکسور وي او دوهم به په طبق سره د عامل چليږي، لکه: "ضُوَيْرِبٌ" او که درې حرفه وه: نو اول به مکسور وي، دوهم به مفتوح وي او دريم به په طبق د عامل سره چليږي، لکه: "ضُوَيْرِبَةٌ".

## د قانون تفصيل:

ددې قانون دپاره يو حکم دئ او شپږ يې شرطونه دي.

حکم يې دادئ چي مده زائده به "واو" مفتوحه سره بدلوله کيږي.

۱. اول شرط يې دادئ چي مده به وي، احترازي مثال: خوف او سيف.

۲. دوهم شرط يې دا دئ چي زائده به وي، احترازي مثال: بَابٌ، بِئرٌ او بُوسٌ.

۳. دريم شرط يې دا دئ چي په مفرد كي به وي احترازي مثال "ضَارِبَانِ، ضَارِبُونَ".

۴. څلورم شرط يې دا دئ چي په مكبر كي به وي احترازي مثال لكه: "ضَارِبٌ، ضُوَيرِبٌ".

۵. څلورم شرط يې دا دئ چي په دوهم ځاى كي به راغلى وي، احترازي مثال: "ضَرِبٌ".

٦. پنځم شرط يې دا دئ چي اراده د جمع اقصى او تصغير د جوړولو به دي كړې وي، احترازي مثال: "ضَارِبٌ" او "ضَارِبَةٌ" چي اراده دي نه وي كړې.

د "الف" اتفاقي مثال: د "ضَارِبٌ" او "ضَارِبَةٌ" څخه "ضَوَارِبُ" او "ضُوَيرِبٌ او ضُوَيرِبَةٌ" ويل واجب دي.

د "يا" مثال: د "ضِيَرَابٌ" څخه "ضَوَارِبُ" او "ضُوَيرِبٌ" ويل واجب دي.

د "واو" مثال: د "عَوَمَارٌ" څخه "عَوَامِرُ" او "عُوَيمِرٌ" ويل واجب دي.

**سوال**: "الف" او "يا" خو به په "واو" سره بدل سي "واو" څنګه په "واو" سره بدليږي، دا خو ابدال د شي دي په خپل نفس سره او ابدال د شي په خپل نفس سره باطل دئ؟

**جواب**: ابدال پر دوه قسمه دي يو ابدال د يو ه ذات دئ په بل ذات سره لكه د "ضَارِبَةٌ" "الف" د "ضِيَرَابٌ" "يا" په "واو" مفتوحه سره او دوهم ابدال د يوه صفت دئ په بل صفت سره، لكه د "عَوَمَارٌ" د "واو" د سكون صفت په "عَوَامِرُ" كي په حركت سره بدل سوى دئ. "فَلَاتَرِدُ مَاوَرَدَ".

## د قانون جاري كولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په اسماء كي جاري كيږي په افعالو كي نه جاري كيږي او په اسماء مشتقاتو كي صرف د ثلاثي مجردو د اسم فاعل پر دري صيغو باندي همېشه جاري كيږي لكه: "ضَوَارِبُ، ضُوَيرِبٌ، ضُوَيرِبَةٌ" او په اسماء جوامدو كي په دې شرط جاري كيږي چي مده زائده به په مفرد كي پر دوهم ځاى باندي وي لكه: د "عَوَمَارٌ" څخه "عَوَامِيرُ، عُوَيمِيرٌ" ويل، او په اسماء جوامدو كي د دري حرفي اسم تصغير د "فُعَيلٌ" پر وزن راځي لكه: "رُجَيلٌ" او د څلور حرفي اسم تصغير د "فُعَيلِلٌ" پروزن راځي لكه: "جُعَيفِرٌ".

## (٨)قانون:

بر اسم مفعول از ثلاثی مجرد بر وزن مفعول می آید و از غیر ثلاثی مجرد بر وزن فعل مضارع مجهول آن باب می آید بآوردن میم مضموم بجای حرف اتین و تنوین تمکن در آخرش در آرند.

### د قانون خلاصه:

د ثلاثي مجرد هر اسم مفعول د "مَفْعُوْلٌ" پر وزن راځي، لکه: د ضَرَبَ يَضْرِبُ د باب څخه "مَضْرُوْبٌ"، د نَصَرَ يَنْصُرُ د باب څخه "مَنْصُوْرٌ"، د عَلِمَ يَعْلَمُ د باب څخه "مَعْلُوْمٌ"، د مَنَعَ يَمْنَعُ د باب څخه "مَمْنُوْعٌ" او د حَسِبَ يَحْسِبُ د باب څخه "مَحْسُوْبٌ" ويل.

مگر د شَرُفَ يَشْرُفُ د باب څخه اسم مفعول نه راځي؛ ځکه هغه لازمي باب دئ، که چيرې متعدي سي بيا راتلای سي.

او د غيرثلاثي مجردو څخه اسم مفعول د هغه باب د فعل مضارع مجهول پر وزن راځي، ليکن د لږ تغير سره، هغه داچي د ميم مضمومه پر ځای حروف اتين راوړل او تنوين تمکن علامه د اسم په آخر کي راوړل، لکه: د "يُكْرَمُ" څخه "مُكْرَمٌ" او د "يُدَحْرَجُ" څخه "مُدَحْرَجٌ" او د يَتَدَحْرَجُ څخه "مُتَدَحْرَجٌ" ويل.

### د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم د "اسم مفعول" والا قانون دئ.

ددې قانون دپاره دوه حکمه دي او د هر حکم دپاره يو يو شرط دئ.

1. اول حکم يې دادئ چي اسم مفعول پر وزن د "مَفْعُوْلٌ" ويل واجب دئ.
   او شرط يې دادئ چي باب به د ثلاثي مجرد وي، احترازي مثال: يُكْرَمُ.
   اتفاقي مثال: د يَضْرِبُ څخه "مَضْرُوْبٌ" ويل واجب دي.
2. دوهم حکم يې دادئ چي اسم مفعول د داغه باب د فعل مضارع مجهول پر وزن راځي وجوباً او ميم مضمومه به پر ځای د حرف اتين راوړل کيږي او په آخر کي به تنوين راوړل کيږي.

او شرط يې دا دئ چې باب به د ثلاثي مجردو نه وي[1]، احترازي مثال: يُضْرَبُ.
اتفاقي مثال: د يُكْرَمُ څخه "مُكْرَمٌ" ويل واجب دي.

## د قانون جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف د اسم مفعول پر شپږو قياسي صيغو پاندي جاري کيږي پر سماعي باندي نه جاري کيږي.

## (۹) قانون:

*هر نون تنوين وقت دخول الف لام و اضافت حذف کرده شود و نون تثنيه و جمع در وقت اضافت حذف کرده شود وجوبا. (۲)*

## د قانون خلاصه:

هر نون تنوين په وخت د دخول د الف لام او اضافت کي حذف کيږي او نون تثنيه او جمع صرف په اضافت کي حذف کيږي وجوباً.

## د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم "نون تنوين، نون تثنيه او نون جمع" والا قانون دئ.
ددې قانون دپاره يو حکم دئ او په نون تنوين کي چې جاري کيږي دوه شرطونه يې دي، او په نون تثنيه او نون جمع کي چې جاري کيږي يو شرط يې دئ، خو شرطونه يې ټول کامل دي.
حکم يې دا دئ چې نون تنوين او نون تثنيه او نون جمع حذف کول واجب دئ.

---

[1] په دې شرط سره د ثلاثي مجردو څخه ماسوا ټول بابونه داخل سوه: که ثلاثي مزيد فيه دي. که رباعي مجرد دي او که رباعي مزيد فيه دي.

[2] نون تنوين او نون تثنيه او جمع د اضافت په وجه او د الف لام تعريف د داخلولو په وجه څکه غورځول کيږي چې تنوين علامه د نکارت (نکره) ده او اضافت او الف لام علامه د معرفت ده. نو اجتماع د ضدينو لازميږي. او دغه رنګه د مضاف او مضاف اليه په مينځ کي شديد اتصال دئ: نو څکه په تثنيه او جمع کي نون د سيغه غورځي چې اتصال باقي پاته سي. (صرف بهائي)

## د نون تنوين شرطونه:

۱. اول شرط يې دادئ چې په کمه کلمه کې نون تنوين راغلی وي الف لام به پر داخل سوی وي، احترازي مثال: خَنَدٌ.
اتفاقي مثال: اَلخَنَدَ.

۲. دوهم شرط يې په نون تنوين کې دادئ چې په کمه کلمه کې نون تنوين راغلی وي اضافت به يې و بلې کلمې ته سوی وي احترازي مثال: غُلَامٌ.
اتفاقي مثال: غُلَامُ زَيْدٍ.

## د نون تثنيه او جمع شرط:

په نون تثنيه او نون جمع کې يې شرط دادئ چې په کمه کلمه کې نون تثنيه او نون جمع راغلی وي د هغه کلمه اضافت به و بلې کلمې ته سوی وي، احترازي مثال: ضَارِبَانِ ضَارِبُوْنَ.
اتفاقي مثال: ضَارِبَا زَيْدٍ، ضَارِبُوْ زَيْدٍ، مُسْلِمُوْا مِصْرٍ.

## د قانون جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په اسماء کې جاري کيږي په افعالو کې نه جاري کيږي.

## صيغې:

| موزون | وزن | سه اقسام | شش اقسام | هفت اقسام | صيغه | قانون | اصل | نظير |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| قَوَارِيرَ | فَوَاعِلَ | اسم | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | جمع منتهى الجموع | دغه قانون | قَارِرٌ | ضَوَارِبَ |
| كَرُمْتُمْ | فَعُلْتُمْ | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | جمع مذكر حاضر ماضي | ضم شم انتم | كَرُمْتُمُوا | شَرُفْتُمْ |
| مُوَيْنَةٌ | فُوَيْعِلَةٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | واحد مصغر اسم فاعل | دغه قانون | مَائِنَةٌ | ضُوَيْرِبَةٌ |
| اَوَاجِلَ | فَوَاعِلَ | اسم | ثلاثي مجرد | مثال واوي | جمع منتهى الجموع | دغه قانون | وَاجِلٌ | ضَوَارِبَ |
| شَوَاهِدَ | فَوَاعِلَ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | جمع منتهى الجموع | دغه قانون | شَاهِدٌ | ضَوَارِبَ |
| سَاكِنُوا الْمَسْجِدِ | فَاعِلُوْنَ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | جمع مذكر سالم اسم فاعل | نون تثنيه و جمع اسم فاعل | سَاكِنُوْنَ | نَاصِرُوْنَ |
| قُوَيْرٌ | فُوَيْعِلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | واحد مصغر اسم فاعل | دغه قانون | قَائِرٌ | ضُوَيْرِبٌ |
| مَوَائِرَ | فَوَاعِلَ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | جمع منتهى الجموع | دغه قانون | مَائِرٌ | ضَوَارِبَ |
| مَضْمُوْمَةٌ | مَفْعُوْلَةٌ | اسم | ثلاثي مجرد | مضاعف ثلاثي | واحده مؤنث اسم مفعول | اسم مفعول | يُضَمُّ | مَنْصُوْرَةٌ |

| موزون | وزن | سه اقسام | شش اقسام | هفت اقسام | صيغه | تعليل | اصل | نظير |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مَعْلُوْمَاتٌ | اَلْمَفْعُوْلَاتُ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | واحد مذكر اسم مفعول | نون تنوين حذف، جمع، اسم مفعول، ضرب ۱۰ | مَعْلُوْمَاتٌ | مَضْرُوْبَاتٌ |
| ضَارِبُوْاهَا | فَاعِلُوْنَ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | جمع مذكر سالم اسم فاعل | اسم فاعل نون تنوين، حذف، جمع | ضَارِبُوْنَ | ضَارِبُوْنَ |
| مَعْلُوْمٌ | مَفْعُوْلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | واحد مذكر اسم مفعول | اسم مفعول | يَعْلَمُ | مَضْرُوْبٌ |
| رِجَالٌ | فِعَالٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | اسم جمع | • | • | • |
| اَلْوَاقِعَةُ | اَلْفَاعِلَةُ | اسم | ثلاثي مجرد | مثال واوي | واحد مؤنث اسم فاعل | اسم فاعل، نون تنوين، حذف، جمع | وَاقِعَةٌ | ضَارِبَةٌ |
| قُوَيْصِرٌ | فُوَيْعِلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | واحد مصغر اسم فاعل | مصغر | قَاصِرٌ | ضُوَيْرِبٌ |
| مُكَوْكَبٌ | مُفَعْلَلٌ | اسم | رباعي مجرد | مضاعف | واحد مذكر اسم مفعول | اسم مفعول | يُكَوْكِبُ | مُدَحْرَجٌ |
| تُتْرَكُوْنَ | تُفْعَلُوْنَ | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | جمع مذكر حاضر فعل مضارع مجهول | ضرب ۱۰، اسم، فعل مضارع مجهول | تُتْرَكُوْنَ | تُضْرَبُوْنَ |
| شَبْعْنَ | فَعِلْنَ | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | جمع مؤنث غائب فعل ماضي معلوم | ضرب ۱۳ | شَبِعْنَ | ضَرَبْنَ |
| اَلضَّالُّ | فَاعِلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | مضاعف | واحد مذكر اسم فاعل | اسم فاعل، نون تنوين حذف، جمع | ضَالِلٌ | ضَارِبٌ |
| وَالِدَيْهِ | فَاعِلَانِ | اسم | ثلاثي مجرد | مثال واوي | تثنيه مذكر اسم فاعل | نون تنوين حذف، جمع | وَالِدَانِ | ضَارِبَانِ |
| زَبِيْبَتِيْ | فَعِيْلَةٌ | اسم | ثلاثي مجرد | مضاعف | واحد مؤنث صفت مشبه | نون تنوين حذف، جمع | زَبِيْبَةٌ | شَرِيْفَةٌ |
| سَمَكٌ | فَعَلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | اسم جمع | • | • | • |
| اِنْسَانٌ | فِعْلَانٌ | اسم | ثلاثي مزيد | مهموز الفاء | اسم جمع | • | • | • |
| اَعْلَتَانِ | اَفْعَلَانِ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | تثنيه مذكر اسم تفضيل | ضرب ۱۰، اسم | اَعْلَتَانِ | • |

## التمرين:

قَوَارِيرًا، مُكَوْكَبَاتٌ، دَارُ الْعُلُوْمِ، دُوَيْجِرٌ، مَاتَشْتَهُمْ، كَانِكَاكُنْ، مُتَصَرِّفُهُمْ، عَبْدُاللهِ، مُوَاقِعُوْهَا، اَلْمَوْجُوْدَاتُ، صَوَافٌ، قُوَيْصِرَةٌ، اَوَاجِلُ، مَفْرُوْقُوْمَهُمْ، مَطْحُوْنَاهُمَا، اَيْهُمْ، مُتَجَلْجِلُوْهُمْ، قُلُوْبُهُمْ، زَوَايِيْ، ضُوَيْرِبٌ۔

## (۱۰) قانون:

ہر نون تنوین کہ ماقبلش مفتوح باشد آن را بالف بدل کردن کثیر است و ساقط کردن قلیل است در حالت وقف و اگر ماقبلش مفتوح نہ باشد آن را بہ حرف علت بدل کردن قلیل است و ساقط کردن کثیر است در حالت وقف.

### د قانون خلاصه:

هر نون تنوين چي ماقبل يې مفتوح وي په حالت د وقف كي په الف سره بدلول كثير دي او غورځول يې قليل دي، لكه: د "خَبِيْثًا" څخه "خَبِيْثَا" ويل كثير دي او "خَبِيْث" ويل قليل دي.

او که چيري يې ماقبل مضموم يا مکسور وي، نو بيا په حالت د وقف کې په حرف علت سره بدلول قليل دي او غورځول يې کثير دي، لکه: د "غَزَوُا اِلٰی حِیْنٍ" څخه "غَزَوُوْ اِلٰی حِیْنِیْ" ويل قليل دي او "غَزَوْا اِلٰی حِیْنْ" ويل کثير دئ.(۱)

## د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم د "نون تنوين" والا قانون دئ.

ددې قانون دپاره دوه حکمه دي او د هر حکم دپاره يې درې درې شرطونه دي.

**اول حکم:** اول حکم يې دادئ چي نون تنوين په الف سره بدلول کثير دي او ساقط کول يې قليل دي.

۱. اول شرط يې دادئ چي نون تنوين به وي، احترازي مثال: ضَارِبَانِ ضَارِبُوْنَ.

۲. دوهم شرط يې دادئ چي ماقبل به يې مفتوح وي، احترازي مثال: عَلِيْمٌ حَکِيْمٌ.

۳. دريم شرط يې دادئ چي په حالت د وقف کې به وي، احترازي مثال: عَلِيْمًا الَّذِیْ حَکِيْمًا الَّذِیْ.

اتفاقي مثال: د عَلِيْمًا حَکِيْمًا څخه عَلِيْمَا حَکِيْمَا ويل کثير دئ عَلِيْمْ حَکِيْمْ ويل قليل دئ.

**دوهم حکم:** دوهم حکم يې دادئ چي نون تنوين په حرف علت سره بدلول قليل دي او ساقط کول يې کثير دي.

۱. اول شرط يې دادئ چي نون تنوين به وي، احترازي مثال: ضَارِبَانِ ضَارِبُوْنَ.

۲. دوهم شرط يې دادئ چي ماقبل به يې مفتوح نه وي، احترازي مثال: عَلِيْمًا حَکِيْمًا.

۳. دريم شرط يې دادئ چي په حالت د وقف کې به وي، احترازي مثال: عَلِيْمٌ الَّذِیْ حَکِيْمٌ الَّذِیْ.

اتفاقي مثال: د "غَزَوُا اِلٰی حِیْنٍ" څخه "غَزَوُوْ اِلٰی حِیْنِیْ" ويل قليل دي "غَزَوْا اِلٰی حِیْنْ" ويل کثير دي.

---

(۱) او که چيري د کلمې په آخر کې "تاء" تانيث خالص اسميه زائده وي، نو په حالت د وقف کې دغه "تاء" په "هاء" سره بدلول واجب دي، لکه: د "رَحْمَةٌ" او "مَيِّتَةٌ" څخه "رَحْمَهْ" او "مَيِّتَهْ" ويل واجب دي (صرف بهترال)

## (۱۱)قانون:

هر نون خفيفه را موافق حرکت ماقبل بحرف علت بدل می کنند جوازاً در حالت وقف.

### د قانون خلاصه:

هر نون خفيفه په حالت د وقف كي په موافق د حركت د ماقبل په حرف علت سره بدلول جائز دي.

### د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم "نون خفيفه" والا قانون دئ.
د دې قانون دپاره يو حكم او يو يې شرط دئ.
حكم يې دا دئ چي نون خفيفه د ماقبل حرف د حركت موافق په حرف علت سره بدلول جائز دي.
شرط يې دا دئ چي په حالت د وقف كي به وي، احترازي مثال: اِضْرِبَنْ بَكْرًا.
اتفاقي مثال: د اِضْرِبَنْ ځنځه اِضْرِبَا، د اِضْرِبُنْ ځنځه اِضْرِبُوْا او د اِضْرِبِنْ ځنځه اِضْرِبِيْ ويل جائز دي.

### د قانون د جاري كولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون په افعالو كي جاري كيږي په اسماء كي نه جاري كيږي او په افعالو كي هم صرف د نون خفيفه په صيغو كي جاري كيږي او نون خفيفه د تنوين په شكل كي ليكل جائز دي لكه په قرآن مجيد كي: "لَنَسْفَعًا" ليكل سوى دئ.

## (۱۲)قانون:

هر نون اعرابی وقت دخول جوازم و نواصب و لحوق نون ثقیله و خفیفه و بنا کردن امر حاضر معلوم حذف کرده شود وجوباً.(۱)

---

(۱) كچيري حروف زائده په شروع كي راسي و هغه ته دخول ويل كيږي او كه په آخر كي راسي، نو لحوق ورته ويل كيږي.
او كم نون چي د مضارع په آخر كي د ضمې په عوض كي راسي هغه ته نون اعرابي ويل كيږي.
او نون ثقيله هغه نون دئ چي د مضارع، امر او نهي په آخر كي د تاكيد دپاره راځي، لكه: لَيَضْرِبَنَّ، اِضْرِبَنَّ، لَايَضْرِبَنَّ.
او نون خفيفه هغه نون ساكن دئ چي هغه هم په آخر كي د تاكيد دپاره راځي، لكه: لَيَضْرِبَنْ، اِضْرِبَنْ، لَايَضْرِبَنْ.

**دقانون خلاصه:**

هر نون اعرابي د حروف جوازم او نواصب د داخلېدو په وخت کي او د نون ثقيله او خفيفه د لاحق کېدلو په وخت کي او د امر حاضر د جوړولو په وخت کي حذف کيږي وجوباً.

**د قانون تفصيل:**

د دې قانون نوم "نون اعرابي" والا قانون دئ.

د دې قانون د پاره يو حکم دئ او پنځه يې شرطونه دي. او هر شرط يې کامل دئ.

حکم يې دادئ چي نون اعرابي حذف کول واجب دي.

۱. اول شرط يې دادئ چي په کمه کلمه کي نون اعرابي راغلى وي پر هغه کلمه به حروف جوازم داخل سوي وي، احترازي مثال: يَضْرِبَانِ يَضْرِبُوْن.

اتفاقي مثال: لَمْ يَضْرِبَا لَمْ يَضْرِبُوْا.

۲. دوهم شرط يې دادئ چي په کمه کلمه کي نون اعرابي راغلي وي پر هغه کلمه به حروف نواصب داخل سوي وي، احترازي مثال: يَضْرِبَانِ يَضْرِبُوْن.

اتفاقي مثال: لَنْ يَضْرِبَا لَنْ يَضْرِبُوْا.

۳. دريم شرط يې دادئ چي په کمه کلمه کي نون اعرابي راغلى وي نون ثقيله به ور پسي ملحق سوي وي، احترازي مثال: يَضْرِبَانِ يَضْرِبُوْن.

اتفاقي مثال: لَيَضْرِبَانِّ لَيَضْرِبُنَّ.

۴. څلورم شرط يې دادئ چي په کمه کلمه کي نون اعرابي راغلى وي په هغه کلمه پسي به نون خفيفه ملحق سوى وي، احترازي مثال: يَضْرِبُوْنَ.

اتفاقي مثال: لَيَضْرِبَنْ.

۵. پنځم شرط يې دادئ چي په کمه کلمه کي نون اعرابي راغلى وي اراده د جوړېدو د امر حاضر معلوم به دي کړې وي، احترازي مثال: تَضْرِبَانِ تَضْرِبُوْن.

---

او د نون اعرابي د غورځولو وجه دا ده چي نون اعرابي په معرب کي راځي او پر ده باندي لعراب ويل کيږي. نو ځکه د نون ثقيله او خفيفه د لاحق کېدلو او د امر حاضر د جوړولو په وخت کي نون اعرابي حذف کيږي.

اتفاقي مثال: إِضْرِبَا،اِضْرِبُوْا.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په افعالو کې جاري کيږي او په افعالو کې په فعل ماضي کې بالکل نه جاري کيږي او په فعل مضارع کې صرف په هغه صيغو کې جاري کيږي چې د هغه په آخر کې نون اعرابي وي او که چيرې د نون خفيفه ماقبل مضموم يا مکسور وي نو په هغه کې د مخکې څخه لا قانون جاري سوی وي.

## (۱۳)قانون:

*هر نون ساكن و تنوين را در حروف يرملون ادغام ميكنند وجوباً و متحرك را جوازاً، در حروف يمون بغنه و در لر بغير غنه.*(۱)

## د قانون خلاصه:

هر نون ساکن او تنوين په حروف "يَرْمَلُوْنَ" کې مدغم کول واجب دي او نون متحرک په حروف "يَرْمَلُوْنَ" کې مدغم کول جائز دي، ليکن په حروف "يَمُوْنَ" کې په غنه سره او په "لَرْ" کې بغير غنه.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم حروف "يَرْمَلُوْنَ" والا قانون دئ.

د دې قانون د پاره دوه حکمه دي او د هر حکم د پاره دوه دوه شرطه دي.

---

(۱) د نون ساکن او نون تنوين په مينځ کې يو څه فرقونه سته او هغه په لاندې ډول دي:

۱. نون ساکن د کلمې په آخر او وسط دواړو کې راتلای سي، خو نون تنوين صرف په آخر کې راځي.
۲. نون ساکن په اسم، فعل او حرف درو سرو کې راتلای سي او نون تنوين صرف د اسم خاصه ده.
۳. نون ساکن هم ويل کيږي او هم ليکل کيږي او نون تنوين صرف په ليکلو کې راځي، نه په ويلو کې.
۴. نون ساکن د فعل تاکيد د پاره راځي لکه نون خفيفه او نون تنوين د تاکيد د پاره نه راځي.
۵. د التقاء ساکنين د رفع کولو د پاره نون تنوين ته همېشه کسره ورکول کيږي او نون ساکن ته کسره او فتحه دواړه ورکول کيږي، لکه: مِنَ اللهِ، اِنِ ارْتَبْتُمْ.
۶. د وقف په حالت کې د نون ساکن سکون باقي پاته کيږي او نون تنوين غورځي، يا په الف سره بدليږي.

**اول حکم:** اول حکم يې دادئ چي نون ساکن او تنوين په جنس د حروف يرملون بدلول هم واجب دي او جنس په جنس کي مدغم کول هم واجب دي.

۱. اول شرط يې دادئ چي د نون ساکن او تنوين څخه وروسته به يو حرف د حروف "يَرْمَلُوْنَ" څخه راغلی وي، احترازي مثال: مِنْ شَرٍّ، زَيْنَبُ شَاهِدٌ

۲. دوهم شرط يې دادئ چي په جلا جلا کلمه کي به وي، احترازي مثال: دُنْيَا. قِنْوَانٌ. صِنْوَانٌ. بُنْيَانٌ.

اتفاقي مثال: د لَنْ يَضْرِبَ څخه لَنْ يَضْرِبَ او د نَافِعٍ يَخْرُجُ څخه نَافِعٍ يَّخْرُجُ ويل واجب دي.

**دوهم حکم:** دوهم حکم يې دادئ چي نون متحرک په جنس د حروف يرملون بدلول جائز دي او بيا جنس په جنس کي مدغم کول واجب دي.

۱. اول شرط يې دادئ چي د نون متحرک وروسته به يو حرف د حروف يرملون څخه راغلی وي. احترازي مثال: لِلَّذِيْنَ جَاهَدُوْا.

۲. دوهم شرط يې دادئ چي په جلا جلا کلمه کي به وي. احترازي مثال: نَرَّ فَنِيَ.

اتفاقي مثال: د إِنَّ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ څخه إِنَّ الَّذِيْلَّا يَرْجُوْنَ ويل هم جائز دي او پر خپل حال پرېښول هم جائز دي.([1])

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون په اسماؤ او افعالو په دواړو کي جاري کيږي او کله کله په دوو حرونو کي هم جاري کيږي لکه: "عَنَّا" په اصل "عَنْنَا" وو او د هر باب څخه د نفي مؤکد بلن گردان په پنځو صيغو کي دا

---

([1]) او نور پوره مثالونه يې په لاندي ډول دي:

۱. د آمَنَ يَزِيْدُ څخه آمَيَّزِيْدُ.
۲. د آمَنَ زَيْدٌ څخه آمَزَّيْدٌ.
۳. د آمَنَ مُحَمَّدٌ څخه آمَمُّحَمَّدٌ.
۴. د آمَنَ نَبِيْهٌ څخه آمَنَّبِيْهٌ.
۵. د آمَنَ وَلِيْدٌ څخه آمَوَّلِيْدٌ.
۶. د آمَنَ نِعْمَةٌ څخه آمَنِّعْمَةٌ ويل جائز دي.

قانون جاري كيږي. او د يرملون قانون چي كله په يو صيغه كي جاري سي نو د هغه شكل بدل سي لكه: "اَلْيَسْتَمْ، اَلْحَمْدُ، وَ الْاَشْعَرِيْ" په اصل كي "اِنْ لَا" وو.

## صيغي:

| موزون | وزن | سه اقسام | شش اقسام | هفت اقسام | صيغه | قانون | اصل | نظير |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| أَنْ يُّوَاصِلْنَ | يُفَاعِلْنَ | فعل | ثلاثي مزيد | مثال واوي | جمع مؤنث غائبات فعل مضارع | يرملون | يُوَاصِلْنَ | يُضَارِبْنَ |
| مَنْ يَّطَّلِمْ | يَفْتَعِلْ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | واحد مذكر غائب فعل مضارع | يرملون | يَطْتَلِمْ | يَصْرِفْ |
| لَنْ تَشْرُفُوْا | لَنْ تَفْعُلُوْا | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | جمع مذكر حاضرين فعل مضارع | نون اعرابي | تَشْرُفُوْنَ | لَنْ تَشْرُفُوْا |
| بُكِيْتُمَا | فُعِلْتُمَا | فعل | ثلاثي مجرد | ناقص يائي | تثنيه مذكر حاضرين ماضي مجهول | ضربين دوهم، ماضي مجهول | بُكِيْتُمَا | ضُرِبْتُمَا |
| لَتَايَمَلَنَّا | لَتَايَفْعَلَانِّ | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | تثنيه غائب فعل مضارع | نون اعرابي | يَمْلَانِ | لَتَايَمَلَنَّا |
| فَاذْكُرُوْنِيْ | فَافْعُلُوْنِيْ | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | جمع مذكر حاضرين فعل امر حاضر | نون اعرابي، ضربين دوهم، همزه وصلي، تعليل | تَذْكُرُوْنَ | فَانْصُرُوْنِيْ |
| اُذْكُرُكُمْ | اَفْعُلُكُمْ | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | واحد متكلم فعل مضارع معلوم | ضربين دوهم ضمير متصل | اَذْكُرُكُمُوْ | اَنْصُرُ |
| عَوَالِمُ | فَوَاعِلُ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | جمع مؤنث مكسر اسم فاعل | مده زائده | عَالِمَةٌ | ضَوَارِبُ |
| اِخْشَيِيْ | اِفْعَلِيْ | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | واحد مؤنث امر حاضر | نون اعرابي | تَخْشَيِيْنَ | اِخْشَيِيْ |
| اَلْقَادِحُ | اَلْفَاعِلُ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | واحد مذكر اسم فاعل | اسم فاعل، نون تنوين، تثنيه جمع | قَادِحٌ | ضَارِبٌ |
| ضَارِبُنْ | فَاعِلْ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | امر حاضر | نون خفيفه | ضَارِبَنْ | ضَارِبَنْ |
| وَالسَّابِحَاتِ | وَالْفَاعِلَاتِ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | جمع مؤنث سالم اسم فاعل | ضربين (۱)، تنوين، تثنيه جمع | سَابِحَاتٌ | ضَارِبَاتٌ |
| كُوْزَةٌ | فُعْلَةٌ | اسم | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | واحد اسم جامد | ضربين دوهم | كُوْزَةٌ | + |
| لَوْمُوْ | فَعْلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | اجوف | اسم جامد | نون تنوين | لَوْمٌ | + |
| لِيَضْرِبَانِّ | لِيَفْعِلَانِّ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | تثنيه مذكر غائبين امر غائب مؤكد | نون اعرابي، ضربين دوهم | يَضْرِبَانِ | لِيَضْرِبَانِّ |
| وَالِدُوْهُمْ | فَاعِلُوْنَ | اسم | ثلاثي مجرد | مثال واوي | جمع مذكر سالم اسم فاعل | نون تنوين تثنيه جمع، اسم فاعل | وَالِدُوْنَ | ضَارِبُوْنَ |
| اِنْصَرِفَا | اِنْفَعِلَنْ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | واحد مذكر امر حاضر معلوم | نون خفيفه | اِنْصَرِفَنْ | اِنْصَرِفَنْ |
| اِنْصَرِفَا | اِنْفَعِلَا | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | واحد مذكر امر حاضر معلوم | په اصل خپل | اِنْصَرِفَا | اِنْصَرِفَا |
| اِضْرِبَا | اِفْعِلَا | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | تثنيه مذكر حاضرين فعل امر | ضربين دوهم، نون اعرابي | تَضْرِبَانِ | اِضْرِبَا |
| اِضْرِبَا | اِفْعِلَا | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | تثنيه مؤنث حاضرتين فعل امر | ضربين دوهم نون اعرابي | تَضْرِبَانِ | اِضْرِبَا |
| اِضْرِبَا | اِفْعِلَنْ | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | واحد مذكر حاضر بانون تاكيد خفيفه فعل امر حاضر | ضربين دوهم، نون خفيفه | اِضْرِبَنْ | اِضْرِبَا |

## التمرين:

تَرْمِيْنَ، بِنْتُ هِنْدٍ، مَنْثُوْرًا، لَنْ يَجْعَلُوْا، اَنْخَلُوا، فَتَرَبَّصُوْا، تَشْرَبَانِ، يَوْمَئِذٍ، مَرْصُوْصٌ، جَاءَتَا، اِهْبِطُوْا، لَنْ يَسْبِقُوْنَا، لَكِنْ يَظْلِمُوْا، فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوْا، اِنْحَنَا، لَنْ يَتَّقُوْا، وَمَنْثُوْرَةٌ، لَاتَعْلَمُوْا، اِمْحُوْا، شَجَرَةٌ.

## (۱۴) قانون:

هر نون ساكن و تنوين كه واقع شود قبل باء مطلقاً آن را بميم بدل مى كنند وجوباً قبل از حرف حلقى ظاهر خوانده مى شوند وجوباً و قبل از الف نمى آيند و در باقى حروف اخفا كرده آيد.(۱)

### د قانون خلاصه:

هر نون ساكن او تنوين چي د باء مطلق څخه مخكي واقع سي هغه په ميم سره بدلول واجب دي، او د حروف حلقي څخه مخكي ظاهر (ښكاره) ويل واجب دي او نون ساكن او تنوين د الف څخه مخكي نه راځي او د باقي حروف څخه مخكي اخفاء كول دي.

### د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم "حروف اخفاء" والا قانون دئ.

ددې قانون دپاره درې حكمه دي او د هر حكم دپاره يو يو شرط.

**اول حكم:** اول حكم يې دادئ چي نون ساكن او تنوين په "ميم" سره بدلول واجب دي.

او شرط يې دادئ چي د نون ساكن او تنوين څخه وروسته به حرف "باء" راغلي وي، احترازي مثال: مِنْ شَرِّ، زَيْدٌ شَاهِدٌ.

**اتفاقي مثال:** د مِنْ بَعْدِ، يَنْبَغِي، اِيَّكَ بَيِّنَكَ څخه مِنْ بَعْدِ، يَنْبَغِي اِيَّكَ بَيِّنَكَ ويل واجب دي.

**دوهم حكم:** دوهم حكم يې دادئ چي نون ساكن او تنوين ظاهر ويل واجب دي.

او شرط يې دادئ چي د نون ساكن او تنوين څخه وروسته به يو حرف د حروف حلقي څخه راغلى وي، احترازي مثال: مِنْ شَرِّ، زَيْدٌ شَاهِدٌ.

**اتفاقي مثال:** مِنْ خَوْفٍ مِنْ اَحَدٍ.

---

(۱) په قانون كي د باء مطلق مطلب دادئ چي "با" ور سره په يوه كلمه كي وي، لكه "يَنْبَغِي" او يا په دوو كلمو كي وي، لكه: مِنْ بَعْدِ.

**دريم حكم:** دريم حكم يې دا دئ چې په نون ساكن او تنوين كې اخفاء كول واجب دي.
او شرط يې دا دئ چې د نون ساكن او تنوين څخه وروسته به يو حرف د حروف اخفاؤ څخه راغلي وي، احترازي مثال: مِنْ اَحَدٍ، مِنْ خَوْفٍ.
اتفاقي مثال: مِنْ شَرٍّ، زَيْدٌ شَاهِدٌ.

## د قانون د جاري كولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون په اسماؤو او افعالو په دواړو كې جاري كيږي.

## (١٥) قانون:

*بر امر حاضر معلوم را از فعل مضارع مخاطب معلوم باين طور بنا مى كنند كه اگر بعد از حذف كردن حرف مضارعت ما بعدش ساكن ماند همزه وصلى مضموم در اولش در آوردند وجوباً بشرطيكه مضارع نيز مضموم العين باشد وگر نه مكسوره و اگر ما بعدش متحرك ماند امر همون شد بوقف آخر. (١)*

## د قانون خلاصه:

امر حاضر معلوم د فعل مضارع مخاطب معلوم څخه په دې طريقه جوړيږي: چې د علامت د مضارعت حذف كولو څخه وروسته و "فا" كلمې ته كتل كيږي چې هغه ساكنه ده او كه متحركه، كچيري "فا" كلمه ساكنه وي، نو بيا و "عين" كلمې ته كتل كيږي، كچيري "عين" كلمه مضموم وي، نو په شروع كې همزه وصليه مضمومه راوړل كيږي، لكه: د "تَنْصُرُ" څخه "اُنْصُرْ" ويل. او كه "عين" كلمه مضمومه نه وي، نو بيا په شروع كې همزه وصليه مكسوره راوړل واجب دي، خواه كه د مضارع "عين" كلمه مفتوحه وي او كه مكسوره په دې دواړو صورتونو كې په آخر كې وقف كول دئ، لكه: د "تَضْرِبُ" څخه "اِضْرِبْ" او د "تَعْلَمُ" څخه

---

(١) په امر حاضر معلوم كې چونكه د فعل مضارع صيغې وي، نو ځكه دَى هميشه د مضارع مخاطب د صيغو څخه جوړيږي او د بناء طريقه يې داده: كه چيري تعليل وجوبي وو، نو امر د موجوده صورت څخه جوړيږي. لكه: د تَعِدُ څخه عِدْ ويل، او كه چيري تعليل خلاف قانون يا په جوازي قانون سره وو، نو بيا د تعليل څخه مخكې چې كم صورت وي د هغه څخه جوړيږي، لكه: د تَكْرِمُ د اصل تُأَكْرِمُ څخه امر جوړيږي، يعني اَكْرِمْ او د "تَاْجَرُ يَجَرُ" د اصل يعنى "تَوْجَلُ" څخه امر جوړيږي "اِوْجَلْ" بيا وروسته "اِيْجَلْ" ويل كيږي.

"اِقْتُلْ" ويل. او كه چيري "فا" كلمه متحركه وي، نو په آخر كي صرف په وقف كولو سره د امر صيغه جوړېږي، لكه: د "تَصُرِفُ" څخه "صُرِفْ" او د "تَتَمَرَجُ" څخه "تَمَرَجْ" ويل.

## د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم د "امر حاضر" والا قانون دئ.

ددې قانون دپاره درې حكمه دي. د اولو دوو حكمو دپاره دوه دوه شرطه دي او د دريم حكم دپاره يو شرط دئ.

**اول حكم:** اول حكم يې دادئ چي همزه وصليه مضمومه په اول سر كي راوړل واجب دي.

۱. اول شرط يې دادئ چي د حرف مضارعت وروسته حرف به ساكن وي، احترازي مثال: تَصَرَّفُ.

۲. دوهم شرط يې دادئ چي مضارع به مضموم العين وي، احترازي مثال: تَضْرِبُ.

اتفاقي مثال: د تَنْصُرُ څخه اُنْصُرْ د تَنْزِلُ څخه اُنْزُلْ ويل واجب دي.

**دوهم حكم:** دوهم حكم يې دادئ چي همزه وصليه مكسوره په اول سر كي راوړل واجب دي.

۱. اول شرط يې دادئ چي د حرف مضارعت وروسته حرف به ساكن وي، احترازي مثال: تَصَرَّفُ.

۲. دوهم شرط يې دادئ چي مضارع به مضموم العين نه وي، احترازي مثال: تَنْصُرُ، تَنْزِلُ.

اتفاقي مثال: د تَضْرِبُ څخه اِضْرِبْ د تَعْلَمُ څخه اِعْلَمْ ويل واجب دي.

**دريم حكم:** دريم حكم يې دادئ چي په آخر كي وقف كول واجب دي.

۱. اول شرط يې دادئ چي د حرف مضارعت څخه وروسته حرف به متحرك وي، احترازي مثال: تَضْرِبُ.

اتفاقي مثال: د تَصُرِفُ څخه صُرِفْ ويل واجب دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په انفعالو کي د امر حاضر معلوم پر صيغو باندي جاري کيږي د امر حاضر معلوم پنځلس صيغې دي پر شپږو صيغو باندي اصلي طور باندي او په باقي نه (۹) صيغو کي تبعي طور باندي جاري کيږي يعني د نون ثقيله و خفيفه په صيغو کي.

## (۱٦) قانون:

چون نون تاکید ثقیله بنون ضمیری متصل شود الف فاصله میان ایشان در آورند وجوباً.

**خلاصه:** چي کله نون تاکيد ثقيله د نون ضميري سره متصل سي، نو په مابين کي يې فصل په الف سره راوړل واجب دئ.

## د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم "الف فاصله" والا قانون دئ.

ددې قانون د پاره يو حکم دئ او يو يې شرط دئ.

حکم يې دا دئ چي الف فاصله راوړل واجب دي.

شرط يې دا دئ چي نون ثقيله به د نون ضميري سره متصل سوی وي، احترازي مثال: يَکُوْنَنَّ(۱).

اتفاقي مثال: د اِضْرِبْنَنَّ څخه اِضْرِبْنَانِّ ويل واجب دي.

## صيغې:

| موزون | وزن | سه اقسام | شش اقسام | هفت اقسام | صیغه | قانون | اصل | نظیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| رَاوِی | فَاعِلٌ | اسم | ثلاثی مجرد | لفیف مقرون | واحد مذکر اسم فاعل | اسم فاعل | رَاوِیٌ | ضَارِبٌ |
| جَفْنَةٌ | فَعْلَةٌ | اسم | ثلاثی مزید | صحیح | اسم جامد | ضربین دوم | جَفْنَةٌ | + |
| اَنْتُمْ | فَعَلْتُمْ | فعل | ثلاثی مجرد | مهموز الفاء | جمع مذکر مخاطبین فعل ماضی | حروف اخفاء، اضربتم انتم، ضربین دوم | اَنْتُمُوْ | ضَرَبْتُمْ |
| دِرَاعٌ | فِعَالٌ | اسم | ثلاثی مزید | صحیح | اسم جامد | - | + | + |
| یَوْزَنُوْنَ | یَفْعَلُوْنَ | فعل | ثلاثی مجرد | مثال واوی | جمع مذکر غائبین فعل مضارع مجهول | ضربین دوم، مضارع مجهول | یُوْزَنُوْنَ | یُضْرَبُوْنَ |

(۱) په يَکُوْنَنَّ کي اول نون ضميري نه دئ، بلکه اصلي د کلمې نون دئ او د لام کلمې په مقابله کي دئ.

| موزون | وزن | سہ اقسام | شش اقسام | ہفت اقسام | صیغہ | قانون | اصل | نظیر |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اِبْتَهِرْ | اِفْتَعِلْ | فعل | ثلاثی مزید | مہموز العین | واحد مذکر امر حاضر | امر حاضر | تَبْتَهِرُ | اِكْتَسِبْ |
| مُوَيْنَةٌ | فُوَيْعِلَةٌ | اسم | ثلاثی مجرد | صحیح | واحد مؤنث مصغر اسم فاعل | [illegible] | مَائِنَةٌ | ضُوَيْرِبَةٌ |
| تَرَبُّبٌ | فَعَلَّلٌ | اسم | رباعی مجرد | مضاعف رباعی | اسم جامد | [illegible] | تَرَبُّبٌ | * |
| شَوَاهِدُ | فَوَاعِلُ | اسم | ثلاثی مجرد | صحیح | جمع مؤنث اسم فاعل | [illegible] | شَاهِدَةٌ | ضَوَارِبُ |
| اِضْلِلْنَانِّ | اِفْعِلْنَانِّ | فعل | ثلاثی مجرد | مضاعف | جمع مؤنث امر حاضر معلوم | [illegible] | اِضْلِلْنَ | اِضْرِبْنَانِّ |
| قُوَيْلَةٌ | فُوَيْعِلَةٌ | اسم | ثلاثی مجرد | اجوف واوی | واحد مؤنث مصغر اسم فاعل | [illegible] | قَائِلَةٌ | ضُوَيْرِبَةٌ |
| دَحْرِجْ | فَعْلِلْ | فعل | رباعی مجرد | صحیح | امر حاضر معلوم | امر حاضر | تُدَحْرِجُ | دَحْرِجْ |
| جَمْعُوْ | فَعْلٌ | فعل | ثلاثی مجرد | صحیح | اسم مصدر | [illegible] | جَمْعٌ | * |
| جَمَعُوْا | فَعَلُوْا | اسم | ثلاثی مجرد | صحیح | جمع مذکر غائب فعل ماضی | | * | ضَرَبُوْا |
| تَشَرَّفْ | تَفَعَّلْ | فعل | ثلاثی مجرد | صحیح | واحد مذکر امر حاضر معلوم | امر حاضر | تَتَشَرَّفُ | تَشَرَّفْ |
| اِخْشَيِنْ | اِفْعِلِنْ | فعل | ثلاثی مجرد | صحیح | واحد مؤنث مخاطب امر حاضر | [illegible] | تَخْشَيِنَّ | اِضْرِبِنْ |
| وَالِعْ | فَاعِلْ | فعل | ثلاثی مزید | مثال واوی | امر حاضر معلوم | امر حاضر | تُوَالِعُ | ضَارِبْ |
| اِخْشَيِنْ | اِفْعِلِنْ | فعل | ثلاثی مجرد | صحیح | واحد مؤنث مخاطب امر حاضر بانون تاکید خفیفہ | نون خفیفہ | اِخْشَيِنْ | اِضْرِبِنْ |
| لِنْ وَهَبْنَ | لِنْ فَعَلْنَ | فعل | ثلاثی مجرد | مثال واوی | جمع مؤنث غائبات فعل ماضی | [illegible] | لِنْ وَهَبْنَ | لِنْ ضَرَبْنَ |
| لِتَشْهَدْ | لِتَفْعَلْ | فعل | ثلاثی مجرد | صحیح | امر حاضر معلوم | امر حاضر | تَشْهَدُ | اِعْلَمْ |
| خَبِثْنَانِ | فَعِلْنَانِ | فعل | ثلاثی مزید | مضاعف | جمع مؤنث غائب امر حاضر | [illegible] | خَبِثْنَ | ضَرَفْنَانِ |
| لِنْ نَبِيْنَا | لِنْ فَعِلْنَا | فعل | ثلاثی مجرد | ناقص یائی | جمع متکلم فعل ماضی معلوم | [illegible] | لِنْ نَبِيْنَا | لِنْ عَلِمْنَا |
| شُدَدْ | فُعَلْ | فعل | ثلاثی مجرد | مضاعف | واحد مذکر امر حاضر معلوم | امر حاضر | تَشْدُدُ | ضَرِّفْ |

## التمرین:

تَدْرَوْا، لَنْ يَنْقَضُوْا، اَنْ اَنْذِرْ، اَغْلِقْتُمْ، دَنَوْ، اِنْقَضُوْ، اِمْضِيَا، اِنْجَلِي، آمِنْتُمْ، لَايَبْرَنَانِّ، عَشَكُوْنَا، جَاعِلُوْهُمْ، اَتْلُ، اِذْلَايَشْعُرُوْنَ، لَا تَخَانِ، حَوَيْتُ، اَنْ تَشَاجَا، كَيْ يَرْحَمَا، اَلْمُشْتَرِيْ، فَمَنْ يَنْصُرُوْنِيْ.

## (۱۷) قانون:

ظرف يَفْعِلُ و مثال مطلقًا بر وزن مَفْعِلٌ می آید و از غیر یَفْعِلُ و ناقص و لفیف و مضاعف بر وزن مَفْعَلٌ می آید وجوبًا و ماسوا ایشان

شاذ اند و از غیر ثلاثی مجرد بر وزن اسم مفعول آن باب می آید وجوباً. (۱)

## د قانون خلاصه:

د اسم ظرف د جوړلو په وخت کې به اول نظر د کلمې پر هفت اقسامو وي چې په مثال، صحيح، مهموز، اجوف، ناقص، لفيف او مضاعف کې کلمه کم قسم ده،
که چيرې کلمه په هفت اقسامو کي مثال وه، نو ظرف يې تل وخت مکسورالعين راځي، لکه: د وَعَدَ يَعِدُ څخه مَوْعِدٌ د يَسَرَ يَيسِرُ څخه مَيْسِرٌ. او که په هفت اقسامو کي کلمه ناقص، لفيف يا مضاعف وه نو بيا يې تل وخت ظرف مفتوح العين راځي ناقص لکه: دَعَا يَدْعُو څخه مَدْعًا چې په اصل کې مَدْعَوٌ. د لفيف څخه لکه: د وَقَىٰ يَقِيْ څخه مَوْقًا چې په اصل کي مَوْقَيٌ او د مضاعف څخه لکه: د مَدَّ يَمُدُّ څخه مَمَدٌّ.

---

(۱) شاذ پر دوه قسمه دئ:

1. مقبول.
2. مردود.

مقبول بيا پر دوه قسمه دي:

1. احسن.
2. حسن.

احسن: هغه دئ چې د قانون مخالف او د استعمال موافق وي، لکه: د سَجَدَ يَسْجُدُ څخه مَسْجِدٌ ويل.
حسن: هغه دئ چې د قانون موافق او د استعمال مخالف وي، لکه: د سَجَدَ يَسْجُدُ څخه مَسْجَدٌ ويل.
شاذ قبيح او مردود هغه دئ چې د دواړو مخالف وي، لکه: د سَجَدَ يَسْجُدُ څخه مَسْجُدٌ ويل.
يو څو الفاظ شاذ دي او د شاذ احسن په حکم کي داخل دي، لکه: "مَنسِكٌ، مَجْزِرٌ، مَنبِتٌ، مَطْلِعٌ، مَشْرِقٌ، مَغْرِبٌ، مَرْفِقٌ، مَسْجِدٌ، مَفْرِقٌ" و غيره. البته رضي د سبويه څخه نقل کړی دئ چې د "مَسْجِدٌ" و غيره رنګه اسماء په حيثيت د اعلام سره جوامد دي، مشتقات نه دئ. نو ځکه په دې کي يو لا هم شاذ نه دئ.
ډير ځله د ظرف په آخر کي تاء زائده زياتيږي، لکه "مَكْتَبَةٌ" او "مَدْرَسَةٌ".
او چې په کم شي کي د کثرت والا معنى موجوده وي. نو د هغه ظرف د مَفْعَلَةٌ پر وزن راځي، لکه "مَقْبَرَةٌ" چيرې چې ډير قبرونه وي، يا لکه "مَأْسَدَةٌ" چيرې چې ډېر زمريان وي.
د ثلاثي مجرد څخه مصدر ميمي د "مَفْعَلٌ" پر وزن راځي، لکه: "مَنْظَرٌ، مَضْرَبٌ". او د مثال واوي څخه د "مَفْعِلٌ" پر وزن راځي خواه که مضارع مکسورالعين وي يا مفتوح العين، لکه: "مَوْرِدٌ، مَوْعِدٌ" او د ثلاثي مجرد څخه علاوه د نورو بابو څخه د فعل مضارع مجهول پر وزن راځي (با ميم مضمومه بجای حرف اتين) لکه: "مُخْذَرٌ، مُضْطَبَرٌ، مُزْدَحَمٌ".

او که په هفت اقسامو کي کلمه صحيح، مهموز او يا اجوف وه ييا يې د مضارع عين کلمې ته کتل کيږي که د مضارع عين کلمه مکسوره وه، نو ظرف يې تول وخت مکسور العين راځي، د صحيح مثال لکه: د ضَرَبَ يَضْرِبُ څخه مَضْرِبُ، د اجوف مثال لکه: د طَاحَ يَطِيحُ څخه مَطِيحُ او د مهموز مثال لکه: د أَرَزَ يَأْرِزُ څخه "مَأْرِزُ" ويل.

او که د مضارع عين کلمه مکسوره نه وه، ييا يې ظرف مفتوح العين راځي خواه مضارع مفتوح العين او که مضموم العين وي، د صحيح مثال لکه: د نَصَرَ يَنْصُرُ څخه مَنْصَرُ، د اجوف مثال لکه: د قَالَ يَقُولُ څخه مَقَالُ چي په اصل کي مَقْوَلُ دئ او د مهموز مثال لکه: سَأَلَ يَسْأَلُ څخه مَسْأَلُ ويل.

## د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم "اسم ظرف" والا قانون دئ.

ددې قانون دپاره درې حکمونه دي او د اولو دوو حکمو دپاره دوه دوه شرطونه دئ او د دريم حکم دپاره يو شرط دئ او هر شرط کامل دئ.

**اول حکم**: اول حکم يې دا دئ چي اسم ظرف پر وزن د "مَفْعِلٌ" ويل واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چي باب به په هفت اقسامو کي صحيح، مهموز، اجوف وي او مضارع به يې مکسور العين وي، احترازي مثال: نَصَرَ يَنْصُرُ.

اتفاقي مثال: د صحيح دا د ضَرَبَ يَضْرِبُ څخه مَضْرِبُ، د مهموز دا: د أَرَزَ يَأْرِزُ څخه مَأْرِزُ، د اجوف دا: د طَاحَ يَطِيحُ څخه مَطِيحُ ويل واجب دي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ چي په هفت اقسامو کي به مثال مطلقاً وي. احترازي مثال نَصَرَ يَنْصُرُ.

اتفاقي مثال: د وَعَدَ يَعِدُ څخه مَوْعِدُ ويل واجب دي.

**دوهم حکم**: دوهم حکم يې دا دئ چي اسم ظرف پر وزن د "مَفْعَلُ" ويل واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چي باب به په هفت اقسامو کي صحيح، مهموز، اجوف وي او مضارع به يې مضموم العين وي، احترازي مثال: ضَرَبَ يَضْرِبُ.

اتفاقي مثال: د صحيح دا: د نَصَرَ يَنْصُرُ څخه مَنْصَرُ، د مهموز دا: د أَمَرَ يَأْمُرُ څخه مَأْمَرُ او د اجوف دا: د قَالَ يَقُولُ څخه مَقَالُ ويل واجب دي.

۲. دوهم شرط يې دادئ چي په هفت اقسامو کي به ناقص، لفيف يا مضاعف وي مطلقًا، احترازي مثال: ضَرَبَ يَضْرِبُ.

اتفاقي مثال: د ناقص دا: د دَعَا يَدْعُوْ څخه مَدْعَى، د لفيف دا: د "وَقٰى يَقِيْ" څخه "مَوْقٰى" او د مضاعف د "مَدَّ يَمُدُّ" څخه "مَمَدّ".

**دريم حکم**: دريم حکم يې دادئ چي اسم ظرف پر وزن د اسم مفعول د داغه باب ويل واجب دي.

۱. اول شرط يې دادئ چي باب به ثلاثي مجرد نه وي، احترازي مثال: ضَرَبَ يَضْرِبُ.

اتفاقي مثال: د اَكْرَمَ يُكْرِمُ څخه مُكْرَمٌ ويل واجب دي.

د ارشاد الصرف د مصنف رحمة الله عليه د عبارت څخه دا معلوميږي چي د مضاعف د بابو ظرف همېشه مفتوح العين راځي لېکن صاحب د معارف الصرف د مضاعف بابو ظرف د اجوف، صحيح او مهموز په مثل بللی دئ چي په هغو کي اعتبار د مضارع و عين کلمې ته دئ يعني د عين کلمې د کسرې په وخت کي ظرف مسکور العين راځي لکه: د فَرَّ، يَفِرُّ څخه مَفِرّ ويل. او د فتحې په وخت کي ظرف مفتوح العين راځي لکه: د عَضَّ، يَعَضُّ څخه مَعَضّ ويل او د مَدَّ يَمُدُّ څخه مَمَدّ ويل. يعني د اجوف، مهموز، صحيح په شان باندي د بابو د ګردانو څخه د معارف الصرف خبره راجح معلوميږي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په اسم ظرف کي جاري کيږي په ثلاثي مجردو کي صرف د اسم ظرف په دوو اولو صيغو کي جاري کيږي او په ثلاثي مزيد کي د ظرف په ډرو سره صيغو کي جاري کيږي.

## (۱۸) قانون:

ہر الف کہ حرکت ما قبلش مخالفش شود آن را بوفق حرکت ما قبل بحرف علت بدل کنند وجوبًا.

## د قانون خلاصه:

هر الف چي دده د ماقبل حرکت دده مخالف سي، نو دغه الف ذ ماقبل د حرکت موافق په حرف علت سره بدلول واجب دي.

## د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم "ضَوَرِبُ مَضَارِيبُ" والا قانون دئ.

ددې قانون دپاره يو حکم دئ او يو يې شرط دئ.

حکم يې دادئ چي الف په موافق د حرکت د ماقبل په حرف علت سره بدلول واجب دي.

شرط يې دادئ چي د الف د ماقبل حرف حرکت به د الف څخه مخالف سوی وي، احترازي مثال: قَالَ بَاعَ.

اتفاقي مثال: د ضَارَبَ څخه ضُوْرِبَ د مِضْرَابٌ څخه مَضَارِيبُ ويل واجب دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون په اسماؤ او افعالو دواړو کي جاري کيږي په اسماؤ کي په اسم جامد او د اسم آله کبرٰی په آخرو دوو صيغو کي جاري کيږي د اسم جامد مثال لکه: د "مِصْبَاحٌ" او "تِمْثَالٌ"، څخه "مَصَابِيحُ" او "تَمَاثِيلُ" ويل او د اسم آله کبرٰی مثال لکه: د "مِضْرَابٌ" څخه "مَضَارِيبُ، مُضَيْرِيبٌ" ويل او په افعالو کي صرف د ثلاثي مزيد فيه د درې بابو پر ماضي مجهوله باندي جاري کيږي هغه درې بابونه، مُفَاعلَه، تَفَاعُل، افعيلال، او د افعيلال پر مصدر باندي هم جاري کيږي د دې ځايو څخه علاوه بل ځای نه جاري کيږي.

## صيغې:

| موزون | وزن | سه اقسام | شش اقسام | هفت اقسام | صيغه | قانون | اصل | نظير |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جَنْهُوْرٌ | فَنْعُوْلٌ | اسم | رباعي مزيد | صحيح | اسم جامد | + | + | + |
| وَزِنَّ | فَعِلْنَ | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي، و مهموز اللام | جمع مؤنث غائبات فعل ماضي معلوم | ضرب يضرب | وَزِنْنَ | عَلِمْنَ |
| زُنْبُوْرٌ | فَنْعُوْلٌ | اسم | رباعي مزيد | صحيح | اسم جامد | حروف اخذ | زَنْبُوْرٌ | + |
| حَاجِي | فَاعِلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | ناقص يائي | واحد مذكر اسم فاعل | اسم فاعل | حَاجِيٌ | نَاصِرٌ |
| صُنْدُوْقٌ | فُعْلُوْلٌ | اسم | رباعي مزيد | صحيح | اسم جامد | حروف اخذ | + | + |

| موزون | وزن | سه اقسام | شش اقسام | هفت اقسام | صيغه | قانون | اصل | نظير |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مَنْشُوْنَكٌ | مَفْعُوْلَاتٌ | اسم | ثلاثي مجرد | مضاعف ثلاثي | جمع مؤنث سالم اسم مفعول | ضربن ۱ | مَنْشُوْنَاتٌ | مَضْرُوْبَكٌ |
| خَشَبَةٌ | فَعَلَةٌ | اسم | ثلاثي مزيد | صحيح | اسم جامد | + | + | + |
| وُعِيْنَ | فُعِلْنَ | فعل | ثلاثي مجرد | لفيف مفروق | جمع مؤنث غائبات فعل ماضي مجهول | ضربن ۲ | وُعِيْنَ | ضُرِبْنَ |
| زِنْدِيقٌ | فِعْلِيلٌ | اسم | رباعي مزيد | صحيح | اسم جامد | حروف اخفاء | + | + |
| رَاشِدَانِ | فَاعِلَانِ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | تثنيه مذكر اسم فاعل | نون تنوين، تثنيه وجمع اسم فاعل | رَاشِدَانِ | نَاصِرَانِ |
| يَاقُوْتٌ | فَاعُوْلٌ | اسم | ثلاثي مزيد | مثال يائي | اسم جامد | + | + | + |
| اَلضَّالُّ | اَلْفَاعِلُ | اسم | ثلاثي مجرد | مضاعف ثلاثي | واحد مذكر اسم فاعل | اسم فاعل، نون تنوين د تثنيه وجمع | ضَالِلٌ | ضَارِبٌ |
| مِلْحٌ | فِعْلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | اسم جامد | + | + | + |
| لُجَاجٌ | فُعَالٌ | اسم | ثلاثي مزيد | مهموز الفاء | اسم جامد | + | + | + |
| جِرَابٌ | فِعَالٌ | اسم | ثلاثي مزيد | صحيح | اسم جامد | + | + | + |
| قُرْآنٌ | فُعْلَانٌ | اسم | ثلاثي مزيد | مهموز الفاء | اسم جامد | نون تنوين، تثنيه وجمع | قُرْآنٌ | + |
| شُوَيْمِنٌ | فُوَيْعِلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | واحد مذكر مصغر اسم فاعل | مصغر ثلاثه | شَامِنٌ | ضُوَيْرِبٌ |
| مِيْلٌ | فِعْلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | اجوف يائي | اسم جامد | + | + | + |
| خُفٌّ | فُعْلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | مضاعف ثلاثي | اسم جامد | + | خُفْفٌ | + |
| مَيْنِعٌ | مَفْعِلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | مثال يائي | واحد اسم ظرف | اسم ظرف، ضربن دوهم | يَيْنِعُ | مَضْرِبٌ |
| فِلْفِلٌ | فِعْلِلٌ | اسم | رباعي مجرد | مضاعف رباعي | اسم جامد | ضربن دوهم | فِلْفِلٌ | + |
| مَعْسَرٌ | مَفْعَلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | صحيح | واحد اسم ظرف | اسم ظرف، ضربن دوهم | يَعْسَرُ | مَنْصَرٌ |

## التمرين:

اَلْمَطْبَخُ، مَدْهَامَّانِ، مُذَبْذَبِيْنَ، سَلَاطِيْنَ، مُشْتَمِلَاتٍ، اُوْجِبْتُمْ، دَوَاوِيْنَ، لُوْمِنْتُمْ، اَبْوَرِكَ، دُوْوِلَتْ، صُوْحِبْنَ، رَوَابِيْ، نُوَيْعِدُوْ، مَغْرُوْزًا، مِمْزِيْدِيْ، مَنْصَرٌ، مَجْنًا، اَلْيَا، تُوْقِلْتُمْ، وُوْدِمْتُنَّ، مَمْدُوْدَاكَ.

## د اجراء او مشتق بابونه:

| باب | ماضي مجهول | مضارع مجهول | اسم فاعل | اسم مفعول | امر حاضر | اسم ظرف |
|---|---|---|---|---|---|---|
| لَوَمَ يَلْوِمُ | لُوِمَ | يُلْوَمُ | لَاوِمٌ | مَلْوُوْمٌ | اِلْوِمْ | مَلْوِمٌ |
| مَنَعَ يَمْنَعُ | مُنِعَ | يُمْنَعُ | مَانِعٌ | مَمْنُوْعٌ | اِمْنَعْ | مَمْنَعٌ |
| خَبَّ يَخِبُّ | خُبَّ | يُخَبُّ | خَابٌّ | مَخْبُوْبٌ | اِخْبِبْ | مَخَبٌّ |
| جَعَلَ يَجْعَلُ | جُعِلَ | يُجْعَلُ | جَاعِلٌ | مَجْعُوْلٌ | اِجْعَلْ | مَجْعَلٌ |
| صَمَدَ يَصْمُدُ | صُمِدَ | يُصْمَدُ | صَامِدٌ | مَصْمُوْدٌ | اُصْمُدْ | مَصْمَدٌ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| كَلِمَ يَكْلِمُ | كَلِمَ | يَكْلِمُ | كَالِمٌ | مَكْلُوْمٌ | اِكْلِمْ | مَكْلِمٌ |
| سَجَدَ يَسْجُدُ | سَجَدَ | يَسْجُدُ | سَاجِدٌ | مَسْجُوْدٌ | لِتَسْجُدْ | مَسْجَدٌ |

## (۱۹) قانون:

ہر الف مقصورہ سیوم جای بدل از واو یا اصلی کہ امالہ کردہ نہ شود وقت بنا کردن تثنیہ و جمع مؤنث سالم آن را بواو مفتوحہ بدل کنند وجوباً و غیرش را بیا و ممدودہ اصلی را ثابت دارند و تانیثی را بواو بدل کنند وجوباً و در غیر ایشان ہر دو وجہ خواندن جائز است(۱)

---

(۱) اولاً الف پر دوه قسمه دئ:

۱. الف لازمي.
۲. الف عارضي.

"الف عارضي" هغه دئ چي د يو جوازي قانون په وجه سره د يو بل حرف څخه بدل سوی وي، لکه: د ضَارِبَنْ څخه بقانون نون خفيفه ضَارِبَا ويل.

"الف لازمي" هغه دئ چي د يو جوازي قانون په وجه سره نه وي بدل سوی، بلکه پر خپل اصل پاته وي.

ثانياً يا الف پر دوه قسمه دئ:

۱. اصلي.
۲. زائد.

"اصلي" هغه دئ چي د فاء، عين او لام په مقابله کي وي، يا هغه الف چي په يو حرف سره نه وي بدل سوی.

"زائد" چي د فاء، عين او لام کلمه په مقابله کي نه وي، يا په يو حرف سره بدل سوی وي.

**د امالې تعريف:**

اماله د قراؤ په اصطلاح کي و الف ته د "يا" بوی ورکول چي نه مکمل "الف" وي او نه مکمله "يا" ادا سي، بلکه چي د دواړو په مېنځ کي وي. او فتحه د ماقبل د کسرې و طرفته مائل کول چي نه مکمل فتحه وي او نه مکمله کسره وي، لکه: د "كِتَابٌ" څخه "كِتِيْبٌ" او د "جِنَابٌ" څخه "جِنِيْبٌ" ويل.

او اماله په شپږو کلمو کي کېږي کله چي دا کلمې د يو چا نوم وي په هغه کي درې اسمونه دي:

۱. مَتٰى.
۲. أَنّٰى.
۳. ذَا.

او درې حروف دي:

(۱) قوله: لُغَةٌ او مِائَةٌ شاذ اند: لُغَةٌ او مِائَةٌ په اصل کي لُغَوٌ او مِئَىٌ وه په قانون د قال باع سره "واو" او "يا" متحرک ماقبل یې مفتوح په الف سره بدل سو، بيا التقاء ساکنين راغله په منځ کي د "الف" او نون تنوين؛ ځکه نون تنوين په اصل کي نون ساکن دئ او په دوی کي اول ساکن مده وو هغه یې حذف کړئ او د ده په عوض کي یې په آخر کي تا. متحرکه راوړه، نو لُغَةٌ مِائَةٌ سو. ليکن په لُغَةٌ او مِائَةٌ کي د قانون دوهم شرط نسته، بيا یې هم په آخر کي "تا" را وړې ده، د هغه جواب مصنف رحمه الله ورکړی دئ چي دا شاذ دي يعني موافق استعمال خلاف قانون و دي ته شاذ احسن ويل کيږي.

په "إِقَامَ الصَّلٰوةِ" کي که څه هم عوض چي "تا" ده او معوض چي "واو" دي دواړه حذف سوي دي او د دواړو حذف ناجائز دي. ليکن قائم مقام موجود دئ چي هغه ضمه ده؛ ځکه "واو" د دوو ضمو څخه جوړ دئ، "فَلَايَرِدُ مَاوَرَدَ".

په وَلِكُلٍّ وِجْهَةٌ (بقره) کي که څه هم اجتماع د عوض او معوض دواړو راغلې ده او دا اجتماع نا طله ده، ليکن اول خو د (وِجْهَةٌ) مصدر والی مُسَلَّم نه دئ، بيا که چيري ذی مصدر و منل سي. نو د ده مضارع "يَوْجَهُ" راځي او هغه "يَعِدُ" نه ده (اعلال نه دئ په کي سوی) او د قانون شرط مفقود دئ؛ ځکه قانون نه جاري کيږي. (نفزک)

"إِقَامَةٌ" په اصل کي "إِقْوَامٌ" وه، د "يَقَالَ يَبَاعَ" والا په قانون سره "إِقَامٌ" سو، دوه ساکنين جمع سوه، امام سيبويه رحمه الله او خليل رحمه الله دوهم الف حذف کوي؛ ځکه هغه زائد دئ "وَالزَّائِدُ اَحَقُّ بِالْحَذْفِ" او امام اخفش رحمه الله اول حذف کوي؛ ځکه دوهم علامه ده "وَالْعَلَامَةُ لَاتُحْذَفُ".

**د قانون خلاصه:**

په کم مصدر کي چي يو حرف د التقاء تنويني څخه علاوه په يو بله وجه وغورځي، نو د ده په عوض کي په آخر کي "تا" متحرکه را وړل واجب دي، مګر "لُغَةٌ او مِائَةٌ" شاذ دي.

**د قانون تفصيل:**

د دې قانون نوم دئ "اِقَامَةٌ اِسْتِقَامَةٌ" والا قانون.

د دې قانون دپاره يو حکم دئ او دوه يې شرطونه دي.

حکم يې دا دئ چي د حذف شده حرف په عوض کي "تاء" متحرکه په آخر کي راوړل واجب دي.

١. اول شرط يې دا دئ چي حذف سوی حرف به په مصدر کي وي، احترازي مثال: "يَعِدُ" دا مصدر نه دئ.

٢. دوهم شرط يې دا دئ چي د التقاء تنويني د وجهي څخه به نه وي حذف سوی يعني ثاني ساکن به نون تنوين نه وي، احترازي مثال: "هُدًى".

اتفاقي مثال: د اِقْوَامٌ اِسْتِقْوَامٌ څخه "اِقَامَةٌ اِسْتِقَامَةٌ" ويل واجب دي.

**فائده:**

د "هُدًى" اصل "هُدَىٌ" وو، بيا د "قَالَ بَاعَ" په قانون سره "ياء" په الف بدله سوه "هُدَانٌ" سو، بيا د التقاء ساکنين قانون ورته متوجه سو، اول ساکن چي الف دئ هغه مده وو هغه يې حذف کړئ، هُدًى سو.

**فائده:**

د "اِقَامَةٌ" اصل "اِقْوَامٌ" وو، بيا د "يَقَالُ يَبَاعُ" په قانون سره "اِقَامٌ" سو، بيا د التقاء ساکنين قانون ورته متوجه سو اول ساکن مده وو هغه حذف سو، او ثاني ساکن نون تنوين نه وو، نو د حذف شده حرف په عوض کي يې "تاء" متحرکه را وړل نو "اِقَامَةٌ" سو.

او "اِسْتِقَامَةٌ" هم پر دغه قياس کړه!

**فائده:**

د اضافت په وخت كي د دغي "تاء" حذف كول جائز دي، لكه: "إِقَامَ الصَّلٰوةِ" او "عِدَ الْأَمْرِ" چي په اصل "إِقَامَةُ" او "عِدَةُ" وه.

## د قانون د جاري كولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په اسماؤ كي جاري كيږي او په ثلاثي مجردو كي چي په كم ځای كي د "عِدَةٌ" والا قانون جاري سي نو هلته د "إِقَامَةٌ إِسْتِقَامَةٌ" والا قانون ضرور جاري كيږي او د ثلاثي مجرد څخه علاوه د باب افعال او استفعال په مصادرو كي هم جاري كيږي په دې شرط چي په هفت اقسامو كي په باب د اجوف وي او كله كله د باب تفعيل په مصدر كي هم جاري كيږي لكه: "تَنْجِيَةٌ" په اصل كي "تَنْجِيْيٌ" دوهم "جيم" خلاف القياس په "يا" سره بدل سو او بيا "يا" خلاف القياس حذف سوه د دې په عوض كي په آخر كي "تا" راوړل سوه او دغه قانون كله كله په جوامدو كي خلاف قانون شاذًا هم جاري كيږي لكه: "لُغَةٌ".

## (۳۷) قانون:

*هر واو ساكن مظهر غير واقع مقابله فاء كلمه باب افتعال ما قبلش مكسور ان واو را بيا بدل كنند وجوبًا بشرطيكه باعث تحريكش موجود نباشد.* (۱).

## د قانون خلاصه:

هر واو ساكن مظهر چي د باب افتعال د ،،فا،، كلمې په مقابله كي نه وي راغلی او د ده ماقبل مكسور وي، نو هغه "واو" په ،،يا،، سره بدلول واجب دي، په دې شرط چي د حركت وركولو يو سبب به يې موجود نه وي.

---

(۱) كه څه هم د "إِتَّقَدَ" او د ده د هم مثل لفظ د پاره دوه وجوبي قانونان دي: اول: مِيثاقٌ والا، دوهم: إِتَّقَدَ يَتَّقِدُ والا. ليكن هلته صرف د إِتَّقَدَ يَتَّقِدُ والا قانون جاري كيږي او د مِيثاقٌ والا قانون نه جاري كيږي. د هغه وجه دا ده چي يو خو "واو" او "تا" سره قريب المخرج دي، نو د دوی ادغام به نسبت د "يا" او د "تا" تر ادغام اولى دی. او بل كه چيري اول د مِيثاقٌ والا قانون جاري سي، نو بيا د إِتَّقَدَ يَتَّقِدُ والا قانون جاري كول تكثّر بلا ضرورت دی.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم دئ د "مِیْعَادٌ مِیْزَانٌ" والا قانون.

د دې قانون د پاره یو حکم دئ او پنځه یې شرطونه دي.

حکم یې دا دئ چي "واو" په "یاء" سره بدلول واجب دئ.

۱. اول شرط یې دا دئ چي "واو" به ساکن وي، احترازي مثال: "عِوَضٌ".
۲. دوهم شرط یې دا دئ چي ساکن مظهر به وي، احترازي مثال: "اِجْلِوَّاذٌ".
۳. دریم شرط یې دا دئ چي پر "فا" کلمه د باب افتعال به نه وي، احترازي مثال: "اِوْتَقَدَ".
۴. څلورم شرط یې دا دئ چي ما قبل به یې مکسور وي، احترازي مثال: "قَوْلٌ مُوْجِبٌ".
۵. پنځم شرط یې دا دئ چي باعث د حرکت به یې نه وي موجود، احترازي مثال: "اِوَزَّةٌ" په اصل کي "اِوْزَزَةٌ" وو. دلته یې باعث د حرکت سته چي راتلل د دوو (زاګانو) دي: ځکه یو به خامخا په بلي کي مدغموي چي کله یې مدغموي، نو واو ته به حرکت ورکوي، که حرکت ور نه کړئ، نو بیا اجتماع او التقاء د ساکنینو راځي په میان: (واو) او (زاء) کي.

اتفاقي مثال: د "مِوْعَادٌ مِوْزَانٌ" څخه "مِیْعَادٌ مِیْزَانٌ" ویل واجب دي.

## د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه:

دغه قانون په اسماؤ او افعالو دواړو کي جاري کیږي چي په کم ځای کي واو ساکن ما قبل مکسور وي نو هلته دغه قانون جاري کیږي که څه هم هغه لفظ اسم جامد وي لیکن یو څو ځایونه خاص دي چي په هغه کي همېشه دا قانون جاري کیږي هغه د ثلاثي مجرد د اسم مفعول دري صیغې دي:

۱. جمع مکسر مشترک لکه: "مَضَارِبُ".
۲. واحد مذکر مصغر لکه: "مُضَيْرِبٌ".
۳. واحد مؤنث مصغر لکه: مُضَيْرِبَةٌ".

خواه که په هفت اقسامو کي هر باب وي او که چیري په هفت اقسامو کي باب مثال واوي یا لفیف مفروق وي نو هلته بیا د هغه باب د اسم آلة په اولو دوو صیغو کي خو حتماً دغه قانون جاري کیږي.

## (۳۸) قانون:

هر دال ساكن كه مابعدش تاء متحرك غير تاء افتعال باشد، آن را تا كرده در تا ادغام مى كنند وجوبا. (۱)

### د قانون خلاصه:

هر دال ساکن مطلقا (د مطلقا مطلب دا دئ که په یوه کلمه کي وي او که په دوو کلمو کي وي) چي د ده څخه وروسته "تا" متحرکه وي په دې شرط چي "تا" د افتعال به نه وي، نو دغه دال په "تا" سره اړول او "تا" په "تا" کي مدغمول واجب دي.

### د قانون تفصیل:

د دې قانون نوم "وَعَتُّ" والا قانون دئ.

د دې قانون د پاره زموږ د استاذ په طبق یو حکم دئ درې یې شرطونه دي.

حکم یې دا دئ چي دال په تاء سره بدلول او تاء په تاء کي مدغمول واجب دي.

۱. اول شرط یې دا دئ چي دال به ساکن وي، احترازي مثال: "وَعَدَ".

۲. دوهم شرط یې دا دئ چي دال به پر فاء کلمې د باب افتعال نه وي، احترازي مثال: "اِدَّتَعَمَ".

۳. دریم شرط یې دا دئ چي د دال ساکن وروسته به تاء متحرکه وي، احترازي مثال: "وَعَدْنَ".

اتفاقي مثال: د "وَعَدْتَ" څخه "وَعَتَّ" ویل واجب دي.

(۱) د قانون دوهمه حصه په صرف بهتر ال او نورو کتابو د صرفو کي داسي ذکر سوې ده: (و عکس این است) د دې عکس دا دئ. دئ یعني که چیرې د دال څخه مخکي "تا" وي، نو "تا" په دال سره اړول او دال په دال کي مدغمول واجب دي. په کومو ځای کي چي "تا" او دال مشدد وي یعني "تا" د افتعال نه وي نو هلته دا قانون جاري کیږي. که چیرې متقاربین په یوه کلمه کي وي او د ادغام څخه وروسته د یوې کلمې د بلې کلمه سره التباس راتلی نو بیا هلته ادغام منع دئ لکه: پر وَطُدٌ (مضبوطون) او وَتْدٌ (میخ تیک وهل) کي که چیرې "ط" "تا" په دال کي مدغم سي نو د دوی د وَدٌّ (دوستي) سره ګډ خي نو بیا دا نه معلومیږي چي د وَدٌّ "دال" اصلي دئ یا د "ط" او د "ت" څخه بدل سوی دئ.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په فعل کي جاري کيږي کله چي په فعل کي د لام کلمه په مقابله کي "دال" راسي نو بيا په ماضي معلوم او مجهوله کي په اوو اوو صيغو کي جاري کيږي يعني د واحد مذکر مخاطب څخه بيا تر جمع متکلم پوري داغه رنګه که چيري د ماضي يا مضارع په شروع کي "تا" راغلي وه او پر هغه باندي "قَدْ" داخل سي نو بيا هلته ضرور دغه قانون جاري کيږي لکه: "قَدْتُبَيَّنَ، قَدْ تَضرِبُ".

## صيغي:

| موزون | وزن | [illegible] | شش اقسام | هفت اقسام | صيغه | قانون | اصل | نظير | باب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| يَـا | فَعِلَا | فعل | ثلاثي مجرد | مثال يائي، مهموز عين | تثنيه مذکر غائبين ماضي | - | × | خَلِمَا | ثلاثي مجرد |
| اِنْقَطِعْ | اِنْفَعِلْ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | واحد مذکر مخاطب امر حاضر | حروف اتين امر حاضر | تَنْقَطِعُ | اِنْصَرِفْ | انفعال |
| مُخَشْخِشٌ | مُفَعْلِلٌ | اسم | رباعي مجرد | مضاعف رباعي | واحد مذکر اسم فاعل | اسم فاعل | يُخَشْخِشُ | مُدَحْرِجٌ | رباعي مجرد |
| بَدِّلُوهُ | فَعِّلُوا | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | جمع مذکر مخاطبين امر حاضر | نون اعرابي | تُبَدِّلُونَ | صَرِّفُوا | تفعيل |
| بَبْدَلُوهُ | اِفْتَعِلُوا | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | جمع مذکر مخاطبين امر حاضر | نون اعرابي، همزه وصل | تَبْتَدِلُونَ | اِجْتَمِعُوا | افتعال |
| اِضَّاجَعَ | تَفَاعَلَ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | واحد مذکر غائب ماضي | همزه وصل | تَضَاجَعَ | تَضَارَبَ | تفاعل |
| مُصْطَلِقٌ | مُفْتَعِلٌ | اسم | ثلاثي مزيد | صحيح | واحد مذکر اسم فاعل | اسم فاعل حلقي العين، اظهار علم | مُصْتَلِقٌ | مُکْتَسِبٌ | افتعال |
| اِنْجَجَا | اِنْفَعِلَا | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | تثنيه مذکر مخاطبين امر حاضر | نون اعرابي، حروف اتين | تَنْجَجَانِ | اِنْصَرِفَا | انفعال |
| لِيَسْتَغِثْ | لِيَسْتَفْعِلْ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | واحد مذکر غائب امر غائب | - | × | لِيَسْتَخْرِجْ | استفعال |
| مُتَسَهَّلٌ | مُتَفَعَّلٌ | اسم | ثلاثي مزيد | صحيح | واحد مذکر اسم مفعول | اسم مفعول | يَتَسَهَّلُ | مُتَکَرَّمٌ | تفعّل |
| جَمِّلْنَانِّ | فَعِّلْنَانِّ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | جمع مؤنث مخاطبات امر حاضر | الف فاصله | جَمِّلْنَ | صَرِّفْنَانِّ | تفعيل |
| اَنْفِقُوا | اَفْعِلُوا | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | جمع مذکر مخاطبين امر حاضر | نون اعرابي، حروف اتين | تُنْفِقُونَ | اَکْرِمُوا | افعال |
| اِبْتَزَّا | اِفْتَعِلَا | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | تثنيه مذکر مخاطبين امر حاضر | نون اعرابي | تَبْتَزَّانِ | اِجْتَمِعَا | افتعال |
| بَسْمِلُوا | فَعْلِلُوا | فعل | رباعي مجرد | صحيح | جمع مذکر مخاطبين امر حاضر | نون اعرابي | تُبَسْمِلُونَ | دَحْرِجُوا | رباعي مجرد |
| وَالِجْ | فَاعِلْ | فعل | ثلاثي مزيد | مثال واوي | واحد مذکر مخاطب امر حاضر | امر حاضر | تُوَالِجُ | ضَارِبْ | مفاعله |
| مُحَمَّنٌ | مُفَعَّلٌ | اسم | ثلاثي مزيد | مضاعف ثلاثي | واحد مذکر اسم مفعول | اسم مفعول | تُحَمِّنُ | مُصَرَّفٌ | تفعيل |
| وَلِتُکْمِلُوا | لِتُفْعِلُوا | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | جمع مذکر مخاطبين مضارع | نون اعرابي | تُکْمِلُونَ | لِتُکْرِمُوا | افعال |
| جَاهِسْنَانِّ | فَاعِلْنَانِّ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | جمع مؤنث مخاطبات امر حاضر | الف فاصله | جَاهِسْنَ | ضَارِبْنَانِّ | مفاعله |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مُخْرِجٌ | اَلْمُفْعِلُ | اسم | ثلاثي مزيد | صحيح | واحد مذكر اسم فاعل | نون تنوين، تثنيه وجمع اسم فاعل | يُخْرِجُ | مُكْرِمٌ | افعال |
| اِئْتَنْ | اِفْتَعَلْ | فعل | ثلاثي مجرد | مضاعف ثلاثي مهموز الفاء | واحد مذكر مخاطب امر حاضر بانون ثقيله | امر حاضر | تَنَأْ | اِمْتَعَلْ | ثلاثي مجرد |
| تَنْخَرِجْنَانِّ | تَفْعَلِلْنَانِّ | فعل | رباعي مزيد | صحيح | جمع مؤنث غائبات امر حاضر | الف فاصل | تَتَخَرْجَنْ | تَتَخَرْجَنَانِّ | تفعلل |
| لَنْ يُوَرِبَا | لَنْ يَفْعِلَا | فعل | ثلاثي مزيد | مثال واوي | تثنيه مذكر غائبين نفي معلوم مؤكد بلن ناصب | به سقوط نون اعرابي | يُوَرِبَانِ | لَنْ يَنْصَرِفَا | انفعال |
| مُتَخَفَّانِ | مُتَفَعْلَانِ | اسم | ثلاثي مزيد | مضاعف ثلاثي | تثنيه مذكر اسم مفعول | . | × | مُتَكَرَّمَانِ | تفعل |
| اُنْزُوِيَ | اُنْفُعِلَ | فعل | ثلاثي مزيد | لفيف مقرون | واحد مذكر ماضي مجهول | ماضي مجهول / حروف اخفاء | اِنْزَوَى | اُنْصُرِفَ | انفعال |

## التمرين:

طِلْفَةٌ، وَصْفَتَا، مِنْزِدَتَكَ، فَعَدْتُمْ عَلَى حِدَةٍ، اِشَاعَةٌ، اِسْتِمَاعَتُهَا، اِقَاضِيْ، وَسْتِفَالْتُمْ، مِيْزَاتٌ، صِيْغَةٌ، عِدْتُمْ، لُوْجِتُ، فَتْمَدْتُ، تَمَهْ قِدْتُ، لَتْ رِتْ، نَتْمَتْ، قُلْتُ، اَتْ اَتْ، وَتْ جِدْتُ، لَتَقَتَا، لَقِرَةٌ، لِعَدَتِي، لَتَيَقَاعَتَا، مِيْجَامُوْ، مِيْصَلُوْ.

## (۳۹) قانون:

هر واو مضموم یا مکسور که واقع شود در اول کلمه و مابعدش دیگر واو متحرک نباشد یا مضموم بحرکت لازمی که مقابله عین کلمه همزه میشود جوازاً بشرطیکه در مضارع معلوم نباشد. (۱)

(۱) که چیري د "واوُ" متحرک څخه وروسته "واو" ساکن راسي، نو دغه واو متحرک هم په همزه سره بدلول جائز دي، لکه: دُوَوْرِيْ څخه اُوْرِيْ ویل؛ څکه په قانون کي نفي د واو متحرک راغلي ده نه د "واو" ساکن.
په یو څو الفاظو کي د شاذ په طور باندي د قانون د شرطو د نه موجودېدلو باوجود قانون جاري سوی دئ، یعني واو مفتوح په همزه سره بدل سوی دئ، لکه: اَحَدٌ، اَنَاةٌ، اَسْمَاءُ پر وزن د فَعْلَاءُ په اصل کي وَحَدٌ، وَنَاةٌ، وَسْمَاءُ وه.
او واو مضموم او مکسور په تاء سره بدلیږي، لکه: تِجَاهٌ، تُكْلَانٌ او تُرَاثٌ دا په اصل کي وِجَاهٌ، وُكْلَانٌ او وُرَاثٌ وه.
د سبویه په نزد باندي اَسْمَاءُ په اصل کي وَسْمَاءُ دئ پر وزن د فَعْلَاءُ. دا د وَسَامَةٌ څخه دئ بمعنی "حُسْنُ الْوَجْهِ".
او د مبرد په نزد باندي د اَسْمَاءُ وزن اَفْعَالٌ دئ او مفرد یې اِسْمٌ دئ او دَی غیر منصرف دئ د علمیت او د تانیث معنوي په وجه باندي، لیکن راجح مذهب د سبویه دئ؛ څکه تسمیه بالصفات دا اکثر ده تر تسمیه بالمجموع. (جاربردي)
که څه هم د دې قاعدې انتقاض په لفظ د "اُوَلٌ" سره راځي؛ څکه د "اُوَلٌ" اصل "وُوَلٌ" وو، دلته واو په همزه سره بدلول واجب دي، لیکن دا خو یا شاذ دي (فوائد حقیقیه دستور المبتدي) یا دا محمول علی الجمع دئ، لکه څنګه چي د ده په جمع "اُوَلٌ" کي واو په همزه سره بدلول واجب دي، نو دلته هم د حمل الواحد علی الجمع په قاعده سره واو په همزه سره بدل سوی دئ وجوباً. (کما في جاربردي و شرح شافیه)

## د قانون خلاصه:

هر "واو" مضموم يا مكسور چي د كلمې په شروع كي راسي او د دغه وروسته بل "واو" متحرك نه وي. يا واو مضموم او مخفف وي او حركت يې هم لازمي وي او د عين كلمې په مقابله كي راسي. نو دغه واو په همزه سره بدلول جائز دي، په دې شرط چي په مضارع معلوم كي به نه وي.

## د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم "أعدإشاخ" والا قانون دئ.

د دې قانون دپاره يو حكم دئ او دوه جماعته يې د شرطونو دي: د اول جماعت دپاره درې شرطونه دي او د دوهم جماعت دپاره دوه شرطونه دي.

حكم يې دا دئ چي واو په همزه سره بدلول جائز دي.

### د اول جماعت شرائط:

۱. اول شرط يې دا دئ چي واو به مضموم يا مكسور وي، احترازي مثال: "وَعَدَ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ چي په اول د كلمې كي به وي، احترازي مثال: "قَوِلَ".

۳. دريم شرط يې دا دئ چي د دغه واو وروسته به بل واو متحرك نه وي، احترازي مثال: "وُوَيعِدُ".

اتفاقي مثال: د "وَعِدَ، وِشَاحٌ او وُوْعِدَ څخه أَعِدَ، إِشَاحٌ او أُوْعِدَ" ويل جائز دي.

### د دوهم جماعت شرائط:

۱. اول شرط يې دا دئ چي واو به مضموم وي، احترازي مثال: "وَعَدَقَوِلَ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ چي پر عين كلمه به وي، احترازي مثال: يَدْعُوَنَّ.

اتفاقي مثال: د "قَوُلَ أَدوُرٌ" څخه "قَؤُلَ أَدْؤُرٌ" ويل جائز دي.

## د قانون د جاري كولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون په اسماؤو او افعالو دواړو كي جاري كيږي او په فعل كي اكثره د ماضي مجهولي په صيغه كي جاري كيږي په دې شرط چي په هفت اقسامو كي به باب مثال واوي وي يا به لفيف وي

لکه: د "وَعد" څخه "اَعِدْ" ويل او که چيرې باب اجوف واوي وي نو بيا د فعل تعجب په آخره صيغه کي هم جاري کيږي لکه: د "قول" څخه "قُوْل" ويل او په اسم کي اکثر د اسم فاعل او صفت مشبه د جمع مذکر مکسر په صيغه کي جاري کيږي په دې شرط چي باب به مثال واوي يا لفيف وي.

## (۴۰) قانون:

هر باب مثال واوي بر وزن مَنَعَ يَمْنَعُ يا که ماضي او نيافته شده باشد يا مضارع معلومش بر وزن يَفْعِلُ باشد، در مضارع معلوم او فاکلمه را حذف کنند وجوبًا، واز باب فَعِلَ يَفْعَلُ ودر دو باب وَسِعَ يَسَعُ وَطِئَ يَطَئُ نيز. (۱)

### د قانون خلاصه:

د مثال واوي هر هغه باب چي د "مَنَعَ يَمنَعُ" پر وزن وي، يا د هغه ماضي قليل الاستعمال وي، او يا يې مضارع معلوم د يَفعِلُ پر وزن وي، نو د دغه باب په مضارع معلوم کښې "فاء" کلمه حذف کول واجب دئ. او د "فَعِلَ يَفعَلُ" پر وزن باندي په دوو بابو يعني "وَسِعَ يَسَعُ او وَطِئَ يَطَئُ" کي واو سِمَاعًا حذف سوی دئ.

### د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم دئ د "يَعِدُ يَضَعُ" والا قانون.

د دې قانون دپاره يو حکم دئ او درې جماعته يې د شرطونو دي: د هر جماعت دپاره دوه دوه شرطونه دي.

حکم يې دا دئ چي په مضارع معلومه کي د "فا" کلمې حذف کول واجب دي.

(۱) د مثال واوي هر هغه باب چي په مضارع معلوم کي يې "فا" کلمه حذف سوې وي. نو هلته دا قانون جاري کيږي.

**فائده:** د "فَعِلَ يَفعَلُ" په دوو بابو يعني په "وَسِعَ يَسَعُ" او "وَطِئَ يَطَئُ" کي واو سماعا حذف سوی دئ.

په "وَعَدَ" "وَضَعَ" او د دوی په هم مثال الفاظو کي دوه وجوبي قانونات يعني ميعاد او يَعِدُ يَضَعُ والا قانونات جاري کيږي. ليکن دلته صرف يَعِدُ والا قانون جاري کيږي او د ميعاد والا قانون نه جاري کيږي. د هغه وجه دا ده چي ميعاد مقتضي د ابدال دي او يَعِدُ مقتضي د حذف دئ. او قاعده دا ده چي په کوم ځای کي د ابدال او د حذف تقابل سره راسي. نو هلته ترجيح و حذف ته وي؛ ځکه د ابدال او حذف وغيره څخه مقصود تخفيف وي او دا ښکاره خبره ده چي په حذف کي تخفيف د ابدال په نسبت زيات وي.

**د اول جماعت شرائط:**

١. اول شرط يې دا دئ چي باب به مثال واوي وي احترازي مثال: "يَسَرَ".

٢. دوهم شرط يې دا دئ چي پر وزن به د "مَنَعَ يَمنَعُ" به وي، احترازي مثال: "وَسَمَ يَوسَمُ".

اتفاقي مثال: د "وَضَعَ يَوضَعُ" څخه "يَضَعُ" ويل واجب دي.

**د دوهم جماعت شرائط:**

١. اول شرط يې دا دئ چي باب به مثال واوي وي، احترازي مثال: "يَسَرَ".

٢. دوهم شرط يې دا دئ چي ماضي به يې قليل الاستعماله وي يعني كمه (لږ) به استعماليږي، احترازي مثال: "وَسَمَ يَوسَمُ" د دې باب ماضي ډېره استعماليږي.

اتفاقي مثال: د "يَوذَعُ يَوذَرُ" څخه "يَدَعُ يَذَرُ" ويل واجب دي.

**د دريم جماعت شرائط:**

١. اول شرط يې دا دئ چي باب به مثال واوي وي، احترازي مثال: "يَسَرَ".

٢. دوهم شرط يې دا دئ چي مضارع معلومه به يې پر وزن د يَفعِلُ وي، احترازي مثال: "وَسَمَ يَوسَمُ".

اتفاقي مثال: د "يَوعِدُ يَورِمُ" څخه "يَعِدُ يَرِمُ" ويل واجب دئ.

**د قانون د جاري كولو طريقه او مقامونه:**

دغه قانون صرف د ثلاثي مجرد د ماضي معلوم څخه علاوه نورو په ټولو افعالو كي جاري كيږي او په اسمو كي او په فعل مجهول او په مزيداتو كي دغه قانون نه جاري كيږي او د دې قانون د جاري كېدلو دپاره شرط دا دئ چي باب به مثال واوي يا به لفيف وي او د دې قانون سره اكثريت د حلقي الغين والا قانون هم جاري كيږي.

# (۴۱) قانون:

دوواو متحرک که جمع شوند در اول کلمه واو اولی را به همزه بدل کنند وجوبا. (۱)

## د قانون خلاصه:

دوه "واو" متحرک چي د کلمې په شروع کي سره جمع سي، نو اوّل واو په همزه سره بدلول واجب دئ.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم "اَوَاعِدُ اُوَيْعِدُ" والا قانون دئ.

د دې قانون د پاره زموږ د استاذ په طبق يو حکم دئ دوه يې شرطونه دي.

حکم يې دا دئ چي اول واو په همزه سره بدلول واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چي دوه واوه متحرکان به يو ځای سره راغلي وي، احترازي مثال: "وَوْرِيَ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ چي په اول د کلمې کي به راغلي وي، احترازي مثال: قَوِوَ.

اتفاقي مثال: د "وَوَاعِدُ وُوَيْعِدُ" څخه "اَوَاعِدُ اُوَيْعِدُ" ويل واجب دي.

---

(۱) دغه قانون هغه وخت جاري کيږي چي کله دوه "واوه" په يوه کلمه کي سره جمع سي. او که چيري په دوو کلمو کي سره جمع سول بيا دغه قانون نه جاري کيږي، لکه: په وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ دَاوٗدَ کي.

**فائده:**

په لفظ د "اَوَّل" کي مشهوره درې اقوال دي:

۱. اول قول: "اَوَّلُ" د "وَئِلَ" څخه دئ. اصل يې اَوْئَلُ وو.

۲. دوهم قول: "اَوَّلُ" د "ءَوَّلُ" څخه دئ، ددې اصل اَءْوَلُ وو. په دواړو صورتو کي يې همزه په واو سره بدل سو او واو په واو کي مدغم سو، نو "اَوَّلُ" سو. ليکن دا دواړه مذهبونه ضعيف دي.

۳. دريم قول: اصل او صحيح مذهب دا دئ چي "اَوَّلُ" د "وَوَّلُ" څخه دئ، په شروع کي يې همزه زائده راوړل سوه او "واو" په "واو" کي مدغم سو، نو "اَوَّلُ" سو.

ددې قول د صحت دليل دا دئ چي د ده مؤنث "اُوْلیٰ" او جمع يې "اَوَائِلُ" راځي، چي په اصل کي "وُوْلیٰ" او "وَوَائِلُ" وه. (والتفصيل في شروح الشافيه و في الفوائد الحقيقية)

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

د دغه قانون په اسماؤو او افعالو دواړو کي جاري کيږي او په اسماؤو کي د ثلاثي مجردو د اسم فعل په آخري درو صيغو کي جاري کيږي يعني په جمع مؤنث مکسره. واحد مذکر مصغر او واحد مؤنثه مصغره کي او د دې قانون سره اکثريت د حلقي العين والا قانون هم جاري کيږي.

## (۴۲)قانون:

هر باب مثال واوی از باب فَعِلَ يَفْعَلُ که غير محذوف الفاء باشد در مضارع معلوم او سوای اصل سه وجه خواندن جائز اند چنانچه در يَوْجَلُ، يَاجَلُ، يَيْجَلُ، يِيجَلُ خواندن جائز است.

## د قانون خلاصه:

د مثال واوي هر هغه باب چي د عَلِمَ يَعْلَمُ پر وزن وي او "فا" کلمه يې حذف سوې نه وي، نو د هغه باب په مضارع معلوم کي د اصل څخه ماسوا درې وجهي ويل جائز دي. لکه د يَوْجَلُ څخه "يَاجَلُ، يَيْجَلُ، يِيجَلُ" ويل جائز دي.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم دئ د "يَوْجَلُ يَاجَلُ يَيْجَلُ يِيجَلُ" والا قانون.
د دې قانون د پاره يو حکم دئ او درې يې شرطونه دي.
حکم يې دا دئ چي په مضارع معلومه کي سوا د وزن اصلي څخه درې وجهي ويل جائز دي.

1. اول شرط يې دا دئ چي باب به مثال واوي وي. احترازي مثال: "يَسَرَ".
2. دوهم شرط يې دا دئ چي پر وزن به د "عَلِمَ يَعْلَمُ" وي، احترازي مثال: "وَسُمَ يَوْسُمُ".
3. دريم شرط يې دا دئ چي محذوف الفاء به نه وي، احترازي مثال: "وَسِعَ يَسَعُ".

اتفاقي مثال: د "وَجِلَ يَوْجَلُ" څخه "يَاجَلُ يَيْجَلُ يِيجَلُ" ويل جائز دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف د ثلاثي مجرد و په معلوم افعالو کي جاري کيږي په دې شرط چې په هفت اقسامو کي په باب مثال واوي يا لفيف مفروق وي لېکن په ماضي معلوم او امر حاضر معلوم او په اسماؤو او افعالو مجهولو او په مزيداتو کي دغه قانون نه جاري کيږي.

## صيغې:

| موزون | وزن | مقابل | شش اقسام | هفت اقسام | صيغه | قانون | اصل | نظير | باب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زَنْتْ | فَعَلْتَ | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | واحد مذكر مخاطب ماضي معلوم | وعدت | زَنَدْتَ | وَعَدْتَ | ثلاثي مجرد |
| فَلِيَمُنَّ | فَفَاعِلْهُنَّ | فعل | ثلاثي مزيد | اجوف يائي | واحد مذكر مخاطب امر حاضر | امر حاضر | تَبَايَعْ | ضَارِبْ | مفاعله |
| لِلْمُطَفِّفِيْنَ | مُفَعِّلِيْنَ | اسم | ثلاثي مزيد | مضاعف ثلاثي | جمع مذكر سالم اسم فاعل | اسم فاعل | يُطَفِّفُوْنَ | مُصَرِّفِيْنَ | تفعيل |
| اِزْلَعِبَّا | اِفْعَلِلَّا | فعل | رباعي مزيد | صحيح | تثنيه مذكر مخاطبين امر حاضر | نون اعرابي | تَزْلَعِبَّانِ | اِقْشَعِرَّا | افعلال |
| اِزْلَعِبَّا | اِفْعَلِلَّا | فعل | رباعي مزيد | صحيح | تثنيه مؤنث مخاطبتين امر حاضر | نون اعرابي | تَزْلَعِبَّانِ | اِقْشَعِرَّا | افعلال |
| اِزْلَعِبَّا | اِفْعَلِلَّنْ | فعل | رباعي مزيد | صحيح | واحد مذكر مخاطب امر حاضر بانون خفيفه | امر حاضر / نون خفيفه | اِزْلَعِبَّنْ | اِقْشَعِرَّنْ | افعلال |
| سِعَةٌ | فِعَلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | مثال واوي | اسم مصدر | اقامه، عدة | وِسْعٌ | عِدَةٌ | ثلاثي مجرد |
| اِمَارَةٌ | اِفْعَالٌ | اسم | ثلاثي مزيد | اجوف واوي | اسم مصدر | اقامه استقامه | اِمْوَارٌ | اِقَامَةٌ | افعال |
| عَلَا | اِفْعَلَنْ | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي | واحد مذكر مخاطب امر حاضر بانون خفيفه | نون خفيفه | اِوْعَلَنْ | ضَعَا | ثلاثي مجرد |
| عَلَا | اِفْعَلَا | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي | تثنيه مذكر مخاطبين امر حاضر | نون اعرابي | اِوْعَلَا | ضَعَا | ثلاثي مجرد |
| عَلَا | اِفْعَلَا | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي | تثنيه مؤنث مخاطبتين امر حاضر | نون اعرابي | اِوْعَلَا | ضَعَا | ثلاثي مجرد |
| اِسْتِخَارَتُو | اِسْتِفْعَالٌ | اسم | ثلاثي مزيد | اجوف يائي | اسم مصدر | نون تنوين / اقامه استقامه | اِسْتِخْيَارٌ | اِسْتِقَامَةٌ | استفعال |
| اِيْزَادُ | اِفْعَالٌ | اسم | ثلاثي مزيد | مثال واوي | اسم مصدر | ميعاد او ميزان | اِوْزَادٌ | اِكْرَامٌ | افعال |
| لَوُجِدْتَ | فُعِلْتَ | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي | واحد مذكر مخاطب ماضي مجهول | وعدت | وُجِدْتَ | وُعِدْتَ | ثلاثي مجرد |
| اَلْاِسْتِجَابَةُ | اَلْاِسْتِفْعَالُ | اسم | ثلاثي مزيد | اجوف واوي | اسم مصدر | نون تنوين تثنيه جمع / اقامه استقامه | اِسْتِجْوَابٌ | اِسْتِقَامَةٌ | استفعال |
| زِنْ | اِفْعِلْ | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي | واحد مذكر مخاطب امر حاضر | امر | اِوْزِنْ | ضَعْ | ثلاثي مجرد |
| لَنْ تَجِدَ | لَنْ تَفْعِلَ | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي | واحد مذكر مخاطب فعل نفي | يعد / حرف اخفا | لَنْ تَوْجِدَ | لَنْ تَعِدَ | ثلاثي مجرد |
| يَصِفُوْنَ | يَفْعِلُوْنَ | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي | جمع مذكر غائبين مضارع معلوم | يعد | يَوْصِفُوْنَ | يَعِدُوْنَ | ثلاثي مجرد |
| صُنَّ | فُعَلَ | فعل | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | واحد مذكر غائب فعل تعجب | امر اقول | صَوُنَ | قُلَ | ثلاثي مجرد |
| اُجِدَ | فُعِلَ | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي | واحد مذكر غائب ماضي مجهول | ماضي مجهول امر اقول | وُجِدَ | اُعِدَ | ثلاثي مجرد |
| قَدَّرَ | فَعَّلَ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | واحد مذكر غائب ماضي معلوم | | × | صَرَّفَ | تفعيل |
| قَدَرَ | اِفْتَعَلَ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | واحد مذكر غائب ماضي معلوم | [illegible] | اِقْتَدَرَ | اِجْتَمَعَ | افتعال |

## التمرين:

اُجِدَ، اُقُوْرِوَ، فُنِيَ، وَقَعْنَ. كَيْ اَرْدَدَ، تِعِدَانِ، سَنَسِمَهُ، ذَرْنِيْ. اُوَارِمُ، اُوَيْرِمَةٌ، فَنُوَيْفِمُوْ، وَاَوَاعِضَ، لَاتَاَلْ، لِيَاجَلَنَانِ، لَايَيْسَاكَ، تَبْلُغُ، لَاتَاجِجِيْ، لَنَقَائَوْ، اُوْلَا، اُرْثِنْ، لَمْ يَتَّسَا، لَمْ اَنْدَ، اَلتُّوَيْبَرُ، وَءُوَيْنَجُوْ، لَنْ يَاْتَمُوْا.

## (۴۳)قانون:

هر یاء ساکن مظهر غیر واقع مقابله فاء کلمه باب افتعال ماقبلش مضموم آن را بواو بدل کنند وجوبًا بشرطیکه در جمع افعل وفعلاء صفتی وفعلی صفتی نه باشد واسم مفعول ثلاثی مجرد اجوف یائي نباشد اگر باشد ضمه ماقبلش را بکسره بدل کنند وجوبًا. (۱)

### د قانون خلاصه:

هر یاء ساکنه مظهره چي د باب افتعال د "فا" کلمې په مقابله کې نه وي او د دې "یا" ماقبل مضموم وي، نو د غه "یا" په "واو" سره بدلول واجب دي، خو په دې شرط چي د غه "یا" به د اَفعَلُ او "فُعَلَاءُ" صفتي په جمع او په "فُعلیٰ" صفتي او په اسم مفعول ثلاثي مجرد اجوف یایي کي به نه وي. او که چیري وه، نو بیا د دې د ماقبل ضمه په کسره بدلول واجب دي.

### د قانون تفصیل:

د دې قانون نوم دې د "یُوسِرُ" والا قانون.

### فائده:

کم اسم چي د "اَفعَلُ" پر وزن باندي وي هغه پر درې قسمه دئ:

۱. اسمي.
۲. تفضیلي.
۳. صفتي.

---

(۱) د فُعلیٰ اسمي او د فُعلیٰ صفتي په منځ کي د فرق ظاهرولو د پاره په فُعلیٰ اسمي کي "یا" په "واو" سره بدله سوې ده نه په فُعلیٰ صفتي کي او عکس یې ځکه نه دئ کړی چي فُعلیٰ صفتي د فعل په شان په معنی کي ثقیل دئ او "واو" هم د "یا" څخه ثقیل دئ، نو که چیري یې په فُعلیٰ صفتي کي "یا" په "واو" سره بدله کړې وای، نو ثقل معنوي او لفظي دواړه لازمېدئ او دا ناجائز دي. (صرف بهتر از صفحه ۷۷)

**اول**: "أَفْعَلُ" اسمي و هغه ته وايي چي د "أَفْعَلُ" پر وزن باندي وي او د يو چا دپاره نوم وي، لکه: "أَحْمَدُ" دا نوم دئ او د افعل پر وزن دئ.

**دوهم**: "أَفْعَلُ" تفضيلي و هغه ته وايي چي د أفعل پر وزن وي د زيادت او ډېرښت معنٰى پکي معتبره سوی وي، لکه: "أَضرَبُ" معنٰى ډېر وهونکی سړی. په دې کي صفتي او اسمي معنٰى نه ده معتبره سوې.

**دريم**: "أَفْعَلُ" صفتي و هغه اسم ته وايي چي د أَفْعَلُ پر وزن باندي وي او صفتي معنٰى پکي معتبره سوی وي، لکه: "أَحْمَرُ" معنٰى هغه ذات چي په ده کي سوروالی وي، په دې کي اسمي او تفضيلي معنٰى نه ده معتبره سوې.

د فُعْلیٰ وزن هم پر درې قسمه دئ:

۱. اسمي.

۲. تفضيلي.

۳. صفتي.

**اول**: "فُعْلیٰ" اسمي و هغه ته وايي چي د فُعْلیٰ پر وزن وي او د يو شي دپاره نوم وي. لکه: "طُوْبیٰ" دا د يو درختي نوم دئ.

**دوهم**: "فُعْلیٰ" تفضيلي و هغه ته وايي چي د فُعْلیٰ پر وزن وي صرف د زيادت او ډېرښت پر معنٰى دلالت کوي، لکه: "ضُرْبیٰ" معنٰى ډېره وهونکې ښځه.

**دريم**: "فُعْلیٰ" صفتي و هغه ته وايي چي د فُعْلیٰ پر وزن وي او صرف پر صفتي معنٰى دلالت کوي، لکه: "حُبْلیٰ" معنٰى په ناز او نخرو تلونکې ښځه.

د فَعْلَاءُ وزن پر دوه قسمه دئ:

۱. اسمي.

۲. صفتي.

**اول**: "فَعْلَاءُ" اسمي و هغه ته ويل کيږي چي پر وزن د فَعْلَاءُ وي او د يو شي دپاره نوم وي، لکه: "صَحْرَاءُ" نام باديه، "دَرْدَاءُ" نام صحابي.

**دوهم**: "فَعْلَاءُ" صفتي و هغه ته وايي چي د فَعْلَاءُ پر وزن باندي وي او صفتي معنٰى پکي معتبره کړل سوې وي، لکه: "بَيْضَاءُ" معنٰى سپينه ښځه.

د دې قانون دپاره دوه حکمه دي. د اول حکم دپاره اووه شرطونه دي او د دوهم حکم دپاره درې جماعتونه د شرطو دي او د هر جماعت دپاره پنځه پنځه شرطونه دي.

**اول حکم**: اول حکم يې دا دئ چې "يا" په "واو" سره بدلول واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چې يا به ساکنه وي، احترازي مثال: "يَسَرَ".
۲. دوهم شرط يې دا دئ چې يا به مظهره وي، احترازي مثال: "يَيَّ".
۳. دريم شرط يې دا دئ چې دغه "يا" به په مقابله د "فا" کلمې د باب افتعال کې نه وي، احترازي مثال: "اِيْتَسَرَ".
۴. څلورم شرط يې دا دئ چې ما قبل د دغه "يا" به مضموم وي، احترازي مثال: "يَيَّ".
۵. پنځم شرط يې دا دئ چې په جمع د اَفعَل صفتي او فَعلاء صفتي کې به نه وي، احترازي مثال: "بِيْضٌ" دا د "اَبْيَضُ" مذکر او "بَيْضَاءُ" مونث مشترکه جمع ده.
۶. شپږم شرط يې دا دئ چې په فُعلى صفتي کې به نه وي، احترازي مثال: "خِيْكَى".
۷. اووم شرط يې دا دئ چې اسم مفعول ثلاثي مجرد اجوف يايي به نه وي، احترازي مثال: "مَبِيْعٌ".

اتفاقي مثال: د "يُيْسِرُ" څخه "يُوْسِرُ" ويل واجب دي.

**دوهم حکم**: دوهم حکم يې دا دئ چې د ياء د ماقبل حرف ضمه په کسره بدلول واجب دي.

**د اول جماعت شرائط**:

۱. اول شرط يې دا دئ چې ياء به ساکنه وي، احترازي مثال: "يَسَرَ".
۲. دوهم شرط يې دا دئ چې مظهره به وي، احترازي مثال: "يَيَّ".
۳. دريم شرط يې دا دئ چې په مقابله د "فا" کلمې د باب افتعال کې به نه وي، احترازي مثال: "اِيْتَسَرَ".
۴. څلورم شرط يې دا دئ چې ما قبل به يې مضموم وي، احترازي مثال: "يَيَّ".
۵. پنځم شرط يې دا دئ چې په جمع د اَفعَل صفتي او فَعلاء صفتي کې به وي، احترازي مثال: "يُيْسَرُ".

اتفاقي مثال: د "بُيْضٌ" څخه "بِيْضٌ" ويل واجب دي.

**د دوهم جماعت شرائط:**

۱. اول شرط يې دا دئ چي "ياء" به ساکنه وي. احترازي مثال: "يَسَرَ".
۲. دوهم شرط يې دا دئ چي مظهره به وي، احترازي مثال: "بِيَّ".
۳. دريم شرط يې دا دئ چي په مقابله د "فا" کلمې د باب افتعال کي به نه وي، احترازي مثال: "اِتَّسَرَ".
۴. څلورم شرط يې دا دئ چي ما قبل به يې مضموم وي. احترازي مثال: "بُيِّعَ".
۵. پنځم شرط يې دا دئ چي په فُعْلیٰ صفتي کي به وي. احترازي مثال: "يُسْرىٰ".
اتفاقي مثال: د "خِيْكیٰ" څخه "خِيْكیٰ" ويل واجب دئ.

**د دريم جماعت شرائط:**

۱. اول شرط يې دا دئ چي "ياء" به ساکنه وي. احترازي مثال: "يَسَرَ".
۲. دوهم شرط يې دا دئ چي مظهره به وي. احترازي مثال: "بِيَّ".
۳. دريم شرط يې دا دئ چي په مقابله د "فا" کلمې د باب افتعال کي به نه وي. احترازي مثال: "اِتَّسَرَ".
۴. څلورم شرط يې دا دئ چي ما قبل به يې مضموم وي. احترازي مثال: "بُيِّعَ".
۵. پنځم شرط يې دا دئ چي د اسم مفعول ثلاثي مجرد اجوف يايي به وي. احترازي مثال: "يُسْرٌ".
اتفاقي مثال: د "مَبْيُوْعٌ" څخه "مَبِيْعٌ" ويل واجب دي.

**فائده:**

"مَبِيْعٌ" په اصل کي "مَبْيُوْعٌ" وو، بيا د "يَقُوْلُ يَبِيْعُ" په قانون سره د "ياء" حرکت د "ب" ته ور کول سو "مَبُيْوْعٌ" سو. بيا د دغه پورتني قانون په دوهم حکم سره د "ياء" د ما قبل ضمه په کسره بدله سوه "مَبِيْوْعٌ" سو. بيا د "ياء" او "واو" التقاء ساکنين علیٰ غير حده سره راغله اول ساکن مده وو. هغه حذف سو د التقاء ساکنين په قانون سره "مَبِيْعٌ" سو. بيا د "بِيْعٌ" په قانون سره "مَبِيْعٌ" سو.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون په اسماؤو او افعالو دواړو کي جاري کيږي د دې قانون اول حکم اکثريت په فعلو کي جاري کيږي خاص کر په مضارع مجهوله کي په دې شرط چي په هفت اقسامو کي به باب مثال يايي وي او په ناقص يايي کي چي کله د يقول يبيع والا قانون جاري سي نو بيا هلته اکثره دغه يوسر والا قانون هم جاري کيږي او د دوهم حکم اول جماعت د "أفعَلُ، فُعلَاءُ" صفتي په جمع کي جاري کيږي په دې شرط چي هغه جمع به د "فُعلٌ" پر وزن وي. او اجوف يايي به وي دوهم جماعت په "فُعلَىٰ" صفتي او تفضيلي کي جاري کيږي په دې شرط چي باب به اجوف يايي يا لفيف مقرون وي نو بيا د اسم تفضيل مؤنث په درې صيغو کي قانون جاري کيږي. او دريم جماعت د ثلاثي مجرد د اجوف يايي يا لفيف مقرون د اسم مفعول پر شپږو قياسي صيغو باندي جاري کيږي.

## صيغې:

| موزون | وزن | سه اقسام | شش اقسام | هفت اقسام | صیغه | قانون | اصل | نظیر | باب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| جاهدُوا | فَاعِلُوا | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | جمع مذکر مخاطبين امر حاضر | نون اعرابي | تُجَاهِدُونَ | ضَارِبُوا | مفاعلة |
| قَاعَدْتَ | فَاعَلْتَ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | واحد مذکر مخاطب ماضي معلوم | وحدت | قَاعَدْتَ | ضَارَبْتَ | مفاعلة |
| تُونَتُونَ | تَفْعَلُونَ | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي | جمع مذکر مخاطبين مضارع | مضارع مجهول | تُونَتُونَ | تَضْرِبُونَ | ثلاثي مجرد |
| كِتَابٌ | اِفْتِعَالٌ | اسم | ثلاثي مزيد | صحيح | اسم مصدر | ضم کلمه همزه وصل | اِكْتِتَابٌ | اِجْتِمَاعٌ | افتعال |
| وَلَاتَطِئُوا | وَلَاتَفْعِلُوا | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي | جمع مذکر مخاطبين نهي | نون اعرابي، يعد | تَوطِئُونَ | وَلَاتَعِدُوا | ثلاثي مجرد |
| عِزْنَانِ | اِفْعِلْنَانِ | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي | جمع مؤنث مخاطبات امر حاضر | الف وصل | اِوْعِزْنَانِ | عِدْنَانِ | ثلاثي مجرد |
| يَاحَمُونَ | يَفْعَلُونَ | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي | جمع مذکر غائبين مضارع معلوم | ياجل وجل يجل | يَوحَمُونَ | يَاجَلُونَ | ثلاثي مجرد |
| لَن يَارْكَوا | لَن يَفْعَلُوا | فعل | ثلاثي مجرد | مثال واوي | جمع مذکر غائبين فعل نفي مؤکد | يطون، ياجل، نون اعرابي | يَوْرَكُونَ | لَن يَلْجَلُوا | ثلاثي مجرد |
| أوزِعْنِي | أفْعِلْنِي | فعل | ثلاثي مزيد | مثال واوي | واحد مذکر مخاطب امر حاضر | نون اعرابي امر حاضر | تُوْزِعُ | أكْرِمْ | افعال |
| أوَازِعُ | فَوَاعِلُ | اسم | ثلاثي مجرد | مثال واوي | جمع مؤنث مکسر اسم فاعل | [illegible] | وَوَازِعُ | أوَاعِدُ | ثلاثي مجرد |
| قِدَةٌ | فِعلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | مثال واوي | اسم مصدر | عدة | وِقْدٌ | عِدَةٌ | ثلاثي مجرد |
| مِيزَرٌ | مِفْعَلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | مثال واوي | واحد اسم آلة صغرى | ميعاد ميزان | مِوزَرٌ | مِيعَدٌ | ثلاثي مجرد |
| إخَالَةٌ | إفْعَالٌ | اسم | ثلاثي مزيد | اجوف واوي | اسم مصدر | اقامه استقامه | إخْوَالٌ | إقَامَةٌ | افعال |
| لَايَتَادَمُونَ | لَايَتَفَاعَلُونَ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | جمع مذکر غائبين فعل نفي | [illegible] | × | لَايَتَضَارَبُونَ | تفاعل |
| بِنَةٌ | فِعَةٌ | اسم | ثلاثي مجرد | مثال واوي | اسم مصدر | عدة | وِسْنٌ | عِدَةٌ | ثلاثي مجرد |
| وَلْوَنُوا | فَعْلَلُوا | فعل | رباعي مجرد | لفيف مفروق، صاعد | جمع مذکر غائبين ماضي معلوم | . | × | دَحْرَجُوا | فعللة |
| تَمَكْنَسَ | تَفَعْلَلَ | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | واحد مذکر غائب مضارع معلوم | [illegible] | تَمَكَيَسَ | تَصَرَّفَ | تفعل |

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بيرثوا | فعللوا | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | | تدحرجوا | [illegible] |
| تجيرطلا | لن يفعللا | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | يتبرطلانِ | لن يتدحرجا | [illegible] |
| جطا | افعلا | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | اوعطا | عنا | [illegible] |
| بقة | فعلّ | اسم | [illegible] | [illegible] | [illegible] | [illegible] | وثق | عدة | [illegible] |

## التمرين:

لم يرثموا، أنتوين، لم يتونس، لم نناجه، لاتاجمى، موتعوّ، معيثو، لن يثوبا، ميدون، اوبرمتو، ولدوا، ضانا، اقورو، منيطاكما، ميتنان، يتنان، طبيات، يوبرن، لاتانل، إنسو.

## باب اول صرف صغير ثلاثي مجرد مثال واوي بر وزن فعَل يفعِل چون الوَعدُ والعِدَةُ والمِيعادُ (وعده كول):

علامه: د دې باب په ماضي کې عين کلمه مفتوحه وي او په مضارع کې عين کلمه مكسوره وي.

وَعَدَ، يَعِدُ، وَعْدًا وَ عِدَةً وَ مِيعَادًا فهو وَاعِدٌ، وَ وُعِدَ، يُوْعَدُ، وَعْدًا وَ عِدَةً وَ مِيعَادًا، فذاک مَوعُودٌ، لَمْ يَعِدْ، لَمْ يُوْعَدْ، لَا يَعِدُ، لَا يُوْعَدُ، لَنْ يَعِدَ، لَنْ يُوْعَدَ، الامر منه: عِدْ، لِتُوْعَدْ، لِيَعِدْ، لِيُوْعَدْ، والنهى عنه: لَاتَعِدْ، لَا تُوْعَدْ، لَايَعِدْ، لَايُوْعَدْ، الظرف منه: مَوْعِدٌ، مَوْعِدَانِ، مَوَاعِدُ وَ مُوَيْعِدٌ والالة: مِيْعَدٌ، مِيْعَدَانِ، مَوَاعِدُ، وَ مُوَيْعِدٌ، وَ مِيْعَدَةٌ، مِيْعَدَتَانِ، مَوَاعِدُ، وَ مُوَيْعِدَةٌ، مِيْعَادٌ، مِيْعَادَانِ، مَوَاعِيْدُ، وَ مُوَيْعِيْدٌ، افعل التفضيل المذكر منه: اَوْعَدُ، اَوْعَدَانِ، اَوْعَدُوْنَ، اَوَاعِدُ، وَاُوَيْعِدٌ. والمؤنث منه: وُعْدٰى، وُعْدَيَانِ، وُعْدَيَاتٌ، وُعَدٌ وُعَيْدٰى: و افعل التعجب منه: مَااَوْعَدَهٗ وَاَوْعِدْ بِهٖ: وَوَعُدَ، وَعُدَتْ.

### صرف كبير فعل ماضي معلوم:

وَعَدَ، وَعَدَا، وَعَدُوْا، وَعَدَتْ، وَعَدَتَا، وَعَدْنَ، وَعَدْتَ، وَعَدْتُمَا، وَعَدْتُمْ، وَعَدْتِ، وَعَدْتُمَا، وَ عَدْتُنَّ، وَعَدْتُ وَعَدْنَا.

### صرف كبير فعل ماضي مجهول:

وُعِدَ، وُعِدَا، وُعِدُوْا، وُعِدَتْ، وُعِدَتَا، وُعِدْنَ، وُعِدْتَ، وُعِدْتُمَا، وُعِدْتُمْ، وُعِدْتِ، وُعِدْتُمَا، وُعِدْتُنَّ، وُعِدْتُ، وُعِدْنَا.

### صرف كبير فعل مضارع معلوم:

يَعِدُ، يَعِدَانِ، يَعِدُوْنَ، تَعِدُ، تَعِدَانِ، يَعِدْنَ، تَعِدُ، تَعِدَانِ، تَعِدُوْنَ، تَعِدِيْنَ، تَعِدَانِ، تَعِدْنَ، اَعِدُ، نَعِدُ.

**صرف کبیر فعل مضارع مجهول:**

يُوْعَدُ، يُوْعَدَانِ، يُوْعَدُوْنَ، تُوْعَدُ، تُوْعَدَانِ، يُوْعَدْنَ، تُوْعَدُ، تُوْعَدَانِ، تُوْعَدُوْنَ، تُوْعَدِيْنَ، تُوْعَدَانِ، تُوْعَدْنَ، اُوْعَدُ، نُوْعَدُ.

**صرف کبیر اسم فاعل:**

وَاعِدٌ، وَاعِدَانِ، وَاعِدُوْنَ، وَاعِدَةٌ، وَاعِدَتَانِ، وَاعِدَاتٌ.

**صرف کبیر اسم مفعول:**

مَوْعُوْدٌ، مَوْعُوْدَانِ، مَوْعُوْدُوْنَ، مَوْعُوْدَةٌ، مَوْعُوْدَتَانِ، مَوْعُوْدَاتٌ.

**صرف کبیر فعل جحد معلوم:**

لَمْ يَعِدْ، لَمْ يَعِدَا، لَمْ يَعِدُوْا، لَمْ تَعِدْ، لَمْ تَعِدَا، لَمْ يَعِدْنَ، لَمْ تَعِدْ، لَمْ تَعِدَا، لَمْ تَعِدُوْا، لَمْ تَعِدِيْ، لَمْ تَعِدَا، لَمْ تَعِدْنَ، لَمْ اَعِدْ، لَمْ نَعِدْ.

**صرف کبیر فعل جحد مجهول:**

لَمْ يُوْعَدْ، لَمْ يُوْعَدَا، لَمْ يُوْعَدُوْا، لَمْ تُوْعَدْ، لَمْ تُوْعَدَا، لَمْ يُوْعَدْنَ، لَمْ تُوْعَدْ، لَمْ تُوْعَدَا، لَمْ تُوْعَدُوْا، لَمْ تُوْعَدِيْ، لَمْ تُوْعَدَا، لَمْ تُوْعَدْنَ، لَمْ اُوْعَدْ، لَمْ نُوْعَدْ.

**صرف کبیر فعل نفي معلوم:**

لَايَعِدُ، لَايَعِدَانِ، لَايَعِدُوْنَ، لَاتَعِدُ، لَاتَعِدَانِ، لَايَعِدْنَ، لَاتَعِدُ، لَاتَعِدَانِ، لَاتَعِدُوْنَ، لَاتَعِدِيْنَ، لَاتَعِدَانِ، لَاتَعِدْنَ، لَااَعِدُ، لَانَعِدُ.

**صرف کبیر فعل نفي مجهول:**

لَايُوْعَدُ، لَايُوْعَدَانِ، لَايُوْعَدُوْنَ، لَاتُوْعَدُ، لَاتُوْعَدَانِ، لَايُوْعَدْنَ، لَاتُوْعَدُ، لَاتُوْعَدَانِ، لَاتُوْعَدُوْنَ، لَاتُوْعَدِيْنَ، لَاتُوْعَدَانِ، لَاتُوْعَدْنَ، لَااُوْعَدُ، لَانُوْعَد

**صرف کبیر فعل نفي موکد بالن ناصبه:**

لَنْ يَعِدَ، لَنْ يَعِدَا، لَنْ يَعِدُوْا، لَنْ تَعِدَ، لَنْ تَعِدَا، لَنْ يَعِدْنَ، لَنْ تَعِدَ، لَنْ تَعِدَا، لَنْ تَعِدُوْا، لَنْ تَعِدِيْ، لَنْ تَعِدَا، لَنْ تَعِدْنَ، لَنْ اَعِدَ، لَنْ نَعِدَ.

لَنْ يُوْعَدَ، لَنْ يُوْعَدَا، لَنْ يُوْعَدُوْا، لَنْ تُوْعَدَ، لَنْ تُوْعَدَا، لَنْ يُوْعَدْنَ، لَنْ تُوْعَدَ، لَنْ تُوْعَدَا، لَنْ تُوْعَدُوْا، لَنْ تُوْعَدِيْ، لَنْ تُوْعَدَا، لَنْ تُوْعَدْنَ، لَنْ اُوْعَدَ، لَنْ نُوْعَدَ.

**صرف کبیر امر حاضر معلوم بي لام:**

عِدْ، عِدَا، عِدُوْا، عِدِیْ، عِدَا، عِدْنَ.

**فعل امر حاضر معلوم بانون تاکید ثقیله:**

عِدَنَّ، عِدَانِّ، عِدُنَّ، عِدِنَّ، عِدَانِّ، عِدْنَانِّ.

**فعل امر حاضر معلوم بانون تاکید خفیفه:**

عِدَنْ، عِدُنْ، عِدِنْ.

**صرف کبیر امر حاضر مجهول بالام:**

لِتُوْعَدْ، لِتُوْعَدَا، لِتُوْعَدُوْا، لِتُوْعَدِیْ، لِتُوْعَدَا، لِتُوْعَدْنَ.

**فعل امر حاضر مجهول بانون تاکید ثقیله:**

لِتُوْعَدَنَّ، لِتُوْعَدَانِّ، لِتُوْعَدُنَّ، لِتُوْعَدِنَّ، لِتُوْعَدَانِّ، لِتُوْعَدْنَانِّ.

**فعل امر حاضر مجهول بانون تاکید خفیفه:**

لِتُوْعَدَنْ، لِتُوْعَدُنْ، لِتُوْعَدِنْ.

**صرف کبیر امر غائب معلوم بالام:**

لِيَعِدْ، لِيَعِدَا، لِيَعِدُوْا، لِتَعِدْ، لِتَعِدَا، لِيَعِدْنَ، لِاَعِدْ، لِنَعِدْ.

**فعل امر غائب معلوم بانون تاکید ثقیله:**

لِيَعِدَنَّ، لِيَعِدَانِّ، لِيَعِدُنَّ، لِتَعِدَنَّ، لِتَعِدَانِّ، لِيَعِدْنَانِّ، لِاَعِدَنَّ، لِنَعِدَنَّ.

**فعل امر غائب معلوم بانون تاکید خفیفه:**

لِيَعِدَنْ، لِيَعِدُنْ، لِتَعِدَنْ، لِاَعِدَنْ، لِنَعِدَنْ.

**فعل امر غائب مجهول بالام:**

لِيُوْعَدْ، لِيُوْعَدَا، لِيُوْعَدُوْا، لِتُوْعَدْ، لِتُوْعَدَا، لِيُوْعَدْنَ. لِاُوْعَدْ، لِنُوْعَدْ.

**فعل امر غائب مجهول بانون تاکید ثقیله:**

لِيُوْعَدَنَّ، لِيُوْعَدَانِّ، لِيُوْعَدُنَّ، لِتُوْعَدَنَّ، لِتُوْعَدَانِّ، لِيُوْعَدْنَانِّ، لِاُوْعَدَنَّ، لِنُوْعَدَنَّ.

**فعل امر غائب مجهول بانون تاکید خفیفه:**

لِيُوْعَدَنْ، لِيُوْعَدُنْ، لِتُوْعَدَنْ، لِاُوْعَدَنْ، لِنُوْعَدَنْ.

**صرف کبیر فعل نهي حاضر معلوم:**

لَاتَعِدْ، لَاتَعِدَا، لَاتَعِدُوْا، لَاتَعِدِيْ، لَاتَعِدَا، لَاتَعِدْنَ.

**فعل نهي حاضر معلوم بانون تاکید ثقیله:**

لَاتَعِدَنَّ، لَاتَعِدَانِّ، لَاتَعِدُنَّ، لَاتَعِدِنَّ، لَاتَعِدَانِّ، لَاتَعِدْنَانِّ.

**فعل نهي حاضر معلوم بانون تاکید خفیفه:**

لَاتَعِدَنْ، لَاتَعِدُنْ، لَاتَعِدِنْ.

**صرف کبیر فعل نهي حاضر مجهول:**

لَاتُوْعَدْ، لَاتُوْعَدَا، لَاتُوْعَدُوْا، لَاتُوْعَدِيْ، لَاتُوْعَدَا، لَاتُوْعَدْنَ.

**فعل نهي حاضر مجهول بانون تاکید ثقیله:**

لَاتُوْعَدَنَّ، لَاتُوْعَدَانِّ، لَاتُوْعَدُنَّ، لَاتُوْعَدِنَّ، لَاتُوْعَدَانِّ، لَاتُوْعَدْنَانِّ.

**فعل نهي حاضر مجهول بانون تاکید خفیفه:**

لَاتُوْعَدَنْ، لَاتُوْعَدُنْ، لَاتُوْعَدِنْ.

**صرف کبیر فعل نهي غائب معلوم:**

لَايَعِدْ، لَايَعِدَا، لَايَعِدُوْا، لَاتَعِدْ، لَاتَعِدَا، لَايَعِدْنَ، لَاأَعِدْ، لَانَعِدْ.

**فعل نهي غائب معلوم بانون تاکید ثقیله:**

لَايَعِدَنَّ، لَايَعِدَانِّ، لَايَعِدُنَّ، لَاتَعِدَنَّ، لَاتَعِدَانِّ، لَايَعِدْنَانِّ، لَاأَعِدَنَّ لَانَعِدَنَّ.

**فعل نهي غائب معلوم بانون تاکید خفیفه:**

لَايَعِدَنْ، لَايَعِدُنْ، لَاتَعِدَنْ، لَاأَعِدَنْ، لَانَعِدَنْ.

**صرف کبیر اسم ظرف:**

مَوْعِدٌ، مَوْعِدَانِ، مَوَاعِدُ، مُوَيْعِدٌ.

## باب دوهم صرف صغير ثلاثي مجرد مثال واوي بر وزن فَعِلَ يَفْعَلُ چون اَلْوَجَلُ (ېرېدل):

علامه: د دې باب په ماضي کي عين کلمه مکسوره وي او په مضارع کي يې عين کلمه مفتوحه وي.

وَجِلَ، يَوْجَلُ، وَجْلًا، فهو وَاجِلٌ، و وُجِلَ، يُوْجَلُ، وَجْلًا، فذاک مَوْجُوْلٌ، لَمْ يَوْجَلْ، لَمْ يُوْجَلْ، لَايَوْجَلُ، لَايُوْجَلُ، لَنْ يَوْجَلَ، لَنْ يُوْجَلَ. الامر منه: اِيْجَلْ، لِتُوْجَلْ، لِيَوْجَلْ، لِيُوْجَلْ، والنهي عنه: لَاتَوْجَلْ، لَاتُوْجَلْ، لَايَوْجَلْ، لَايُوْجَلْ. الظرف منه: مَوْجِلٌ، مَوْجِلَانِ، مَوَاجِلُ، وَ مُوَيْجِلٌ. والالة منه: مِيْجَلٌ، مِيْجَلَانِ، مَوَاجِلُ، و مُوَيْجِلٌ، مِيْجَلَةٌ مِيْجَلَتَانِ، مَوَاجِلُ، و مُوَيْجِلَةٌ. مِيْجَالٌ. مِيْجَالَانِ، مَوَاجِيْلُ، وَ مُوَيْجِيْلٌ. و افعل التفضيل المذكر منه: اَوْجَلُ، اَوْجَلَانِ. اَوْجَلُوْنَ. اَوَاجِلُ. واُوَيْجِلٌ. والمونث منه: وُجْلٰى وُجْلَيَانِ، وُجْلَيَاتٌ، وُجَلٌ، ووُجَيْلٰى وفعل التعجب منه: مَااَوْجَلَهٗ واَوْجِلْ بِه الخ.

## باب سوم صرف صغير ثلاثي مجرد مثال واوي بر وزن فَعَلَ يَفْعَلُ چون اَلْوَضْعُ: (ايښول)

علامه: د دې باب په ماضي او مضارع دواړو کي عين کلمه مفتوحه وي.

وَضَعَ، يَضَعُ، وَضْعًا، فهو وَاضِعٌ، و وُضِعَ، يُوْضَعُ، وَضْعًا، فذاک مَوْضُوْعٌ، لَمْ يَضَعْ، لَمْ يُوْضَعْ، لَايَضَعُ، لَايُوْضَعُ، لَنْ يَضَعَ، لن يُوْضَعَ، الامر منه: ضَعْ، لِتُوْضَعْ، لِيَضَعْ، لِيُوْضَعْ، والنهي عنه: لَاتَضَعْ، لَاتُوْضَعْ، لَايَضَعْ، لَايُوْضَعْ، الظرف منه: مَوْضِعٌ. مَوْضِعَانِ، مَوَاضِعُ. و مُوَيْضِعٌ. والالة منه: مِيْضَعٌ، مِيْضَعَانِ، مَوَاضِعُ، ومُوَيْضِعٌ، مِيْضَعَةٌ، مِيْضَعَتَانِ، مَوَاضِعُ، و مُوَيْضِعَةٌ، مِيْضَاعٌ. مِيْضَاعَانِ، مَوَاضِيْعُ، و مُوَيْضِيْعٌ، وافعل التفضيل المذكر منه: اَوْضَعُ، اَوْضَعَانِ، اَوْضَعُوْنَ. اَوَاضِعُ. و اُوَيْضِعٌ، والمؤنث منه: وُضْعٰى، وُضْعَيَانِ، وُضْعَيَاتٌ، وُضَعٌ، ووُضَيْعٰى، وفعل التعجب منه: مَااَوْضَعَهٗ الخ.

## باب چهارم صرف صغير ثلاثي مجرد مثال واوي بر وزن فَعِلَ يَفْعِلُ چون اَلْوَرَمُ: (پړسېدل)

علامه: د دې باب په ماضي او مضارع دواړو کي عين کلمه مکسوره وي.

وَرِمَ، يَرِمُ، وَرَمًا، فهو وَارِمٌ. و وُرِمَ، يُوْرَمُ، وَرْمًا، فذاک مَوْرُوْمٌ، لَمْ يَرِمْ، لَمْ يُوْرَمْ، لَايَرِمُ، لَايُوْرَمُ، لَنْ يَرِمَ، لَنْ يُوْرَمَ، الامر منه: رِمْ، لِتُوْرَمْ، لِيَرِمْ، لِيُوْرَمْ، والنهى عنه: لَاتَرِمْ، لَاتُوْرَمْ، لَايَرِمْ، لَايُوْرَمْ، الظرف منه: مَوْرِمٌ، مَوْرِمَانِ، مَوَارِمُ، مُوَيْرِمٌ، والالة منه: مِيْرَمٌ، مِيْرَمَانِ، مَوَارِمُ، و مُوَيْرِمٌ، مِيْرَمَةٌ، مِيْرَمَتَانِ، مَوَارِمُ و مُوَيْرِمَةٌ، مِيْرَامٌ، مِيْرَامَانِ، مَوَارِيْمُ، و مُوَيْرِيْمٌ، وافعل التفضيل المذكر منه: اَوْرَمُ، اَوْرَمَانِ، اَوْرَمُوْنَ، اَوَارِمُ، وَ اُوَيْرِمٌ، والمؤنث منه: وُرْمٰى، وُرْمَيَانِ، وُرْمَيَاتٌ، وُرَمٌ و وُرَيْمٰى، و فعل التعجب منه: مَآاَوْرَمَهٗ، واَوْرِمْ بِهٖ.

## باب پنځم صرف صغير ثلاثي مجرد مثال واوي بر وزن فَعُلَ يَفْعُلُ چون اَلْوَسْمُ وَالْوَسَامَةُ: (ښائسته كېدل):

علامه: د دې باب په ماضي او مضارع دواړو كي عين كلمه مضمومه وي.

وَسُمَ، يَوْسُمُ، وَسْمًا، فهو وَسِيْمٌ، لَمْ يَوْسُمْ، لَايَوْسُمُ، لَنْ يَوْسُمَ، الامر منه: اُوْسُمْ، لِيَوْسُمْ، والنهى عنه: لَاتَوْسُمْ، لَايَوْسُمْ، الظرف منه: مَوْسِمٌ، والالة منه: مِيْسَمٌ، مِيْسَمَةٌ، مِيْسَامٌ، وافعل التفضيل المذكر منه: اَوْسَمُ، وَالْمؤنث منه وُسْمٰى.

**فائده:**

دا باب مجهولي صيغې نه لري.

**فائده:**

مثال واوي او مثال يايي د نَصَرَ يَنْصُرُ د باب څخه نه سي را تلای. (تسهيل الارشاد ص ۸۲)

# ابواب ثلاثي مزيد فيه مثال واوي:

## باب اول صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مثال واوي بر وزن اِفْعَالٌ چون اَلْاِيْجَابُ (واجب كول):

اَوْجَبَ، يُوْجِبُ، اِيْجَابًا، فهو مُوْجِبٌ و اُوْجِبَ، يُوْجَبُ، اِيْجَابًا، فذاک مُوْجَبٌ لَمْ يُوْجِبْ، لَمْ يُوْجَبْ، لَايُوْجِبُ، لَايُوْجَبُ، لَنْ يُّوْجِبَ، لَنْ يُّوْجَبَ، الامر منه: اَوْجِبْ، لِتُوْجَبْ، لِيُوْجِبْ، لِيُوْجَبْ، والنهى عنه: لَاتُوْجِبْ لَاتُوْجَبْ، لَايُوْجِبْ، لَايُوْجَبْ، الظرف منه: مُوْجَبٌ، مُوْجَبَانِ، مُوْجَبَاتٌ.

## باب دوهم صرف صغير ثلاثي مزيدفيه مثال واوي بر وزن تَفْعِيْل چون اَلتَّوْحِيْدُ (د يو چا د يووالي قائله كېدل):

وَحَّدَ، يُوَحِّدُ، تَوْحِيْدًا، فهو مُوَحِّدٌ، و وُحِّدَ، يُوَحَّدُ، تَوْحِيْدًا، فذاک مُوَحَّدٌ، لَمْ يُوَحِّدْ، لَمْ يُوَحَّدْ، لَايُوَحِّدُ، لَايُوَحَّدُ، لَنْ يُّوَحِّدَ، لَنْ يُّوَحَّدَ، الامر منه: وَحِّدْ، لِتُوَحَّدْ، لِيُوَحِّدْ، لِيُوَحَّدْ، والنهى عنه: لَاتُوَحِّدْ، لَاتُوَحَّدْ، لَايُوَحِّدْ، لَايُوَحَّدْ، الظرف منه: مُوَحَّدٌ، مُوَحَّدَانِ، مُوَحَّدَاتٌ.

## باب سوم صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مثال واوي بر وزن مُفَاعَلَةٌ چون اَلْمُوَاظَبَةُ (همېشه توب كول):

وَاظَبَ، يُوَاظِبُ، مُوَاظَبَةً، فهو مُوَاظِبٌ و وُوْظِبَ، يُوَاظَبُ، مُوَاظَبَةً، فذاک مُوَاظَبٌ، لَمْ يُوَاظِبْ، لَمْ يُوَاظَبْ لَايُوَاظِبُ، لَايُوَاظَبُ، لَنْ يُّوَاظِبَ، لَنْ يُّوَاظَبَ، الامر منه: وَاظِبْ، لِتُوَاظَبْ، لِيُوَاظِبْ، لِيُوَاظَبْ، والنهى عنه: لَاتُوَاظِبْ، لَاتُوَاظَبْ، لَايُوَاظِبْ، لَايُوَاظَبْ، الظرف منه: مُوَاظَبٌ، مُوَاظَبَانِ مُوَاظَبَاتٌ.

## باب څلورم صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مثال واوي بر وزن تَفَعُّلٌ چون

اَلتَّوَحُّدُ: (يو کېدل):

تَوَحَّدَ، يَتَوَحَّدُ، تَوَحُّدًا، فهو مُتَوَحِّدٌ، وَتُوُحِّدَ، يُتَوَحَّدُ، تَوَحُّدًا، فذاک مُتَوَحَّدٌ، لَمْ يَتَوَحَّدْ، لَمْ يُتَوَحَّدْ، لَايَتَوَحَّدُ، لَايُتَوَحَّدُ، لَنْ يَتَوَحَّدَ، لن يُتَوَحَّدَ، الامر منه: تَوَحَّدْ، لِتَتَوَحَّدْ، لِيَتَوَحَّدْ، لِيُتَوَحَّدْ، والنهي عنه: لَاتَتَوَحَّدْ، لَاتُتَوَحَّدْ، لَايَتَوَحَّدْ، لَايُتَوَحَّدْ. الظرف منه: مُتَوَحَّدٌ، مُتَوَحَّدَانِ، مُتَوَحَّدَاتٌ.

## باب پنځم صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مثال واوي بر وزن تَفَاعُلٌ چون

اَلتَّوَارُثُ: (يو د بل ميراث پيدا کول):

تَوَارَثَ، يَتَوَارَثُ، تَوَارُثًا فهو مُتَوَارِثٌ، وَتُوُورِثَ، يُتَوَارَثُ تَوَارُثًا الخ.

## باب شپږم صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مثال واوي بر وزن اِفْتِعَالٌ چون اَلْاِتِّقَادُ:

(د اور روښانه کېدل):

اِتَّقَدَ، يَتَّقِدُ، اِتِّقَادًا، فهو مُتَّقِدٌ، وَاُتُّقِدَ، يُتَّقَدُ، اِتِّقَادًا، فذاک مُتَّقَدٌ، لَمْ يَتَّقِدْ، لَمْ يُتَّقَدْ، لَايَتَّقِدُ، لَايُتَّقَدُ، لَنْ يَتَّقِدَ، لَنْ يُتَّقَدَ، الامر منه: اِتَّقِدْ، الخ.

پر دې باب باندې د اِتَّخَذَ يَتَّخِذُ قانون جاري کېږي.

## باب اووم صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مثال واوي بر وزن اِسْتِفْعَالٌ چون

اَلْاِسْتِيجَابُ: (لائق کېدل):

اِسْتَوْجَبَ، يَسْتَوْجِبُ، اِسْتِيجَابًا، فهو مُسْتَوْجِبٌ، وَاُسْتُوْجِبَ، يُسْتَوْجَبُ، اِسْتِيجَابًا، فذاک مُسْتَوْجَبٌ، لَمْ يَسْتَوْجِبْ، لَمْ يُسْتَوْجَبْ، لَايَسْتَوْجِبُ، لَايُسْتَوْجَبُ، لَنْ يَسْتَوْجِبَ، لَنْ يُسْتَوْجَبَ، الامر منه: اِسْتَوْجِبْ، لِتُسْتَوْجَبْ، لِيَسْتَوْجِبْ، لِيُسْتَوْجَبْ، والنهي عنه: لَاتَسْتَوْجِبْ الخ.

**فائده:**

د اِنْوِجَبَ ښخه اِتَّاجَبَ ويل هم جائز دي، لکه ښنګه چي د قبيلي ابن حارث او ځينو نورو قبيلو په لغت کي "واو" ساکن کوم چي د فتحې ښخه وروسته وي، هغه په الف سره بدليږي. مخته به راسي انشاء الله.

## باب هشتم صرف صغير ثلاثي مزيد فيه مثال واوي بر وزن اِنْفِعَالٌ چون

اَلْاِنْوِقَادُ: **(روښانه کېدل):**

اِنْوَقَدَ، يَنْوَقِدُ، اِنْوِقَادًا، فهو مُنْوَقِدٌ، واُنْوُقِدَ، يُنْوَقَدُ، اِنْوِقَادًا، فذاک مُنْوَقَدٌ. لَمْ يَنْوَقِدْ. لَمْ يُنْوَقَدْ، لَايَنْوَقِدُ. لَايُنْوَقَدُ، لَنْ يَنْوَقِدَ، لَنْ يُنْوَقَدَ الامر منه: اِنْوَقِدْ. لِتَنْوَقِدْ. لِيَنْوَقِدْ، لِيُنْوَقَدْ. والنهي عنه: لَاتَنْوَقِدْ، لَاتُنْوَقَدْ الخ.

ختم شدند ابواب مثال واوي

## و شروع شد ابواب ثلاثي مجرد مثال يايي:

## باب اول صرف صغير ثلاثي مجرد مثال يايي بر وزن فَعَلَ يَفْعِلُ چون اَلْيَسْرُ وَالْمَيْسِرَةُ:

**(خمار کول):**

علامه: ددې باب په ماضي کي عين کلمه مفتوحه وي او په مضارع کي يې عين کلمه مكسوره وي.

يَسَرَ، يَيْسِرُ، يَسْرًا، فهو يَاسِرٌ وَيُسِرَ، يُوْسَرُ، يَسْرًا، فذاک مَيْسُوْرٌ، لَمْ يَيْسِرْ. لَمْ يُوْسَرْ، لَايَيْسِرُ، لَايُوْسَرُ، لَنْ يَيْسِرَ، لَنْ يُوْسَرَ، الامر منه: اِيْسِرْ، لِتُوْسَرْ، لِيَيْسِرْ، لِيُوْسَرْ، والنهي عنه: لَاتَيْسِرْ، لَاتُوْسَرْ، لَايَيْسِرْ، لَايُوْسَرْ. و الظرف منه: مَيْسِرٌ، مَيْسِرَانِ، مَيَاسِرُ، وَمُيَيْسِرٌ، والالة منه: مِيْسَرٌ، مِيْسَرَانِ، مَيَاسِرُ، وَ مُيَيْسِرٌ، مِيْسَرَةٌ، مِيْسَرَتَانِ، مَيَاسِرُ، وَمُيَيْسِرَةٌ، مِيْسَارٌ، مِيْسَارَانِ، مَيَاسِيْرُ، مُيَيْسِيْرٌ، وافعل التفضيل المذكر منه: اَيْسَرُ، اَيْسَرَانِ، اَيْسَرُوْنَ، اَيَاسِرُ، وَاُيَيْسِرٌ، والمؤنث منه: يُسْرٰى، يُسْرَيَانِ، يُسْرَيَاتٌ، يُسَرٌ، وَيُسَيْرٰى، و فعل التعجب منه: مَاأَيْسَرَهُ الخ.

**صرف کبير فعل ماضي معلوم:**

يَسَرَ، يَسَرَا، يَسَرُوا، يَسَرَتْ، يَسَرَتَا، يَسَرْنَ، يَسَرْتَ، يَسَرْتُمَا، يَسَرْتُمْ، يَسَرْتِ، يَسَرْتُمَا، يَسَرْتُنَّ، يَسَرْتُ، يَسَرْنَا.

## فعل ماضي مجهول:

يُسِرَ، يُسِرَا، يُسِرُوا، يُسِرَتْ، يُسِرَتَا، يُسِرْنَ، يُسِرْتَ، يُسِرْتُمَا، يُسِرْتُمْ، يُسِرْتِ، يُسِرْتُمَا، يُسِرْتُنَّ، يُسِرْتُ، يُسِرْنَا.

## فعل مضارع معلوم:

يَيْسِرُ، يَيْسِرَانِ، يَيْسِرُوْنَ، تَيْسِرُ، تَيْسِرَانِ، يَيْسِرْنَ، تَيْسِرُ، تَيْسِرَانِ، تَيْسِرُوْنَ، تَيْسِرِيْنَ، تَيْسِرَانِ، تَيْسِرْنَ، أَيْسِرُ، نَيْسِرُ.

## فعل مضارع مجهول:

يُوْسَرُ، يُوْسَرَانِ، يُوْسَرُوْنَ، تُوْسَرُ، تُوْسَرَانِ، يُوْسَرْنَ، تُوْسَرُ، تُوْسَرَانِ، تُوْسَرُوْنَ، تُوْسَرِيْنَ، تُوْسَرَانِ، تُوْسَرْنَ، أُوْسَرُ، نُوْسَرُ.

## اسم فاعل:

يَاسِرٌ، يَاسِرَانِ، يَاسِرُوْنَ، يَاسِرَةٌ، يَاسِرَتَانِ، يَاسِرَاتٌ.

## اسم مفعول:

مَيْسُوْرٌ، مَيْسُوْرَانِ، مَيْسُوْرُوْنَ، مَيْسُوْرَةٌ، مَيْسُوْرَتَانِ، مَيْسُوْرَاتٌ.

## باب دوهم صرف صغير ثلاثي مجرد مثال يايي بر وزن فَعَلَ يَفْعَلُ چون يَنَعَ:

### (ميوه پخېدل):

علامه: د دې باب په ماضي او مضارع دواړو کي عين کلمه مفتوحه وي.

يَنَعَ يَيْنَعُ يَنْعًا فهو يَانِعٌ، ويُنِعَ يُوْنَعُ يَنْعًا فذاك مَيْنُوْعٌ، لم يَيْنَعْ، لم يُوْنَعْ، لا يَيْنَعُ، لا يُوْنَعُ، لن يَيْنَعَ، لن يُوْنَعَ، الأمر منه: اِيْنَعْ، لِتُوْنَعْ، لِيَيْنَعْ، لِيُوْنَعْ، والنهي عنه: لا تَيْنَعْ، لا تُوْنَعْ، لا يَيْنَعْ، لا يُوْنَعْ، الظرف منه: مَيْنَعٌ، مَيْنَعَانِ، مَيَانِعُ، ومُيَيْنِعٌ، والآلة منه: مِيْنَعٌ، مِيْنَعَانِ، مَيَانِعُ، ومُيَيْنِعٌ، ومِيْنَعَةٌ، مِيْنَعَتَانِ، مَيَانِعُ، ومُيَيْنِعَةٌ، ومِيْنَاعٌ، مِيْنَاعَانِ، مَيَانِيْعُ، ومُيَيْنِيْعٌ، وأفعل التفضيل المذكر منه: أَيْنَعُ، أَيْنَعَانِ، أَيْنَعُوْنَ، وأَيَانِعُ، وأُيَيْنِعُ، والمؤنث منه: يُنْعَى، يُنْعَيَانِ، يُنْعَيَاتٌ، ويُنَعٌ، وأُيَيْنِعٌ، وفعل التعجب منه: ما أَيْنَعَهُ.

## باب سوم صرف صغير ثلاثي مجرد مثال يايي بر وزن فَعِلَ يَفْعِلُ چون اَلْيُتْمُ:

**(يتيم كېدل):**

علامه: د دې باب په ماضي او مضارع دواړو کي عين کلمه مکسوره وي.

يَتِمَ، يَيْتِمُ، يُتْمًا، فهو يَتِيْمٌ، وَيُتِمَ، يُوْتَمُ، يُتْمًا، فذاک مَيْتُوْمٌ، لَمْ يَيْتِمْ، لَمْ يُوْتَمْ، لَايَيْتِمُ، لَايُوْتَمُ، لَنْ يَيْتِمَ، لَنْ يُوْتَمَ، الامر منه: اِيْتِمْ، لِتُوْتَمْ، لِيَيْتِمْ، لِيُوْتَمْ، والنهي عنه: لَاتَيْتِمْ، لَاتُوْتَمْ، لَايَيْتِمْ، لَايُوْتَمْ، والظرف منه: مَيْتِمٌ، مَيْتِمَانِ، مَيَاتِمُ، وَ مُيَيْتِمٌ، والالة منه: مِيْتَمٌ، مِيْتَمَانِ، مَيَاتِمُ، وَ مُيَيْتِمٌ، مِيْتَمَةٌ، مِيْتَمَتَانِ، مَيَاتِمُ، وَ مُيَيْتِمَةٌ، مِيْتَامٌ، مِيْتَامَانِ، مَيَايِيْمُ، وَ مُيَيْتِيْمٌ، وافعل التفضيل المذكر منه: اَيْتَمُ، اَيْتَمَانِ، اَيْتَمُوْنَ، اَيَاتِمُ، وَ اُيَيْتِمٌ، وَالمؤنث منه: يُتْمٰى، يُتْمَيَانِ، يُتْمَيَاتٌ، يُتَمٌ، وَيُتَيْمٰى، وفعل التعجب منه: مَااَيْتَمَهُ واَيْتِمْ بِهِ اِلَخ.

## باب چهارم صرف صغير ثلاثي مجرد مثال يايي بر وزن فَعِلَ يَفْعَلُ چون اَلْيَبَسُ:

**(وچېدل):**

علامه: د دې باب په ماضي کي عين کلمه مکسوره وي او په مضارع کي يې عين کلمه مفتوحه وي.

يَبِسَ، يَيْبَسُ، يُبْسًا، فهو يَابِسٌ، و يُبِسَ، يُوْبَسُ، يُبْسًا، فذاک مَيْبُوْسٌ، لَمْ يَيْبَسْ، لَمْ يُوْبَسْ، لَايَيْبَسُ، لَايُوْبَسُ، لَنْ يَيْبَسَ، لَنْ يُوْبَسَ، الامر منه: اِيْبَسْ، لِتُوْبَسْ، لِيَيْبَسْ، لِيُوْبَسْ، والنهي عنه: لَاتَيْبَسْ، لَاتُوْبَسْ، لَايَيْبَسْ، لَايُوْبَسْ، والظرف منه: مَيْبَسٌ، مَيْبَسَانِ، مَيَابِسُ، وَمُيَيْبِسٌ، والالة منه: مِيْبَسٌ، مِيْبَسَانِ، مَيَابِسُ، وَ مُيَيْبِسٌ، مِيْبَسَةٌ، مِيْبَسَتَانِ، مَيَابِسُ، وَمُيَيْبِسَةٌ، مِيْبَاسٌ، مِيْبَاسَانِ، مَيَابِيْسُ، وَمُيَيْبِيْسٌ، وَمُيَيْبِيْسَةٌ، افعل التفضيل المذكر منه: اَيْبَسُ اَيْبَسَانِ اَيْبَسُوْنَ، اَيَابِسُ، وَاُيَيْبِسٌ، والمؤنث منه: يُبْسٰى، يُبْسَيَانِ، يُبْسَيَاتٌ، يُبَسٌ، وَيُبَيْسٰى، وفعل التعجب منه: مَااَيْبَسَهُ اِلَخ.

## باب پنجم صرف صغير ثلاثي مجرد مثال يايي بر وزن فَعُلَ يَفْعُلُ چون اَلْيُسْرُ:

**(آسانه کېدل):**

علامه: د دې باب په ماضي او مضارع دواړو کي عين کلمه مضمومه وي.

لَاتُدْعَيَنَّ، لَاتُدْعَيَانِّ، لَاتُدْعَوُنَّ، لَاتُدْعَيِنَّ، لَاتُدْعَيَانِّ، لَاتُدْعَيْنَانِّ.

**فعل نهي حاضر مجهول موکد بانون خفیفه :**

لَاتُدْعَيَنْ، لَاتُدْعَوُنْ، لَاتُدْعَيِنْ.

**فعل نهي غائب معلوم :**

لَايَدْعُ، لَايَدْعُوَا، لَايَدْعُوْا، لَاتَدْعُ، لَاتَدْعُوَا، لَايَدْعُوْنَ، لَااَدْعُ، لَانَدْعُ.

**فعل نهي غائب معلوم بانون تاکید ثقیله :**

لَايَدْعُوَنَّ، لَايَدْعُوَانِّ، لَايَدْعُنَّ، لَاتَدْعُوَنَّ، لَاتَدْعُوَانِّ، لَايَدْعُوْنَانِّ، لَااَدْعُوَنَّ، لَانَدْعُوَنَّ.

**فعل نهي غائب معلوم بانون تاکید خفیفه :**

لَايَدْعُوَنْ، لَايَدْعُنْ، لَاتَدْعُوَنْ، لَااَدْعُوَنْ، لَانَدْعُوَنْ.

## فعل نهي غائب مجهول :

لَايُدْعَ، لَايُدْعَيَا، لَايُدْعَوْا، لَاتُدْعَ، لَاتُدْعَيَا، لَايُدْعَيْنَ، لَاأُدْعَ، لَانُدْعَ.

## فعل نهي غائب مجهول بانون تاكيد ثقيله :

لَايُدْعَيَنَّ، لَايُدْعَيَانِّ، لَايُدْعَوُنَّ، لَاتُدْعَيَنَّ، لَاتُدْعَيَانِّ، لَايُدْعَيْنَانِّ، لَاأُدْعَيَنَّ، لَانُدْعَيَنَّ.

## فعل نهي غائب مجهول بانون تاكيد خفيفه :

لَايُدْعَيَنْ، لَايُدْعَوُنْ، لَاتُدْعَيَنْ، لَاأُدْعَيَنْ، لَانُدْعَيَنْ.

## د (دَعَا) د باب د ماضي معلومي تعليلات :

### اګاهي :

د طالبانو د فائدې دپاره دلته صرف هغه تعليلات ليکل کيږي. چې د ارشاد صرف په متن کي موجود نه وي.

"دَعَا": صيغه واحد مذكر غائب فعل ماضي معلوم ده، په اصل کي "دَعَوَ" پر وزن د "نَصَرَ" وه، واو متحرک ماقبل يې مفتوح هغه "واو" د "قَالَ بَاعَ" په قانون سره په الف سره بدل کړل سو. نو دَعَا سو،

"دَعَوَا" تثنيه مذكر غائب فعل ماضي معلوم پر خپل اصل پاته ده.

"دَعَوْا" صيغه جمع مذكر غائبين فعل ماضي معلوم په اصل کي "دَعَوُوْا" پر وزن د "نَصَرُوْا" وه، واو متحرک ماقبل يې مفتوح په قانون د "قَالَ بَاعَ" واو په الف سره بدل سو، نو "دَعَاوْا" سو. بيا التقاء ساکنين راغله په مابين د "الف" او د "واو" کي اول مده وو، هغه يې حذف کړئ، نو "دَعَوْا" پر وزن د "فَعَوْا" جوړ سو.

"دَعَتْ" صيغه واحده مونثه غائبه فعل ماضي معلوم په اصل کي "دَعَوَتْ" پر وزن د "نَصَرَتْ" وه. واو متحرک ماقبل يې مفتوح په قانون د "قَالَ بَاعَ" "واو" په الف سره بدل سو. نو "دَعَاتْ" سو. بيا التقاء ساکنين راغله په مابين د الف او تاء کي اول ساکن مده وو، هغه يې وغورځوئ. نو "دَعَتْ" پر وزن د "فَعَتْ" جوړ د سو د.

"دَعَتَا" په مثل د "دَعَتْ" ده: ځکه دلته تاء حقيقتًا ساکنه ده او فتحه د الف په وجه عارضي ده.

## د ماضي مجهولي تعليلات:

"دُعُوْا" صيغه جمع مذكر غائبين فعل ماضي مجهول په اصل كي "دُعِوُوْا" پر وزن د "نُصِرُوْا" وه، ضمه پر واو ثقيله وه، نقل يې كړه او ماقبل ته يې وركړه، بيا التقاء ساكنين راغله په مابين د دوو واوينو كي اول ساكن مده وو. هغه يې څني حذف كړئ. نو "دُعُوْا" پر وزن د "فُعُوْا" سوه.

د "دُعِيَتْ" څخه تر "دُعِيْنَا" پوري تعليلات په مثل د "دُعِيَ" دي، البته د جمع مونثي غائبي څخه تر آخره پوري ياء ساكنيږي. لكه څنګه چي په صحيح كي وي.

## د مضارع معلومي تعليلات:

"يَدْعُوْنَ" صيغه جمع مذكرغائبين فعل مضارع معلوم، په اصل كي "يَدْعُوُوْنَ"، پر وزن د "يَنْصُرُوْنَ" وه، په قانون د (يَدْعُوْ يَرْمِيْ) سره واو مضموم پر لام كلمه راغلى وو او ماقبل يې هم مضموم وو، د واو حركت حذف سو، التقاء ساكنين راغله، د دوو واوينو په مابين كي اول ساكن مده وو هغه يې حذف كړئ، نو د "يَدْعُوُوْنَ" څخه "يَدْعُوْنَ"، پر وزن د "يَفْعُوْنَ" سو.

دغه رنګه په جمع مذكر مخاطبه كي هم داغه اعلال كيږي. او په تَدْعُوْا كي د يَدْعُوْا اعلال كيږي او داغه اعلال په واحد مذكر مخاطبه او واحد متكلمه او جمع متكلمه كي هم دئ.

"تَدْعِيْنَ" صيغه واحده مونثه مخاطبه په اصل كي "تَدْعُوِيْنَ" پر وزن د "تَنْصُرِيْنَ" وو، په دې كي نقل حركت او اثبات حركت دواړه جائز دي، ليكن د حركت د نقل كولو لغت زيات فصيح دئ.

اوس دلته كسره پر واو ثقيله وه، نقل يې كړه او ماقبل ته يې وركړه، د ماقبل د حركت د ليري كولو څخه وروسته بيا په قانون د "مِيْعَادٌ" واو په ياء بدل سو، نو "تَدْعِيِيْنَ" سو، بيا التقاء ساكنين د دوو يائينو په مابين كي راغله. اوله ياء مده وه، هغه يې څني حذف كړه، نو "تَدْعِيْنَ" سو.

## د مضارع مجهولي تعليلات:

"يُدْعَوْنَ" صيغه جمع مذكر غائبه فعل مضارع مجهول په اصل كي "يُدْعَوُوْنَ" پر وزن د "يُنْصَرُوْنَ" وه. واو پر څلورم ځای راغلی او د ماقبل حركت هم څني مخالف دئ. په قانون د (يُدْعَى) سره واو په ياء سره بدل سو. نو "يُدْعَيُوْنَ" سو. بيا په قانون د "قَالَ بَاعَ" ياء په الف بدله سوه. نو

"يَدْعَاوْنَ" سو، بيا التقاء ساكنين په مابين د الف او واو كي راغله، اول ساكن مده وو، هغه يې ځني حذف كړئ، نو "يُدْعَوْنَ" پر وزن د "يُفْعَوْنَ" جوړ سو.

"يُدْعَيْنَ" صيغه جمع مونثه غائبات فعل مضارع مجهول په اصل كي "يُدْعَوْنَ" وه، واو پر څلورم ځاى راغلئ او د ماقبل حركت ځني مخالف دئ، په قانون د (يُدْعَى) واو په ياء بدل سو، نو د "يُدْعَوْنَ" ځخه "يُدْعَيْنَ" پر وزن د "يُفْعَلْنَ" جوړ سو.

دغه رنګه په "تُدْعَيْنَ" صيغه جمع مونثه مخاطبه كي هم داغه اعلال كيږي.

"تُدْعَيْنَ" صيغه واحده مونثه مخاطبه فعل مضارع مجهول په اصل كي "تُدْعَوِيْنَ" پر وزن د "تُنْصَرِيْنَ" وه، واو په ياء سره د "يُدْعَى" په قانون سره بدل سو، نو "تُدْعَيِيْنَ" سو، بيا ياء متحرك ماقبل يې مفتوح په قانون د "قَالَ بَاعَ" ياء په الف بدله سوه، نو "تُدْعَايْنَ" سو، او بيا د الف او ياء په مابين كي التقاء ساكنين راغله، الف يې حذف كړئ، نو "تُدْعَيْنَ" پر وزن د "تُفْعَيْنَ" سو.

## د اسم فاعل تعليلات:

"دَاعٍ" صيغه واحد مذكر اسم فاعل په اصل كي "دَاعِوٌ" پر وزن د "نَاصِرٌ" وو، واو پر لام كلمه او ماقبل يې مكسور وو، په قانون د "دُعِيَ" واو په ياء سره بدل سو، نو "دَاعِيٌ" سو، ضمه پر ياء ثقيله وه، هغه يې ځني حذف كړه، بيا التقاء ساكنين په مابين د ياء او د نون تنوين كي راغله اول ساكن مده وو، هغه يې حذف كړئ، نو "دَاعٍ" پر وزن د "فَاعٍ" سو.

"دَاعِيَانِ" صيغه تثنيه مذكر اسم فاعل د "دُعِيَ" قانون پكښي جاري سوى دئ.

"دَاعُوْنَ" صيغه جمع مذكر سالم اسم فاعل په اصل كي "دَاعِوُوْنَ" پر وزن د "نَاصِرُوْنَ" وو، ضمه پر واو ثقيله وه هغه يې ماقبل ته ور كړه او د واوينو په مابين كي التقاء ساكنين راغله، اول مده وو هغه يې حذف كړئ، نو د "دَاعِوُوْنَ" ځخه "دَاعُوْنَ" پر وزن د "فَاعُوْنَ" سو.

"دُعَاءٌ" صيغه جمع مكسر اسم فاعل په اصل كي "دُعَاوٌ" پر وزن د "نُصَّارٌ" وو، واو واقع سو وروسته تر الف زائده په قانون د "دُعَاءٌ" واو په همزه سره بدل سو، نو "دُعَاءٌ" پر وزن د "فُعَالٌ".

"دُعًّى" صيغه جمع مذكر اسم فاعل په اصل كي "دُعَّوٌ" پر وزن د "نُصَّرٌ" وو، واو پر لام كلمه راغلئ، په قانون د "يُدْعَى" سره واو په ياء سره بدل سو، ياء متحرك ماقبل يې مفتوح په قانون د "قَالَ

بَاعَ" سره ياء په الف سره بدله سوه، نو "دُعَانٌ" سو، بيا د الف او نون تنوين په مابين کي التقاء ساکنين راغله او مده يې څني حذف کړئ، نو "دُعًى" پر وزن د "فَتًى" سو.
په صورة خطي يعني کتابت کي ياء په دې وجه پاته ده چي د واو د ياء څخه پر بدلېدلو دلالت وکړي.
"دَعْوُ دَعْوَا دَعْوَانٌ" پر خپل اصلي حالت پاته دي.
"دِعَاءٌ" صيغه جمع مکسر اسم فاعل په اصل کي "دِعَاوٌ" پر وزن د "نِصَالٌ" وو، واو راغلئ وروسته تر الف زائده نو د "دُعَاءٌ" په قانون سره يې په همزه بدل کړئ، نو د "دِعَاوٌ" څخه "دِعَاءٌ" پر وزن د "فِعَالٌ" جوړ سو.
"دُعِيٌّ" صيغه جمع مکسر اسم فاعل په اصل کي "دُعُوْوٌ" پر وزن د "نُصُوْرٌ" وو. (مزيد تفصيل في الارشاد)
"دَاعِيَةٌ دَاعِيَتَانِ دَاعِيَاتٌ" د دې ټولو اعلال دا رنګه دئ: "دَاعِيَةٌ" په اصل کي "دَاعِوَةٌ" وو، واو پر لام کلمه راغلئ، نو په دې ټولو کي يې په قانون د "دُعِيَ" سره واو په ياء بدل کړئ، "دَاعِيَةٌ دَاعِيَتَانِ دَاعِيَاتٌ" جوړ سو.

## د اسم ظرف تعليلات:

"مَدْعًى" صيغه واحده اسم ظرف په اصل کي "مَدْعَوٌ" پر وزن د "مَنْصَرٌ" وو، واو پر څلورم ځای راغلئ، د ماقبل حرکت هم څني مخالف دئ، د "يُدْعَى" په قانون سره واو په ياء سره بدل سو، نو "مَدْعَيٌ" سو. ياء متحرک ماقبل يې مفتوح په قانون د "قَالَ بَاعَ" په الف سره بدله سوه، نو "مَدْعَانٌ" سو، بيا التقاء ساکنين د الف او د نون تنوين په مابين کي راغله اول پکښي مده وو هغه يې څني حذف کړئ، نو "مَدْعًى" پر وزن د "مَفْعًى" جوړ سو.
"مَدَاعٍ" (۱) په اصل کي "مَدَاعِوٌ" پر وزن د "مَنَاصِرٌ" وو، واو پر پنځم ځای راغلی دئ او د ماقبل حرکت څني مخالف دئ، نو واو په ياء سره په قانون د (يُدْعَى) سره بدل سو، "مَدَاعِيٌ" سو، اوس

---

(۱)**فائده**:
په فصول اکبري کي ليکلي دي: کہ يائی آخر مفاعل را ضمه و جرا بيفتد و بدلش تنوين آيد الخ.

یاء(د دغه ذکر سوي فائدې په پر بنیاد ) د مفاعل پر لام کلمه واقع سوه، نو په حالت د رفع او جر کي هغه یاء حذف سوه او د دې په بدله کي عین کلمې ته تنوین ور کول سو، نو د "مَدَاعِيُ" څخه "مَدَاعٍ" جوړ سو.

"مُدَيْعٍ" صیغه واحد مصغر اسم ظرف په اصل کي "مُدَيْعِوٌ" پر وزن د "مُنَيْصِرٌ" وو، واو پر پنځم ځای راغلی او د ماقبل حرکت څني مخالف دئ، په قانون د "يَدْعِى" په یاء سره بدل سو، او بیا التقاء ساکنین په مابین د یاء او نون تنوین کي راغله او یاء یې څني حذف کړه، نو "مُدَيْعٍ" پر وزن د "مُقَيْعٍ" جوړ سو.

"مِدْعًى" صیغه واحد اسم آله صغری اعلال د "مَدْعًى" اسم ظرف غوندي دئ.

## د اسم آله وسطی تعلیلات:

"مِدْعَاةٌ" صیغه واحد اسم آله وسطی په اصل کي "مِدْعَوَةٌ" پر وزن د "مِنْصَرَةٌ" وه، واو پر څلورم ځای راغلی وو او د ماقبل حرکت څني مخالف دئ، په قانون د "يَدْعِى" سره واو په یاء سره بدل سو، نو "مِدْعَيَةٌ" سو، بیا یاء متحرک ماقبل یې مفتوح په قانون د "قَالَ بَاعَ" سره په الف بدله سوه، نو د "مِدْعَيَةٌ" څخه "مِدْعَاةٌ" جوړ سو.

"مُدَيْعِيَةٌ" صیغه واحد مصغر اسم آله وسطی په اصل کي "مُدَيْعِوَةٌ" پر وزن د "مُنَيْصِرَةٌ" وو، واو پنځم ځای راغلی وو او د ماقبل حرکت څني مخالف وو، نو په قانون د "يَدْعِى" سره واو په یاء سره بدل سو، نو د "مُدَيْعِوَةٌ" څخه "مُدَيْعِيَةٌ".

## (۵۴) قانون:

*هر واو و یاء که واقع شود بعد از الف زائده بر طرف یا در حکم طرف آن را به همزه بدل کنند وجوبًا. (۱)*

---

یعني چي کمه جمع د مفاعل پر وزن وي، نو د هغه یاء په حالت د رفع او جر کي غورځي او بیا د هغه په عوض کي په آخر کي تنوین راځي، لیکن په حالت د نصب کي هغه یاء سالمه پاتیږي او دې ته (قاعده د جوار) هم وایي. صاحب د علم صیغې په وزن د "افاعل ومفاعل" واشباه آن قید هم لګولی دئ.

مولانا مفتي محمد رفیع عثماني صاحب د علم صیغې په حاشیه کي دا لیکلي دي چي دا قاعده به د جمع سره نه خاصوئ. بلکي هغه ټول اسماء څني واخلئ چي د هغوی په آخر کي یاء متحرک ماقبل مکسور وي، ورنه (رَامٍ) او دا غوندي مثالونه څني وځي.

(۱) د حقیقتًا مطلب دا دئ چي "واو" او "یا" بالکل په آخر کي وي، د دوئ څخه وروسته یو بل حرف نه وي لکه دُعَاءٌ او رَامٍ.

## د قانون خلاصه:

هر واو او ياء چي د الف زائده څخه وروسته پر طرف يا په حکم د طرف کي راسي، نو هغه واو او ياء په همزه سره بدلول واجب دي.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم دئ د "دُعَاءٌ مِرْمَاءٌ" والا قانون.
د دې قانون د پاره يو حکم دئ او درې يې شرطونه دي.
حکم يې دا دئ چي واو او ياء په همزه سره بدلول واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چي واو او ياء به تر الف وروسته وي، احترازي مثال: "وَاعِدٌ يَاسِرٌ".
۲. دوهم شرط يې دا دئ چي الف به زائده وي، احترازي مثال: "وَاوٌ يَايٌ".
۳. دريم شرط يې دا دئ چي واو او ياء به په آخر کي وي حقيقةً يا حکما احترازي مثال: "هِدَايَةٌ، عَدَاوَةٌ، شَقَايَةٌ".

د حقيقةً اتفاقي مثال: د "دُعَاوٌ او مِرْمَايٌ" څخه "دُعَاءٌ او مِرْمَاءٌ" ويل واجب دي.
د حکمًا اتفاقي مثال: د "مِدْعَاوَانِ او مِرْمَايَانِ" څخه "مِدْعَاءَانِ او مِرْمَاءَانِ" ويل واجب دي.

## فائده:

دا قانون په مصدر، جامد او مشتق ټولو کي جاري کيږي.

---

د حکمًا مطلب دا دئ چي د "واو" او "يا" څخه وروسته داسي حروف وي چي د کلمې بناء د دوی بغيره هم صحيح وي، يعني کلمه د دوی څخه بغير هم استعماليږي، لکه د تثنيه او جمع زياتي حروف هم په دغه حکم کي دي، نو د دې قيد څخه شقَايَةٌ، هِدَايَةٌ، عَدَاوَةٌ خارج سول؛ ځکه چي په دې الفاظو کي "تا" لازمه وي او کلمه بغير د دوی څخه نه مستعمليږي، نو دغه "واو" او "يا" نه حقيقةً پر طرف دي او نه حکمًا.
دغه قانون پر جامد، مصدر، مشتق پر ټولو جاري کيږي.
"واو" او "يا" چي حقيقتًا په آخر کي وي د هغه مثال لکه د دُعَاوٌ، مِرْمَايٌ، څخه دُعَاءٌ، مِرْمَاءٌ او "واو" او "يا" چي حکما په آخر کي وي. لکه: د مِدْعَاوَانِ، مِرْمَايَانِ، څخه مِدْعَاءَانِ، مِرْمَاءَانِ ويل.
د "واو" او "يا" تخصيص د کثرت پر بناء دئ نه د الف (د الف څخه مراد همزه دئ) څخه احتراز، ورنه الف که چيري د الف زائده څخه وروسته راسي، نو هغه هم په همزه سره بدليږي. لکه: قُرَّاءٌ او صَحْرَاءٌ. (فوائد حقيقيه)

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په اسماؤو کي جاري کيږي او په هفت اقسامو کي صرف په ناقص او لفيف کي جاري کيږي او په ثلاثي مجردو کي د اسم فاعل او صفت مشبه په دوو دوو جمع مکسرو صيغو کي جاري کيږي اسم فاعل لکه: "دُعَاةٌ" "دِعَاءٌ" او صفت مشبه لکه: "رِضَاءٌ" او "اَرْضَاءٌ" او د اسم آله کبرى په واحد او تثنيه کي جاري کيږي او د ثلاثي مزيدو صرف په هغه مصادرو کي جاري کيږي چي په هغه کي د لام کلمه څخه مخکي الف زائد راغلی وي يعني باب افعال، باب افتعال، انفعال، استفعال، افعلال، تفعال، لکه: "اِعْلَاءٌ، اِعْتِدَاءٌ، اِنْجِلَاءٌ، اِسْتِدْعَاءٌ" وغيرد او کله کله په اسماء جوامدو کي هم جاري کيږي.

## (۵۵) قانون:

هر واو که واقع شود مقابله لام کلمه و ما قبل او مکسور باشد آن واو را بیا بدل کنند وجوبًا. (۱)

### د قانون خلاصه:

هر واو چي د لام کلمې په مقابله کي راسي او ما قبل يې مکسور وي، نو هغه واو په ياء سره بدلول واجب دي.

### د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم دئ د "دُعِيَ" والا قانون.

ددې قانون دپاره يو حکم دئ او دوه يې شرطونه دي.

حکم يې دا دئ چي واو په ياء سره بدلول واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چي "واو" به د "لام" کلمې په مقابله کي وي، احترازي مثال: "وَعِدَ عَوِرَ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ چي د دغه واو ما قبل به مکسور وي، احترازي مثال: "دَعَوَ يَدْعُوَ".

اتفاقي مثال: د "دُعِوَ" څخه "دُعِيَ" او د "دَاعِوَانِ" څخه "دَاعِيَانِ" ويل واجب دي.

---

(۱) اتفاقي مثالونه: د دُعِوَ څخه دُعِيَ ويل. د رَضِوَ څخه رَضِيَ ويل او د دَاعِوٌ څخه دَاعٍ ويل.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون په اسماؤو او افعالو دواړو کي جاري کيږي چي په کم ځای کي واو متحرک ماقبل مکسور وي نو د "دُعِيَ" والا قانون جاري کيږي او که چيري واو ساکن ماقبل مکسور وو نو بيا د "مِيعَادٌ" والا قانون جاري کيږي او دغه قانون د ناقص او لفيف د ماضي مجهولي په پنځو صيغو کي او د اسم فاعل په شپږو صيغو کي او د مضارع معلوم او جحد نفي وغيره په ټولو معلومو صيغو کي هلته جاري کيږي چي عين کلمه مکسوره وي خواه مجرد وي او که مزيد وي د مزيد بابونه لکه: باب افعال، تفعيل، مفاعله، افتعال، استفعال لکه: "يُعْلِي، يُبَالِي، يُبَقِّي، يَتْقِي، يَسْتَدْعِي" د اسم ظرف او اسم آله وسطی او صغری په دوو صيغو کي يعني په جمع اقصی او تصغير کي هم جاري کيږي.

## (۵٦)قانون:

*هر ياء که واقع شود در آخر فعل و فتح غير اعرابي و ماقبلش مکسور باشد کسره ماقبلش را بفتح بدل کرده جوازاً يارا بالف بدل کنند وجوباً بر لغت بني طی.* (۱)

## د قانون خلاصه:

هر ياء چي د فعل په آخر کي واقع سوې وي او د دې فتحه غير اعرابي وي (يعني د يو عامل په وجه سره نه وي) او د دې ماقبل مکسور وي، نو د بني طی په لغت د دغه "يا" د ماقبل کسره په فتحه سره بدلول او ياء په الف سره بدلول واجب دي.

---

(۱) په دې قانون کي دري مذهبه دي:

۱. بعضي علماء کرامو دا قانون صرف په افعالو پوري خاص کړی دئ. يعني صرف په ماضي کي جاري کيږي. نو ځکه د قامِيَ څخه قامَا ويل صحيح نه دي. (رضی. شافيه. صرف بهائي)

۲. او د بعضي علماء په نزد باندي دا قانون په فعل ماضي ثلاثي مجرد کي او په هغه اسم کي چي د فَاعِلَةٌ. افعِلَةٌ. يا مَفَاعِلُ پر وزن وي په هغه کي هم د قانون جاري کيږي. لکه: د ناصِيَةٌ. بَادِيَةٌ. ناجِيَةٌ څخه ناصَاةٌ. بَادَاةٌ. ناجَاةٌ ويل.

۳. او د بعضي علماء په نزد باندي دا قانون صرف په هغه جمع کي چي د مَفَاعِلَ پر وزن وي جاري کيږي. لکه: د مَهَارِيْ څخه مَهَارَا ويل او د صَحَارِيْ څخه صَحَارَا ويل. ليکن په ماضي مجهول د ثلاثي مجرد کي دا قانون په قياسي طرز باندي جاري کيږي. او هغه اسم چي د "مفاعل" پر وزن وي پر هغه باندي غير قياسي او قليل جاري کيږي.

## د قانون تفصیل:

دې قانون نوم دئ د "دُعِيَ" والا قانون.

د دې قانون د پاره یو حکم دئ او درې یې شرطونه دي.

حکم یې دا دئ چې د "یا" د ماقبل کسره په فتحه بدلول جائز دي او "یا" بیا په الف سره بدلول واجب دي.

۱. اول شرط یې دا دئ چې دغه "یا" به په آخر د فعل کې وي، احترازي مثال: "رَمْيٌ".

۲. دوهم شرط یې دا دئ چې فتحه به یې اعرابي نه وي، احترازي مثال: "لَنْ يَرْمِيَ".

۳. دریم شرط یې دا دئ چې ماقبل د دغه "یا" به مفتوح وي، احترازي مثال: "خَشِيَ، قَوِيَ".

اتفاقي مثال: د "دُعِيَ" څخه "دُعَيَ" ویل جائز دي او د "دُعَيَ" څخه بیا "دُعَا" ویل واجب دي.

## د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په فعل کې جاري کیږي او د ثلاثي مزید او مجرد صرف د ماضي مجهولي په ټولو صیغو کې جاري کیږي او که چیرې باب ناقص واوي وي نو بیا په هغه کې د "دُعِيَ" والا قانون هم جاري کیږي او کم باب چې د "عَلِمَ يَعْلَمُ" یا "حَسِبَ يَحْسِبُ" پر وزن وي د هغه باب د ماضي معلوم په ټولو صیغو کې هم جاري کیږي.

## (۵۷) قانون:

هر واو و یاء مضموم یا مکسور که واقع شود بمقابله لام کلمه بعد از ضمه و کسره حرکت آن را حذف می کنند وجوبا بشر طیکه در میان کسره و واو و ضمه و یاء نه باشد آن واو و یاء بدل از همزه بابدال جوازی و حرکتش منقول از همزه نه باشد. (۱)

---

(۱) د اتفاقي مثال اته (۸) صورتونه دي:

۱. واو مضموم ما قبل یې هم مضموم وي. لکه: د يَدْعُوُ څخه يَدْعُو ویل.

۲. واو مکسور ما قبل یې هم مکسور وي. لکه: د مِنْ شَاعِوٍ څخه مِنْ شَاعٍ ویل.

۳. واو مضموم ما قبل یې مکسور وي. لکه: د دُعِوُ څخه دُعِيُ ویل.

۴. واو مکسور او ما قبل یې مضموم وي. لکه: د تَدْعُوِيْنَ څخه تَدْعِيْنَ ویل.

## د قانون خلاصه:

هر واو او یاء مضموم یا مکسور چې د لام کلمې په مقابله کې راسي او ماقبل یې هم مضموم یا مکسور وي، نو د دغه واو او یاء حرکت حذف کول واجب دي، په دې شرط چې یاء به د کسرې او د واو په مینځ او واو به د ضمې او د یاء په مینځ کې نه وي، او دغه واو او یاء به په یو جوازي قانون سره د همزه ځخه تبدیل شده نه وي، او داغه رنګه د دوی حرکت به هم د همزه ځخه منقول نه وي، لکه د "یَدْعُوُ" او "یَرْمِیُ" ځخه "یَدْعُوْ" او "یَرْمِیْ" ویل.

## د قانون تفصیل:

د دې قانون نوم دئ "یَدْعُوْ او یَرْمِیْ" والا قانون.

د دې قانون دپاره یو حکم دئ او شپږ یې شرطونه دي: درې یې وجودي دي او درې یې عدمي دي.

حکم یې دا دئ چې د واو او یاء حرکت حذف کول واجب دي.

۱. اول شرط یې دا دئ چې واو او یاء به مضموم یا مکسور وي، احترازي مثال: "لَنْ یَدْعُوَ لَنْ یَرْمِیَ".

۲. دوهم شرط یې دا دئ چې واو او یا به په مقابله د لام کلمې کې وي. احترازي مثال: "یَقُوْلُ یَبِیْعُ".

۳. دریم شرط یې دا دئ چې ماقبل د دغه واو او یا به مضموم یا مکسور وي. احترازي مثال: "یَدْعُوُ یَرْمِیُ".

---

۵. یا مکسور ماقبل یې هم مکسور وي لکه [illegible] ځخه [illegible] ویل

۶. یا مضموم ماقبل یې هم مضموم وي لکه [illegible] ځخه [illegible] ویل

۷. یا مکسور ماقبل یې مضموم وي لکه [illegible] ځخه [illegible] ویل

۸. یا مضموم ماقبل یې مکسور وي لکه [illegible] ځخه [illegible] ویل

**فائده**

[illegible]

۴. څلورم شرط يې دا دئ چې "يا" به په مابين کې د کسرې او "واو" نه وي، احترازي مثال: "يَرمِيُوْنَ". او "واو" به په مابين د ضمه او د "يا" کې نه وي، احترازي مثال: "تَدعُوِيْنَ".

۵. پنځم شرط يې دا دئ چې دغه "واو" او "يا" به بدل د همزه څخه نه وي په ابدال جوازي سره، احترازي مثال: "سُوِلَ مُسْتَهزِيُوْنَ" که در اصل "سُئِلَ و مُسْتَهزِئُوْنَ" بود.

۶. شپږم شرط يې دا دئ چې حرکت د دغه واو او يا به منقول د همزه څخه نه وي، احترازي مثال: "يَسُوِيَجِئُ" که در اصل "يَسُوءُيَجِئُ" بود.

اتفاقي مثال: د "يَدعُوِيَرمِیُ" څخه "يَدعُوْيَرمِیْ" ويل واجب دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون په اسماؤ او افعالو دواړو کې جاري کيږي او دا قانون په تثنيه کې نه جاري کيږي بلکه په واحد يا په جمع کې جاري کيږي باب خواه مجرد وي او که مزيد وي په دې شرط چې ناقص به وي او د ناقص د مجرد د باب که چيرې مضارع معلوم د "يَفْعِلُ" يا د "يَفْعَلُ" پر وزن وو نو بيا په اتو صيغو کې يعني پنځه مفردې دوې جمع او يوه واحده مؤنثه صيغه کې او که چيرې په ناقص کې د "يَكْرُمُ يَنْصُرُ" والا قانون دوهم حکم چلېدلی وو نو بيا د هغه باب په مضارع معلوم کې په اتو صيغو کې دا قانون چليږي.

## صيغې:

| موزون | وزن | ملتبس | شش اقسام | هفت اقسام | صيغه | قانون | اصل | نظير | باب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فَلْتَوَتْ | اِفْتَعَلَتْ | فعل | ثلاثي مزيد | لفيف مقرون | واحده مؤنث ماضي معلوم | قال باع/ التقاء ساكنين/ همزه وصل نقل | اِسْتَوَيَتْ | اِكْتَسَبَتْ | افتعال |
| صُوْمُوْا | اُفْعُلُوْا | فعل | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | جمع مذكر مخاطبين امر حاضر | يقول يبيع/ لون اعرابي/ همزه وصل نقل | اُصْوُمُوْا | اُقْوُلُوْا | ثلاثي مجرد |
| وَافْطِرُوْا | اِفْعِلُوْا | فعل | ثلاثي مجرد | صحيح | جمع مذكر مخاطبين امر حاضر | لون اعرابي/ همزه وصل قطعي | تَفْطِرُوْنَ | اِضْرِبُوْا | ثلاثي مجرد |
| لَنْ يَصُوْنُوْا | لَنْ يَفْعُلُوْا | فعل | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | جمع مذكر غائبين فعل لن مذكر معلوم | يصلون/ يقول يبيع/ لون اعرابي | يَصْوُنُوْنَ | لَنْ يَقُوْلُوْا | ثلاثي مجرد |
| دُنَّ | فُعْلَنَ | فعل | ثلاثي مجرد | اجوف مضاعف | جمع مؤنث غائبات ماضي معلوم | قال باع/ التقاء ساكنين/ قلن طلن | دَوْنَنَ | قُلْنَ | ثلاثي مجرد |
| مَعِيْبٌ | مَفْعِلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | اجوف يائي | واحد اسم ظرف | اسم ظرف/ يقول يبيع | مَعْيِبٌ | مَبِيْعٌ | ثلاثي مجرد |
| مَعِيْبٌ | مَفْعُوْلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | اجوف يائي | واحد اسم مفعول | يقول يبيع/ يوسر/ التقاء ساكنين/ سيد | مَعْيُوْبٌ | مَبِيْعٌ | ثلاثي مجرد |
| عِجْنَ | فِعْلَنَ | فعل | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | جمع مؤنث غائبات ماضي معلوم | قال باع/ التقاء ساكنين/ خفن جن | عَوِجْنَ | بِعْنَ | ثلاثي مجرد |

| موزون | وزن | [illegible] | شش اقسام | هفت اقسام | صيغه | قانون | اصل | نظير | باب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| زَائِعٌ | فَاعِلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | اجوف يائي | واحد مذكر اسم فاعل | اسم فاعل / قائل بائع | ذَايِعٌ | قَائِلٌ | ثلاثي مجرد |
| رَنْ | اَفْعَلْ | فعل | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | واحد مذكر مخاطب امر حاضر | يقول يبيع، التقاء ساكنين، همزه وصل قلعي | اُرْوَنْ | قُلْ | ثلاثي مجرد |
| فَارْتَبْتُ | فَافْتَعَلْتُ | فعل | ثلاثي مزيد | اجوف يائي | واحد متكلم ماضي معلوم | قال باع / همزه وصل قلعي | اِرْتَيَبْتُ | اِجْتَنَبْتُ | افتعال |
| لَاتَكَازَفُوْا | لَاتَفَاعَلُوْا | فعل | ثلاثي مزيد | صحيح | جمع مذكر مخاطبين نهي حاضر | نون اعرابي / ... | تَكَازَفُوْنَ | لَاتَضَارَبُوْا | تفاعل |
| اِقَامَةٌ | اِفْعَالٌ | اسم | ثلاثي مزيد | اجوف واوي | اسم مصدر | اقامة ... | اِقْوَالٌ | اِقَامَةٌ | افعال |
| لَنْ يَسْتَكُوْا | لَنْ يَسْتَفْعِلُوْا | فعل | ثلاثي مزيد | اجوف واوي | جمع مذكر غائبين فعل نفي موكد بلن | نون اعرابي / يقال يباع | يَسْتَكْوِنُوْنَ | لَنْ يَسْتَخْرِجُوْا | استفعال |
| لَنْ تَنَاحُوْا | لَنْ تَفْعَلُوْا | فعل | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | جمع مذكر مخاطبين نفي موكد بلن | يقال يباع / نون اعرابي / حروف اخفاء | تَنْوَحُوْنَ | تَمْنَعُوْنَ | ثلاثي مجرد |
| شِبْنَ | فِعْلْنَ | فعل | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | جمع مؤنث غائبات ماضي معلوم | قال باع / التقاء ساكنين / خفن بعن | شَوِبْنَ | خِفْنَ | ثلاثي مجرد |
| شُبْنَ | فُعْلْنَ | فعل | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | جمع مؤنث غائبات ماضي معلوم | قال باع / التقاء ساكنين / قلن طلن | شَوَبْنَ | قُلْنَ | ثلاثي مجرد |
| يَشُوْبُ | يَفْعُلُ | فعل | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | واحد مذكر غائب مضارع | يقول يبيع | يَشْوُبُ | يَقُوْلُ | ثلاثي مجرد |
| غِيَاصٌ | فِعَالٌ | اسم | ثلاثي مجرد | اجوف واوي | جمع مكسر اسم فاعل | قيام ثياب حياض رياض | غِوَاصٌ | قِيَامٌ | ثلاثي مجرد |
| فَاثَّارُوْا | فَافْتَعَلُوْا | فعل | ثلاثي مزيد | اجوف واوي | جمع مذكر غائبين ماضي معلوم | قال باع / ... / همزه وصل قلعي | اِثْتَوَرُوْا | اِجْتَنَبُوْا | افتعال |
| جَانَانَ | اِفْعَنْلَلَ | فعل | رباعي مزيد | حيد مخرق | واحد مذكر غائب ماضي معلوم | يقال يباع / همزه وصل | اِجْوَنْوَنَ | اِحْرَنْجَمَ | افعنلال |

## التمرين:

اِسْتِقَاءٌ، اِسْوَانُوْ، مِيْثَانَاکَ، بِنَانُهُمْ، وَرْدَانُوْ، جَايَاتٌ، جَاسُوْنَ، يُرَكِّيْهِمْ، كُرِيَ، تَبَيِّتُ، لَشْيٌ، وَشْيٌ، عُذْيَا، هُدًى، وَوُرِيَ، فَعَالٍ، يَهْدِيْ، مَكْمِرٍ، يَشْتِيْ، مُشْتَقٍ، لَنْوِقَانُوْ، اِعْلَانِيْ، اِسْتِمَانَا، يَكْفِيْ، وَدِيَ، وَانْجَلَا، اَعْلَانَا، تَبَنَّا، اَجْلَتْ، مُسْتَبِيْ، الْمُشْرِ، الرَّامِ.

## (۵۸)قانون:

هر واو كه واقع شود سيوم جاچون حبائر او حركت ماقبلش مخالفش شود آن را بيا بدل كنند وجوباً. (١)

---

(١) د دې قانون اتفاقي مثالونه: د يَدْعُوْ يَدْعُوَانِ څخه يُدْعٰى يُدْعَيَانِ ويل د يَرْضَوُ يَرْضَوَانِ څخه يَرْضٰى، يَرْضَيَانِ ويل.
او كله چي واو په پنځم يا شپږم ځاى وي، لكه: د يَسْتَدْعِوُ څخه يَسْتَدْعِيْ ويل او د مُصْطَفَوٌ مُسْتَرْضَوٌ څخه مُصْطَفًى، مُسْتَرْضًى ويل.
او كله چي واو پر اوم ځاي وي، لكه: د اِسْتِدْعَاوٌ اِسْتِرْضَاوٌ څخه اِسْتِدْعَايٌ اِسْتِرْضَايٌ ويل بيا د "دُعَاوٌ" په قانون سره اِسْتِدْعَاءٌ اِسْتِرْضَاءٌ ويل.
بعضي علماء وايي چي په اِسْتِدْعَاءٌ وغيره كي ابتداءً واو په همزه سره بدل سوى دئ؛ ځكه د واو ما قبل متحرك نه دئ او د واو په يا سره د بدلولو دپاره د واو ما قبل متحرك كېدل د قانون د ځلورم شرط څخه معلوميږي، ليكن كم علماء چي واو په يا سره بدلوي دغه وايي چي ځلورم شرط دا دئ چي د ضمې څخه وروسته به واو مده نه وي احترازي مثال مَدْعُوٌّ د يَدْعُوْ څخه؛ ځكه دلته واو مده موجود دئ.
په يَدْعُوْ او يَرْضَوُ كي د واو متحرك د ماقبل د مفتوح والي په وجه باندي ابتداء واو په قانون د "قَالَ بَاعَ" سره په الف سره نه دئ بدل سوى. د دغه وجه دا ده چي په دغه مثالونو كي د "قَالَ بَاعَ" او "يُدْعٰى يُرْضٰى" دا دواړو قانونه جاري كېداى سي، نو مور په دواړو باندي عمل كړى دئ؛ ځكه د اِعمال اعمال اصل دئ.

## د قانون خلاصه:

هر واو چې په اصل کې (د اصل ځخه مراد د ماضي معلومي اوله صيغه ده، يا مصدر مراد دئ کله چې درې حرفي وي) پر دريم ځای باندي واقع سي، او د دريم ځايه ځخه يې ترقي کړې وي او د ماقبل حرکت هم د ده مخالف وي (يعني فتحه وي)، نو دغه واو په ياء سره بدلول واجب دي.

## د قانون تفصيل:

ددې قانون نوم دئ د "يدعى" والا قانون.

ددې قانون دپاره يو حكم دئ او ځلور يې شرطونه دي.

حكم يې دا دئ چې واو په يا سره بدلول واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چې واو به په اصل کې په دريم ځای وي، احترازي مثال: "اِسْتَوَىٰ". د اصل ځخه مراد د ماضي معلوم ثلاثي مجرد اوله صيغه ده، ددې اصل "لا" دئ، دلته واو په اول ځای کې دئ.

۲. دوهم شرط يې دا دئ چې د دريم ځای ځخه به يې ترقي کړې وي، احترازي مثال: "دَعَوْنَ".

۳. دريم شرط يې دا دئ چې د دغه واو ماقبل به مضموم نه وي، احترازي مثال: "يَدْعُوْ".

---

بدل سوی.

په عَدَاوَةٌ کي د ماقبل د نه متحرک والي په وجه باندي واو په يا سره نه دئ بدل سوی، د هغه وجه دا ده چې شِكَايَةٌ د ناقص واوي مصدر دئ، د ناقص يايي د مصادر د هم وزن کولو په وجه باندي په شِكَايَةٌ کي واو په ياء سره بدل سوی دئ؛ ځکه د ناقص يايي اکثره مصادر د فِعَالَةٌ پر وزن باندي راځي، لکه: وِلَايَةٌ، هِدَايَةٌ، دِرَايَةٌ، رِعَايَةٌ، عِنَايَةٌ وغيره. او د ناقص واوي دغه مصدر هم د فِعَالَةٌ پر وزن وو، نو ځکه دلته واو په ياء سره بدل سوی دئ. لکه: كَيْنُوْنَةٌ اجوف واوي په اصل کي كَوْنُوْنَةٌ وه نو چونکه اجوف يايي اکثره مصادر پر دغه وزن راځي.

او په شِكَايَةٌ کي چې په اصل کي شِكَاوَةٌ وه د ماقبل د نه متحرک والي په وجه باندي بيا هم واو په الف سره بدل سوی دئ، د هغه وجه دا ده چې شِكَايَةٌ ... د ماقبل د نه متحرک والي په وجه باندي په شِكَايَةٌ کي واو په ياء سره بدل سوی.

نَيْلُوْلَةٌ يَبْنُوْنَةٌ، صَيْرُوْرَةٌ، غَيْبُوْبَةٌ وغيره د اجوف يايي د مناسبت د موافقت په وجه سره د واو په ياء سره تبديل سوی دئ؛ ځکه د اجوف يايي اکثره مصادر پر دغه وزن راځي.

بعض علماء کرامو د دغه قانون ځخه انکار کړی دئ چې د دې قانون ضرورت نسته ابتداءً د "قَالَ بَاعَ" قانون جاري کيږي، د يَدْعُوْ ځخه يُدْعَى ويل کيږي، ليکن محققين حضرات د دې ترديد کړی دئ. ان شئت فارجع الى المطولات

۴. څلورم شرط يې دا دئ چې د دغه واو ما قبل به بل واو ساکن نه وي، احترازي مثال: "مَدْعُوُوْ".

اتفاقي مثال: د "يَدْعَوُ" څخه "يَدْعَیُ" ويل واجب دي او د "يَدْعَیُ" څخه بيا "يُدْعٰی" ويل واجب دي.

## د قانون د جاري كولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون په اسماؤو او افعالو دواړو کې جاري کيږي په دې شرط چې باب به ناقص واوي وي خواه مجرد وي او که مزيد او دا قانون په ماضي معلوم او مجهوله او د اسم فاعل او اسم مفعول په اولو شپږو قياسي صيغو کې نه جاري کيږي خواه مجرد وي او که مزيد وي د ناقص واوي په مضارع مجهوله کې او په مضارع معلوم مفتوح العين کې دغه قانون جاري کيږي خواه مجرد وي او که مزيد وي لکه: "يَرْضٰی، تَرَاضٰی".

## (۵۹) قانون:

هر واو لازم غير بدل از همزه که واقع شود، در آخر اسم متمکن ما قبلش مضموم باشد، يا واو مده زائده باشد در جمع آن را بيابدل کنند وجوبًا، ودر مفرد مانع از وجوب اعلال است آن واو مده زائده مگر وقتيکه ما قبلش ديگر واو متحرک باشد واگر نباشد جائز است. (۱)

---

(۱) د دې قانون د عبارت دوې حصې دي: اوله حصه يې تر (آن را بيابدل كنند وجوبًا) پورې ده او دوهمه حصه يې (ودر مفرد مانع) څخه بيا تر آخره پورې ده.

د اولې حصې د اتفاقي مثالو دوه صورته دي:

۱. واو لازمي په جمع کې وي، د همزه څخه تبديل شده نه وي، د اسم متمکن په آخر کې وي او ماقبل يې مضموم وي، لکه: اَدْلُوْ بيا په دې قانون سره اَدْلُيْ. بيا په قانون د ياء مشدد يا دعي سره اَدْلِيْ سو. ضمه پر ياء ثقيله وه هغه يې وغورځول. بيا د ياء او نون تنوين په منځ کې التقاء ساكنين راغله اول ساكن مده وو هغه يې حذف کړئ، نو د اَدْلِيْنٌ څخه اَدْلٍ سو.

۲. واو لازمي په جمع کې وي، د ده ماقبل مده زائده وي، لکه: د دَعُوْوٌ څخه دَعُوْیٌ بيا د قَوِيْلٌ قَوِيْةٌ په قانون سره دَعُيٌّ سو، بيا په قانون د بُيُّ او د ياء مشدد مخفف سره دِعِيٌّ سو. او د دَعُوٌ څخه دَعٌّ سو.

د دوهمې حصې د اتفاقي مثالونو درې درې صورتونه دي:

۱. واو لازمي به په مفرد کې وي. او د ده ماقبل به مضموم وي، لکه: د تَنَزُّوٌ څخه تَنَزُّیٌ، بيا په قانون د دعي سره تَنَزِّيٌ سو، بيا ضمه پر ياء باندې ثقيله وه هغه يې حذف کړه. بيا د ياء او نون تنوين په منځ کې التقاء ساكنين راغله. اول ساكن مده وه هغه يې حذف کړئ. نو تَنَزٍّ سو.

## د قانون خلاصه:

هر واو چې لازمي وي، او د همزه څخه تبدیل شده نه وي، او د اسم متمکن په آخر کې واقع سوی وي، او د ده ماقبل مضموم وي، یا واوي لازمي چې په جمع کې وي، او د ده ماقبل واو مده زائده وي، نو دغه واو په یاء سره بدلول واجب دي. او کچیري واو لازمي په مفرد کې وي او د ده ماقبل هم مضموم وي، نو هغه واو په یاء سره بدلول واجب دي. او کچیري د واو لازمي ماقبل مده زائده نه وي، نو هغه واو په یاء سره بدلول جائز دي، کچیري د واو مده زائده ماقبل بل واو متحرک وي، نو په دې صورت کې واو لازمي په یاء سره بدلول واجب دي.

## د قانون تفصیل:

ذدې قانون نوم دئ د "أَدْلٍ تَبَيِّن" والا قانون.

د دې قانون دپاره دوه حکمه دي: د اول حکم په شرطونو کې درې جماعته دي: د اول جماعت دپاره اوه شرطونه دي، د دوهم جماعت دپاره اته شرطونه دي او د دریم جماعت دپاره نه شرطونه دي، او د دوهم حکم دپاره نه (۹) شرطونه دي.

**اول حکم:** اول حکم دا دئ چې واو په یا سره بدلول واجب دي.

### د اول جماعت شرائط:

۱. اول شرط یې دا دئ چې واو به وي، احترازي مثال: "رَامِيٌ".
۲. دوهم شرط یې دا دئ چې واو به لازمي وي، احترازي مثال: "ضَرَبَوْ ضَارِبُوْ" که در اصل "ضَارِبُ" بود، دلته واو عارضي دی؛ ځکه په جوازي قانون سره بدل د نون تنوین څخه دئ.

---

۲. واو لازمي په مفرد کې وي او د ده ماقبل مده زائده وي. لکه: مَدْعُوْ آخر "واو" یې په "یا" سره بدل کړئ. نو مَدْعُوْ سو، یا په قانون د قُوِيٌ سره مَدْعِيٌ سو. یا په قانون د أَدْلٍ دِلِيٌ او داغه رنګه د یاء مشدد او مخفف په دوهم قانون سره مَدْعِيٌ او مَدْعُوٌّ دواړه صورتونه ویل جائز دي. په دې صورت کې واو په یاء سره اړول جائز دي.
۳. په مفرد کې د واو مده ماقبل دوهم واو متحرک وي. لکه: د مَقْرُوْوٌ څخه مَقْرُوْءٌ ویل واجب دي.

۳. دریم شرط دا دئ چي بدل به د همزه څخه نه وي، احترازي مثال: "كَفُوًا" كه در اصل "كَفُؤًا" بود.

۴. څلورم شرط يې دا دئ چي په آخر کي به وي، احترازي مثال: "وَعْدٌ قَوْلٌ".

۵. پنځم شرط يې دا دئ چي په آخر د اسم کي به وي، احترازي مثال: "يَدْعُوْا".

٦. شپږم شرط يې دا دئ چي په آخر کي د اسم متمکن کي به وي، احترازي مثال: "هُوَ".

۷. اووم شرط يې دا دئ چي ما قبل به يې مضموم وي، احترازي مثال: "دَاعِوٌ، مَدْعَوٌ، دَلْوٌ".

اتفاقي مثال: د "أَدْلُوٌ تَبَنُّوٌ" څخه "أَدْلُيٌ تَبَنُّيٌ" ويل واجب دي. بيا بيا د أَدْلٍ په دوهم قانون سره "أَدْلِيٌ، تَبَنِّيٌ" سو. بيا په قانون د يَدْعُوْ او يَرْمِيْ سره أَدْلِيْنٌ تَبَنِّيْنٌ سو. او بيا وروسته په قانون د التقاء ساكنين سره "أَدْلٍ، تَبَنٍّ" سو.

## د دوهم جماعت شرائط:

د دوهم جماعت د پاره اته شرطونه دي:

۱. اول شرط يې دا دئ چي واو به وي، احترازي مثال: "رَامِيٌ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ چي لازم به وي، احترازي مثال: "ضَارِبُوْ".

۳. دریم شرط يې دا دئ چي بدل به د همزه څخه نه وي، احترازي مثال: "كَفُوًا".

۴. څلورم شرط يې دا دئ چي په آخر کي به وي، احترازي مثال: "قَوْلٌ".

۵. پنځم شرط يې دا دئ چي په اسم کي به وي، احترازي مثال: "يَدْعُوْ".

٦. شپږم شرط يې دا دئ چي په آخر د اسم متمکن کي به وي، احترازي مثال: "هُوَ".

۷. اووم شرط يې دا دئ چي ماقبل د دغه واو به بل واو مده زائده وي، احترازي مثال: "حُوُوٌ، أَدْلُوٌ".

۸. اتم شرط يې دا دئ چي دا واو به په جمع کي وي، احترازي مثال: "مَدْعُوٌّ".

اتفاقي مثال: د "دُعُوْوٌ" څخه "دُعُوْيٌ" ويل واجب دي، بيا په قانون د "قُوَيْلٌ" سره دُعِيٌّ سو. بيا د أَدْلٍ په دوهم قانون سره "دِعِيٌّ" سو.

## د دریم جماعت شرائط:

۱. اول شرط دا دئ چي واو به وي. احترازي مثال: "رَامِيٌ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ چي واو به لازم وي، احترازي مثال: "ضَارِبُوْ".
۳. دريم شرط يې دا دئ چي بدل به د همزه څخه نه وي، احترازي مثال: "كُفُوًا".
۴. څلورم شرط يې دا دئ چي په آخر كي به وي، احترازي مثال: "قَوْلٌ".
۵. پنځم شرط يې دا دئ چي په آخر د اسم كي به وي، احترازي مثال: "يَدْعُوْ".
٦. شپږم شرط يې دا دئ چي د اسم متمكن په آخر كي به وي، احترازي مثال: "هُوَ".
۷. اوم شرط يې دا دئ چي ماقبل د دغه واو به بل واو مده زائده وي، احترازي مثال: "حُوُوٌ" بر وزن "فُعُلٌ".
۸. اتم شرط يې دا دئ چي دغه واو به په مفرد كي وي، احترازي مثال: "دُعُوُوٌ"، دا جمع دد.
۹. نهم شرط يې دا دئ چي د دغه واو مده زائده مخكي به بل واو متحرك وي، نو دري واوه به وي، احترازي مثال: "مَدْعُوُوٌ".
اتفاقي مثال: د "مَقْوُوْوٌ" څخه "مَقْوُوِيٌّ" ويل واجب دي، ييا په قانون د قَوِيٌّ سره "مَقْوِيٌّ" سو، ييا د اَدْلٍ په دوهم قانون سره "مَقْوِيٌّ" سو.

**دوهم حكم:** دوهم حكم يې دا دئ چي واو په يا سره بدلول جائز دي.
۱. اول شرط يې دا دئ چي واو به وي، احترازي مثال: "رَامِيٌ".
۲. دوهم شرط يې دا دئ چي لازم به وي، احترازي مثال: "ضَارِبُوْ".
۳. دريم شرط يې دا دئ چي بدل به د همزه څخه به نه وي، احترازي مثال: "كُفُوًا".
۴. څلورم شرط يې دا دئ چي په آخر كي به وي، احترازي مثال: "قَوْلٌ".
۵. پنځم شرط يې دا دئ چي په آخر كي د اسم به وي، احترازي مثال: "يَدْعُوْ".
٦. شپږم شرط يې دا دئ چي په آخر د اسم متمكن كي به وي، احترازي مثال: "هُوَ".
۷. اووم شرط يې دا دئ چي ماقبل د دغه واو به بل واو مده زائده وي، احترازي مثال: "حُوُوٌّ اَدْلُوٌ".
۸. اتم شرط يې دا دئ چي دغه "واو" به په مفرد كي وي، احترازي مثال: "دُعُوُوٌ".

۹. نهم شرط يې دا دئ چي د دغه واو مخکي به بل واو متحرک نه وي، احترازي مثال: "مَقْوُوْوٌ".

اتفاقي مثال: د "مَدْعُوْوٌ" ځخه "مَدْعُوْیٌ" ويل جائز دئ. بيا د قَوِيْلٌ په قانون سره "مَدْعُيٌّ" سو، بيا د اَدْلٍ په دوهم قانون سره "مَدْعِيٌّ" سو.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

د ادل تبن اول او دوهم قانون دواړه صرف په اسماؤو کي جاري کيږي د ادل تبن اول قانون د اول حکم اول جماعت په درې ځايو کي جاري کيږي:

۱. اول د باب تفعل او تفاعل په مصدر کي لکه: "تَرَاضٍ، تَشَقٍّ" په اصل کي "تَرَاضُوٌ، تَشَقُّوٌ" وو.

۲. دوهم د صفت مشبه په يوه صيغه کي يعني په "سَرُوٌ" کي.

۳. دريم کمه صيغه چي د "اَفْعُلٌ" پر وزن وي لکه: "اَدْلُوٌ".

او په اسماء جوامدو کي هم دغه قانون جاري کيږي او د دې سره د ادل تبن دوهم قانون او يدعو يرمي والا قانون او التقائي ساکنين والا قانون جاري کيږي.

دوهم جماعت د مجردو د ناقص واوي باب د اسم فاعل او صفت مشبه په يوه صيغه يعني په "ضَرُوْبٌ" او "سَرُوْبٌ" کي جاري کيږي لکه: "دِعِيٌّ رِخِيٌّ" په اصل کي "دُعُوْوٌ رُخُوْوٌ" وو. او د دې سره د ادل تبن دوهم قانون او قويل او قويلة والا قانون هم جاري کيږي او دغه جماعت کله په اسماء جوامدو کي هم جاري کيږي دريم جماعت د ثلاثي مجردو د اسم مفعول په شپږو قياسي صيغو کي جاري کيږي په دې شرط چي باب به لفيف مقرون وي او پر عين او لام کلمه يې حرف علت "واو" وي لکه: د "مَقْوُوْوٌ" ځخه "مَقْوِيٌّ" ويل.

د دې قانون دوهم حکم جوازي دئ د ثلاثي مجردو د اسم مفعول په اولو شپږو قياسي صيغو کي جاري کيږي په دې شرط چي باب به ناقص واوي وي لکه: "مَدْعُوْوٌ" ځخه "مَدْعِيٌّ" ويل. لېکن که چيري د دې باب ماضي مکسور العين وه نو بيا د هغه باب په اسم مفعول کي دغه قانون وجوبا جاري کيږي.

## (٦٠)قانون:

هر یا مشدد یا مخفف که واقع شود در آخر اسم متمکن ما قبلش اگر یک حرف مضموم باشد ضمه آن را بکسره بدل کنند وجوبا و اگر دو باشند چون دلیّ ضمه متصل را وجوبا و غیر متصل را جوازا. (١)

### د قانون خلاصه:

هر یاء مشدد یا مخفف چې د اسم متمکن په آخر کې واقع سي، کچیرې ماقبل یې یو حرف مضموم وي، نو د دې د ماقبل ضمه په کسره بدلول واجب دي، او کچیرې په ماقبل کې دوه حرفه وي، نو د متصل ضمه په کسره بدلول واجب دي او د غیر متصل دا جائز دي.

### د قانون تفصیل:

ددې قانون نوم دئ د "دِلِيٌّ" والا قانون او د "اَدْلٍ تَجَنٍّ" دوهم قانون.

ددې قانون دپاره دوه حکمه دي او د هر حکم دپاره پنځه پنځه شرطونه دي.

**اول حکم:** اول حکم یې دا دئ چې د "یا" څخه د ماقبل حرف ضمه په کسره سره بدلول واجب دي.

١. اول شرط یې دا دئ چې "یا" به مشده یا مخففه وي یعني "یا" به موجوده وي او متحرکه به وي، احترازي مثال: "وَعْدٌ".
٢. دوهم شرط یې دا دئ چې په آخر کې به وي، احترازي مثال: "بَيْعٌ".
٣. دریم شرط یې دا دئ چې په آخر د اسم کې به وي، احترازي مثال: "رَمَىَ".
۴. څلورم شرط یې دا دئ چې په آخر د اسم متمکن کې به وي، احترازي مثال: "هِيَ".
۵. پنځم شرط یې دا دئ چې د "یا" څخه ماقبل به صرف یو ضمه وي، احترازي مثال: "دُعِيَ".

---

(١) په تَغَارِيْ تَخَاوِيْ کي د قانون د شرائطو د موجودېدلو باوجود قانون نه دئ جاري سوی؛ ځکه دا ټول الفاظ شاذ دي. د دستور المبتدي او فراء په نزد باندي په هر د جمع کي تصحيح قیاسي وي. لکه د رمي څخه ترمي کچیري ماضي مکسور العین وي. نو د دې په متابعت کي اسم منعول د ماضي و ظرف ته ویل اَوْلَى دي. لکه د رمي څخه مرمي اوی دئ د مرمز څخه.
او داسي مصدر چي د تفعیل په وزن وي په دد کي ترک قلب اولی وي. لکه: تعمیز. (رضي شرح الشافیه، فوائد خفیه)

اتفاقي مثال: د "أَدْلٍ، تَبْيٍ" څخه "أَدْلِي، تَبْيِي" ويل واجب دي.

**دوهم حکم:** دوهم حکم يې دا دئ چي د "يا" سره د متصل حرف ضمه په کسره سره بدلول واجب دي د غير متصل ضمه په کسره سره بدلول جائز دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چي "يا" به مشدده يا مخففه وي، احترازي مثال: "وَعْدٌ".
۲. دوهم شرط يې دا دئ چي په آخر کي به وي احترازي "يَبْعُ".
۳. دريم شرط يې دا دئ چي په آخر د اسم کي به وي، احترازي مثال: "رَمَىٰ".
۴. څلورم شرط يې دا دئ چي په آخر کي د اسم متمکن به وي، احترازي مثال: "هِيَ".
۵. پنځم شرط يې دا دئ چي د "يا" څخه مخکي به دوه حرفه مضموم وي، احترازي مثال: "أَدْلٍ".

اتفاقي مثال: د "دُعِيٌ" څخه "دُعِيٌّ" ويل واجب دي او "دِعِيٌّ" جائز ويل دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

که چيري "يا" په آخر کي واقع سوې وه او د دې ماقبل يو حرف مضموم وو نو د ادلٍ تبنٍ والا د دوهم قانون اول حکم جاري کيږي او که چيري دوه حرفه مضموم وه نو بيا د دې قانون دوهم حکم جاري کيږي.

## يو ضروري مشترکه فائده:

۱. که چيري واو متحرک ماقبل مکسور وو نو د "دُعِيَ" قانون جاري کيږي.
۲. که چيري واو ساکن ماقبل مکسور وو نو د "مِيْقَاتٌ" والا قانون جاري کيږي.
۳. واو خواه ساکن وي او که متحرک وي لېکن د ده ماقبل نه مضموم وي او نه مکسور وي او نه بل واو ساکن وي نو د "يُدْعَىٰ" والا قانون جاري کيږي.
۴. او که چيري واو متحرک وي او ماقبل يې مضموم وي يا بل واو ساکن وي نو د ادلٍ تبنٍ والا قانون جاري کيږي.

## صيغ:

| موزونی | وزن | سہ اقسام | شش اقسام | ہفت اقسام | صیغہ | قانون | اصل | نظیر | باب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لَمُزَلْزَلٌ | لَمُفَعْلَلٌ | اسم | رباعی مجرد | مضاعف رباعی | واحد مذکر اسم مفعول | اسم مفعول | يُكَلْمَرُ | لَمُدَحْرَجٌ | فعللة |
| تَمَنّٰی | تَفَعّٰل | فعل | ثلاثی مزید | ناقص یائی | واحد مذکر غائب ماضی معلوم | قال باع | تَمَنَّيَ | تَكَرَّمَ | تفعل |
| وَتَلَتْ | اِفْتَعَلَتْ | فعل | ثلاثی مزید | مثال واوی | واحد مؤنث غائب ماضی معلوم | اتعد یتعد، ہمزہ وصل و قطعی، وعدت | اِوْتَلَدَتْ | اِجْتَمَعَتْ | افتعال |
| لَنْ تَابَعُوْا | لَنْ تَفَاعَلُوْا | فعل | ثلاثی مزید | صحیح | جمع مذکر مخاطبین فعل نفی مؤکد معلوم | تصرف تضارب، نون اعرابی | تَتَابَعُوْنَ | لَنْ تَضَارَبُوْا | تفاعل |
| وَتَجَّا | تَفَعَّلَا | فعل | ثلاثی مزید | صحیح | تثنیہ غائبین ماضی معلوم | ہمزہ وصل و قطعی، ضم کلم | تَجَّجَا | تَكَرَّمَا | تفعل |
| تَخَاطَطَ | تَفَاعَلَ | فعل | ثلاثی مزید | صحیح | واحد مذکر غائب ماضی معلوم | + | + | تَضَارَبَ | تفاعل |
| تَجَمَّلُوْا | تَفَعَّلُوْا | فعل | ثلاثی مزید | صحیح | جمع مذکر مخاطبین امر حاضر | نون اعرابی | تَجَمَّلُوْنَ | تَصَرَّفُوْا | تفعل |
| يَعْقُوْنَ | يُفْعِلُوْنَ | فعل | ثلاثی مزید | صحیح | جمع مذکر غائبین مضارع | حروف اخفاء | + | يُكْرِمُوْنَ | افعال |
| تَخَالٰی | تَفَاعَلُ | فعل | ثلاثی مزید | ناقص یائی | واحد مذکر مخاطب فعل مضارع | قال باع، یکرم و یتعرف | تَخَافِيُ | تَضَارَبُ | تفاعل |
| يَتَجَلْجَلُوْنَ | يَتَفَعْلَلُوْنَ | فعل | رباعی مزید | مضاعف رباعی | جمع غائبین مضارع معلوم | یکرم یعرف و یتعرف | + | يَتَدَحْرَجُوْنَ | تفعلل |
| وَازْدِحَامٌ | اِفْتِعَالٌ | اسم | ثلاثی مزید | صحیح | اسم مصدر | دو کرا لون تنوین، ہمزہ وصل | اِزْتِحَامٌ | اِجْتِمَاعٌ | افتعال |
| وَادَّهَنَّ | اِفْتَعَلْنَ | فعل | ثلاثی مزید | صحیح | جمع مؤنث غائبات ماضی معلوم | دو کرا ضرب ادہم ہمزہ وصل قطعی | اِدْتَهَنَّ | اِجْتَمَعْنَ | افتعال |
| اِسْتَوْصِدَا | اِسْتَفْعِلَا | فعل | ثلاثی مزید | مثال واوی | تثنیہ مذکر مخاطبین امر حاضر | نون اعرابی | تَسْتَوْصِدَانِ | اِسْتَخْرِجَا | استفعال |
| لَنْ يُجَنْبِهْ | لَنْ يُفَعْلِلَ | فعل | رباعی مجرد | مضاعف رباعی | واحد مذکر غائب فعل لن معلوم | بے ملون، یکرم یعرف، یکرم یتعرف | + | لَنْ يُدَحْرِجَ | فعللة |
| لَمْ يُوَكْوِكَا | لَمْ يُفَعْلِلَا | فعل | رباعی مجرد | مضاعف رباعی لفیف مفروق | تثنیہ مذکر غائبین فعل جحد معلوم | نون اعرابی، یکرم یعرف | يُوَكْوِكَانِ | يُدَحْرِجَانِ | فعللة |
| لَمْ يُبَكِّرُوْا | لَمْ يُفَعِّلُوْا | فعل | ثلاثی مزید | صحیح | جمع مذکر غائبین فعل جحد معلوم | نون اعرابی، یکرم یعرف و یتعرف | يُبَكِّرُوْنَ | لَمْ يُصَرِّفُوْا | تفعیل |
| مُنَزَّلَانِ | مُفَعَّلَانِ | اسم | ثلاثی مزید | صحیح | تثنیہ مذکر اسم مفعول | اسم مفعول | يُنَزَّلَانِ | مُكَرَّمَانِ | تفعیل |
| لَنْ اَخْتَلِقَ | لَنْ اَفْتَعِلَ | فعل | ثلاثی مزید | صحیح | واحد متکلم مضارع معلوم مؤکد | حلق العین، حروف اخفاء | لَنْ اَخْتَلِقَ | لَنْ اَجْتَمِعَ | افتعال |
| مُتَتَلْمِذٌ | مُتَفَعْلِلٌ | اسم | رباعی مزید | صحیح | واحد مذکر اسم فاعل | اسم فاعل | يَتَتَلْمَذُ | مُتَدَحْرِجٌ | تفعلل |

## التمرين:

مُجْلٰی، مُجْلٰی، مُجَذّٰی، مُجَذّٰی، تَحَشٍّ، مَجِيٌّ، مَقْوِيٌّ، صِيًّا، تَرَاضٍ، تَلَاقٍ، جَرْيٌ، جَلِيٌّ، فَضَاضٌ، اَلْرَسِ، رِخْيٌ، رِمِ، اَلْنَمِ، مَطْوِيًّا، دِلِيًّا، اَلتَّنَادِ، تَحَرٍّ، قَلَسٍ، اَعْلٰی، اَعْلِ، اَعْلٰی، اَدْرَاكَ، اَدْرَاكَ، اَدْرَاكَ، اَدْرَاكَ، مُكَدّٰی، يَمْحُوْنَ.

## (٦١) قانون:

هر حرف علت که واقع شود در آخر فعل مضارع غير بدل از همزه وقت دخول جوازم و بنا کردن امر حاضر معلوم حذف کرده مي شود وجوبًا. (۱)

### د قانون خلاصه:

هر حرف علت چي د فعل مضارع په آخر کي واقع سي، او د همزه څخه تبديل شده نه وي، د حروف جوازم د داخلېدلو يا د امر حاضر د جوړولو په وخت کي د دغه حرف علت غورځول واجب دي.

### د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم "لَمْ يَدْعُ اُدْعُ" والا قانون دئ.

د دې قانون دپاره يو حکم دئ او پنځه يې شرطونه دي.

حکم يې دا دئ چي حرف علت حذف کول واجب دي.

۱.. اول شرط يې دا دئ چي په آخر کي به وي، احترازي مثال: يَقُوْلُ يَبِيْعُ.

۲. دوهم شرط يې دا دئ چي په آخر د فعل کي به وي، احترازي مثال: "دَاعٍ، رَامٍ".

۳. دريم شرط يې دا دئ چي په آخر د فعل مضارع کي به وي، احترازي مثال: دَعَا رَمَى، که در اصل "دَعَوَ رَمَيَ" بود.

۴. څلورم شرط يې دا دئ چي حرف علت به بدل د همزه څخه نه وي، احترازي مثال: يَقْرَأُ يَجْزَئُ، که در اصل يَقْرَأُ يَجْزَءُ بود.

۵. پنځم شرط يې دا دئ چي پر دغه صيغه باندي به حروف جوازم داخل سوي وي يا به دي اراده د جوړېدلو د امر حاضر کړې وي. احترازي مثال: يَدْعُوْ يَرْمِيْ.

---

(۱) کم حرف علت چي د فعل مضارع په آخر کي واقع سي، نو هغه حرف علت په حالت د وقف کي جوازًا غورځي. لکه: وَاللَّيْلِ اِذَا يَسْرِ په اصل کي يسري وو، د وقف په وجه سره يسر سو.

او د ضمير فاعل يا د نون تاکيد ثقيله او خفيفه د لاحق کېدو په وخت کي حرف علت وجوبًا واپس راګرځي. لکه: د [illegible] څخه [illegible] او د دې څخه [illegible] وي. (صرف بهائي)

اتفاقي مثال: د "يَدْعُوْ، يَرْمِيْ، تَدْعُوْ" څخه "لَمْ يَدْعُ، لَمْ يَرْمِ، لَمْ تَدْعُ، اُدْعُ" ويل واجب دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په افعالو کي جاري کيږي او په افعالو کي صرف په فعل مضارع کي جاري کيږي کله چي يې پر سر باندي حروف جوازم داخل سي يا د امر حاضر د جوړولو اراده وسي او د مجحد صرف په پنځو صيغو کي او د امر حاضر او نهي حاضر په يوه يوه صيغه او د امر غائب او نهي غائب په څلورو صيغو کي جاري کيږي او د دې قانون سره اکثريت د حلقي العين والا قانون جاري کيږي.

## (٦٢) قانون:

در التقاء ساكنين على غير حده اگر ساكن اول غير مده واو جمع باشد، آن را حركت ضمه مى دهند وجوبا واگر ساكن اول غير مده يائى واحده باشد آن را حركت كسره مى دهند وجوبا.

## د قانون خلاصه:

په التقاء ساكنين على غير حده کي کچيري اول ساکن غير مده "واو" د جمع وي، نو ده ته حرکت د ضمې ور کول واجب دي، او کچيري اول ساکن غير مده "يا" د واحد مونث مخاطب وي، نو و دې "ياء" ته حرکت د کسرې ور کول واجب دي.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم دئ د "لِتَدْعُوُنَّ، لِتَدْعِيِنَّ" والا قانون.

د دې قانون دپاره دوه حکمه دي او د هر حکم دپاره درې درې شرطونه دي.

**اول حکم:** اول حکم يې دا دئ چي "واو" د جمع ته حرکت د ضمې ور کول واجب دي.

طَوٰی، يَطْوِیْ، طَيًّا، فهو طَاوٍ، وطُوِیَ، يُطْوٰی، طَيًّا، فذاک مَطْوِیٌّ، لَمْ يَطْوِ، لَمْ يُطْوَ، لَايَطْوِیْ، لَايُطْوٰی، لَنْ يَطْوِیَ، لَنْ يُطْوٰی، الامر منه: اِطْوِ، لِتُطْوَ، لِيَطْوِ، لِيُطْوَ، والنهی عنه: لَاتَطْوِ، لَاتُطْوَ، لَايَطْوِ، لَايُطْوَ، الظرف منه: مَطْوًی، مَطْوَيَانِ، مَطَاوٍ، و مُطَيٌّ، والآلة منه: مِطْوًی، مِطْوَيَانِ، مَطَاوٍ، ومُطَيٌّ، مِطْوَاةٌ، مِطْوَاتَانِ، مَطَاوٍ، مُطَيَّةٌ، مِطْوَاءٌ، مِطْوَاءَانِ، مَطَاوِیُّ، وَمُطَيْوِیٌّ، وافعل التفضیل المذکر منه: اَطْوٰی اَطْوَيَانِ، اَطْوَوْنَ، اَطَاوٍ، واُطَيٌّ، والمؤنث منه: طُوْیٰ، طُوْيَيَانِ، طُوْيَيَاتٌ، طُوًی وَطُوَیٌّ.

## باب دوم لفيف مقرون ثلاثي مجرد از باب فَعِلَ يَفْعَلُ چون: اَلْقُوَّةُ (زورور كېدل)

قَوِيَ، يَقْوٰى، قُوَّةً، فهو قَوِيٌّ، و قُوِيَ، يُقْوٰى، قُوَّةً فذاک مَقْوِيٌّ، لَمْ يَقْوَ، لَمْ يُقْوَ، لَايَقْوٰى، لَايُقْوٰى، لَنْ يَقْوٰى، لَنْ يُقْوٰى، الامر منه: اِقْوَ، لِتُقْوَ، لِيَقْوَ، لِيُقْوَ، والنهي عنه: لَاتَقْوَ، لَاتُقْوَ، لَايَقْوَ، لَايُقْوَ، الظرف منه: مَقْوًى، مَقْوَيَانِ، مَقَاوٍ، ومُقَيٌّ، والالة منه: مِقْوًى، مِقْوَيَانِ، مَقَاوٍ، وَمُقَيٌّ، مِقْوَاةٌ مِقْوَاتَانِ، مَقَاوٍ، ومُقَيَّةٌ، مِقْوَاءٌ، مِقْوَاءَانِ، مَقَاوِيٌّ، وَمُقَيْوِيٌّ، وافعل التفضيل المذكر منه: اَقْوٰى، اَقْوَيَانِ، اَقْوَوْنَ، اَقَاوٍ، واُقَيٌّ، والمؤنث منه: قُوْيٰ، قُوْيَانِ، قُوْيَاتٌ، قُوًى. وقُوَيٌّ.

### فائده:

دا باب لازمي دئ د اسم فاعل پر ځاي يې صفت مشبه راځي.

*ختم شدند ابواب مجردات لفيف مقرون*

## ابواب لفيف مقرون ثلاثي مزيدفيه:

## باب اول لفيف مقرون ثلاثي مزيدفيه از باب اِفْعَالٌ چون: اَلْاِحْيَاءُ (ژوندى كول):

اَحْيٰ، يُحْيِيْ، اِحْيَاءً، فهو مُحْيٍ. واُحْيِيَ، يُحْيٰى، اِحْيَاءً، فذاک مُحْيًا، لَمْ يُحْيِ، لَمْ يُحْيَ، لَايُحْيِيْ، لَايُحْيٰى، لَنْ يُحْيِيَ، لَنْ يُحْيٰى، الامر منه: اَحْيِ، لِتُحْيَ، لِيُحْيِ، لِيُحْيَ، والنهي عنه: لَاتُحْيِ، لَاتُحْيَ، لَايُحْيِ، لَايُحْيَ، الظرف منه: مُحْيًى، مُحْيَانِ، مُحْيَاتٌ.

## باب دوم لفيف مقرون ثلاثي مزيد فيه از باب تَفْعِيْلٌ چون: اَلتَّسْوِيَةُ (برابرول):

سَوّٰى، يُسَوِّيْ، تَسْوِيَةً، فهو مُسَوٍّ، وَسُوِّيَ، يُسَوّٰى، تَسْوِيَةً، فذاک مُسَوًّى، لَمْ يُسَوِّ، لَمْ يُسَوَّ، لَايُسَوِّيْ، لَا يُسَوّٰى. لَنْ يُسَوِّيَ، لَنْ يُسَوّٰى، الامر منه: سَوِّ، لِتُسَوَّ، لِيُسَوِّ، لِيُسَوَّ، والنهي عنه: لَاتُسَوِّ، لَاتُسَوَّ، لَايُسَوِّ، لَايُسَوَّ. الظرف منه: مُسَوًّى، مُسَوَّيَانِ، مُسَوَّيَاتٌ.

## باب سوم لفیف مقرون ثلاثي مزیدفیه از باب مُفَاعَلَةٌ چون : اَلْمُدَاوَةُ (دوا کول) :

دَاوٰی، یُدَاوِیْ، مُدَاوَةً، فهو مُدَاوٍ، وَدُوْوِیَ، یُدَاوٰی، مُدَاوَةً، فذاک مُدَاوًی، لَمْ یُدَاوِ، لَمْ یُدَاوَ، لَا یُدَاوِیْ، لَایُدَاوٰی، لَنْ یُّدَاوِیَ، لَنْ یُّدَاوٰی، الامر منه: دَاوِ، لِتُدَاوَ، لِیُدَاوِ، لِیُدَاوَ، والنهی عنه: لَاتُدَاوِ، لَاتُدَاوَ، لَایُدَاوِ، لَایُدَاوَ، الظرف منه: مُدَاوًی، مُدَاوَیَانِ، مُدَاوَیَاتٌ.

## باب چهارم لفیف مقرون ثلاثي مزید فیه از باب تَفَعُّل چون: اَلتَّقَوِّیْ (زورور کېدل)

تَقَوّٰی، یَتَقَوّٰی، تَقَوِّیًا، فهو مُتَقَوٍّ، وتُقُوِّیَ، یُتَقَوّٰی، تَقَوِّیًا، فذاک مُتَقَوًّی، لَمْ یَتَقَوَّ، لَمْ یُتَقَوَّ، لَایَتَقَوّٰی، لَایُتَقَوّٰی، لَنْ یَّتَقَوّٰی، لَنْ یُّتَقَوّٰی، الامر منه: تَقَوَّ، لِتُتَقَوَّ، لِیَتَقَوَّ، لِیُتَقَوَّ، والنهی عنه: لَاتَتَقَوَّ، لَاتُتَقَوَّ، لَایَتَقَوَّ، لَایُتَقَوَّ، الظرف منه: مُتَقَوًّی، مُتَقَوَّیَانِ، مُتَقَوَّیَاتٌ.

## باب پنجم لفیف مقرون ثلاثي مزیدفیه از باب تَفَاعُل چون: اَلتَّسَاوِیْ (برابرېدل):

تَسَاوٰی، یَتَسَاوٰی، تَسَاوِیًا، فهو مُتَسَاوٍ، وتُسُوْوِیَ، یُتَسَاوٰی، تَسَاوِیًا، فذاک مُتَسَاوًی، لَمْ یَتَسَاوَ، لَمْ یُتَسَاوَ، لَایَتَسَاوٰی، لَایُتَسَاوٰی، لَنْ یَّتَسَاوٰی، لَنْ یُّتَسَاوٰی، الامر منه: تَسَاوَ، لِتُتَسَاوَ، لِیَتَسَاوَ، لِیُتَسَاوَ، والنهی عنه: لَا تَتَسَاوَ، لَاتُتَسَاوَ، لَایَتَسَاوَ، لَایُتَسَاوَ، الظرف منه: مُتَسَاوًی، مُتَسَاوَیَانِ، مُتَسَاوَیَاتٌ.

## باب شَشم لفیف مقرون ثلاثي مزیدفیه از باب اِفْتِعَال چون: اَلْاِسْتِوَاءُ (برابرول):

اِسْتَوٰی، یَسْتَوِیْ، اِسْتِوَاءً، فهو مُسْتَوٍ، و اُسْتُوِیَ، یُسْتَوٰی، اِسْتِوَاءً، فذاک مُسْتَوًی، لَمْ یَسْتَوِ، لَمْ یُسْتَوَ، لَایَسْتَوِیْ، لَایُسْتَوٰی، لَنْ یَّسْتَوِیَ، لَنْ یُّسْتَوٰی، الامر منه: اِسْتَوِ، لِتُسْتَوَ، لِیَسْتَوِ، لِیُسْتَوَ، والنهی عنه: لَاتَسْتَوِ، لَاتُسْتَوَ، لَایَسْتَوِ، لَایُسْتَوَ، الظرف منه: مُسْتَوًی، مُسْتَوَیَانِ، مُسْتَوَیَاتٌ.

## باب هفتم لفيف مقرون ثلاثي مزيدفيه از باب اِنْفِعَال چون: اَلْاِنْزِوَاءُ

### (په کونج کي کښېنستل):

اِنْزَوٰى، يَنْزَوِىْ، اِنْزِوَاءً، فهو مُنْزَوٍ، وانْزُوِىَ، يُنْزَوٰى، اِنْزِوَاءً فذاک مُنْزَوًى، لَمْ يَنْزَوِ، لَمْ يُنْزَوَ، لَايَنْزَوِىْ، لَايُنْزَوٰى، لَنْ يَنْزَوِىَ، لَنْ يُنْزَوٰى، الامر منه: اِنْزَوِ، لِتُنْزَوَ، لِيَنْزَوِ، لِيُنْزَوَ، والنهى عنه: لَاتَنْزَوِ، لَاتُنْزَوَ، لَايَنْزَوِ، لَايُنْزَوَ، الظرف منه: مُنْزَوًى، مُنْزَوَيَانِ، مُنْزَوَيَاتٌ.

## باب هشتم لفيف مقرون ثلاثي مزيدفيه از باب اِسْتِفْعَال چون: اَلْاِسْتِحْيَاءُ

### (شرم کول):

اِسْتَحْيٰى، يَسْتَحْيِىْ، اِسْتِحْيَاءً، فهو مُسْتَحْيٍ، وَاُسْتُحْيِيَ يا اُسْتُحِيَ، يُسْتَحْيٰى، اِسْتِحْيَاءً فذاک مُسْتَحْيًى، لَمْ يَسْتَحْيِ، لَمْ يُسْتَحْيَ، لَا يَسْتَحْيِىْ، لَايُسْتَحْيٰى، لَنْ يَسْتَحْيِىَ، لَنْ يُسْتَحْيٰى، الامر منه: اِسْتَحْيِ، لِتُسْتَحْيَ، لِيَسْتَحْيِ، لِيُسْتَحْيَ، والنهى عنه: لَاتَسْتَحْيِ، لَاتُسْتَحْيَ، لَايَسْتَحْيِ، لَايُسْتَحْيَ، الظرف منه: مُسْتَحْيًى، مُسْتَحْيَيَانِ، مُسْتَحْيَيَاتٌ.

ختم شدند ابواب لفيفين

وشروع شدند مهموز

### (٦٨) قانون:

هر همزه ساکن مظهر که ماقبلش متحرک باشد، همزه در ديگر کلمه ماسواى همزه ساکن را بوفق حرکت ماقبل بحرف علت بدل کنند جوازًا، بشرطيکه باعث تحريکش موجود نباشد. (۱)

---

(۱) د اتفاقي مثالو متعدد صورتونه:

۱. همزه ساکن مظهر وي او په ماقبل کي يې د همزه څخه ماسوا يو بل حرف وي، لکه: د يَأْخُذُ يُؤْمِنُ څخه يَاخُذُ، يُوْمِنُ ويل.

۲. همزه ساکن مظهر وي او په ماقبل کي يې د همزه څخه ماسوا يو بل حرف وي، ليکن حکمًا دوې کلمې وي، لکه: د يَقُوْلُ ائْذَنْ لِيْ څخه يَقُوْلُوْذَنْ لِيْ ويل جائز دي.

۳. د همزه ساکن ماقبل بل همزه متحرک په دو همه کلمه کي وي، لکه: وَالْقَارِئُ ائْتِمِنَ څخه اَلْقَارِئُ وْتُمِنَ ويل جائز دي.

په يَأْمُرُ يَؤُمُّ کي د قانون ټول شرائط موجود دي، مګر د هغه باوجود دوى و همزه ته حرکت ور کوي يَؤُمُّ او ايي، د هغه وجه دا ده چي دلته يو شرط باقي دئ هغه دا دئ چي و همزه ته به د حرکت ور کولو سبب موجود نه وي او دلته موجود دئ، هغه دا دئ چي پر

## د قانون خلاصه:

هر همزه ساکن مظهر چې ماقبل یې متحرک وي (خوا هر حرکت چې وي) او کچیرې یې په ماقبل کې بل همزه متحرک وي، نو هغه به په بله کلمه کې وي، او کچیرې د همزه څخه علاوه یو بل حرف وي مطلقا (د مطلقا مطلب دا دئ خوا که په یوه کلمه کې وي او که په دوو کلمو کې وي)، نو دغه همزه ساکن په موافق د حرکت د ماقبل په حرف علت سره بدلول جائز دي. په دې شرط چې و دې همزه ته به د حرکت ور کولو سبب موجود نه وي.

## د قانون تفصیل:

د دې قانون نوم "یَامَنُ یُومِنُ" والا قانون.

د دې قانون د پاره یو حکم دئ او پنځه یې شرطونه دي.

حکم یې دا دئ چې همزه په موافق د حرکت د ماقبل په حرف علت سره بدلول واجب دئ.

۱. اول شرط یې دا دئ چې دغه همزه به ساکن وي، احترازي مثال: "سَئَلَ سَئِلَ" ځکه دلته همزه متحرک دئ.

۲. دوهم شرط یې دا دئ چې مظهر به وي؛ احترازي مثال: "سَئَّلَ" ځکه دلته همزه مدغم دئ.

۳. دریم شرط یې دا دئ چې د همزه ماقبل حرف به متحرک وي، احترازي مثال: "یَسْئَلُ" ځکه دلته د همزه ماقبل ساکن دئ.

۴. څلورم شرط یې دا دئ چې د همزه د متحرک والي سبب به موجود نه وي، احترازي مثال: "یُئَمِّرُ". د ادغام په صورت کې "یُئَمِّرُ" کیږي، دلته د همزه د متحرک والي سبب موجود دئ ځکه ادغام د یوه میم دئ په بل میم کې.

۵. پنځم شرط یې دا دئ که چیرې د دغه همزه په ماقبل کې بل همزه وو، نو په جلا کلمه کې به وي او که همزه نه وو، بل حرف وو، نو هغه بیا عام دئ که په جلا کلمه کې وي

---

که ځای باندې دوه حرفه د یو د جنس څخه راسي، نو دلته ادغام واجب دئ او د ادغام د پاره د اول ساکن والی او د ماقبل متحرک والی ضروري دئ، نو ځکه په یَأْمَرُ یُؤْمِرُ کې یې د میم حرکت نقل کړئ ماقبل ته یې ور کړئ او بیا یې ادغام وکړئ، نو یَأَمُّ یُؤَمُّ سو.

كه په يوه كلمه كي وي، احترازي مثال: "آءْمَنَ" دلته ماقبل د همزه بل همزه دئ، خو په جلا كلمه كي نه دئ.
اتفاقي مثال: د "يَأْمَنُ" څخه "يَامَنُ، يُؤْمِنُ" څخه "يُومِنُ" ويل واجب دئ. او د "يَقْرَءُ اِءْزِرْ" څخه "يَقْرَءُوْزِرْ" ويل واجب دي.

**فائده:**

د "اِءْزِرْ" اول همزه په وصل كي وغورځېدئ او دوهم په واو سره بدل سو.
د اتفاقي مثال متعدد صورتونه دي:
۱. همزه ساكن مظهر وي او د ده په ماقبل كي د همزه څخه علاوه يو بل حرف وي لكه: "يَأْخُذُ يُؤْمِنُ" څخه "يَاخُذُ يُومِنُ" ويل.
۲. همزه ساكن مظهر وي او د ده ماقبل د همزه څخه علاوه بل حرف وي لېكن كلمې دوې وي لكه: د "يَقُوْلُ اِئْذَنْ لِي" څخه "يَقُوْلُوْذَنْ لِي" ويل جائز دي.
۳. همزه ساكن وي او ماقبل يې بل همزه متحرك په بله كلمه كي وي لكه: لكه: "اَلْقَارِئُ اِئْتَمِنْ" څخه "اَلْقَارِئُ وْتَمِنْ" ويل ئز دي.

**فائده:**

په "يَتَّمَرُ" كي "يَأْمَرُ" ممتنع دئ، "يَتَّمَرُ" ويل واجب دي؛ ځكه همزه په الف سره بدلول جائز دي او ميم په ميم كي مدغم كول واجب دي، نو د وجوب رعايت اولى دئ.

**د قانون د جاري كولو طريقه او مقامونه:**

دغه قانون په اسمو او فعلو دواړو كي جاري كيږي او په مجردو او په مزيدو دواړو كي جاري كيږي او د مجردو د مهموز الفاء په ټولو بابو كي اكثريت جاري كيږي او كله كله په مهموز العين او مهموز اللام كي هم جاري كيږي چي په كم ځاى كي همزه ساكن وي او د ده سره بل متحرك همزه په يوه كلمه كي نه وي نو بيا هلته دا قانون جاري كيږي او د مزيدو بابو څخه په افعال، افتعال، استفعال كي دا قانون جاري كيږي.

## (٦٩) قانون:

هر همزه ساكن مظهر كه ما قبلش ديگر همزه متحرك باشد از آن كلمه آن همزه ساكن را بوفق حركت ما قبل بحرف علت بدل كنند وجوبا بشرطيكه باعث تحريكش موجود نباشد. اگر همزه اول وصلي باشد در درج كلام مى افتد وهمزه ثاني بصورت خود عود مى كند وجوبا مگر كُلْ، مُرْ، خُذْ شاذ اند. (۱)

## د قانون خلاصه:

هر همزه ساكن مظهر چي د ده ماقبل بل همزه متحرک وي، په داغه كلمه كي وي، نو داسي همزه ساكن په موافق د حركت د ماقبل په حرف علت سره بدلول واجب دي، په دې شرط چي همزه ته د حركت وركولو سبب به موجود نه وي. كچيري اول همزه وصلي وي، نو په درج د كلام كي غورځي، او دوهم همزه چي په حرف علت بدل سوی وو، هغه خپل اصلي حالت ته يعني همزه والي ته بيرته راځي، مگر (كُلْ مُرْ خُذْ) شاذ دي.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم "اٰمَنَ اُوْمِنَ اِيْمَانًا" والا قانون دئ.

---

(۱) اتفاقي مثال فَلْيُؤَدِّ الَّذِي ائْتُمِنَ په اصل كي اُئْتُمِنَ وو، اول همزه وصلي دئ په درج د كلام كي غورځي، او همزه ثاني په موافق د حركت د ماقبل په حرف علت سره بدل سو، نو الَّذِيْتُمِنَ سو، ملو يا همزه ثاني چي په يا سره بدل سوی وو خپل اصلي حالت ته راو گرځېدئ، نو الَّذِي ائْتُمِنَ سو. يا التقائي ساكنين راغله په منځ د "يا" او "همزه" كي. اول ساكن مده وو هغه يې حذف كړئ، نو الَّذِ ائْتُمِنَ سو. نو اول همزه پر خپل حال ثابت ساتل او په يا سره بدلول دواړي وجهي جائز دي. (نفزک)

كُلْ، مُرْ، خُذْ په اصل كي اُئْكُلْ، اُئْمُرْ، اُئْخُذْ وو، د قانون مذكوره مطابق پكار دا وه چي دوهم همزه په واو سره بدل سوی وای، ليكن دلته دواړه همزه گان حذف سوي دي، د هغه وجه دا ده چي په دې درې مثالو كي دوهم همزه د كثرت استعمال په وجه باندي خلاف قياس حذف سوی دئ. اول همزه باقي پاته سو. نو د دوهم همزه د حذف كولو څخه وروسته د هغه ضرورت نه سو پاته، نو ځكه اول همزه هم حذف سو. ليكن په منځ د كلام كي د "مُرْ" دوهم همزه پر خپل حال پاته كول فصيح دي. لكه په قرآن كريم كي چي راځي: وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلٰوةِ. او په ابتداء د كلام كي د لفظ "مُرْ" دواړه همزه گان حذف كول فصيح دئ، لكه په حديث شريف كي چي راځي: مُرُوْا صِبْيَانَكُمْ بِالصَّلٰوةِ.

مصنف رحمه الله خو ويلي دي چي دا خلاف قانون دئ. مگر علامه غياث احمد رحمه الله په خپل كتاب "علم الصيغه" كي ليكلي دي چي زما استاذ محترم د دې شذوذ داسي ليري كړی دئ: په دا صيغو كي قلب مكاني سوی دئ. قلب مكاني و دې ته وايي چي د حروفو په ترتيب كي تقديم او تاخير وسي. او د دې دپاره څه قانون او قاعده نسته. او دلته قلب مكاني داسي سوی دئ چي فاء كلمه يې د عين كلمې پر ځای كښېښوله. نو اُكُؤْلُ، اُخُذْ، او اُمُأْرُ سو. بيا د "يَبْنِيْ" په قانون سره همزه حذف سو، او همزه وصلي د استغنا په وجه باندي حذف سو، نو كُلْ، مُرْ، خُذْ سو.

ددې قانون دپاره دوه حکمه دي، د اول حکم دپاره پنځه شرطونه دي او د دوهم حکم دپاره اوه شرطونه دي.

**اول حکم:** اول حکم دا دئ چې همزه په موافق د حرکت د ماقبل په حرف علت سره بدلول واجب دئ.

۱. اول شرط یې دا دئ چې دغه همزه به ساکن وي، احترازي مثال: "سَئَلَ".
۲. دوهم شرط یې دا دئ چې ساکن مظهر به وي، احترازي مثال: "سَئَّلَ".
۳. دریم شرط یې دا دئ چې د دغه همزه ساکنه مخکې به بل همزه متحرکه وي، احترازي مثال: "قَرَءْءٌ".
۴. څلورم شرط یې دا دئ چې دواړه همزګان به په یوه کلمه کې وي، احترازي مثال: "یَقْرَءُءْزَرْ".
۵. پنځم شرط یې دا دئ چې د دغه همزه د متحرکه کېدو سبب به نه وي موجود، احترازي مثال: "أَأْمَرَ" د ادغام په صورت کې "أَئمَّ" کېږي.
اتفاقي مثال: د "أَءْمَنَ أُءْمِنَ إِءْمَانًا" څخه "آمَنَ أُومِنَ إِيمَانًا" ویل واجب دي.

**دوهم حکم:** دوهم حکم یې دا دئ چې همزه وصلیه ساقط کول او همزه ثاني په خپل اصلي حالت واپس راګرزول واجب دي.

۱. اول شرط یې دا دئ چې دغه ثاني همزه به ساکن وي، احترازي مثال: "سَئَلَ".
۲. دوهم شرط یې دا دئ چې ساکن مظهر به وي، احترازي مثال: "سَئَّلَ".
۳. دریم شرط یې دا دئ چې د دغه همزه ساکنه مخکې به بل همزه متحرکه وي، احترازي مثال: "قَرَءْءٌ".
۴. څلورم شرط یې دا دئ چې دواړه به په یوه کلمه کې وي، احترازي مثال: "یَقْرَءُءْزَرْ".
۵. پنځم شرط یې دا دئ چې د همزه د متحرک کېدو سبب به موجود نه وي، احترازي مثال: "أَئمَّ".
٦. شپږم شرط یې دا دئ چې اول همزه به وصلي وي. احترازي مثال: "أَءْمَنَ" دلته قطعي دئ.

۷. اوم شرط يې دا دئ چې همزه وصلي به په مينځ د کلام کې واقع سوې وي، احترازي مثال: "اُءْتُمِنَ".

اتفاقي مثال: "ضَارِبُ اؤْتُمِنَ" په قانون د "يَأْمَنُ يُؤْمِنُ" سره همزه ساکن په حرف علت سره بدل سو "ضَارِبُوْتُمِنَ" سو، بيا د دغه حکم مطابق دوهمه همزه چې په واو سره بدل سوې وه بيرته خپل اصلي حالت ته را وګرځېدئ، اوس "ضَارِبُ ئْتُمِنَ" ويل کيږي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

د دې قانون اول حکم په اسم و فعل او په مجرد و مزيد دواړو کې جاري کيږي او اکثريت په مهموز الفاء بابو کې جاري کيږي خواه معلوم وي او که مجهول وي او په فعلو کې اکثريت په ماضي مجهول او امر حاضر معلوم بانون تاکيد ثقيله و خفيفه او په واحد متکلم کې جاري کيږي او په اسماؤو کې د صفت مشبه په جمع مکسر او د اسم تفضيل مذکر په درې صيغو کې او د فعل تعجب په دوو صيغو کې په مجردو کې جاري کيږي او په مزيدو کې په افعال، افتعال، استفعال کې جاري کيږي، او دوهم حکم هم په مهموز الفاء بابو کې جاري کيږي او د همزه وصلي قانون هم پر جاري کيږي.

## (۷۰) قانون:

هره همزه مفتوحه که ماقبلش مضموم يا مکسور باشد همزه در ديگر کلمه و ماسوائی همزه مطلقا همزه مفتوحه را بوفق حرکت ماقبل بحرف علت بدل کنند جوازا. (۱)

## د قانون خلاصه:

هر همزه مفتوحه چې د ده ماقبل مضموم يا مکسور وي، يا همزه وي خو په دوهمه کلمه کې وي، او ماسوا د همزه مطلقا (د مطلقا مطلب دا دئ چې د همزه څخه علاوه بل حرف وي هغه

---

(۱) د اتفاقي مثال متعدد صورتونه:

۱. د همزه په ماقبل کې بل حرف وي او کلمه يوه وي، لکه: د "سُؤَال" څخه "سُوَال" او د "مِئَر" څخه "مِيَر" ويل کيږي.

۲. د همزه په ماقبل کې بل حرف وي ليکن کلمې دوې وي، لکه: د "غُلَامُ اَحْمَدَ" څخه "غُلَامُ وَحْمَدَ" ويل جائز دي.

۳. د دغه همزه په ماقبل کې هم بل همزه وي، لکه: د "جَآءُ اَحْمَدَ" څخه "جَآءُ وَحْمَدَ" ويل او د "بِقَارِءِ اَبِيْكَ" څخه "بِقَارِءِ يَبِيْكَ" ويل جائز دي.

عام دئ که په دغه کلمه کې وي او که په بله کلمه کې وي)، نو دغه همزه مفتوحه د ماقبل د حرکت موافق په حرف علت سره بدلول جائز دي.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم "يَبْرُ غُلَامُ وَحْمَد" والا قانون دئ.

د دې قانون دپاره يو حکم دئ او درې يې شرطونه دي.

حکم يې دا دئ چې همزه مفتوحه په موافق د حرکت د ماقبل په حرف علت سره بدلول جائز دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چې همزه به مفتوحه وي، احترازي مثال: "سُئِلَ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ چې د دغه همزه ماقبل به مضموم يا مکسور وي، احترازي مثال: "سَئَلَ".

۳. دريم شرط يې دا دئ چې ماقبل د دغه همزه که بل همزه وو، نو هغه به په جلا کلمه کې وي او غير د همزه عام دئ که په جلا کلمه کې وي او که په داغه يوه کلمه کې وي، احترازي مثال: "اَئِدِمَ".

اتفاقي مثال: د "مِئَرٌ" څخه "مِيَرٌ" او د "غُلَامِ اَحْمَدَ" څخه "غُلَامِ يَحْمَدَ" او د "جُؤَنٌ" څخه "جُوَنٌ". د "يَضْرِبُ اَبُوکَ" څخه "يَضْرِبُ وَبُوکَ" ويل جائز دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون په اسماؤ او افعالو دواړو کې جاري کيږي او په افعالو کې اکثريت د باب تفعيل په مضارع کې جاري کيږي په دې شرط چې باب به مهموز الفاء وي او په اسماء کې اکثريت د اسم فاعل او صفت مشبه په جمع مکسره کې جاري کيږي او د ده سره اکثريت د حلقي العين والا قانون هم جاري کيږي.

## (۷۱) قانون:

هر دو همزه متحرك اگر جمع شوند دريك كلمه اگر يكى از ايشان مكسور باشد، ثانى را بيا بدل كنند وجوبا سواء أئِمَّة كه درين جا جائز است واگر هيچ يكى مكسور نباشد ثانى را بواو بدل كنند وجوبا مگر "آاكرم" شاذ است. (۱)

### د قانون خلاصه:

هر هغه مقام چې په هغه کي دوه همزه گان متحرک په يوه کلمه کي سره جمع سي، نو کچيري يو د دوی څخه مکسور وي، نو دوهم په ياء سره بدلول واجب دي، مگر په أئِمَّةُ کي دوهم همزه په ياء سره بدلول جائز دي، کچيري يو د دوی څخه مکسور نه وي، نو دوهم همزه په واو مفتوحه سره بدلول واجب دي، مگر "آاكرِمُ" شاذ دئ.

### د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم دئ "أوادِمُ أوَيْدِمُ" والا قانون.

د دې قانون د پاره دوه حکمه دي او د هر حکم د پاره څلور څلور شرطونه دي.

**اول حکم:** اول حکم يې دا دئ چې همزه ثاني په ياء سره بدلول واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چې دوه همزه گان به وي، احترازي مثال: "سَئَلَ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ چې دواړه همزه گان به متحرک وي، احترازي مثال: "آمَنَ".

۳. دريم شرط يې دا دئ چې دواړه همزه گان به په يوه کلمه کي وي، احترازي مثال: "يقرءُ أبُوكَ".

۴. څلورم شرط يې دا دئ چې په دغه دواړو همزه گانو کي به يو مکسور وي، احترازي مثال: "أُعَيْدِمُ".

---

(۱) أئِمَّةُ په اصل کي أَءْمِمَةٌ وو، د ميم حرکت يې نقل کړئ ما قبل ته يې ور کړئ او ميم يې په ميم کي مدغم کړئ، نو أئِمَّةُ سو. دلته د دوهم همزه حرکت عارضي دئ، نو ځکه قانون نه دئ جاري سوی.

او په آاكرم کي دوهم همزه د کثرت استعمال په وجه باندي حذف سوی دئ. نو يو همزه پاته سوی دئ او په يوه همزه باندي دا قانون نه جاري کيږي.

اتفاقي مثال: د "جَاءٍ شَاءٍ" څخه "جَائِيٌ شَائِيٌ" سو، بيا په قانون د "يَدْعُوْ او يَرْمِيْ" سره جَائِنٌ شَائِنٌ سو، بيا په قانون د التقاء ساكنين سره "جَاءٍ شَاءٍ" سو.

**دوهم حکم:** دوهم حکم دا دئ چې همزه ثانيه په واو سره بدلول واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چې دوه همزه ګان به وي، احترازي مثال: "سَئَلَ".

۲. دوهم شرط يې دا دئ چې دواړه همزه ګان به متحرک وي، احترازي مثال: "اٰئْمَنَ".

۳. دريم شرط يې دا دئ چې دواړه همزه ګان به په يوه کلمه کې وي، احترازي مثال: "يَقْرَءُ اَبُوْکَ".

۴. څلورم شرط يې دا دئ چې په دغه دواړو همزه ګانو کې به يو هم نه وي مکسور، احترازي مثال: "جَاءٍ".

اتفاقي مثال: د "اٰادِمُ اُئَيْدِمُ" څخه "اَوَادِمُ اُوَيْدِمُ" ويل واجب دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون اکثريت د اسم په صيغو کې جاري کيږي او په فعل کې هم جاري کيږي د دې قانون اول حکم اکثريت د اسم فاعل په شپږو قياسي صيغو کې جاري کيږي په دې شرط چې باب به په هفت اقسامو کې اجوف او مهموز اللام وي او دوهم حکم د اسم تفضيل په آخري دوو صيغو کې جاري کيږي په دې شرط چې باب به مهموز الفاء وي لکه: "آوَازِرُ اُوَيْزِرُ". او په مزيدو کې د باب تفعيل او مفاعله د مضارع په واحد متکلم کې جاري کيږي په دې شرط چې باب به مهموز الفاء وي او د دې سره د "قَائِلٌ" او "بَائِعٌ" والا قانون هم جاري کيږي.

## صيغې:

| موزون | وزن | نوع | شش اقسام | هفت اقسام | صيغه | قانون | اصل | نظير | باب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| اِمْتَنِ | اِفْتَعِلْ | اسم | ثلاثي مزيد | ناقص يائي | واحد مذكر مخاطب امر حاضر | امر حاضر او لم يدع لم يرم | اِمْتَنِيْ | اِجْتَمِعْ | افتعال |
| فَلْتَتَرَضَّ | فَلْتَتَفَعَّلْ | فعل | ثلاثي مجرد | ناقص يائي | واحد مذكر غائب فعل امر | لم يدع لم يرم | تَرَضَّيَ | لَتَتَخَشَّشْ | ثلاثي مجرد |
| آوَاءٍ | فَوَاعِلُ | اسم | ثلاثي مجرد | مهموز | جمع مؤنث مكسر اسم فاعل | يدعو يرمي، التقاء ساكنين او دوم او به | آاوِيٌ | دَوَاعٍ | ثلاثي مجرد |
| مَرَامٍ | مَفَاعِلُ | اسم | ثلاثي مجرد | ناقص يائي | جمع مكسر اسم ظرف | يرمي، التقاء ساكنين | مَرَامِيُ | مَسَاعٍ | ثلاثي مجرد |
| مَرْمٍ | مَفْعِلٌ | اسم | ثلاثي مجرد | ناقص يائي | واحد مذكر اسم ظرف | يرمي، التقاء ساكنين | مَرْمِيٌ | مَسْعٍ | ثلاثي مجرد |
| أَمَاءٍ | آفَاعِلُ | اسم | ثلاثي مجرد | ناقص واوي | جمع مكسر اسم تفضيل | دويم، يدعو، التقاء ساكنين | أَمَادِوُ | أَدَاعٍ | ثلاثي مجرد |

| موزون | وزن | علم | شش اقسام | ہفت اقسام | صیغہ | قانون | جنس | مثال | باب |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مِرْضَاتَانِ | مِفْعَالَانِ | اسم | ثلاثی مجرد | ناقص واوی | تثنیہ ... | ... | مرضوان | ... | |
| فَنَخَتْ | فَعَلَتْ | فعل | ثلاثی مجرد | ناقص واوی | واحد مؤنث غائب ماضی معلوم | قال باع/ التقاء ساکنین | خَلَوَتْ | دَعَتْ | ثلاثی مجرد |
| اُتْلُ | اُفْعُلْ | فعل | ثلاثی مجرد | ناقص واوی | واحد مذکر مخاطب امر حاضر | امر حاضر/ لم یدع لم یدع | اُتْلُوْ | اُنْصُرْ | ثلاثی مجرد |
| تَعَالَوْا | تَفَاعَلُوْا | فعل | ثلاثی مزید | ناقص واوی | جمع مذکر غائبین ماضی معلوم | قال باع/ التقاء ساکنین | تَعَالَوُوْا | تَضَارَبُوْا | |
| زُرْتَ | فَعِلْتَ | فعل | ثلاثی مجرد | اجوف واوی | واحد مذکر مخاطب ماضی معلوم | قال باع/ التقاء ساکنین/ وعدت | زَوِرْتَ | عَلِمْتَ | |
| تَتْلُوْنَ | تَفْعَلُوْنَ | فعل | ثلاثی مجرد | ناقص واوی | جمع مذکر مخاطبین مضارع معلوم | یدعو/ التقاء ساکنین | تَتْلُوُوْنَ | تَنْصُرُوْنَ | ثلاثی مجرد |
| تَجْرِیْ | تَفْعِلُ | فعل | ثلاثی مجرد | ناقص یائی | واحد مؤنث غائبہ مضارع معلوم | یدعو/ یرمی | تَجْرِیُ | تَرْمِیْ | ثلاثی مجرد |
| یُبْلٰی | یُفْعَلُ | فعل | ثلاثی مجرد | ناقص واوی | واحد مذکر غائب مضارع | ماضی مجہول/ یدعی/ قال باع | یُبْلَوُ | یُدْعٰی | ثلاثی مجرد |
| مِنًا | مِفْعَلٌ | اسم | ثلاثی مجرد | ناقص یائی | واحد اسم آلہ صغری | حروف اخفاء/ قال باع/ التقاء ساکنین | مِنْمَیٌ | مِضْرَبٌ | ثلاثی مجرد |
| جَوَارٍ | فَوَاعِلُ | اسم | ثلاثی مجرد | ناقص یائی | جمع مؤنث مکسر اسم فاعل | ... / یدعو یرمی/ التقاء ساکنین | جَوَارِیُ | دَوَاعٍ | ثلاثی مجرد |
| یُجْلٰی | یُفْعَلُ | فعل | ثلاثی مجرد | ناقص واوی | واحد مذکر غائب مضارع مجہول | ماضی مجہول/ یدعی/ قال باع | یُجْلَوُ | یُدْعٰی | ثلاثی مجرد |
| وُلِیَ | فُعِلَ | فعل | ثلاثی مجرد | لفیف مفروق | واحد مذکر غائب ماضی مجہول | دعی/ دعا | وُلِوَ | دُعَا | ثلاثی مجرد |
| لم اُوْفِ | لَمْ اُفْعِلْ | فعل | ثلاثی مجرد | لفیف مفروق | واحد متکلم فعل جحد معلوم | لم یدع لم یدع | اُوْفِیْ | اُکْرِمْ | افعال |
| یَلِفُ | یَفْعِلُ | فعل | ثلاثی مجرد | مہموز اللام | واحد مذکر غائب مضارع معلوم | یامن یومن | یَلِفُ | یَمْنَعُ | ثلاثی مجرد |
| خُذْ | اُفْعُلْ | فعل | ثلاثی مجرد | اجوف مہموز اللام | واحد مذکر امر حاضر معلوم | یامن یومن، یقول یبیع، التقائے ساکنین، امر حاضر، ہمزہ وصلی قطعی | اُلْوَءْ | اُنْصُرْ | ثلاثی مجرد |
| | | | | | | یامن یومن، لم یدع لم یدع، امر حاضر | اُءْلُوْ | اُنْصُرْ | ثلاثی مجرد |
| اَوْلُ | اُفْعُلْ | فعل | ثلاثی مجرد | مہموز الفاء ناقص | واحد مذکر حاضر امر معلوم | امن او من ایمانا، قال باع | اُءْوِیَ | اَمْنَعَ | ثلاثی مجرد |
| آوَا | اَفْعَلُ | فعل | ثلاثی مجرد | مہموز الفاء لفیف مقرون | واحد متکلم مضارع معلوم | آمن یومن ایمانا، قال باع، التقائے ساکنین | اَءْتَیَتْ | اَکْرَمَتْ | افعال |
| آتَتْ | اَفْعَلَتْ | فعل | ثلاثی مزید | مہموز الفاء ناقص | واحدہ مؤنث ماضی معلوم | آمن یومن ایمانا، ہمزہ قطعی، یدعو یرمی | اَءْوِیَ | اَضْرِبُ | ثلاثی مجرد |
| آوِیْ | اَفْعِلُ | فعل | ثلاثی مجرد | مہموز الفاء لفیف مقرون | واحد متکلم مضارع معلوم | | | | |
| یَکْرِیَانِ | یَفْعِلَانِ | فعل | ثلاثی مزید | مثال، مہموز اللام | تثنیہ مذکر غائبین مضارع معلوم | میر غلام وحمد، یکرم یعرف، یکرم یتعرف | یُءَکْرِیَانِ | یُکْرِمَانِ | افعال |
| یُوْجِرُ | یُفْعِلُ | فعل | ثلاثی مزید | مہموز الفاء | واحد مذکر غائب مضارع معلوم | میر غلام وحمد، یکرم یعرف، یکرم یتعرف | یُؤَجِّرُ | یُعَرِّفُ | تفعیل |
| لَاءٍ | فَاعِلٌ | فعل | ثلاثی مجرد | اجوف مہموز اللام | واحد مذکر اسم فاعل | اوادم اویدم، تنج باع، یدعو یرمی، التقائے ساکنین | لَاوِءٌ | ضَارِبٌ | ثلاثی مجرد |
| اَوَالٍ | اَفَاعِلُ | اسم | ثلاثی مجرد | مہموز الفاء ناقص | جمع مکسر اسم تفضیل | اوادم اویدم، دلی، یدعو یرمی، التقائے ساکنین | اَءَالِوُ | اَضَارِبُ | ثلاثی مجرد |
| وَزْنٌ | فَعْلٌ | اسم | ثلاثی مجرد | مہموز العین | اسم جنس | میر غلام وحمد، علمی العین، نون تنوین | زَءْنٌ | اسم جامد | ثلاثی مجرد |
| مَالِئَۃٌ | فَاعِلَۃٌ | اسم | ثلاثی مجرد | مہموز اللام | واحدہ مؤنث اسم فاعل | میر غلام وحمد، اسم فاعل | مَالِئَۃٌ | ضَارِبَۃٌ | ثلاثی مجرد |
| اِسْتَاکَرَ | اَفْعَلَا | فعل | ثلاثی مزید | مہموز الفاء | تثنیہ مذکر غائبین ماضی معلوم | آمن او من، ضربتم اتم | اِسْتَاکْثَرَ | اَکْرَمَاکُمْ | افعال |
| اِسْتَاکَرَ | اَفْعَلَانِ | اسم | ثلاثی مجرد | مہموز الفاء | تثنیہ مذکر اسم تفضیل | آمن او من، ضربتم اتم، اضافت | اَءْسَانِ کَثُرَ | اَضْرَبَانِ | ثلاثی مجرد |
| تَالِیْنَ | تَفْعَلِیْنَ | فعل | ثلاثی مجرد | مہموز الفاء ناقص | واحدہ مؤنث فعل مضارع معلوم | یامن یومن، یقول یبیع، یدعو یرمی، صیغہ، التقائے ساکنین | تَءْلُوِیْنَ | تَنْصُرِیْنَ | ثلاثی مجرد |

## التمرين:

يَئِنُّ، مُوئِجِينٌ، تَرَئَانَ، لَاتَيْئَسْ، آوٍ، يَئِزُّ، آنَسْتُ، آجُرُ، آنْشَأَكُمْ، آوُوا، آتِ، مُؤَيْنِبٌ، قُئُونٌ، فَتَيَاءَمَا، قَاءٍ، آوَالٍ، آوَابٍ، آتُوا الزَّكٰوةَ، فَاجَاءَهَا، ذَتِيهَا، آتُو، يَسْئَلُ، اِيخَذُوْا، سُوَيْئِلُ، مُوَيْئِقٌ.

## (۷۲)قانون:

هر همزهٔ متحرک که ماقبلش ساکن مظهر قابل حرکت باشد سوای یاء تصغیر و نون انفعال و واو و یاء مدهٔ زائده در یک کلمه حرکت آن همزه را نقل کرده بما قبل داده جوازا همزه را حذف کنند وجوبا مگر در مراةٌ شاذ است. (۱)

### د قانون خلاصه:

هر همزه متحرکه چې د ده ماقبل ساکن مظهر قابل د حرکت وي، خوا که هغه همزه په یوه کلمه کې وي او که په دوو کلمو کې وي، لیکن هغه همزه د یاء تصغیر او د نون انفعال او د واو او

---

(۱) د اتفاقي مثال متعدد صورتونه:

۱. همزه متحرک ما قبل یې ساکن مظهر قابل د حرکت وي، لیکن کلمه یوه وي، لکه په "يَنْئَلُ" کې د همزه حرکت نقل کول او ماقبل ته ور کول جائز او همزه حذف کول واجب دي، یعني يَنْئَلُ ویل جائز نه دي.

۲. همزه متحرک ما قبل یې ساکن مظهر قابل د حرکت وي، لیکن کلمې دوې وي، لکه: د مَنْ اَمَنَ څخه مَنَ امَنَ ویل.

۳. همزه به د یاء تصغیر څخه وروسته نه وي که چېرې د یایي تصغیر څخه ماسوا د بلې یاء وروسته وي، نو بیا قانون جاري کیږي د یَزْمُرَ خَاةٌ څخه یَزْمُرَ خَاةٌ ویل.

۴. همزه به د واو او یاء مده زائده څخه وروسته نه وي، لیکن که چېرې همزه د مده اصلي څخه وروسته وي، نو بیا قانون جاري کیږي، لکه: د يَسُوْءُ اَخِيْ څخه يَسُوْءُ اَخِيْ ویل.

۵. همزه به د واو او یاء مده څخه وروسته نه وي، لیکن که چېرې همزه د واو او یاء لین څخه وروسته وي، نو بیا قانون جاري کیږي، لکه: د حَوْبَتُ جَيْئَلُ څخه حَوْبَتُ جَيَلُ ویل.

۶. همزه به د واو او یاء مده زائده (چې په یوه کلمه کې وي) څخه وروسته نه وي، لکه: نَاتُوْا، لیکن که چېرې په دوو کلمو کې وي او د هغه وروسته همزه وي بیا قانون جاري کیږي، لکه: د نَاتُوْا مُوْنِثُمْ څخه نَاتُوْا مُوْنِثُمْ ویل.

**فائده:**

د یَرَی و یُرِي یعني په ټولو افعالو د "رَأَيْتُ" کې دا قانون وجوبا جاري کیږي. لیکن د باب "رَأَيْتُ" په اسماء مشتقه وو کې نه جاري کیږي. په مَرْئیٰ اسم ظرف او مصدر میمي کې او په مرآة اسم آلة کې او په مَرْئِيّ اسم مفعول کې د همزه حرکت ماقبل ته ور کول او همزه حذف کول جائز دي واجب نه دي. (علم الصیغه)

د "رَأَيْتُ" د باب په اسماء مشتقه کې دا قانون وجوبا نه جاري کیږي ځکه دوی کثیر الاستعمال نه دي په خلاف د افعالو ځکه هغه کثیر الاستعمال دي.

صاحب د نحو الصرف د دغه قانون د "رَأَيْتُ" د باب په اسماء مشتقه وو کې ممنوع لیکلی دی.

ياء مده زائده څخه وروسته په يوه کلمه کي نه وي، نو د دغه همزه حرکت نقل کول ماقبل ته ورکول جائز او همزه حذف کول واجب دي.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم "يَسَلَ قَدَافلَحَ" والا قانون دئ.

د دې قانون دپاره يو حکم دئ او اوه يې شرطونه دي: څلور وجودي دي او درې يې عدمي دي.

حکم يې دا دئ چي د همزه حرکت نقل کول او ماقبل ته ورکول جائز دي، بيا همزه حذف کول واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چي همزه به متحرک وي، احترازي مثال: "يَأْمَنُ".
۲. دوهم شرط يې دا دئ چي ماقبل به يې ساکن وي، احترازي مثال: "سَئَلَ".
۳. دريم شرط يې دا دئ چي ماقبل به يې ساکن مظهر وي، احترازي مثال: "سَئَلَ يَسْئَلُ".
۴. څلورم شرط يې دا دئ چي ماقبل د دغه همزه به قابل د حرکت وي، احترازي مثال: "سَائِلَ".
۵. پنځم شرط يې دا دئ چي ماقبل د دغه همزه به ياء د تصغير نه وي، احترازي مثال: "سُوَيْئِلُ اُفَيْئِسُ".
٦. شپږم شرط يې دا دئ چي ماقبل د دغه همزه به نون د اِنفعال نه وي، احترازي مثال: "اِنْئَطَرَ".
۷. اوم شرط يې دا دئ چي ماقبل د دغه همزه به واو يا ياء مده زائده نه وي، احترازي مثال: "خَطِيْئَةٌ مَقْرُوْءَةٌ".

اتفاقي مثال: د "يَسْئَلُ" څخه "يَسَلُ"، د "قَدْأَفلَحَ" څخه "قَدَافلَحَ" ويل جائز دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون په اسم، فعل حرف په ټولو کي جاري کېداي سي لېکن دوه بابونه داسي دي چي په هغو کي د اسماؤ څخه علاوه په افعالو کي وجوبي طور باندي جاري کيږي د کثرت استعمال په وجه باندي هغه دوه بابونه دغه دي: "رَأَى.يَرَى.أَرَى.يُرِيْ".

## (۷۳)قانون:

هر همزه که واقع شود بعد از یاء تصغیر و واو و یاء مده زائده در یک کلمه آن همزه را جنس ما قبل کرده جوازاً ادغام می کنند وجوبا.

## د قانون خلاصه:

هر همزه چي د ياء تصغير او د واو او ياء مده زائده څخه وروسته په يوه کلمه کي واقع سي، نو دغه همزه د ماقبل په جنس سره اړول جائز او جنس په جنس کي مدغمول واجب دي.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم دئ د "اُفَيِّس، خَطِيَّةٌ، مَقْرُوَّةٌ" والا قانون.

د دې قانون دپاره يو حکم دئ او دوه يې کامل شرطونه دي.

حکم يې دا دئ چي همزه د ماقبل په جنس سره بدلول جائز دي او بيا جنس په جنس کي مدغم کول واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چي همزه به د ياء تصغير وروسته وي، احترازي مثال: "اِنْتَطَرَ".
اتفاقي مثال: د "اُفَيْئِس" څخه "اُفَيْيِس" ويل جائز دي، او بيا جنس په جنس کي مدغمول "اُفَيِّس" ويل واجب دي.

۲. دوهم شرط يې دا دئ چي د دغه همزه مخکي به واو يا ياء مده زائده په يوه کلمه کي وي، احترازي مثال: "بَاعُوْا أَمْوَالَهُمْ" دلته واو مده په جلا کلمه کي دئ.

اتفاقي مثال: د "مَقْرُوْئَةٌ.خَطِيْئَةٌ" څخه "مَقْرُوْوَةٌ.خَطِيْيَةٌ" ويل جائز، بيا جنس په جنس کي مدغمول "خَطِيَّةٌ.مَقْرُوَّةٌ" ويل واجب دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په اسماؤو کي جاري کيږي او صرف په مجردو کي جاري کيږي کله چي باب مهموز اللام يا مهموز العين وي که چيري باب مهموز اللام وو نو بيا د اسم مفعول او صفت مشبه په شپږو قياسي صيغو کي جاري کيږي لکه: "مَرُوْءَةٌ". او که چيري باب مهموز العين وو نو بيا د اسم فاعل او اسم مفعول د تصغير په دوو صيغو کي او د اسم ظرف او د اسم آله صُغرٰی و کُبرٰی او د اسم تفضيل مذکر په يوه يوه صيغه د تصغير کي دغه قانون جاري کيږي.

## (۷۴) قانون:

هر دو همزه که جمع بشوند در کلمه غير موضوع علی التضعيف اول ساکن ثاني متحرک باشد آن را يا بدل کنند وجوبا. (۱)

### د قانون خلاصه:

کچيري دوه همزه ګان سره جمع سي په کلمه غير موضوع علی التضعيف کي (يعني هغه کلمه مشدد نه وي) په دې شکل چي اول ساکن او دوهم متحرک وي، نو دغه دوهم همزه په ياء سره بدلول واجب دي.

### د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم "قِرَاءَة" والا قانون دئ.

د دې قانون د پاره يو حکم دئ او درې يې شرطونه دي.

حکم يې دا دئ چي همزه ثانيه په ياء سره بدلول واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چي دوه همزه ګان به سره جمع سوي وي، احترازي مثال: "سَئَل".

۲. دوهم شرط يې دا دئ چي کلمه به موضوع علی التضعيف نه وي، احترازي مثال: "سَئَّل".

۳. دريم شرط يې دا دئ چي اول به ساکن ثاني به متحرک وي، احترازي مثال: "أَئِمَّة".

(۱) د موضوع علی التضعيف څخه دوه بابه راځي:

۱. تفعيل.

۲. تفعّل.

اتفاقي مثال: د "قِرَءَةٌ" څخه "قِرَئَةٌ" ويل واجب دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په اسم کي جاري کيږي او صرف په دغه يوه صيغه کي يعني چي د رباعي مجردو په اوزانو کي کمه صيغه د "قِمَطْرٌ" پر وزن راسي نو هلته بيا دا قانون جاري کېداى سي.

## (۷۵)قانون:

هر همزه متحرک منفرده راکه ماقبلش نيز متحرک باشد آن را بوفق حرکت ما قبل بحرف علت بدل کنند جوازا نزد بعض. (۱)

## د قانون خلاصه:

هر همزه متحرکه چي يو اځي راسي، او د دغه همزه ماقبل هم متحرک وي، په دې شرط چي د همزه او د دهِ د ماقبل حرکت يو وي، د بعضو په نزد باندي دغه همزه په موافق د حرکت د ماقبل په حرف علت سره بدلول جائز دي.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم دئ "سَالَ" والا قانون.

د دې قانون دپاره يو حکم دئ او څلور يې شرطونه دي.

حکم يې دا دئ چي همزه په موافق د حرکت د ماقبل په حرف علت سره بدلول جائز دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چي همزه به متحرک وي، احترازي مثال: "يَأْمَنُ".
۲. دوهم شرط يې دا دئ چي همزه به منفرد وي، احترازي مثال: "أَئِيمَّةُ الْهُنَّ".
۳. دريم شرط يې دا دئ چي ماقبل د همزه به متحرک وي، احترازي مثال: "يَسْئَلُ".
۴. څلورم شرط يې دا دئ چي د همزه حرکت به د ماقبل د حرکت سره موافق وي، احترازي مثال: "سُئِلَ".

(۱) په (نوادر الاصول شرح فصول اکبري) کي دا ليکلي دي چي همزه مکسوره د فتحې څخه وروسته په الف سره بدليږي، لکه: "لَابِنَة" په حال کي "لَابِئَة" وو. ليکن دا قول نهايت قليل دئ. (نوادر الاصول صفحه ۳۱)

اتفاقي مثال: د "سَئِلَ" څخه "سَالَ" د "كَفُؤٌ" څخه "كَفُوٌ"، د "مُسْتَهْزِئِيْنَ" څخه "مُسْتَهْزِيْنَ" ويل جائز دي.

## د قانون د جاري کولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون په اسماؤ او افعالو دواړو کي جاري کيږي او په افعالو کي اکثره د ماضي معلوم په صيغو کي او په اسمو کي د اسم فاعل او صفت مشبه د جمع مکسر په صيغو کي جاري کيږي او په مزيدو کي اکثريت د اسم ظرف په صيغو کي جاري کيږي.

## (۷٦) قانون:

*ہر ہمزہ منفردہ مکسور کہ ماقبلش مضموم باشد، و مضموم بعد از کسرہ بواو و یاء بدل کردہ شود جواز آنزد اخفش.*

## د قانون خلاصه:

هر همزه منفرده چي په خپله مکسور وي، او د ده ماقبل مضموم وي؛ يا دى په خپله مضموم وي ماقبل يې مکسور وي، نو دغه همزه په واو او ياء سره بدلول جائز دي. د امام اخفش رحمة الله عليه په نزد باندي.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نو دئ د "سُوِلَ مُسْتَهْزِيُوْنَ" والا قانون.

د دې قانون دپاره دوه حکمه دي او د هر حکم دپاره درې درې شرطونه دي.

**اول حکم**: اول حکم يې دا دئ چي همزه په واو سره بدلول جائز دي.

١. اول شرط يې دا دئ چي همزه به منفرده وي، احترازي مثال: "اُئْمِنَ اَئِمَّةٌ".

٢. دوهم شرط يې دا دئ چي همزه به مکسوره وي، احترازي مثال: "سَئَلَ".

٣. دريم شرط يې دا دئ چي ماقبل د دغه همزه به مضموم وي، احترازي مثال: "بِئْرٌ".

- اتفاقي مثال: د "سُئِلَ" څخه "سُوِلَ" ويل جائز دي.

**دوهم حکم**: دوهم حکم يې دا دئ چي همزه په ياء سره بدلول جائز دي.

١. اول شرط يې دا دئ چي همزه به منفرده وي، احترازي مثال: "اُئْمِنَ".

۲. دوهم شرط یې دا دئ چي همزه به مضموم وي، احترازي مثال: "سُئِلَ".
۳. دریم شرط یې دا دئ چي ماقبل د دغه همزه به مکسور وي، احترازي مثال: "لَئِمَ".
اتفاقي مثال: د "مُسْتَهْزِئُوْنَ" ځخه "مُسْتَهْزِيُوْنَ" ویل جائز دي.

**فائده:**

د "غُلَامُ اِبْرَاهِیْمَ" ځخه "غُلَامُ وِبْرَاهِیْمَ" ویل جائز دي (د اول حکم پر مقتضی).
او د "جَبَلُ اَحَدٍ" ځخه "جَبَلُ يَحَدٍ" ویل جائز دئ (د دوهم حکم پر مقتضی).

**د قانون د جاري کولو طریقه او مقامونه:**

دغه قانون په اسماؤ او افعالو دواړو کي جاري کیږي لیکن په فعل اکثریت د ثلاثي مجرد و په ماضي مجهوله کي جاري کیږي په دې شرط چي باب مهموز العین وي او په اسم کي اکثریت د اسم فاعل په جمع مذکر سالم کي جاري کیږي په دې شرط چي باب به مهموز اللام وي.

## (۷۷) قانون:

هر همزهٔ وصلی مفتوح که داخل شود برآن همزهٔ استفهام آن همزه بالف بدل کرده شود وجوباً مع باقی داشتن التقاء ساکنین.

**د قانون خلاصه:**

همزه استفهام چي کله پر همزه وصلیه مفتوحه باندي داخل سي، نو دغه همزه په الف سره بدلول واجب دي، او التقاء ساکنین پر خپل حال باندي پرېښول واجب دي.

**د قانون تفصیل:**

د دې قانون نوم دئ "آلْنَ، آلْحَسَنُ" والا قانون.
د دې قانون د پاره یو حکم دئ او درې یې شرطونه دي.
حکم یې دا دئ چي همزه د استفهام په الف سره بدلول او التقاء ساکنین باقي ساتل واجب دي.

۱. اول شرط يې دا دئ چي همزه وصلي به وي، احترازي مثال: "آأنذرتهم" دلته همزه قطعي دئ.

۲. دوهم شرط يې دا دئ چي مفتوح به وي، احترازي مثال: "اِكتُب" دلته مكسور دئ.

۳. دريم شرط يې دا دئ چي پر همزه وصلي باندي به همزه د استفهام داخل سوی وي، احترازي مثال: "جَاءَالحَسَنُ" دلته همزه د استفهام نسته.

اتفاقي مثال: د "أَءَلْئَنَ اَءَالحَسَنُ" څخه "آلْئَنَ آلحَسَنُ" ويل واجب دئ.

## د قانون د جاري كولو طريقه او مقامونه:

دغه قانون صرف په اسم كي جاري كيږي په دې شرط چي پر معرف باللام باندي به همزه د استفهام داخل سوی وي.

## (۷۸)قانون:

*هر كلمه كه در آن زياده از دو همزه جمع شوند تخفيف كرده ميشود دوم وچهارم باقي بر حال باشند.* (۱)

## د قانون خلاصه:

په كمه كلمه كي چي تر دوه زيات همزه گان سره جمع سي، نو په دوهم كي تخفيف كيږي، او كه څلور يا پنځه سره جمع سي، نو په دوهم او څلورم كي تخفيف كيږي.

## د قانون تفصيل:

د دې قانون نوم دئ د "أَوْئَيَءٌ" والا قانون.

د دې قانون دپاره يو حكم دئ او يو يې شرط دئ.

---

(۱) اتفاقي مثال د "أَءْءَءَءٌ" څخه "أَوْئَيْءٌ" ويل واجب دي، په دې طريقه باندي چي اول دوه همزگان به كلمه واحده فرض كړي يا د "آوادمَ اَئِمَّةٌ" په قانون سره دوهم همزه په "واو" سره بدليږي، نو "أَوْءَءَءٌ" جوړيږي، بيا دريم او څلورم همزه به كلمه واحده فرض كړي د "قِرَئَيٌ" والا په قانون سره به څلورم همزه په "يا" سره بدل كړي او پنځم به پر خپل حال باندي پرېږدي، نو "أَوْءَيَءٌ" بر وزن "مُقَرَعْلٌ" به سي. او كه چيري څلور همزگان وي. لكه: "ءءءء" نو دوهم همزه به په "واو" سره بدل كړي په قانون د "آوادمَ او اَئِمَّةٌ" سره او څلورم همزه به په "يا" سره بدل كړي په قانون د "قِرَئَيٌ" سره، نو "أَوْءَيٌ" به جوړ سي.

او كچيري درې همزگان وي، نو په قانون د "آوادمَ او اَئِمَّةٌ" سره دوهم همزه په واو سره بدليږي، نو "أَوْءٌ" جوړيږي.

حکم يې دا دئ چې په همزه ګانو کې تخفيف کول واجب دي.
شرط يې دا دئ چې تر دوو به زيات وي، احترازي مثال: "آادِمٌ".
اتفاقي مثال: د "آءءءٌ" څخه "اَوَنِیءٌ" ويل واجب دي.

## د مهموزو چند مشترکه ضروري فوائد:

۱. که چيري همزه ساکن وو ماقبل يې بل همزه په يوه کلمه کې نه وو نو بيا د يامن يومن والا قانون جاري کيږي.
۲. که چيري همزه ساکن وو ماقبل يې بل همزه په يوه کلمه کې وو نو بيا آمن اومن ايمانا والا قانون جاري کيږي.
۳. که چيري همزه مفتوح وو ماقبل يې مضموم يا مکسور وو نو بيا د مير جون والا قانون جاري کيږي.
۴. که چيري دوه همزه متحرک يو ځای په يوه کلمه کې سره جمع سي نو بيا د اوادم اويدم والا قانون جاري کيږي.
۵. که چيري همزه متحرک وو او د ده ماقبل قابل د حرکت وو يعني الف نه وو نو بيا د يسل والا قانون جاري کيږي.
۶. که چيري همزه د "ياء" تصغير يا د "واو" يا "يا" مده زائده وروسته په يوه کلمه کې وي نو بيا د خطيئة مقروة والا قانون جاري کيږي.
۷. که چيري د دوو همزه ګانو څخه اول ساکن دوهم متحرک وي نو بيا د قرءی والا قانون جاري کيږي.
۸. که چيري همزه متحرک وو د ده او د ده د ماقبل حرکت يو وو نو بيا د سال کفوا والا قانون جاري کيږي.
۹. که چيري همزه مکسور ماقبل يې مضموم وو يا همزه مضموم ماقبل يې مکسور وو نو بيا سول مستهزيون والا قانون جاري کيږي.
۱۰. که چيري همزه پر معرف باندې داخل وو نو بيا د آلئن آلحسن والا قانون جاري کيږي.

## صيغ:

| | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| إِسَامٌ | إِفْعَالٌ | اسم | ثلاثی مجرد | مہموز العین | اسم مصدر | بدل ہمزہ، وصل، قطعی | إِسْئَامٌ | إِكْرَامٌ | افعال |
| لَمْ أَلَمْ | لَمْ أَفْعَلْ | فعل | ثلاثی مجرد | مہموز العین | واحد متکلم فعل جحد معلوم | بدل ہمزہ، وصل، قطعی | لَمْ أَلْئَمْ | لَمْ أَعْلَمْ | ثلاثی مجرد |
| جَرِئَانِ | فَعِلَانِ | اسم | ثلاثی مجرد | مہموز اللام | تثنیہ مذکر صفت مشبہ | انیس خطیہ عشرۃ | جَرِيْئَانِ | شَرِيفَانِ | ثلاثی مجرد |
| بَابَا | فَاعَلَ | فعل | ثلاثی مزید | مہموز اللام | واحد مذکر غائب ماضی معلوم | سال، یا ساکن ہو گئی | بَابَأَ | ضَارَبَ | مفاعلة |
| مُكَامَؤٌ | مُفْتَعَلٌ | اسم | ثلاثی مزید | مہموز العین | واحد مذکر اسم مفعول | سال، اسم مفعول، نون تنوین | مُكْتَأَمٌ | مُكْتَسَبٌ | افتعال |
| هُوسِئْتُمْ | فُعِلْتُمْ | فعل | ثلاثی مجرد | مہموز العین | واحد مذکر حاضر ماضی مجہول | سوال مستسر ہون، ضرہم انتم، ماضی مجہول، ضربن ۲ | هُسِئْتُمْ | ضُرِبْتُمْ | ثلاثی مجرد |
| وَجْئَرِيُوا | أُفْعِلُوا | فعل | ثلاثی مزید | مہموز اللام | جمع مذکر غائبین ماضی مجہول | سوال مستسر ہون، ماضی مجہول، واحد اشباع | أُجْتُرِءُوا | أُكْتُسِبُوا | افتعال |
| آلْبَحْرُ | فَعْلٌ | اسم | ثلاثی مجرد | صحیح | اسم جامد | آلن آلحسن، اضافت | بَحْرٌ | نَصْلٌ | ثلاثی مجرد |
| يَدُونَ | يَفْعِلُونَ | فعل | ثلاثی مجرد | مہموز العین، ناقص | جمع مذکر غائبین ماضی معلوم | بدل، ری، جول صیغ، التقاء ساکنین | يَدْءُوُونَ | يَضْرِبُونَ | ثلاثی مجرد |
| أَذْيَدُ | أَفْعِيلٌ | اسم | ثلاثی مجرد | مہموز العین | واحد مذکر اسم تفضیل | انیس خطیہ عشرۃ | أَذْأَدُ | أَضْرِبُ | ثلاثی مجرد |
| وَبَلاَيُوْ | فِعْلٌ | اسم | رباعی مجرد | مہموز اللام، ناقص | اسم جامد | کرل دیا ساکن ہو گئی، حتی العین، نون تنوین | بِلْئَىٌ | قِمَطْرٌ | رباعی مجرد |
| قَرَا | فَعَلَ | فعل | ثلاثی مجرد | مہموز اللام | واحد مذکر غائب ماضی معلوم | سال | قَرَءَ | ضَرَبَ | ثلاثی مجرد |
| نُوِنَّ | فُعِلْنَ | فعل | ثلاثی مزید | مہموز العین | جمع مؤنث غائبات ماضی مجہول | سوال مستسر ہون، ماضی مجہول، ضربن ۱، ۲ | زُءِرْنَ | ضُرِبْنَ | ثلاثی مجرد |
| آلدَّارُ • | فَعْلٌ | اسم | ثلاثی مجرد | اجوف | اسم جامد | آلن آلحسن، اضافت، شمسی و قمری | دَارٌ | نَصْلٌ | ثلاثی مجرد |

## التمرين:

لِنَتَرَافَوْ، مَسَلٌ، يَسْمُونَ، مَجْرُوْاتٌ، مَهْتُوٌّ، سَبِيٌّ، صِدَائٌ، فِدَاىَ، وَلْتَامَ، جَلْنَ، نَاْنَا، تَطَاطَا، دَوِحْنَ، اَبَرِىَ، آلشَّمْسُ، آلصَّابِرُ، اَلْاَكَابِرُ، سُولْنَ، عَطَاءٌ.

## ابواب مهموز الفاء ثلاثي مجرد:

### باب اول مهموز الفاء بر وزن فَعَلَ يَفْعِلُ چون: اَلْاَزْرُ (راگیرول یعني احاطه کول):

اَزَرَ، يَأْزِرُ، اَزْرًا، فهو اٰزِرٌ، وَاُزِرَ، يُوْزَرُ، اَزْرًا، فذاک مَاْزُوْرٌ، لَمْ يَأْزِرْ، لَمْ يُوْزَرْ، لَايَأْزِرُ، لَايُوْزَرُ، لَنْ يَّأْزِرَ، لَنْ يُّوْزَرَ، الامر منه: اِيْزِرْ، لِتُوْزَرْ، لِيَأْزِرْ، لِيُوْزَرْ، والنهى عنه: لَاتَأْزِرْ، لَاتُوْزَرْ، لَايَأْزِرْ، لَايُوْزَرْ، الظرف منه: مَأْزِرٌ، مَأْزِرَانِ، مَاٰزِرُ، وَمُوَيْزِرٌ، والالة منه: مِيْزَرٌ، مِيْزَرَانِ، مَاٰزِرُ، وَمُوَيْزِرٌ، مِيْزَرَةٌ، مِيْزَرَتَانِ، مَاٰزِرُ، وَمُوَيْزِرَةٌ، مِيْزَارٌ، مِيْزَارَانِ، مَاٰزِيْرُ، وَمُوَيْزِيْرٌ، وافعل التفضيل المذكر منه: اٰزَرُ، اٰزَرَانِ، اٰزَرُوْنَ، اَوَاٰزِرُ، وَاُوَيْزِرٌ، والمؤنث منه: اُزْرٰى، اُزْرَيَانِ، اُزْرَيَاتٌ، اُزَرٌ، وَاُزَيْرٰى.

**فائده:**

د دې باب صرف کبير د صحيح غوندې دئ.

**فائده:**

په "مَأْزُوْرٌ" اسم مفعول کې همزه د ماقبل حرکت موافق په حرف علت سره بدلول په قانون د "يَاْخُذُ" سره جائز دي. په مضارع مجهوله، اسم مفعول، نهي او اسم ظرف کې هم داغه اعلال دئ.

## باب دوم مهموز الفاء بر وزن فَعَلَ يَفْعَلُ چون: اَلْاَمْرُ (حکم کول):

اَمَرَ، يَأْمُرُ، اَمْرًا، فهو اٰمِرٌ، وَاُمِرَ، يُؤْمَرُ، اَمْرًا، فذاک مَأْمُوْرٌ، لَمْ يَأْمُرْ، لَمْ يُؤْمَرْ، لَايَأْمُرُ، لَايُؤْمَرُ، لَنْ يَّأْمُرَ، لَنْ يُّؤْمَرَ، الامر منه: مُرْ، لِتُؤْمَرْ، لِيَأْمُرْ، لِيُؤْمَرْ، والنهي عنه: لَاتَأْمُرْ، لَاتُؤْمَرْ، لَايَأْمُرْ، لَايُؤْمَرْ، الظرف منه: مَأْمَرٌ، مَأْمَرَانِ، مَاٰمِرُ، وَمُوَيْمِرٌ، والالة منه: مِيْمَرٌ، مِيْمَرَانِ، مَاٰمِرُ، وَمُوَيْمِرٌ، مِيْمَرَةٌ، مِيْمَرَتَانِ، مَاٰمِرُ، وَمُوَيْمِرَةٌ، مِيْمَارٌ، مِيْمَارَانِ، مَاٰمِيْرُ، وَمُوَيْمِيْرٌ، وافعل التفضيل المذکر منه: اٰمَرُ، اٰمَرَانِ، اٰمَرُوْنَ، اَوَامِرُ، وَاُوَيْمِرٌ، والمؤنث منه: اُمْرٰى، اُمْرَيَانِ، اُمْرَيَاتٌ، اُمَرٌ، وَاُمَيْرٰى:

**فائده:**

په دغه باب کې هم همزه په حرف علت سره بدلول جائز دي.

**فائده:**

د "مُرْ" اعلال او زيات تفصيل د "اِيْتَانٌ" په قانون کې وګوره!

## باب سوم مهموز الفاء بر وزن فَعِلَ يَفْعَلُ چون: اَلْاَمْنُ (بېغمه کېدل):

